فتاویٰ یعقوبیہ

تألیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نور زئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر



Maktaba Tul Ishaat



فتاوٰی

یعقوبیہ

جلد (۲)

تألیف :

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن .

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اهتدیٰ بهدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیہه المفتي النبیه الشیخ عبدالرازق زید مجده المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویته و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاهم آشغالی و تفاقم همومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منها عثرت علی تفوقه و عموم و قوفه فی آنحا العلوم من دراية الحديث وروایة و من ناحیة الفقه الحنفی دقا وجلا و سن ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیه ذلک من رد البدع والمنکرات و اصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السهلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جهوده و مساعیه فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفها قبلها و وفقه لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوها و یستفیدوا منها خذما نظرت ودع شیئا سمعت به . فی طلعة الشمس ما یغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکراولوالاباب وصلوات ربي و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چي ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چي پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چي د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص دا وویل چي صادق هغه قائل ښي ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چي ډیری داسی جدیده مسائل پکښې سته چي متقد مینونه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسۃ صدیقیۃ کراچی باکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الھدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہوکر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دار العلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوار دو زبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اور تراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

فهرست

فتاویٰ یعقوبیه

دسلفیانو حقیقت او داحنا فو حقیت)

د سلفیانو وجود اود هغوی عقائد
(جلد۲)

تألیف:
ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم الله لوی کاریزی

مکتبه حقانیه
کانسی روڈ۔ کوئٹه

دکتاب لنډه پېژند ګلوي

دکتاب نوم: د سلفیا نو حقیقت دا حنا فو حقیت
مؤلف: مفتي عبدُلرّازق کدنوي
کمپوزر: راز محمّد راز، مرکز کتابت کوټه
دخپرېدو کال: ۲۰۲۰ عیسوي
صفحات: (   )

اجمالي فهرست

(سلفیت)

د سلفیانو وجود او د هغوی عقائد

اسلام یو عالمګیر دین دی نو د دې وجهې نبي کریم ﷺ و قیصر او کسری ته خطوط ولیکل د روم، شام او یمن او د نورو ځایو د فتحې پېشګویاني یې وکړې او هغه پوره هم سوې، او دغه رقم نبي علیه السلام دا هم وویل چي: یکون هذه الأمة بعث الی السند والهند (مسند احمد ص ۳۶۹/ ج ۲) دا امت به پر سند هـ او هند باندي حمله وکړي، نو اسلامي لښکر په ۹۲ هجري کي د ثقفی په مشري محمد بن قاسمؒ پر سند هـ باندي حمله وکړه، او تر ۹۵ هجري پوري سند هـ فتحه سو . دوی د بصرې څخه راغلل، هغه وخت (۱۱۰هجري) وو هلته د امام حسن بصريؒ تقلید کېدی، وروسته چي کله چي امام زفرؒ و بصرې ته راغلی نو ټوله خلګ حنفیان سول . بهر حال د هغو فاتحینو څخه یو هم غیر مقلد نه وو، او دغه رقم نبی علیه السلام د هند د غزا ذکر هم کړی وو . نبي علیه السلام وویل: عصابتان من امتی احرزهما الله من النار عصابة تغزو الهند و عصابة تکون مع عیسی بن مریم (مسند احمد ص ۲۲۹/ج ۲ نسائی ص ۶۳ / ج ۲) زما د امت دوې ټولۍ الله (جل شانه) د اوره څخه وساتلې یوه ټولۍ چي پر هند باندي جهاد وکړي، دویمه هغه چي د عیسی علیه السلام سره وي، او د دې پېشګوي مطابق په ۳۹۲ هجري کي سلطان محمود غزنوی پر هند باندي حمله وکړه او دالته یې اسلامي سلطنت قائم کړی . دلته چي څومره مسلمانانو خاندانو حکومت کړی دی که خاندان غلامان وي که خاندان غوري، که خاندان خلجي وي که خاندان سادات، که خاندان تغلق

وي کـه خـانـدان سـوري، او کـه خاندان مغلیـه، دا ټوله سنیـان حنفیـان وو . پـه دې مـلک کـې د اسـلام، قرآن و سنت آسانـې راوړلو والا خالص او خالص احنـاف دي، او نـواب صدیق حسن خان غیر مقلد چې د سلفیانو باني دی، هغـه هـم دا اعتـراف کـړی دی ، دی لیـکي چې خـلاصـه د هندوسـتـان د مسـلمانانو دا ده چې کله دلتـه اسلام راغلی دی او حال دا چې اکثره خلک دا د پاچاهـانـو طـریقه او مذهب خوښوي، د هغه وخته څخه بیا تر ننه پوري دا خـلک پـر حـنـفي مذهب باندي اوسېدلي دي او حنفیـان دي ، او د دې مذهب عـالمان فاضلان، قاضیان، مفتیان او حاکمان هم داغه حنفیان اوسېدلي دي . (ترجمان وهابیه ص ۱۰)

او دا خبـره یـو قـطـعـي تـاریـخي حیثیـت لـري، چې پـه دې ملک کې د انـګـرېـزانـو د حـکـومـت څـخـه مـخـکې دیوه غیر مقلد نوم هم نستـه چې اجتـهـاد تـه کـار د شیـطـان، او د مجتهد تقلید ته شرک ووایي . سید علی هـجـویـري (چې مـعـروف پـه داتـا ګـنج بخـشؒ دی) هغـه وخت لاهور تـه ورسېدی کـوم وخـت چې د حضرت سید حسین زنجانيؒ جنازه تیاره وه . دی لاهور تـه خپـل د راتګ وجـه خپله بیانوي چې زه علی بن عثمان جلابي یم ، الله جل شانه دي ما ته د خیر توفیق راکړي، زه په دمشق (چې د شام یو ښـار دی) کـې د نبـي کریم ﷺ د مؤذن حضرت بلالؓ دقبر سر ته بیده وم، څـه ویـنـم پـه خـوب کې چې زه په مکه مکرمه کې یم، او نبي کریم ﷺ د بـاب بـن شیـبـه څـخـه یو سپین ږیری پیر په غېږ کې را اخیستی دی، لکه کـوشـنـیـان چـې راخـلـي، او دنـنـه یـې تشریف راوړی، زه په ځغاسته سره حاضر سوم، او د نبي کریم ﷺ لاسونه او پښې مې مچ کړل، او په تعجب

کـي وم چـي دا ځـو ک دي، او دا څـه حـال دی، نبـي کـريم ﷺ تـه زمـا دننـه اندېښنـه منکشف سوه، او ويې ويل چي دا امام ابوحنيفهؒ دی چي ستا هم امـام دی ، او ستـا د مـلک د اهـل هـم امـام دی، زمـا د خپـل ځان پـه اړه هم او د خپل ملک د اهل په شان کې مې هم ددې خوب څخه لوی اميد دی، (او زما دا اميد پوره سو، د ملک دحنفيت علاقه جوړه سوه) او ماته ددې خوب څخـه داخبـره هـم ثـابتـه سوه چي امام اعظمؒ د خپل طبعي صفاتو د لحاظه فـانـي، او د شرع د احکامو د لحاظه باقي دی، او د ده راخيستونکی روان سړی نبي عليه السلام دی ، که چيري دی (امام صاحب) خپله روان وای نو دی بـه بـاقـي الصف وای، او باقي الصف هم غلطه فيصله کوای سي او هم صحيح، او چي کله د ده راخيستونکی روان سړی نبی عليه السلام سو، نو دی د پيغمبر عليه السلام د پاته صفت په وجه سره فاني الصف وګڼل سو، او حال دا چي پر نبي عليه السلام باندي هم د خطا يو صورت نسي جوړېدای .

ياد وساتئ دا يوه لطيفه اشاره ده .

(کشف المحجوب ص ٨٦)

الـغـرض پـه ٥٨٩ هجري کي سلطان معز الدين سام غوري راغلی، او تر دهلي پوري پر سلطنت باندي قابض سو، د هغه وخته څخه بيا تر ١٢٧٣ هجري پوري تاسي ددې ملک حالات وواياست، د محمود غزنوي څخه بيا تر اورنک زېب عالمګير بلکه تر سيد احمد شهيد بريلويؒ پوري به تاسي يو غير حنفي غازي، فاتح يا مجاهد پيدا نه کړئ . د کشمير په هکله د (مؤرخ فرشته) الفاظ دغه دي : رعايای آن ملک کلهم اجمعين حنفی مذهب اند (تاريخ

فرشتہ ۳۲۷)او د دې تر مخه دتاریخ رشیدي په حواله لیکي : مرزاحیدر درتاریخ رشیدی نوشته که مردم کشمیر تمام حنفی مذهب بوده اند (تاریخ فرشته ۳۳۶) حضرت شیخ محدث عبد الحق دهلويؒ وايي : اهل الروم و ما وراء النهر و الهند كلهم حنفيون . (تحصیل التعرف ص ۴۶)

او حضرت مجدد الف ثانیؒ وايي : سواد اعظم از اهل اسلام متابعان ابی حنیفه اند علیهم الرضوان (مکتوب ۵۵ دفتر دوم) محدث شاه ولي الله دهلويؒ وايي: در جمیع بلدان و جمیع اقالیم بادشاهان حنفی اند و قضاة اکثر مدرسان و اکثر عوام حنفی (کلمات طیبات ص ۱۷۷) او وايي : جمهور الملوک و عامة البلدان متمذهبين بمذهب ابی حنیفةؒ (تفهيمات الهيه ص ۲۱۲ ج ۱) .

یعني په دنیا کې د اسلام اکثره سلاطین او اکثره د اسلام خاوندان حنفیان دي . د اسلامي نړۍ په غالبه حصه کې علم او جهاد د دوی په لاس کې اوسېدلي دي، او دغه رقم په اسلامي نړۍ کې زیات و کم زر کاله اسلامي نظام د دې مذهب په وجه نافذ سوی دی، شاه ولي اللهؒ د حق مذهب پېژندنه دا ښودلې ده چې د اسلامي دین د اشاعت سره پر اسلامي دین باندي دحملو راوړونکو فتنو مقابله وکړي، دا خو ښکاره ده چې په پاکستان او هندوستان کې د اسلام په شائع کولو کې د احنافو سره څوک نه دي شریک سوي، په ټوله ملک کې اسلام احنافو غوړولی دی ، او کافر که په اسلام کې داخل سوی دی هغه هم حنفي جوړ سوی دی، په دې ملک کې پر اسلام باندي دوه سخت وخته راغلي دي، یو د اکبر الحادي فتنه، دویم د انګرېزانو تسلط ، اکبر چې کله خلک د امام صاحب د تقلید څخه اړول د الحاد دعوت یې ورکړی نو د مجدد الف ثاني او د محدث شیخ عبد

الحق دهلويؒ د کوششو څخه هغه الحاد خراب سو، او د انګرېزانو په خلاف هم احناف را پورته سول، نواب صديق غير مقلد ليکي چي:

چا به تر ننه پوري دا نه وي اورېدلي، چي يو موحد د قرآن، حديث او سنت تابع (د انګرېزانو د لاسه) د بې وفايي يا د قرارداد ماتونکی سو، يا پر بغاوت او ابليسي فتنو باندي اماده سو. څو مره خلکو چي په غدر کي شر و فساد وکړی، او معاندين د احکام انګليشيه سول، هغه ټول مقلدين د مذهب حنفيه وو. (ترجمان وهابيه ص ۲۵)

غرض دا چي که چيري تاسي مطالعه د اسلامي تاريخ وکړئ، نو د اسلامي اقتدار په هدف کي به حنفيان پيدا کړئ. د حديث منکرينو يا د فقه منکرينو په اسلامي سلطنت کي د کفارو د لاسه د يو اينچ ځمکي شمول هم نه دی کړی. د دوی جهاد بس دا دئ چي د احنافو اسلام صحيح نه دی، او نه يې لمونځ صحيح دی. الله جل شانه دي اهل سنت احناف په دواړه جهانو کي کاميابه و کامران کړي.



دم او عمليات

د اوبو د چښلو وروسته د تندي ماتېدل، او د ډوډی د خوړلو وروسته د لوږي ختمېدل، عموماً يقيني وي، خو د دوا وروسته شفا مظنونه ده او د دم تعويذ او عمليات وروسته شفا موهوم وي، اوس پوښتنه دا ده چي موهوم به پر مظنون قياس سي او که نه؟

په دې اړه د امام غرباء اهل حديث د فتوی ملاحظه:

سوال: مار يا سپی يا داسي بل شی چي څوک يې خوړلی وي، پر هغه

باندي شر کیه الفاظو سره دم کول جائز دی که نه؟
جواب: ښه خو نه دی چي وسي، او که چیري د یو مسلمان د خیر خواهي لپاره د مجبوري او ضرورت په وخت کي وسي، نو پروانه لري .
(صحیفه اهل حدیث رمضان المبارک ١٩٤٥ء)

پر دې مسئله باندي د ابو محمد عبد الستار امضاء ده . بیا د ده پلار مولانا عبد الوهاب دهلوي نور زیادت دا لیکي، چي د مار ،لړم، سپي یا دغه رقم نورو زهرلرونکو حیواناتو په خوړلو سره پر مسلم یا غیر مسلم باندي په شرکی الفاظو سره دم وکړي نوڅه پروا نلري . (صحیفه اهل حدیث جمادی الثانی ١٩٤٦ء بحواله ظل محمدی عرف امامت محمدي محمد جونا کړهی) . اوس د پوښتني د صورت ملاحظه:
سوال: د یو انسان د پزي څخهویني رواني دي، او په یو جائز دوا سره نه دریږي، او هغه د مرګ پر حال دی ، اوس که چا لره علم وي چي که چیري په داغه وینو سره د ده پر تندي باندي سورة الفاتحة ولیکل سي نو به ویني ودریږي او دا سړی به جوړ سي نو آیا په داسي اضطراري حالت کي داسي کول جائز دي؟
جواب: د غیر مقلد له طرفه: دغیر مقلدینو په نزد وینې پاکي دي، د هر حلال حیوان بولي هم پاکي دي، مني پاک دي، او په پاک شي سره د قرآن د لیکلو ممانعت په یو آیت یا حدیث کي نسته . نو د دې وجهي که اضطراري وي که اختیار وي، په هر حالت کي جائز دی چي په بخاري شریف کي د اوښانو دبولو چښلو حکم سته، نو د قرآن شریف لیکل به څنګه ناجائز کیدای سي . او ډیرغیر مقلدین خو سورة الفاتحة قرآن نه بولي، نو پر دوی باندي به څه اعتراض وي .

جواب د حنفي له طرفه: ويني، مني او بولي نجس دي، او پر نجس ځای باندي قرآن شريف ايښودل مردار دی، د خنزير او شراب رقم حرام قطعي او كفر دی، او د دوی څخه شفاء نه يقيني ده او نه مظنونه بلكه موهومه ده، نو د دې وجهي څخه قياس د موهوم پر مظنون او متيقن باندي په دا رقم حالت اضطراري كي هم اجازت د دې نسي وركول كېدای، چي په اضطراري حالت كي شريعت د حرامو يا تر كفر پوري اجازت وركړي، او ظاهر مذهب حنفي داغه دی، خو بعضو په دا رقم اضطراري حالت كي موهوم پر مظنون او متيقن باندي په قياس كړی دی او په دارقم اضطرار كي يې د حرامو اجازت وركړی دی، نو هغه د ظاهر مذهب خلاف دی (فتاویٰ هائيه) . خو د غير مقلدينو په نزد بې له حالت اضطراري په حالت اختياري كي هم په وينو باندي او د حلال حيوان په بولو باندي قرآن عظيم الشان ليكل هيڅ كله منع نه دی، نو ددې وجهي څخه د غير مقلدينو د احنافو خلاف خبري (شور) كول د دې نه سخت دروا غ دی چي يو سكهـ (د دوی په نزد په اختياري حالت كي هم د خنزير غوښه خوړل حلال دي) پر مسلمانانو دا اعتراض وكړي، چي ستاسو مذهب صحيح نه دی، ستاسو په قرآن كي د خنزير خوراک حلال ليكلی دی .

بهر حال لكه څنګه چي موږ مردار، ويني، خنزير، شراب، او مردار ته حرام قطعي وايو، قرآن شريف خو پر مردار ځای باندي په اختيار ايښولو ته هم حرام بلكه داسي كفر يې بولو لكه العياذ بالله بت ته سجده كول، يا كعبه شريفه اهانةً نړول، يا يو نبي په شهادت رسول . د دې خلاف چي څوک پر اهل سنت والجماعت باندي بهتان وايي او خپل دانا مهذبه

مـذهب پـتـوي، چي د دوی په نزد، مردار هم پاک دی، ويني هم پاکي دي، منـي هم پاک دي، د هر حلال او حرام حيوان بولوي هم پاکي دي، او په وار وار مـطالبـه کـولو سره هم دوی يو آيت يا يو حديث نه سي پيش کوای، چي پـه پـاک شـي سره قـرآن شـريف ليکل حوام يا کفر دی، او زموږ د حضرت امـام اعـظـم ابـوحـنيـفـه، حـضـرت امـام ابو يوسف، حضرت امام محمد او حـضـرت امـام زفـر رحـمهـم الله څـخـه بـه يو د موري زوی هم د قيـامت تر ورځـي پـوري د کـفـر او د حـرام کـولـو جواز ثابت نه کړي . فهل من مبارز يبارزني .

غيـر مـقـلـديـنـو ازاريانو مخکي هم خلک د دينه بې زاره کول، د اسلافو څـخـه بغاوت کول، او بهتان لګول، حنفيان مشرکان بللې، دا د دوی لوی جهـد او کـوښـښ دی . الله جـل شـانـه تـه دي توبـه وباسي او ځانونـه دي د خنّاس مصداق نه جوړوي .



امام اعظم رح د اغيارو په نظر کي

مـولانـا داؤد غـزنوي وايي : دا يوه عجيبه خبره ده چي اهل حديث عموماً انتـهـايـی مـتـشـدد وي پـر کـوچنۍ خبره باندي سخت بد ي خبري ښکنځلي کـوي (داؤد غـزنـوي ص ۱۸) دا هـغـه نـفـسيـات دي چي هغه ته قرآن شريف ﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ - وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ ﴾ (الآية)

۱﴾ ...... مـولانـا داؤد غزنوي وايي، امامانو چي د دين لپاره کوم خدمت کړی دی، امت بـه يې تـر قيـامـت پوري احسان پوره نه کړي، زموږ په نزد کوم سړی چي د امامانو په شان کي بدګماني لري، په ژبه سره د هغوی په شان

کي بې ادبي کوي، یا بې عزته لفظونه استعمالوي دا د ده د قلبي شقاوت علامت دی، او زه بېربېږم چي د ده خاتمه به هم ښه نه وي . زموږ په نزد د امامانو پر هدایت او درایت باندي د امت اجماع ده . (داؤد غزنوي یولوی غیر مقلد دی چي داهل حدیثو غزنویو رهبر دی۳۷۲)

۲﴾...... د امامانو لپاره د ده (مولانا داؤد غزنوي) په زړه کي انتهائی احترام وو ، د امام ابو حنیفهؒ نوم په ښه عزت سره اخیستی .

۳﴾...... حضرت محمد حسن صاحب یو وخت د مولانا عبد الجبار غزنوي د ولایت یوه قصه بیان کړل، هغه واقعه داوه چي په امرتسر کي یو کلی چي په نامه د تیلیا وو ، په هغه کښي د اهل حدیث حضراتو اکثریت وو ، هلته یو مولوي چي په نامه د عبد العلي وو امامت او خطابت یې انجاموی ، او په مدرسه غزنویه کي یې پر مولانا عبدالجبار غزنوي باندي سبق وایو ، یو وار مولوي عبد العلي وویل ، چي تر ابو حنیفه خو زه لا ښه یم ، او په مرتبه کي لوی یم ، د ده اوولس حدیثونه یاد وو ، او زما تر ده ډېر یاد دي ، د دې خبري اطلاع مولانا عبد الجبار ته ورسېده ، هغه د بزرګانو ډېر ادب او احترام کاوه ، هغه دا خبره واورېده نو مخ مبارک یې د خښم څخه سور سو ، ده حکم وکړی چي دا نالائق (عبدالعلي) د مدرسې څخه وباسئ ، هغه طالب چي یې کله د مدرسې څخه وایستی ، نو مولانا عبد الجبار غزنوي وویل چي ما ته داسې معلومېږي چي دا سړی به العیاذ بالله عنقریب مرتد سي ، مفتي محمد حسن راوي دی ، چي اوه ورځي نه وې تېري سوي ، چي هغه سړی مرزایي سو ، او خلکو ذلیل کړی ، د مسجد څخه یې و ایستی ، ددې واقعې وروسته یو چا د مولانا عبد الجبار غزنوي څخه پوښتنه وکړه

چي حضرت ! تاسو ته دا ځنګه معلومه سوه چي هغه به عنقریب کافر سي ، ده محترم وویل چي کله ما ته د ده د بې ادبي اطلاع ورسېده هغه وخت د بخاري شریف دا حدیث زما مخته راغلی چي : مَن عَادیٰ لِی وَلِیًّا فَقَد اٰذَنتُهُ بِالحَرب (حدیث قدسي) کوم سړی چي زما د دوست سره عداوت وکړي ، نو زه د هغه خلاف د جنګ اعلان کوم . زما په نظر امام ابو حنیفهؒ ولي الله وو . نو چي کله د الله جل شانه له طرفه د جنګ اعلان وسو، نو په جنګ کي هر فریق د هغه بل فریق هغه لوړ شی اخلي ، نو له دې وجهي د دې سړي سره به ایمان ځنګه پاته کېدای سي . (غزنوي ص ۱۹۲، ۱۹۱)

۴﴾...... دغه رقم په امرتسر کي تر ټولو دمخه اهل حدیث حافظ محمد یوسف صاحب د مرزا غلام احمد قادیاني مؤید و حامي جوړ سو . (اشاعة السنة ص ۱۱۴/ ج ۲۱)

۵﴾......مولانا محبوب احمد امرتسري لیکي چي: تر کومه اندازه چي زه علم لرم ، هغه دا چي امرتسر او د ده په شاوخوا کي چي څومره مرتد عیسایان سته دا دمخه غیر مقلدین وو . (الکتاب المجید ص ۸)

۶﴾...... د حضرت مولانا محمد ابراهیم سیالکوټي صاحب هم یو وار د امام اعظمؒ متعلق په زړه کي یو څه ګمان را وګرځېدی ، دی خپله لیکي ، چي ما د امام اعظمؒ متعلق تحقیقات شروع کړل ، نو د مختلفو کتابو په کتلو سره زما په زړه کي د امام صاحبؒ متعلق څه ګمان را وګرځېدی ، چي د هغه نتیجه دباندي دارا وو تله چي د ورځي غرمې خوا ته کله چي لمر ښه روښانه وو ، یو وار زما مخته توره شپه سوه ، ګواکي د ظلمات بعضها فوق بعض نظاره سول ، الله جل شانه زما په زړه کي دارا واچول ،

چې دا د امام صاحبؒ سره د بدګمانۍ نتیجه ده، نو ما دا کلمات وویل چې ددې څخه استغفار وکړه هغه تاریکۍ ختمې سولې، او د هغه پر ځای باندې داسې رڼاوې پیدا سوې، چې هغه د غرمې تر رڼاوو هم روښانه وې، د هغه وخته څخه زما د امام صاحبؒ سره حسن عقیدت نور هم زیات سو، او زه د هغو خلکو څخه څوک چې د امام صاحبؒ الله په شان کې حسن عقیدت نلري، هغو ته وایم چې زما او ستاسو مثال د هغه آیت مثال دی چې الله جل شانه د معراج قدسیه د منکرینو په شان کې نبي ﷺ ته خطاب کوی، چې ﴿افَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى﴾ ما چې کوم څه د هوښیارۍ او بیدارۍ په وخت کې ولیدل، په دې اړه زما سره مجادله کول بې ځایه ده هذا والله وَلِي الهِدَايَةِ خَاتِمَةُ الكَلَام .

اوس زه خپل مضمون پر هغو کلماتو باندې ختموم، او د ناظرینو څخه دا امید لرم چې هغه د بزرګانو سره او خصوصاً د متبعین امامانو سره حسن ظن ولري، او د سپکاوي او بې ادبۍ څخه اجتناب وکړي، ځکه د دې نتیجه په دواړو جهانو کې د خسران او نقصان موجب ده .

نسئل الله الكريم حسن الظن والتادب مع الصالحين و نعوذ بالله العظيم من سوء الظن بهم فانه عرق الرفض و الخروج و علامة المعاقين و لنعم ما قيل .

از خدا خواهیم توفیق ادب

بے ادب محروم ماند از لطف رب

(تاریخ اهل حدیث ص ۷۹)

۷﴾...... حضرت مولانا محمد ابراهیم سیالکوټي صاحب وایي چې که څه

هم زه سخت ګنهګار یم، خو زه دا ایمان لرم او دخپل صالح استاذانو جناب مولانا عبد الله غلام حسن صاحب، مرحوم سیالکوټي او جناب مولانا حافظ عبد المنان صاحب د محدث وزیر آبادي صاحب د صحبت او تلقین څخه مي دا خبره د یقین رتبې ته رسېدلې ده، چي د بزرګانو خصوصاً د امامانو حضراتو متبوعینو سره حسن عقیدت د برکاتو د نزول ذریعه ده (تاریخ اهل الحدیث ص ۷۹)

۸﴾...... مولانا محمد ابراهیم صاحب د مولانا حافظ عبد المنان وزیر آبادي متعلق لیکي چي ده د امامانو ډېر ادب کاوئ، ده به ویل کوم څوک چي د امامانو د دین او خصوصاً د امام ابو حنیفهؒ بې ادبي کوي د هغه خاتمه ښه نه وي (تاریخ اهل الحدیث ص ۴۲۸)

۹﴾...... نعیم بن حماد خزاعی د امام بخاریؒ د استاذانو څخه دی وضع کتباً فی الرد علی الحنیفة . ده د احنافو په رد کي ډېر کتابونه تصنیف کړل . داسړي د امام صاحب په حسد کي دا اندازې ته رسېدلی وو چي په امام صاحب پسې به یې د دروا غو حدیثونه هم تړل، چي دا امام صاحب نقل کړي دي او د امام صاحب په عیب کي به یې د دروا غو حکایتونه هم کول، چي هغه ټوله دروا غ دي .

(میزان الاعتدال ص ٥٣٦ ج ۲، تهذیب التهذیب ص ۴۶۳، ج ۱، نهایة السؤل فی رواة السنة الاصول بحواله تاریخ اهل الحدیث ص ۷۰، داؤد غزنوي ص ۳۷۸)

۱۰﴾...... د مولانا نذیر حسین صاحب په مجلس کي یو غیر مقلد د خبرو په مابین کي د حضرت ابن همام رحمه الله یو څه تنقیص وکړی، مولانا نذیر

حسين صاحب هغه ته خبنم وكړى، اوويې ويل چي ته زموږ مخ وګوره چي د دوى په شان كي څه وايو . (داؤد غزنوي ص ٣٨٠)

الناس فى ابى حنيفه حاسد او جاهل: يعني د امام ابو حنيفهؒ په شان كي غلطه رايه لرلو والا څه خلک خو حسد كونكي دي او څه خلک د ده د مقام څخه ناخبره دي .



د غير مقلدينو نوى شكل

مسعودي فرقه (نام نهاد جماعت المسلمين)

مسلمانانو وروڼو ! دا يو رښتيا او تاريخي حقيقت دئ ، چي اسلام يو عالمګير دين دئ، او په ټوله دنيا كي د دې اشاعت اهل سنت والجماعت خصوصاً بيا د احنافو په ذريعه وسو او خاتم النبين ﷺ د سند هـ او هند فتحې پېشګويي هم كړې وه . (نسائى، احمد) هند احنافو فتحه كړى، په لكهاوو كفارو د دوى په لاس اسلام راوړى، او هغه ټول سنيا ن حنفيان جوړ سول، تقريباً زر كاله په دې ملک كي اسلامي حكومت قائم وو، او پر كتاب او سنت بانديِ مبني حنفي فقه د دې ملک قانون وو . نواب صديق حسن خان صاحب غير مقلد (١٣٠٧ هجري) د دې حقيقت اعتراف كوي، چي د هندوستان د مسلمانانو حال دا دئ چي كله دلته اسلام راغلى دى، چونكه اكثريت خلک باچاهانو مذهب او طريقه خوښوي، د هغه وخته څخه بيا تر اوسه پوري دغه خلک پر حنفيت باندي قائم دي، او تر ننه پوري ددې مذهب عالمان، فاضلان، مفتيان، او حاكمان دي .

(ترجمان وهابيه ص ١٠)

د برطانیې حکومت:

وروسته دلته دانګرېزانو حکومت قائم سو او هغو په دې ملک کي مذهبي آزادي یعني (د غیر مقلدیت) بنیاد کښېښوو ی . جناب مولانا محمد حسین صاحب غیر مقلد بټالوي (هجري ۱۳۳۸) پخپله وایي: حضراتو د مذهب څخه دآزادي او خپلواکي او پخپله د اجتهاد تېزه هوا د یورپ څخه راغلې ده .

بیاجناب مولانا محمد حسین صاحب بټالوي (۱۳۳۸ هجري) خپله وایي: اې حضراتو ! د مذهب څخه دآزادۍ او خود سرۍ و خود اجتهادۍ تېزه هوا د یورپ څخه راغلې ده . او د هندوستان په هر ښار، کلي او کوڅه کي غورېدلې ده، چي نه یې غالباً هندوان او نه یې مسلمانان مسلمان پرېښي دي . د حنفي او شافعي مذاهبو خو پوښتنه لا مه کوه" (اشاعت السنة ص ۲۵۵هـ) د دې غیر مقلدیت دسرپرستي لپاره یو ضمني ریاست بهوپال ورکول سو .

نواب صدیق حسن خان لیکي: د بهوپال روایان فرمان همېشه د مذهب په آزادي (غیر مقلدیت) کي کوښښ سوی چي خاص منشأ د هندوستان د سرکار ده . (ترجمان وهابیه ص ۳)

بیا وایي : دا خلک (غیر مقلدین) په خپل دین کي هغه آزادي کوي چي د هغه اشتهار په وار وار د انګرېزي سرکار څخه جاري سو . خصوصاً د دهلي دربار څخه چي د ټولو دربارو سردار دی . (ترجمان وهابیه ص ۳۲) د دې څخه معلومه سوه چي غیر مقلدیت د یورپ څخه راغلی او د انګرېزانو چلول سوی تحریک دی . کنه دالله جل شانه په دې پاک کلام او د

دريـمـه نتيـجه دا را وو تله چي دا فرقه په يو څو كلو كي په څو كوچنئ كـوچنـئ فـرقـو كـي سره وو پښـل سوه . جناب مولانا عبد الوهاب صاحب جماعت غرباء اهل حديث ددې تفصيل دا رقم بيانوي:

(۱) جماعت غرباء اهل حديث ۱۳۱۲ھ .

(۲) كانفرنس اهلحديث ۱۳۲۸ھ .

(۳) فرقه ثنائنه ۱۳۳۸ھ .

(۴) امير شريعت صوبه بهار ۱۳۳۹ھ .

(۵) فرقه حنفيه عطائيه ۱۳۳۹ھ .

(٦) فرقه شريفيه ۱۳۴۹ھ .

(۷) فرقه غزنويه ۱۳۵۳ھ .

(۸) جمعيت اهلحديث ۱۳۷۰ھ .

(۹) محی الدين لكهنوي فرقه ۱۳۷۸ ھ (خطبه امارات صفحه ۲٦)



فرقه مسعودي

نوموړی جماعت المسلمين او د مسلمان نوې معنی:

اهـل اسلام چي په كومه معنی كي د مسـلم نوم استعـمالوي او په كتاب او سـنت كـي چـي د مسـلـم كـوم مـفهوم دی هغـه د فـرقـه مسعودي نام نهاد جـمـاعـت الـمسـلـمـيـن باني د فرقه غرباء اهل حديث فرد مسعود احمد چي كـوم وو د مخه اهل حديث بلل كېدی هغه عالم نه دی د اردو كتابو په كتلو سره نيم ملا خطره ايمان مصداق دی . دی خو اهل حديث وو نو ديو قلمي مناظره د تلاش حق په نامه سره د جماعت اهل حديث كراچي له طرفه څخه

شائع کړل بله رسالة ''التحقیق فی جواب التقلید'' د جماعت غرباء اهل حدیث لـه طرفه شائع کړه . په دغو کتابو کي يې آئمه مجتهدين رحمهم الله شریعت ساز او د دوی مقلدين يې مشرکين وليکل .

د اسلافو خلاف بدګماني او پر اکابرو د اهل اسلام باندي د بد زباني يې خاص نوم کښېښود . د ده دا شوق وو چي د جماعت غرباء اهل حديث امير جوړ سي نو د ددې وجهي ده پر ۱۳۸۵ هـ کي د جماعت غرباء اهل حديث يو ضمني فرقه جوړه کړه او د هغه نوم يې جماعت المسلمين کښېښود . تر لس کاله پوري دغه نوې فرقه د غرباء سره وه آخر په ۱۳۹۵هـ کي ده د نوي مستقلي فرقې اعلان وکړی . نو دی د مسلم نوې معنی ليکلې غرض دا چي مسلمين يعني ديو امام تقليد نه کولو والا همېشه وسپدلی دی ''يعني'' ''مسلمين'' په معنی غير مقلدين يو منفي فرقه ده چي د هغه سره يو مثبت لائحه عمل نسته .

د دې نوي معنی مطابق ټوله اهلسنت والجماعت، احناف، شوافع، مالکيه او حنابله يې د اسلام څخه خارج کړل، خو موجوده اهل حديث خو غير مقلد دي هغو خو غوښتل چي مسلم سي خو باني فرقه هغه هم مسلم نه ګڼل او حال دا چي هغه غير مقلد دي نو د دې لپاره ده هغه د غير مسلم بللو لپاره يې ''اطاعت امير'' رسالة وليکله چي په هغه کي يې د امير اطاعت فرض ګڼلی دی او د ده په نزد امير او امام هم معنیٰ دي . امير جناب خپله دی . اهل حديث که څه هم غير مقلد دي خو هغو د مسعود احمد اطاعت فرض نه باله نو د دې وجهي څخه غير مسلم سول .

اوس د مسلم معنی واضحه سوه چي يو څوک پر خدای او پر رسول

باندي ایمان ولري دیو امام تقلید هم ونکړي خو پر مسعود احمد باندي ایمان نه راوړي د ده اطاعت فرض و نه ګڼي هغه هیڅکله مسلم نه دی. په دغو معناوو سره د مسلم لفظ نه په قرآن کي راغلی دی نه په حدیث کي نه په تاریخ کي. داکه څه هم ګنده خود ایجاد بنده دی نو د دې وجهي د جماعت المسلمین مطلب دارا ووتی چي د آئمه اربعه رحمهم الله تقلید پرېږدی د مسعود احمد اطاعت فرض وګڼی دې ته مسعودي فرقه وایي.

ددې څخه دا خبره واضحه سوه چي دا خلګ پر قرآن حدیث باندي درواغ وایي چي زموږ د فرقې نوم په قرآن کي دی لکه څنګه چي په قرآن کي موجود لفظ ربوه څخه د قادیانیانو ربوه هیڅکله نه ده مراد. په قرآن شریف کي موجود د حزب الله د لفظ څخه د مسعود احمد په نزد د مسعود الدین عثماني فرقه حزب الله مراد نه ده نو د قرآن عظیم الشان د نزول څخه څورلس سوه کاله وروسته په کراچي کي د مسعود احمد جوړه سوې بدعتي فرقه په قرآن و حدیث کي موجود الفاظ "د مسلم" مصداق څنګه جوړېدای سي؟

د مسعودي فرقې دعوت:

۱﴾......کوم څوک چي الله عزوجل حاکم وبولي خو مسعود احمد حاکم و امیر و نه بولي هغه مسلم نسي جوړېدای.

۲﴾...... کوم سړی چي پر رسول الله ﷺ باندي ایمان ولري خو مسعود احمد امام مفترض الطاعت نه و مني هغه مسلم نه دی.

۳﴾......کوم دین اسلام چي د څورلس سوه کاله څخه راروان دی، څوک چي هغه و مني خو پر مسعود احمد باندي ایمان نه راوړي مسلم نه دی.

۴﴾...... الله (جل شانه) چي د چا نوم مسلم ايښى دى كوم چي د څور لس سوه كاله څخه را روان دى، دوى هغه مسلم نه مني دوى خالص هغه څوک مسلم مني چي د هغه نوم مسعود احمد په ۱۳۹۵هـ كي د الله (جل شانه) خلاف مسلم كښېښوى .

۵﴾...... اهل اسلام دا وايي چي د الله (جل شانه) والا وو سره محبت كول د الله (جل شانه) ا د هغه د رسول ﷺ سره د محبت نښانې خو د دوى په نزد دمحبت بنياد خالص په مسعودي فرقه كي داخلېدل دي . كوم مسلمان چي په مسعودي فرقه كي داخل نه وي و هغوى ته دوى نه سلام كوي او نه د هغوى د سلام جواب وركوي .

٦﴾......تولـه اهل اسلام او د نبي ﷺ وروسته پر خپلو اكابرو باندي فخر كوي خو د مسعودي فرقې فخر پر خپل جاهل امام باندي دى . نبي ﷺ وويل چي په آخره زمانه كي به خلګ جاهلان خپل ديني اميران جوړ كړي . چي خپله به هم ګمراه وي دوى به هم ګمراه كړي .



نوى دين نوي مسائل

(۱) . . . د اسلام د شروع څخه بيا تر ننه پوري مسلم د الله عزوجل و فرمانبردارانو ته ويل كيږي . په دې نوي دين كي د مسلم معنى غير مقلد مسعود احمد امام مفترض الطاعت منل وګڼل سو .

(۲) . . . د مسلم لفظ مخكي د كافر په مقابله كي استعمالېدى د الله عزوجل فرمان دى ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِياً وَلاَ نَصْرَانِياً وَلَكِن كَانَ حَنِيفاً مُّسْلِماً وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ (آل عمران: ٦٧) ابراهيم عليه السلام نه

يهـو دي و و ، نـه عـيسـائـى ، نـه مشـر ک بـلکـه حنيف مسلم و و .دوهم ځاى دي: ﴿أَيَأْمُرُكُم بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ (آل عـمران :۸۰)آيا تاسي ته کفر دربنـايـى ورو ستـه تـر دې چي تـاسـي مسـلـمـانان سو است، دريم ځاى دى :﴿ربـمـا يـود الـذين کفروا لو کانو مسلمين ﴾ (الـحـجر :۲) يـو وخت به تمنا وکړي کافر، څه بنه به وايي چي مسلمان واى، د دې وجهي څخه مسلمان هر کله د مسلم لفظ د کفر په مقابله کي استعمالوي خو په نوي مسعودي ديـن کـي د مسلم لفظ د اهل سنت و الجماع په مقابل او د حنفي، مالکي، شـافـعي، حـنبـلـي استـعـمـاليـږي خو په قرآن و حديث او اهل العلم کي د مسلم لفظ د دوى خلاف نه سو استعمال .

(۳) . . . په قرآن کي چي کله آيت يوم تبيضّ وجوه نازل سو نو نبي عليه السـلام وويـل د چا مخان چي د قيامت په ميدان کي روښانه وي هغه اهل سـنـت و الـجـمـاعـت دي او حضرت عبد الله بن عباس﷜ هم د دې آيت په تفسير کـي اهل سنت و الـجـمـاعت بيان کړى (الدر المنثور ج۲/ ص ٦۳) خو په نوي مسـعـودي فـرقـه کي اهل سنت و الجماعت بللو والا غير مسلم دوزخي دى . څه رقم د نبي عـلـيـه الـسـلام او د صحابه وو مخالفت کيږي ! مسعودي فرقه دلته د نبي عـلـيـه السلام او د صحابه وو رضوان الله عليهم اجمعين دا نـه اوري، ځکـه پـر دې بـاندي خو د مسعود احمد اطاعت فرض دى نو د دې وجهي دا فرقه ټوله اهل سنت و الجماعت ته غير مسلم وايي .

(۴) . . . امام ابن سيرين﷫ (م ۱۱۵هـ) وايي :اول به د حديث سند نه پوښتي ، چي کـلـه فـتـنـه واقع سوه نو ويل به يې چي د راويانو نومان را وښيه د دې لپـاره چي د اهـل سـنـت راويـانـو حـديـث قبول کړل سي، او د اهل بدعت

راویانو روایت قبول نه کړل سي . (صحیح مسلم ص ۱۱) نو د دې څخه معلومه سوه چي په خیر القرون کي خلک اهل سنت بلل کېدل او د صحیح احادیثو راوي هم اهل سنت دی او د اهل سنت مقابل اهل بدعت وو نه مسلم . که چیري اهل سنت مسلم نه سي نو د ټولو صحیح احادیثو راویان غیر مسلم سول او چي کله د اهل بدعت روایات قابل قبول نه وي نو د غیر مسلم روایات به څنګه قابل قبول وي .

(۵) . . . دغي نوي فرقې چي څنګه د مسلم معنی خرابه کړه دغه رقم د مذهب معنی یې هم خرابه کړه . د مذهب معنی هغه لاره وي چي منزل سره دي یو ځای کوي زموږ مذهب حفني دئ کوم چي موږ منزل محمدي ته رسوي او د فرقې په معناوو کي د جلا والي معنی ده . یعني کوم سړی چي د منزل محمد د لاري څخه جلا سو . نو د دې وجهي څخه د مذاهبو مقصد هم تر منزل محمدي پوري رسول دي او د فرقې مطلب خپله منزل نو آیا په خپله مذهب یعني د لاري څخه اړول دي تاو تاریخ ویلی دی اول د اهل سنت څخه یوه فرقه اهل حدیث جلا سول بیا د دغي فرقې (اهل حدیث) څخه یوه بله فرقه غرباء اهل حدیث جوړه سوه بیا د داغه فرقې څخه یوه نوې فرقه پیدا سوه چي مسعودي فرقه ده بلکه فرقه هم نه فرقه در فرقه ده .

د حضرت معاذبن جبلؓ په مشهور حدیث کي دي چي نبی علیه السلام چي کله پوښتنه وکړه چي کله مسئله په کتاب د الله کي پیدا نه سي نه په سنت کي نو څه به کوي ؟ حضرت معاذ بن جبلؓ وویل : اجتهد برأیی . زه د خپلي رایې څخه اجتهاد کوم . په دې کي حضرت معاذ بن جبلؓ د خپل اجتهاد نسبت خپل طرف ته وکړی . او نبی علیه السلام د دې څخه منع

نه وکړه . نو د دې وجهي څخه اهل سنت د اجتهادي مسائلو نسبت د مجتهد و طرف ته وکړی حنفي ، شافعي وغیره ورته وایي . او دا نسبتونه بلا نکیر په اهل اسلام کښې وو .

دغه رقم د دوی پر صحت باندي اجماع وسوه . خو مسعودي فرقه د اجماعي مسائل د منلو لپاره تیار نه دي . که څه هم الله (جل شانه) ارشاد کړی چي د سبیل المؤمنین څخه د لیري کېدلو والا ځای جهنم دی او نبي علیه السلام د جماعت څخه د لیري کېدو والا دوزخي بللی دی خو مسعودي فرقه (بدعتي فرقه) د اجماع څخه د لیري کېدلو والا د دوزخي پر ځای باندي مسلم بللی . څه رقم د الله او د رسول ﷺ سره ښکاره مقابله ده؟



فرقه جماعت المسلمین د تحقیق په هنداره کي:

اما بعد ! مسلمانانو ورونو ! دا یو تاریخي حقیقت دی چي په بر صغیر پاکستان او هندوستان کي اسلام غوړولو والا اهلسنت والجماعت دی . په لکهاوو کفارو د دوی پر دعوت باندي اسلام قبول کړی هغه مسلمانان هم بیا اهلسنت وو او تقریباً زر کاله په دې ملک کي اسلامي حکومت قائم وو او پر کتاب او سنت باندي مبني فقه حنفي د دې ملک قانون وو . بیا د دې وروسته د انګرېزانو حکومت دلته قائم سو . د دا ځای ټوله سني مسلمانان د یوه مذهب حنفي پابند وو . نه دلته اختلاف وو او نه د ددې فرقه پرستي نښان وو ، ملکه وکټوریه یوې انګرېزي د مسلمانانو د دې

اتفاق و اتحاد فضاء د ختمولو لپاره یې آزادي مذهب (د تقلید څخه آزادي) یو اشتهار وکړی چې هغه انګرېزي وکټوریه د سلو جوبلي پر موقع باندي هغه اشتهار تقسیم سو . د حکومت برطانیه د خوشحاله کېدلو لپاره څه خلګ د پابندي د مذهب حنفي څخه آزاد چول غیر مقلدین سول . نو نواب صدیق حسن خان غیر مقلد لیکي : چې د بهوپال فرمانرویانو هر وخت د مذهب په آزادي (غیر مقلدیت) کي کوښښ کړی . چې هغه خاص د انډیا (هندوستان) د سرکار منشأ ده . دولت عالیه برټش په دې معامله کي قدیماً حدیثاً هر ځای پر انصاف باندي نظر کړی دی . یو ځای پر خالص تهمت او افتراء باندي کاروایی د واقعه خلاف نه ده کړې بلکه د مذهب د آزادي اشتهارات یې جاري کړیدي . (ترجمان وهابیه ص ٢)

زیات لیکي چې که چیري یو بدخواه او بد اندیش د برټش سلطنت مني هغه به یې هغه سړی بولي چې هغه آزادی مذهب (غیر مقلدیت) نه خوښوي . او په یو خاص مذهب (حنفي) بالدي د پلار او نیکه د وخته څخه راروان وي او پر ټینګ وي هغه به یې نه خوښوي . (دغه رقم صفحه ٥) پر یو بل ځای کي دئ (نواب صدیق حسن خان غیر مقلد لیکي : دا آزادي د مذهب زموږ د نوي مذاهبو (حنفي و شافعي و غیره) څخه عین مراد قانون انګلیشیه دی . دغه رقم (٣٠) بیا لیکي "دا خلګ (غیر مقلد) په خپل کي هغه آزادي غواړي چې د هوغه اشتهار په وار وار د انګرېزي سرکار څخه سوی دی . خصوصاً د دهلي د دربار څخه چې د دربار و سردار دی . کومي رسالې و مسئلې ردِ تقلید و تقلید په مذهب کي تر اوسه پوري تألیف سوی دی . هغه شاهد د عدل دی پر دې خبره

باندي چي مدعي ددې طريقې د خاص مذهب د قيد څخه آزاد دي . او څو مره اندازه رسالې په جواب كې د دغو مسائلو د طرفه څخه د مذهب مقلدانو ليكلي دي هغه ټوله په لوړ آواز دا را بولي چي موږ د خاص مذهب مقيدين و مقلدين يو پر موږ باندي پيروي د فلان و همان فرض و واجب ده . د مذهب د آزادۍ څخه مو هيڅ واسطه نسته . دا آزادي د برټش و سركار ته يا و هغو ته چي په دې حكومت كې د خاص مذهب د آزادي اظهار كوي، هغه ته دي مبارك وي اوس به فكر كوو چي د انګريزي سركار دښمن به هغه وي چي هغه په يو قيد (حنفي مذهب) كې اسير وي يا آزاد و فقير (غير مقلد) وي .

او د احنافو په شان كې يې ليكلي دي " چي دا غواړي چي هغه مذهبي تعصب او تقليد شخصي ضد او جهالت آبايي چي په دوی كې را روان دي قائم دي او كوم اسائش چي د هندو رعايا ته په وجه د مذهب د آزادۍ وركول سوی دی د سركار له طرفه هغه ليري سي . او د عالم امن قائم نه وي . ټوله مسلمانان د يو خاص مذهب پابنده وي او خپل ښه تعصب د سركار سره ښكاره كړي . او چي موقع پيدا كړي . مثل زمانه د غدر فساد خپور كړي (دغه رقم ص ٥٦) د هند د سركار په مقابله كې سلا ح پور ته كول د ايمان او اسلام خلاف دي (دغه رقم صفحه ١٦)

خلاصه دا را وو تله چي د انګريزانو څخه مخكي د هندوستان او پاكستان د سني مسلمانانو په مابين كي اتفاق و اتحاد وو ، ټوله د حنفي مذهب پابنده وو . نه څه تفرقه وه او نه اختلاف وو ، نو د دې وجهي دا خطره وه چي كه چيري دا خلك دغه رقم متحد وو نو دا به دانګريزانو د

سـر کـار پـه خـلاف جهاد ته را ووزي او دبرطانيې حکومت به د خاورو سره کړې سـي . نـو د مسـلـمـانـانـو د اتـحـاد د ختموتو لپاره د برطانيې سرکار د مـذهـب د آزادۍ اشتـهـار جوړ کړی . کومو خلګو چي د اشـتـهـار پـه وجه سره حـنـفـي مـذهـب پـرېښـووی او غـيـر مـقـلـدين جوړ سول هغـه د برطانيې د سـرکار فرمانبرداران وبلل سوه . هغو هم د انګرېزانو خلاف جهاد د اسلام او ايـمـان خلاف وبلل . او کومو خلګو چي پر دې اشتـهـار باندي عـمل و نه کـړی او د پـخـوا پـه رقـم سـنـي مسـلـمـانـان و اوسېدل هغـو ته متـعـصـبين ، ضـديان ، د برطانيې د سرکار دښمنان وويل سول . ددوی جهاد ته د غدر و فساد نوم ورکول سو .

د امـام اعـظـم ؒ د دې تقليد پرېښولو سبب څه قرآني آياتو نه يا د نبي عليه السـلام احـاديـث نـه وو خالص د ملکه وکټوريه اشتـهـار ددليـل وو کله چي خـلـګو د مذهب څخه آزادي اختـيـار کړه او خلګ بې مهار شتر وګرځېدل بيا څـه وو خـلـګ جـلا جـلا سـول نـوي نـوي اختـلافـات او نـوي نـوي فـرقـې جـوړي‌سـوې . مـولانـا عبـد الاحـد خـانپـوري وايـي چـي " نيچـري فـرقـه (قـدرتـي فـرقـه) چي د معجزاتو او کراماتو منکر دي قادياني (چي د ختم نبـوت او د حـضـرت عيسـی عليـه السلام د حيات منکرين او مرزا قادياني نبي بـولـي) چـکـړالـوی فرقه (چي منکرين د سنت دي د دغو اهل حديثو (غيـر مـقلدينو څخه راوتلي دي (ملخصاً کتاب التـوحيد والسـنة صفحه ۱،۲) . پخپله چي اهل حديث بلل کيږي پـه هغـو کي جلا جلا فرقې جوړي سوې امام جماعت غرباء اهل حديث د هغو تفصيـل دا رقم بيانوي:

(۱) جماعت غرباء اهل حديث ۱۳۱۲ هـ .

(۲) کانفرنس اهلحدیث ۱۳۲۸ھ .

(۳) فرقه ثنائنه ۱۳۲۸ھ .

(۴) امیر شریعت صوبه بهار ۱۳۳۹ھ .

(۵) فرقه حنفیه عطائیه ۱۳۳۹ھ .

(٦) فرقه شریفیه ۱۳۴۹ھ .

(۷) فرقه غزنویه ۱۳۵۳ھ .

(۸) جمعیت اهلحدیث ۱۳۷۰ھ .

(۹) انتخاب مولانا محی الدین ۱۳۷۸ھ .

یعني خالص په ٦٥ کاله کي دا فرقه په ۹ فرقو کي تقسیم سوه . د دوی عجیبه انداز دی . وعظ د فرقه بندي خلاف کوي . خو نوی فرقې جوړوي . مسلمانانو ته وايي چي آئمه وو اختلاف وکړي . حالانکه په دې ملک کي ټوله حنفي وو . دلته، د شافعي، مالکي، حنبلي اختلاف وجود لا نه وو . په دې ملک کي د غیر موجود اختلاف بهانې بیانوي . او خپله په دې ملک کي نوي نوي اختلاف پیدا کوي، پروفیسر محمد مبارک غیر مقلد شاګرد مولوي عطاء الله حنیف بهوجیالوي غیر مقلد لیکي : " چي د جماعت غرباء اهل حدیث بنیاد خالص د محدثینو د مخالفت د مقصد لپاره ایښول سوی دی . خالص دا مقصد نه دی بلکه تحریک د مجاهدینو یعني د سید احمد شهید د تحریک په مخالفت کولو کي یې د انګریزانو د خوشحاله کولو مقصد پنهان وو .

(علماء احناف او تحریک مجاهدین ص ۴۸)

د دغو معروضاتو شخه خبره د روز روشن رقم واضح سول چي په

پاکستان او هندوستان کې د مسلمانانو د افتراق او انتشار باعث غیر مقلدیت جوړ سو . فرقه بندي او نوي اختلافات پخپله د ترک تقلید د درختې اغزي دی . فرقه در فرقه در فرقه مسعودیه دا ستاسو ویلې دي چې د ملکه وکټوریه اشتهار د مذهب د آزادي پر بناء باندي فرقه د غیر مقلدینو جوړه سول چې د هغو مقصد دا وو .

”د انګرېزانو سره جهاد حرام، او په مسلمانانو کې تفرقه بازي اختلاف و انتشار خپرول فرض خالص دا مقصد وو .

مسعودي فرقه او قرآن :

باني فرقه او د ده مقلدین د قرآن نوم اخلې خلګو ته دهوکه ورکوي . حالانکه دا قرآن د نبي علیه السلام وروسته د امت په ذریعه موږ ته را ورسېدی . دا امت چې د دوی په ذریعه قرآن پاکستان و هندوستان ته راغلی، اهل سنت والجماعت حنفي وو . موږ و دوی ته مسلمانان وایو نو ګواکي موږ ته دا قرآن د مسلمانانو په ذریعه ورسېدی . باني فرقه دوی ته مشرک او کافر وایي . نو دوی ته دا قرآن د مشرکانو او کافرانو په ذریعه رسېدلی دي . هغه پر هغو مشرکینو او کفارو باندي څنګه اعتماد کوای سي دوی دی یو دا رقم قرآن را وړي چې د غیر مقلدینو د سند متواتره ځخه و دوی ته رسېدلي وي . دا هم مشاهده ده چې د دې فرقې اکثره خلګ د قرآن خلګ د قرآن عظیم الشان د ناظرې تلاوت هم صحیح نسي کوای . د باني فرقه د موجوده قرآن په شان کې اعتقاد دا دی، دی لیکي چې ”قرآن په هر لحاظ سره مکمل کتاب دی ، دا یو خوش نما جمله خو ضرور ده خو په حقیقت کې هیڅ هم نسته . نه ده د لمانځه طریقه په دې

كې ستــه نه ديو بل عمل او بيا د هر لحاظ څخه مكمل دي دا عجيبه خبره ده (تفهيم الاسلام ص ۲۲٦)" د قرآن اسلام خو ډېر آسانه دى دعا و غوارو لمونځ ادا سو . پاكيزګي (صفائى) اختيار كړه زكوٰة ادا سو . په لمانځه كي باد (هوا) خارج سي او دس سالم دى، د اتڼو او ډانسو محفلونه كوه هيڅ ممانعت نسته چكي او كرم بورډ كوه خوند ځيني اخله په كي هيڅ مضايقه نسته (ايضاً ص ۲۳۲) په قرآن كي د عريانيت درس دى (ص ۲۴٦) ، (۲۴۷) آيا په دغو آياتو سره د اسلام و دښمنانو ته پر اسلام باندي د خندولو موقع نه پيدا كيږي ؟ (صفحه ۲۴۸) د قرآن پر قطعيت باندي خو د قرآن د آيات څخه هم خوبښ رسيږي . ستيار پر كاش وغيره كتابونه تاسي ملاحظه كړئ (ص ۲۵۵) هغه د مسلم كېدلو سره هم د قرآن انكار كواى سي . د مسلمانانو يو جم غفير پر تحريف باندي ايمان لري (تفهيم الاسلام ص ۲٦۹).

معلومه سوه چي د مسعودي فرقې د امام مفترض الطاعة په نزد قرآن نه پوره دى نه قطعي دى . قرآن د نبي عليه السلام و منزلت لو ديكه وركوي قرآن د عريانيت درس وركوي . اتڼ، چكه، كرم بورډ، قطار، كولو څخه منع نه كوي، د قرآن د تحريف قائل هم مسلم دى، د قرآن څخه د انكار كولو سره سره انسان مسلمان دى، غير مسلم خو خالص د امامانو د تقليد څخه جوړيږي .



د علامه شعراني كشف

علامـه شـعراني فرمايي: چي كله الله پر ما دا احسان وكړى چي زه يې د شـريعت د سـرچشمې څخه واقف كړم نو ما ټول مذاهب وليدل چي هغه د دغـه چينـې سره متـصـل وو . پـه دغـه ټـولـو كـي د آئمه اربعه وو ويالې، چينـې بـه جاري وې، او چـي كـوم مذاهب ختم سوي وو هغه وچ سوي او ډبري جوړيسـوي وې . او پـه آئمه اربعه كي تر ټولو غټه چينه د امام ابو حنيفهؒ وه . او بيا و هغه ته قريب قريب د امام احمد بن حنبلؒ وه او تر ټولو كـوچنـۍ چيـنـه د امام داؤدؒ د مذهب اوبه وې چي هغه په پنځمه صدۍ كي ختـم سوى وو . نو د دغه وجهي سوچ ما داوواهۍ چي د آئمه اربعه ووو پر مـذاهبـو بـانـدي د عـمـل زمانه به اوږده وي او د حضرت امام داؤدؒ پر مذهب بـانـدي لـږ وخت عمل وسو .نو څرنګه چي د امام ابو حنيفهؒ د مذهب بنياد تـر ټولـو مـذاهبـو د مـخه مدونسوى وو دغـه رنګه هغه به ختم هم تر ټولو آخر سي . او د اهل كشف هم دغه مقوله ده .

(ميزان شعرانى اردو ص ۱۰۷، ج ۱)



مردم شماري

عـلامـه شـكيـب ارسلان (م ۱۳۶۹هـ) فرمايي: " د مسلمانانو اكثريت د امام ابو حـنيـفـهؒ مـقـلـدين دي . د ټول ترک او بلقان مسلمانان د روس او افـغـانستـان مسـلمـانـان، د چيـن مسـلمـانان د هندوستان (پاک و هند) مسلمانان او د عربو اكثره مسلمانان او د شام او عراق اكثره مسلمانان پـه فـقـه كـي حـنفـي مسـلک دي . (حـاشيـه حسـن المساعي نمبر ۶۹) او بيا د ۱۹۱۱ء سركاري مردم شماري دا رقم ليـكلي دي چي اثنا عشري يو كروړ

او وه دېرش لکه، زیدي دېرش لکه، حنبلي دېرش لکه، مالکي یو کروړ، شافعي لس کروړ او حنفیان تر او ه دېرش کروړ څخه هم زیات . نو ګوا کي د سني مقلدینو تعداد تر اته څلوېښت کروړه دېرش لکه زیات وو . خو لکین د سرکاري مردم شماري په رجسټر کي د غیر مقلدینو یوه خانه هم نه وه موجوده .



حرمین شریفین :

حرمین شریفین چي د اهل اسلام مرکز دی، د صحابهؓ وو د دور څخه وروسته په سوو کلونو د دغه مقدس مقاماتو د خدمت د موقع توفیق و احنافو ته وزکړل سوی دی . امام شافعيؒ فرمايي : چي دولتِ عباسیه چي دهغو حکومت تقریباً پنځه سوه کاله وو ،که څه هم خلفا يې د خپلو نیکه ګانو پر طریقه ول خو دا هم تاریخي حقیقت دی چي د دغه دولت اکثره قاضیان او شیوخ الاسلام حنفیان وو . او بیا د دولت سلجوقي او خوارزمي ټولو خلفاء حنفیان وو . او په عدالتونو کي هم حنفیت غالبه وو . دا دواړه خلافتونه تقریباً در سوه کاله د حرمینو شریفینو خادم او پر دولت اسلامي باندي حاکمین وو . بیا د نوي صدۍ څخه تقریباً تر ۱۳۴۰ھ پوري دولت عثمانیه وو . دا ټول احناف وو . نو ګواکي تقریباً دوولس سوه کاله دا عزاز د احنافو سره وو .

اوس تقریباً تر نصف څخه څه زیاته صدۍ وخت کیږي چي دغه خدمت د احنافو د اکا د زامنو یعني د حنابله وو په برخه دی . او حنفي خو غټ ورور دی . او د غټانو حوصله خو هم غټه وي نو له دې وجهي کشران هم

يو ځاى ورسره بيايي . نو ده ٦٦٥هـ څخه تر ۱۳۴۰هـ پوري د حرمين شريفينو به څلور قاضيان ول، حنفي، مالكي، شافعي، حنبلي، بلكې د نوي يمي صدۍ څخه تر ۱۳۴۵هـ پوري په حرم كعبه كي به څلور مصلې وې . د دې يوه غټه فائده دا هم وه چي په ټوله دنيا كي دا خبره تر څو صديانو پوري مسلمه وه چي اهل سنت په څلورو مذاهبو كي منحصر دي . په هيڅ كس كي د حنفي، مالكي، شافعي، حنبلي بغير چا ته د اهل سنت والجماعت ويلو همت نه وو . ۱۰ دسمبر ۱۹۲٦ مطابق ۱۳۴۵هـ صرف يوه حنبلي مصلىٰ پاته .

سوال: يو وار يو غير مقلد وويل ، چي د خداى ډېر ډېر شكر دى چي پخوا به څلور مصلې وې اوس يوه پاته ده : ما ورته وويل چي ته شكر پر څه شي ادا كوې چي كله څلور وې په هغه وخت كي ستاسو مصله نه وه پكښي او اوس چي يوه ده هم ستاسو نه ده . الله (جل شانه) د تېر څو سوو كلو څخه د حرمينو شريفينو د خدمت اعزاز صرف او صرف و اهل سنت والجماعت ته وركړى وو، په اولو صديانو كي خادمان حنفيان ، اوس يې دغه خدمت د كوچني ورونو په لاس كي دئ .

د دين اشاعت:

چي كله په حرمين شريفينو كي حنبلي حكومت قائم سو . د پاكستان او هندوستان غير مقلدينو پر دوى الزام لګول شروع كړى چي دوى فقه نه مني لكه څرنګه چي موږ يې نه منو . نو هغه حكومت دا محسوس كړل چي دا پر موږ يو ډېر غټ او بې بنياده الزام دى نو هغو په كروړونو پيسې پر قربان كړيد خپل مذهب پر مشهوره كتاب چي مغني ابن قدامه دى

چاپ يې کړی، او پـه عـربـو او عجمو کې يې مفت تقسيم کړی . تراوسه پـوري غير مـقـلـديـنو هغه غم لا نه وو هېر کړی چې سعودي حکومت د خپلـې فـقه حنبلي يو بل مشهور کتاب ” فتاوی ابن تيميه“ چاپ کړی او د دنيـا هـر کـونـج تـه يې ور ورساوی . او دا يې ثابته کړل چې موږ د فقه مـنـکـريـن نـه بـلـکـې مؤيدين يې يو . په دې خو تهول خبر دي چې تر تهولو د مـخـه فـقـه حـنـفـي مـدون سول، او تر تهولو وروسته فقه حنبلي حکومتِ سعـودي چـې آخري فقه شائع کړل نو ګوا کې دوی دا ثابته کړل چې آخري فقه لا هم بدعت نه ده نو فقه اول خو بطريقه اولیٰ بدعت نسي کېدای .

د دغـه تـذلـيـل وروستـه پـر غير مقلدينو فرض وو چې ترديد يې وکړي ددغـه کتـب (يـعـنـي مـغـنـی ابن قدامـه او فتاوی ابن تيميـه) خو د پيسو محتاجي او لالچ يې د حق ويلو هغه رګ وربند کړی .

آنچه شيراں را کند روباه مزاج
احتياج است احتياج است احتياج



مادر پدر آزاد

دِ غيـر مقلدينو امام محمد ابراهيم سيالکوتي فرمايي : آيا زموږ حنفي ورونـه زمـوږ اهـل حـديثـو پـه هـکـلـه دا خيـال کوي چې موږ د تقليد څخه مطلقاً انکار کوو او موږ و عوامو ته تعليم ورکوو چې کله حديث نبويؐ يا قـول صحابيؓ نه وي نو بيا د عدم استعداد باوجود تاسو و کتب متداوله ته رجوع او معاذ الله د آئمه وو اقوال مسترد کړی او مادر پدر آزاد چې څه کول

غواړي هغه وکړي که چیري د دوی دا خیال وي نو بیا موږ په الفاظو اعلان کوو چي تاسو زموږ د مسلک په تحقیق کي سر نا خلاصي کړیده . (تاریخ اهل حدیث ص ١٢۴) دلته مولانا د آئمه وو د اقوالو پرېږدونکي ته مادر پدر آزاد ویلي دي .

شتر بے مہار

د غیر مقلدینو د جماعت امیر داؤد غزنوي وایي : که چیري د چا دا خیال وي چي موږ د تقلید څخه مطلقاً انکار کوو او عوامو ته دا تعلیم ورکوو چي هغه که څه هم د تفسیر او حدیث سره نا آشنا وي بیا دي هم د آئمه وو اقوال رد کوي نو دی په صریحاً غلط فهمي کي مبتلا دي . (داؤد غزنوي ص ٣٧٣) نو معلومه سوه چي داؤد غزنوي غیر مقلدین شتر بې مهار او سیالکوټي یې مادر پدر آزاد ګڼي . اوس خو ښه ده غیر مقلدینو ده که په اذغو نومو کي هر نوم پر ځان ایږدي که یې نه ایږدي .



د رفع الیدین کولو یا نه کولو حکم:

نذیر حسین صاحب په دې هکله فرمایي : پر علماء حقانینو باندي پټه نه ده چي و رکوع ته د تللو پر وخت او د رکوع څخه د راپورته کېدلو پر وخت پر رفع الیدین باندي جنګېدل دا د توحید څخه خالي دي ، ځکه په مختلف اوقاتو کي رفع الیدین کول او نه کول دواړه ثابت دي . او د دواړو دلائل موجود دي . (ص ١٥٦، ١٥٣ / ج ٣)

محمد داؤدغزنوي فرمايي : پر رفع الیدین نه کونکي باندي هیڅ ملامتیا نسته . (ایضاً ص ١٥١، ١٥٢ / ج ٣)

ثناء الله امرتسري وايي : د دې ثواب داسې دی لکه يو څوک چې باوضوء وي ليکن ده ثواب د کثرت دپاره بل اودس وکړي نو دې وجهې د رفع اليدين ترک، ثواب دی نه ترک فعل سنت، فافهم .
(فتاوی ثنائيه ص ٦٠٨، ٦٠٩ ⁄ ج ١)
او فرمايي : د رفع اليدين په نه کولو سره د لمانځه صحت ته هيڅ ضرر نه رسيږي .
(فتاوی علمائې حديث ص ٥٤ ⁄ ج ٣)
نوټ : په رفع يدين د او داسه غوندې ثواب موږ په هيڅ حديث کې نه دی ليدلی .
٦ . حکيم صادق سيالکوټي د رفع يدين تشبيه د سرخي پوډرو سره ورکړې ده . بيا يې د مسواک سره، نو وايي چې لکه څنګه په مسواک سره ثواب اويا (٧٠) چنده کيږي هم دغومره ثواب د رفع يدين په کولو سره کيږي .
نوټ: پ ه مسواک د ثواب اويا چندي دا يو ضعيف حديث دی . (صلوة الرسل ص ٢٧٥، ٢٧٦) مګر د دغه رفع يدين ثواب چې اويا چنده کيږي دا خو په ضعيف حديث کې هم نه دي ليدل سوي .
وحيد الزمان رفع يدين دا رقم سنت شمارلی دی لکه په چوتو کې چې لمونځ کول څنګه سنت دی .
(تيسير الباری ص ١٥٦ ⁄ ج ١)



محل نزاع

نن صبا چي کوم بحث شروع دی چي کومي جرابي چي زموږ په علاقو کي دي دا پنځم قسم جرابي رقيق او ساده پر دې په اجماع د امت مسح جائز نه ده که څوک پر دغه باندي مسح وکړي او دس يې نه دی صحيح . آئمه اربعه او د غير مقلدينو باني نذير حسين دهلوي شرف الدين دهلوي، عبد الرحمن مبارکپوري، شمس الحق عظيم آبادي دا ټول دا مسح ناجائز بولي . د مؤلف کوم عقلي وګورئ دوی فرمايي چي غير مقلد جاهل وي اوس تاسي غور وکړئ چي د دوی مدارسو په نصاب کي ټول کتابونه د مقلدينو دي . بلوغ المرام، ابن حجر د شافعي مقلد دی، صاحب مشکوة، هم شافعي دی ، امام بخاري هم شافعي دی . (طبقات شافعيه ص ۲/ ج ۲، الحطه نواب صديق حسن ص ۱۲۱) امام شافعی دی (اليانع الجنی ص ۴۹) امام ابو داؤد حنبلي دی، امام نسائی شافعي دی (الحطه ص ۱۲۵) امام ترمذي او امام ابن ماجه شافعين دي (العرف الشذی) امام طحاوي حنفي دی، ددې علاوه علامه سيوطي، نووی، دار قطني، بيهقي وغيرهم دا ټول محدثين مقلدين دي دا خو هم ټول معاذالله کرد کافران او مشرکان وو .

په دنيا کي ملا پرستي هم ډېر عجيبه وي چا ډېر ښه ويلي دي:

آنچه شیراں را کند روباه مزاج

احتیاج است احتیاج احتیاج

☆ ☆ ☆

دد وى مشـائـخ يـو طرف ته مقلدينو ته جهال وايي او بل طرف ته ددغه مقلدينو (بقولهم جهال) پر دروازو ګرځي علم ترې اخلي .



يو څه د امام صاحب په هكله :

فلعنة ربنا اعداد رمل
على من رد قول أبى حنيفة

مؤلف دغـه شـعـر د عـلامـي شـامـيّ بـولـي حالانكه دا شعر نه د علامه شامي دى او نه هم په شامي كي ستـه . دا ديو نظم آخري شعر دى چي د امام اعظم په شان كي ويل سوى دى .

دا شعـر د امام عبد الله بن المبارک دى . د عبد الله بن مبارک رقم عظيم الـمـرتبت بزرګ بهتـانـي مولوي په هغود جرابي پر مسح كولو شواهدو كي يې ليـكـلي دي او د ده قـول چي ثـخنين دا يې په سترګو نه ورغئ او دوى هـضـم كړى . عـلامـه ذهبي و ده تـه الامـام، العلامة، الحافظ، شيخ الاسلام، فـخر المجاهدين، قدوة الزاهدين ويلي دي . (تذكرة ص ۲۵۳ / ج ۱)

عـلامـه نـووى شافـعـي فرمايي چي د ه د امامت پر جلالت د ټولو اتفاق دى . هغـه پـه ټـولـو شيـانـو كي امـام وو . د هغـه پـه ذكر سره رحمت را نازليږي او د هـغـه سره د محبت كولو په وجه د بخشش توقع كېداى سي . ابـن سـعـد و ده تـه مـقـتـداء، حجت او كثيـر الـحديث ويلي دي . (تهذيب الاسماء ص ۱۸۵ / ج ۱) مشهور.غير مقلد عبد الرحمن مبارکپوري ليكي : دى د خپلي زمانې تر ټولو لوى عالم وو . (تحفة الاحوذى ص ۲۲۵، ج ۱)

تقلید شخصي :

پر (ص ۱۲، ۱۳) يې و تقليد شخصي ته ګمراهي او د دين د غلا دروازه يې ورته وويل .مونږ ورته وايو چي مولانا ستاسو علماء وو چي کوم تقليد شخصي پر ببنى وو هغه صرف د ملکه وکټوريه هغه اشتهار "آزادي مذهب" ددغه د وجهي څخه (وګورئ ترجمان وهابيه) کنې هغه تر اوسه پوري يو آيت يا حديث نه کړی پېش چي په مسائلی اجتهاديه کي د غير مجتهد لپاره يو علاقه چي چيري صرف او صرف ده يوه امام مذهب عملاً متواتر وي . د هغه مجتهد تقليد شخصی دی شرک وي کفر او حرام دی . ستاسو لويان ټول مړه سوه، خو داسي آيت او حديث يې نه کړی را ښکاره . د کومو محدثينو نومان چي تاسو په طبقات آئمه اربعه وغيرهم کي ورکړي دا خو ټول تاسو د دين غله بولئ .

د طبقات غير مقلدينو په نامه يو کتاب ديو محدث خو تاسي راته راښکاره کړی . ده دوی مؤلف ليکي چي :"په اعتبار د نتيجې شيعه او سني مقلدين دواړه د قرآن او حديث په پرېښوولو کي سره مساوي دي" کله مقلدين په ذکريانو او کله يې په شيعه ګانو کي شماري او کله وايي چي د امام صاحب نوم په قرآن کي را ښکاره کړئ دوی خو د اعظيم جهالت کوي که مونږ دا غلطي وکړو نو مونږ ورته وايو چي جهلاوو تاسي د قرأت آئمه وو نومان يا د اصحاب ستهوو اسماء په قرآن کي را ښکاره کړئ، مونږ ورته وايو چي نادانانو که چيري آئمه اربعه او د هغه مقلدين جاهلان دي نو په دنيا کي علم چيري دی . که چيري، حافظ ابن حجر،

امام طحاوي، امام نووي، علامه عیني، امام زیلعي، وغیره مقلدین ړانده دي نو بیا په دنیا کي یو لیدونکی تاسي راوښایاست .

د دې نه علاوه اهل حدیث خپله دا خبره بیانوي چي موږ نوې فرقه هم یو او فرقه شاذه یو . اوس خو دا فیصله آسانه ده ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي : مَنْ شَذَّ شَذَّ فی النَّار . نو ګواکي د حدیث مطابق دا یو دوزخي فرقه ده لیکن دا فرقه د حدیث نوم ډېر اخلي بلکه د دې دا دعوه ده چي حدیث صرف موږ منو . دا دعوه د دغه فرقې په جاهلو خلګو کي مشهوره ده . مګر فیصله خو به د دوی د علماؤ منل کیږي . ددې فرقې د غټو علماؤ څخه یو مولانا عبد الجبار غزنوي دی چي هغه ته دوی امام صاحب وایي دا ده سید ابو بکر غزنوي باني جامعه ابي بکر ګلشن اقبال کراچي نیکه دی او مولانا عبد التواب ملتاني چي د دغه فرقې ډېر غټ مناظر وو د دواړو دا ګواهي ده " اوزموږ په دغه زمانه کي یوه فرقه نوې پورته سوې ده چي هغه د اتباع حدیث دعوه کوي مګر د دوی د اتباع حدیث څخه ډېر لیري دي کوم احادیث چي د سلفو په نیز معمول بلل هغه دوی په یو ادنیٰ کمزوري باندي مردود ګڼي او د صحابه وو اقوال او افعال د یو بې طاقته قانون او د یو بې نوره قول په سبب غورځوي او په دغه (احادیث نبویهٔ او اقوالِ صحابه) باندي بیهوده خیال او فکر مقدم بولي او خپل نومونه محقق ایږدي . په رب قسم دا هغه خلک دي چي شریعت محمدي خرابوي او د ملت حنفیه بنیادونه کمزوري کوي او د سنت محمدي نشانونه ختم کوي او متصل الاسانید آثار غورځوي او حیلي جوړوي . (فتاویٰ علماء حدیث ج ۷ ، ص ۷۹، ۸۰) دا د دې فرقې تر ټولو عظیم کتاب دی پر دې د

علامه احسان الهی ظهیر رقم مشهوره علماء وو تصدیقات سته .



د انګرېزانو خیر خواهان

داخلک ځانونه د ټولو مذاهبو څخه آزاد ګڼي . دوی ته د مذهب د آزادۍ (ترک تقلید) حکم نه الله او نه رسول ورکړی دی بلکه داحکم و دوی ته ملکه وکټوریه ورکړی دی او په انګرېزي حکومت کي مذهبي آزادي (غیر مقلدیت) او د انګرېزانو وفاداري دالازم ملزوم ګڼي نو نواب صدیق حسن خان لیکي: " د غداري په زمانه کي په هندوستان کي زموږ ټول غټ او کوچني عهدیداران د انګرېزانو خیر خواول . او دا اکثر غیر مقلدین دي (ترجمان وهابیه ص ۵)

او لیکي: " چي دغه خلک په خپل دین کي داسي آزادي غواړي لکه انګرېزانو چي په وار وار په خپلو اشتهاراتو کي جاري کړي دي خاص کر د دهلي د دربار څخه چي کوم رسائل شائع کېدل هغه پر دې ګواه دي ."
(مخلصا ص ۳۲)

او لیکي: " چي د تقلید د سببه په مسلمانانو کي چي کوم اتفاق دی هغه د انګرېزانو دپاره سخته خطره ده . د غیر مقلدیت (ترک تقلید) د سببه په مسلمانانو کي افتراق پیدا کیږي او دغه خطره د انګرېزانو څخه لیري کیږي او مزید لیکي: " جهاد او جنګ مذهبي ده انګرېزانو په مقابل کي ده شریعت د رویه ممنوع دی داسي خلک د باغیانو رقم د سزا مستحق دي . دا جهاد خلاف سنت او ایمان دی . (ملخصاً ص ٦١)

د کفارو سره جهاد حرام او په مسلمانانو کي افتراق فرض دی دا د دوی

صفا اعتراف دی چي د ترکِ تقليد فتنه د دې وجهي څخه را پورته سول چي د کفارو سره جهاد حرام دی او په مسلمانانو کي افتراق پيدا کول فرض دی او دا ټول دوی د انګرېزانو د خوشحاله کولو دپاره وکړل . پروفيسر محمد مبارک ليکي: " چي د جماعت اهل حديث بنياد صرف د محدثينو د مخالفت لپاره ايښو دل سوی دی . دغه د اهلحديثو جماعت د باغيانو جماعت دی او ليکي لکه څنګه چي باغيان واجب القتل دي دغه رقم جماعتيان سره د خپل امام واجب القتل دي .



فتنه مرزائيت

د قاديانيانو باني مرزا غلام احمد قادياني اول غير مقلد وو . د غلام احمد قادياني سوانح نګار د " مجدد اعظم " مؤلف ډاکټر بشارت احمد قادياني ليکي: " مرزا صاحب امام شا ته فاتحه (فاتحه خلف الامام) ويل . او لاسونه يې پر سينه ايښو دل ليکن د امام شا ته چي فاتحه نه وايي هغه يې هيڅ کله مردود نه ګڼل . (مجد د اعظم ص ۱۳۳۳، ج ۲) او د مرزا اول مريد او راسته لاس حکيم نور الدين هم اول وهابي غير مقلد وو پر ترک تقليد يې وعظونه کول او د تقليد پر عدم جواز يې تصنيفونه وکړل او ليکي چي حکيم نور الدين قرأت خلف الامام کاوئ او رفع اليدين يې کول (تاريخ احمديت ص ٦ / ج ۴) او د مرزايانو عظيم شخصيت سر ظفر الله خان هم اول غير مقلد وو بيا يې ترقي وکړه نو قادياني سو، د غلام قادياني کتاب (براهين احمديه) چي د غلاظت څخه ډک دی په دغه کتاب کي يې ځان مسيح ښودلی دی بيا يې هم حسين احمد بټالوي (پېشوا

اهلحديث) حمايت کوي او ليکي چي : " په موجوده زمانه کي د دې مثال نسته او نه تر اوسه پورې داسي کتاب تصنيف سوى دى .

د غير مقلدينو نکاح د مرزائی سره

د غير مقلدينو شيخ الاسلام ثناء الله امرتسري ليکي : " که چيري ښځه مرزائی قادياني وه نو ممکنه ده چي د علماء رايه مختلفه وي ليکن زما د ناقص علم د رويه نکا ح جائز ده . (اهلحديث امرتسر ۱۳، ۲ نومبر ۱۹۲۴ او بيا تر دې لا نور هم خپل علميت ښکاره کوي او ليکي چي د قادياني اقتداء جائز ده . (فيصله مکه ص ۷)

طائفه منصوره

د عامو غير مقلدينو په رقم صادق سيالکوټي هم د طائفه منصور والا حديث پر خپل جماعت باندي د منلو کوښښ کړى دى . (سبيل الرسول صفحه ۳۱۱) دغه حديث په صحيح البخاري کي په پنځو ځايو کي راغلى دى: (۱/ ٦١) (۱/ ۴۳۹) (۱/ ۵۱۴) (۲/ ۱۵۸۷) (۲/ ۱۱۱۱) امام بخاري پر صفحه ۱۵۸۷ جلد ۲ کي په دغو الفاظو سر باب ايږدي . " قول النبی ﷺ لا تزال طائفة من امتی ظاهرين علی الحق " (فی نسخة يقاتلون و هم اهل العلم) او د حديث معاويةٌ الفاظ دا دي : من يرد الله به خيراً يفقهه فی الدين و انما انا قاسم و الله يعطی و لن يزال امر هذه الامة مستقيماً حتی تقوم الساعة او حتی يأتی امر الله عزوجل . (۲/ ۱۵۸۷)

حافظ ابن حجرؒ وايي : و فی ذلک بيان ظاهر لفضل العلماء علی سائر الناس و لفضل التفقه فی الدين علی سائر العلوم . (فتح القدير ۱/ ۱۳۴ فی باب من يرد الله به خيراً يفقهه فی الدين) او صحيح مسلم ۲/ ۱۴۳،۱۴۴

باب قول النبی ﷺ لا تزال طائفة من امتی ظاهرین علی الحق لا یضرهم من خالفهم ،، کي دغه الفاظ دي من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین و لا تزال عصابة من المسلمین یقاتلو ن علی الحق ظاهرین علی من ناواهم الی یوم القیامة (مسلم ۱/۱۴۴)

په دې کي مبارک علیه السلام د دې خبري صراحةً بیان کړی دی (۱) هغه جماعت به همېشه وي احناف تر ټولو دمخه دي او غیر مقلدین د برطانیې په وخت کي پیدا سوي دي .

(۲) هغه په فقه کي تر ټولو برتر وي او لوړ وي دا هم احناف دي، غیر مقلدین خو دفقه منکر دي .

(۳) هغه جماعت به جهاد کوي، د جهاد لپاره اول حکومت ضروري دی په ټولو ملکونو کي سلطنت هم د احنافو په لاس کي وو او جهاد هم هغو وکړ . غیر مقلدینو ته نه خو حکومت نصیب سوی دی او نه یې جهاد په قسمت سو بلکه د جهاد په خلاف باندي یې رسالې ولیکلې او ځایو نه یې حاصل کړل، صادق سیالکوټي صاحب د نبي علیه السلام تشریحات نه مي او د امتیانو دروازې ور ټکوي وایي:

(۱) امام احمد صاحب وویل هغه اصحاب الحدیث دي قاضي عیاضؒ وایي : انما اراد احمد بن حنبل اهل السنة والجماعة . (شرح مسلم ۲/۱۴۳)

شیخ عبد القادر جیلانيؒ هم د خپل امام پر تقلید کي اصحاب الحدیث لیکي او وضاحت داهل السنة والجماعة ځخه کوي (غنیة الطالبین)

علی بن المدینی اصحاب الحدیث وایي خو د ده شاګرد امام بخاريؒ هم اهل العلم په ویلو سره دا پوهنه کوي چي مراد طبقه علمي ده نه فرقه

مذهبي، ستاسو مولانا محمد ابراهیم صاحب میر سیالکوټي لیکي: "بعضي ځای د ده ذکر په اهل حدیث سره سوی دی او بعضي ځای په اصحاب حدیث سره او بعضي ځای د اهل اثر په نامه سره او بعضي ځای بیا د محدثینو په نامه سره، مرجع د هر لقب دغه ده" (تاریخ اهل الحدیث ص ۱۲۸)

معلومه سوه چي کتابونه په قوم کي اهل قرآن، اهل حدیث، اهل فقه، اهل صرف، اهل نحو دا دیو مذهبي فرقې نوم نه دی بلکه د علمیه طبقاتو نوم دی . امام صادق صاحب که چیري په ضد دی نو د ده څخه هیله ده چي دی په هره صدۍ کي د خپلي فقهي د کتاب معلومات راکړي، په هره صدۍ کي په هر ملک کي دي د خپل باچاهانو نومان را وښیي، او په هره صدۍ کي دي د جهادو فهرست پیش کړي چي غیر مقلدینو کړی وي، کنه نو موږ احناف د خپلي فقهي د کتابو نښان نښان د پنځمي صدۍ څخه بیا تر دولسمي صدۍ پوري ستاسو د کتاب سبیل الرسل صفحه ۲۲۱ څخه در ښکاره کوو .

لطیفه :۔

طائفه منصوره اهل علم دي (بخاري ۲/ ۱۵۸۷) ستاسو علم دا دی چي طحطاوي کوم چي د در مختار شرح ده د هغه تاریخ دا لیکلی دی چي طحطاوي خو په اتمي صدۍ کي ولیکل سو او د در مختار په یوولسمه صدۍ کي ولیکل سو، دا دا رقم دی لکه څوک چي ووایي د قرآن شریف تفسیر په اوله صدۍ کي ولیکل سو خو قرآن شریف په پنځمه صدۍ کي نازل سو، یا څوک ووایي چي د بخاري شریفي شرح فتح الباري په

دويـمه صدئ كي ولـيكـل سو خو بـخاري په دريـمه صدئ كي ولـيكـل سو، څه وو ايو:

معشوق ما خورد سال ست ناز نه داند هنوز

دست چپ از دست راست باز نه داند هنوز

☆ ☆ ☆

علامت د اهل بدعت:

اهـل بـدعـت پـه مـحدثـينو پسي بد واي (سبيل الرسول ص ۳۱۳) كه غل پيـدا كـوي نـو ديـو غيـر مـقـلـد مـخ تـه مسند امام اعظم، كتاب الآثار امام مـحـمـد، كتـاب الآثـار امـام ابـو يـوسف، كتـاب الحجة على اهل المدينة، طـحـاوى، عـقـود الـجـواهر المنيفه، عمدة القارى شر ح صحيح البخاري، الـوجـواهـر الـنـقـى فـى الـرد عـلى البيهقي، مرقات شر ح مشكوة، فيض الباري شر ح بخاري، زجاجة المصابيح، آثار السنن، معارفِ السنن، بذل المجهود، د محدثـينو كتابونه وګورئ چي هغه كتابو او د هغه و مؤلفينو تـه كـوم كـوم صـلاحيتـونـه اوروي، دا خـو را وښيـاسـت چي محدثين د مـحدثين په حالات كي چي كوم كتابونه ليكلي دي هغه طبقات حنفيه، طبقات شافعيه، طبقات ماليكه، طبقات حنابله دي.

دغـه رقـم ټـول مـحدثـين مقلد دي نو بيا مقلدينو ته څه رقم مشركين او كافران او بدعـتيان وايي.

دابن ابو داؤد خوب:

پـر صفحه ۳۱۴ باندي د ابن ابي داؤد خوب ذكر سوى دى اولاً خو امام ابو داوؤد د خپـلـه وويـل چـي زمـا زوى كـذاب دى، ابـن صـاعـد، ابـن عدى او

ابراهیم ابو هریرة الاصبهانی هم ده ته کذاب ویلي دي .
(میزان الاعتدال ۲ / ۴۲۳)
او پـخپله د حضرت ابو هریرهؓ قول دی : انا اول صاحب حدیث فی الدنیا (تـاریـخ بـغـداد) خو صادق صاحب د اول لفظ نه دی نقل کړی . کنه نو په سنـه ۸ هـ کـي چـي کـلـه حـضرت ابو هریرهؓ اسلام راوړی د ده تر مخه ټول صـحـابه به اهل حدیث نه وي که چیري دا خوب صحیح هم وي نو حضرت ابـو هـریـرهؓ کـلـه ویـلـي دي زما د فرقې نوم صاحب الحدیث دی، که څوک ووایـي چـي زه صـرفـي یم، نـحوي یم، عروضي یم نو آیا تاسي بیا دا د ده د مذهبي فرقو نومان بولئ، افسوس، د دوی پر پوهنه ددې مطلب خالص دا دی چي زه هم محدث وم په طبقه علمي کي .

اهل سنت والجماعت حنفي :

تاسو ته چي څوک حنفي ووایي خوشحاله کیږئ که اهل حدیث؟ (ص ۳۱۵)
جـواب : مـوږ د اهـل الـسـنت والجماعت حنفي په نامه سره خوشحاله کیږو ځـکـه زموږ نسبت د نبي علیه السلام سره هم کیږي د صحابه رضوان الله علیهم اجمعین سره هم او د امام صاحبؒ سره هم، صحیح عبارت دا دی : صحابه ، تابعین ، تبع تابعین خپلو ځانو ته حنفي ویل . (سبیل الرسول : ص ۳۱٦)
صحابه، حنفي شافعي نه بلل کېدل (صفحه ۳۱٦) صـحابه قرآن شریف یې وایي ، هغـه که څه هم قرأت حمزه د قرأته حفص نوم هم نه پېژندی خو نـن د صـحابه وو پر طرز باندي ویل وغواړي نو د هغه د قرأت په قرأت کي یې وایي دغه رقم صحابه بخاري ، مسلم ، ترمذي ، نسائی ، ابن ماجه ، ابو داؤد ، مشکوة او د بلوغ المراد نوم یې لانه پېژندی خو پر احادیثو باندي

يې عمل كاوئ، نه يې رواة البخاري وايو او نه يې رواة مسلم، خو نن د احاديثو لپاره د هغو حضراتو و طرفته نسبت ضروري دى، دغه رقم صحابهؓ د آئمه اربعه نومان نه پېژندل خو عمل يې پر فقه باندي كاوئ آئمه اربعه وو د دوى فقهي مسائل مرتب كړي دي، په كومو مسائلو كي چي د صحابه وو اتفاق وو هغه ټولو جمع كړي دي په كومو كي چي د صحابه وو اختلاف وو په هغه كي يې يو يو اړخ اخيستى دى نن د هغو د فقه ماسوا د صحابه وو د اتباع يوه طريقه هم نسته . (ص: ۳۱۹) .

نمود روئے تو گلہائے باغ را چہ کنم

چون آفتاب بر آمد چراغ را چہ کنم

☆ ☆ ☆

منكر حديث مسلمان نه دى:

(صفحه ۳۱٦) دغه رقم د مطلق فقه منكر هم د نص قطعي او د احاديث متواتره منكر دي نو د دې وجهي كافر دي . آيا په داسي كتابو كي عشقيه اشعار ليكل چي ښځي يې هم واي د زړه د مرداري دليل او د مرزا قادياني طريق نه دى؟

نو بيا خو د اجتهاد تعلق د هغو مسائلو څخه دى كوم چي په صحيح صريح غير م عارض حديث كي نه وي چي كله لمر نه وي نو بيا په تاريكه كي كښېنستل د چوپرك د صفته خلكو كار دى .

(ص: ۳۲۰) اللهم ارحم خلفائى

حدثنا ابو حصين ابو ذاعى حدثنا ابو طاهر احمد بن عيسى العلوى حدثنا ابن ابى فديک حدثنا هشام بن سعد عن زيد بن اسلم عن عطاء عن

ابن عباس عن علیؓ قال قال رسول الله ﷺ اللهم ارحم خلفائی قلنا من خلفاء ک قال الذین یروو ن احادیثی و یعلمونها الناس قلت هذا باطل .
(میزا ن الاعتدال ۱/۱۲۷ فی ترجمه احمد بن عیسی و الرامهرمزی فی المحدث الفاصل موضوع و احمد بن عیسی وضاع (نصب الرایه ۱/۳۴۸ فی بحث الجهر بالبسملة)

بیا ددې ځخه مراد دمحدثین دي چي طبقه علمي ده نه د یو فرقه مذهبي دلتـه خو د روایت حدیث او د تعلیم حدیث بیان دی آیا ستاسي د فرقې هر سړی محدث دی .

فقه د کتابو فهرست :

د دجل انتها رقم یو د معارف القرآن و تاریخ ته د قرآن د نزول کال ور وښیاست ، ځه د لامذهبو د کتابو لسټ هم دغه رقم صدی وار تحریر کړئ . د امام محمدؒ ، امام ابو یوسفؒ د کتابو سن تحریر ولي نه دی ویلی . ص ۱۴۰:

عن انس بن مالکؓ قال قال رسول ﷺ تفترق امتی علی ثلاث و سبعین فرقه کلهن فی النار الا واحدة قالوا ما تلک الفرقة قال ما انا علیه الیوم و اصحابی رواه الطبرانی فی الصغیر و فیه عبد الله بن سفیان قال العقیلی لا یتابع علی حدیثه هذا و قد ذکره ابن حبان فی الثقات (مجمع الزوائد ۱/۱۸۹، میزان الاعتدال ۲/۴۳۰) یعني راوي مجهول هم دی او د دې متابع هم یو څوک نسته او صادق پر صفحه ۱۴۰ باندي د الملل و النحل د حوالي ځخه نقل کړي دي کوم چي هلته بالکل بې سند دی . (سبیل ص : ٣٦٩)

حدیث ابي هریرهؓ :

تـعـمـل هـذه الامة رواه ابـو لـیـلـی و فـیـه عـثـمان بن عبد الرحمن الزهری متـفـق عـلـیـه ضـعـفـه (مـجـمـع الزوائد ١٧٩/١) د دې حدیث یو بل سند هم جامع بیـان الـعـلـم (٢/٢٣٤) بـانـدي دی چي پـه هغـه کي محمد بن اللیث (میـزان ٢٣/٤ جباره بـن الـمـفـلـس، میزان ٣٨٧/١) حماد بن یحییٰ الابح (میـزان ٦٠١/١) د دې سـره ضـعیف دی او مراد د اهل الرأی څخه اهل بدعت دي (جـامـع ١٣٥/٢) د حضرت ابو هریرهؓ ډېري فتـواوي دي کوم چي بلا ذکر دلیل موجود دی مثلا لکه د سپي د خولې لوښی درې واره پرېولل وغیره سبیـل ص: ٣٦٩: بـانـدي د حـضـرت عـمـرؓ اعـداء السنن ویل جامع بیان الـعـلـم ١٣٤/٢، ١٣٥ بـاندي د هغـه پر سندو باندي کلام دی او مراد اهل بدعت دي کـنـه د قیـاس شرعـي هغـه خپلـه قائل (٥٦/٢) (٥٧/٢) (٥٩/٢) او څو فتـواوي: د ده بـلا ذکـره دلیل دي د اعداء د لفظ څخه هم د اهل بدعت مطلب را ووزي ځکـه بدعت خو سنت خرابوي . قیاس شرعي خو سنت درښولی خـرابوي یې نه . اصحاب الرأی قوم یفتون څخه مراد غیر مقلدین دي چي د تـوله قوم هر سړی به پر خپله خپله رأیه ځي . دا به نه وي چي ټوله د یوه تـقلید وکړي ځکه چي په یوه روایت کي دي و لکن فقهاء کم یذهبون ثم لا تـجدون مـنـه خـلفاً و یحییٰ قوم یفتون الأمور برأیهم . (جامع ١٣٥/٢) و فـی روایة قـراء کـم و عـلـمـاء کم یذهبون و یـتـخـذ الناس رؤسا جهالاً یفتـون الأمـور بـرأیـهـم . (١٣٦/٢) د ادابـن مـسـعـود ویـنـا ده یعني هغـه خلک بـه د فقهاء باغي او جاهل وي دغه غیر مقلدین دي .

سبیـل (ص ٣٧٥) باندي یفتون الأمور برأیهم (مجمع الزوائد (١٧٩/١) د حـوالـه څخه درج دی خو آخري الفاظ فیحلون الحرام و یحرمون الحلال

پر ییښي دي د دې لپاره چي معلوم وي چي مجتهدين د دې څخه نه دي مراد څکه هغه حلال حلال او حرام حرام را ښيي، و لا عكس د دې وجهې عبد الله بن مبارک وای خذ من الرأی ما يفسر لک الحديث . (جامع ۱۳۷/۲) علامه شعبي ؒ . و عن الشعبي ذم القياس و معناه عندنا . دغه فتاوی د دې تقليد خلاف پيش کول: يحرفون الكلم عن مواضعه، باندي عمل دی (سبيل ص ۳۷۱) باندي حسد يهود والا ليکلي دي قول امامهم څخه امام جماعت غرباء مراد دی .

په لمانځه کي ښځي ته کتل:

په فقه حنفي کي يو ځای دا نه دي ليکلي چي په لمانځه کي د ښځي شرمګاه ته کتل جائز دي .

(۱) په احاديثو کي يو اختلاف دا دی: چي ښځه د لمونځ کونکي مخ ته راسي نو لمونځ خرابيږي . (مسلم ۲۹۷/۲)

(۲) چي حائضه ښځه مخ ته راسي نو لمونځ خرابيږي . (ابو داؤد، نسائی، ابن ماجه)

(۳) که ښځه مخ ته بيده هم وي بيا هم لمونځ نه خرابيږي . (بخاري ۵٦/۱ ــــ مسلم ۱۹۷/۱)

(۴) که حائضه ښځه مخ ته پرته هم وي لمونځ نه خرابيږي . (بخاري ۵۴/۱ ــــ مسلم ۱۹۸/۱)

دا څلور حديثونه صحيح دي او سره متعارض دي د احنافو علماء د دوی په مابين کي دا تطبيق بيانوي چي لمونځ خو نه خرابيږي البته د لمانځه خشوع باطليږي . (شروح حديث) . چي کله د احنافو په نزد ښځه کالي

هم واغـوندي بيا هم د لمونځ کونکي مخ ته تېره سي نو د لمانځه خشوع باطليږي‌نو بيا پر احنافو دا بهتان لګول چي د دوی په نزد په لمانځه کي د ښځي شرمګاه ته کتل جائز دي کله روا کېدای سي، بلکه د احنافو په نزد خو که ښځي کالي اغوستي هم وي د نر راسته طرف ته يا چپه طرفته په جماعت کي شريکه سي نو د نر لمونځ فاسديږي . اخبرنا ابو حنيفة عن حماد عن ابراهيم قال اذا صلت المرأة الى جانب الرجل و کانا فی صلوة واحدة فسدت صلوته قال به نأخذ و هو قول ابی حنيفة . (کتاب الآثار امام محمد ص ۲۷) بلکه په فقه حنفي کي خو دا صراحت دی: و لو صلی الی وجه انسان يکره . (عالمګيري ۱/۱۰۸) يعني په لمانځه کي د يو انسان د نر يا ښځي و مخ ته توجه کول هم مکروه دی نو و شرمګاه ته کتل به څنګه جائز وي.

هو! يوه خبره ده که چيري يو واري يو دم نظر پر ومبنلي لکه د ابو داؤد په حديث کي چي راځي: عمرو بن سلمه چي کله لمونځ ورکاوئ نو به د ده کوناټي لڅ وه . د ښځو په لمانځه کي د امام صاحب باندي مبنتی هغو د لمانځه وروسته ويل امام صاحب دا ستا کوناټي زموږ څخه پټه وه . اوس دا په حديث کي يو ځای نه دي راغلي چي هغه ښځو ته بيرته د لمونځ کولو حکم ورکول سوی وو . نه محدثينو او نه شراحو د حديثو پر دا حديث باندي دا باب اېښی دی چي په لمانځه کي پر شرمګاه باندي د نظر مبنتو سره لمونځ خرابيږي . که چيري حديث صحيح وي نو پېښ يې کړئ موږ هيڅ کله ضد نه کوو . موږ يې تسليموو چي واقعي دا مسئله د حديث خلاف ده خو نه دوی د راولپنډۍ په مناظره کي داسي حديث پېښ

کـوای سـي . پـه احـاديـث کـي راځـي چي د نبي کريم ﷺ زوجه طاهره په استراحت کي وه نو نبي کريم ﷺ چي به کله سجدې ته تلی ښکاره خبره ده چي پـه لاس مبتـولـو سره لمونځ نه خرابيږي نو نظر مبتـل خو تر دې هم لږ عمل دی .

يـاد سـاتـئ د لـمـانـځـه نه خرابېدل بله خبره ده . ګورئ نبي عليه السلام وايـي د مسـلمـان لمونځ ، د سپي ، خره ، ښځي او د نورو حيـواناتو د وجهي نـه خـرابيـږي . (طـحاوي) اوس د سـپي مخ ته تيرېدل په دې سره د لمانځه نه خرابېدل بله خبره ده . د دې ځخه دا مسـئله را ايسـتل چي لمونځ کونکی پـخپـلـه سپـی مخ تـه وتړي لمونځ وکړي نو دا جائز دی . دا بله خبره ده او د لـمـونځ کـونـکـي مـخ تـه د ښـځـي تيرېدل او په دې سره د لمانځه نه خرابېدل بله خبره او ښځه مخ ته کښېنول او بيدول او په لمانځه کي ورته کتل دا بله خبره .

بهـر حـال د لـمـانـځـه په نه خرابېدو سره ذ دې فعل په اختيار او اراده سره جـائـز بلل بالکل غلط دی ، اوس ورتـه ګورئ د قرآن شريف په کتلو سره د ويـلـو سـره نبـي عـلـيـه السـلام اجازت نـه دی ورکـړی خو پـه لمانځه کي د ماينې د پېښو سره پـه مبتلو کي هيڅ حرج نستـه .



د غير مقلدينو سوالونه
او د اعتراضاتو جوابونه :

سـوال ۱ . : هـدايـه د فـقـه پـه نـورو کـتـابـو کـي قال ابو حنيفة ليـکلي دي دا کـتـاب د امـام صـاحـب ځـخه څو سوه کاله وروسته ليکل سوی دی او هيڅ سـنـد پـه دې کـي نـه دی او پـه بـخـاري او نـورو د حـديـثـو پـه کتابو کي سند

موجود دی موږ څنګه دا یقین وکړو چي دا خبره امام صاحبؒ کړې ده؟
جواب: لکه څنګه چي د حدیث کتابونه دوه رقمه دي بخاري، مسلم، ترمذي وغیره کي سند سته او په مشکوة، بلوغ المراد، جامع الاصول، جمع الفوائد، مجمع الزوائد وغیره کي سندونه نسته، ځکه دغه کتابونه د بخاري وغیره څخه مرتب سوي دي . دغه رنګه امام محمدؒ، قاضي ابو یوسفؒ، امام زفرؒ، امام حسن بن زیادؒ وغیرهم په کتابو کي مسئلې د سندو څخه درج دي، او په قدوري، کنز الدقائق، هدایه وغیره کي مسائل د دغو کتابو څخه ایستل سوي دي، هدایه تاسي وګورئ په دې کي مسئله کوم چي اصل متن دی دا تر لیکي لاندي دی او مخ پسي د دغه مسئلې شرحه ده، دا تر لیکي لاندي چي کومه مسئله ده، دا د امام محمدؒ د جامع الصغیر وغیره کتابو څخه اخیستل سوې ده لکه تاسي تفسیر معارف القرآن وګورئ په هغه کي اول آیت قرآني لیکلی دی، چي د تواتر څخه ثابت دی او د قرآن څخه اخیستل سوی دی، ترجمه د شیخ الهندؒ دا درج ده، او خلاصه د تفسیر حکیم الامت حضرت مولانا شاه اشرف علي تهانويؒ ده او لاندي معارف و مسائل یعني شرح مولانا مفتي محمد شفیعؒ کړې ده، اوس که یو دهوکه بازه دا خبره وکړي چي په معارف القرآن کي د قرآن هیڅ سند نسته او مفتي صاحب د نبي علیه السلام څخه څوارلس سوه کاله وروسته پیدا سوی دی، حالانکه دا صدی د معارف القرآن ده نه د قرآن دغه رنګه په هدایه کي مسئله د امام صاحب ده او په څلورمه صدی کي شرح د دغي مسئلې سوې ده د سائل دغه سوال د شیعه ګانو څخه غلا سوی دی کنه د هدایه شریف پر تحریر باندي تقریباً زر کاله تېر سوي دي،

یو اهل سنت والجماعت محدث یا مفسر دا سوال نه دی کړی چې په هدایه کې لیکل سوي مسائل د امام صاحب څخه ثابت نه دي . دا خبره تر تولو دمخه محمد حسین ټهټهوي شیعه کړې وه . د هغه څخه ثناء الله امرتسري او یوسف جي پوري غیر مقلد غلا کړه او خپره یې کړه .

که چیري جرأت در کي سته نو دیو مسلّمه سني محدث په کتاب کي دا سوال را وښیاست . د صاحب هدایه او امام اعظمؒ په مابین کي خالص یو راوي امام محمدؒ موجود دی په بخاري شریف کي یو حدیث را وښیاست چي په هغه کي د امام بخاري او نبي علیه السلام تر مابین یو راوي موجود دی .

د غیر مقلدینو څخه د سند په اړه څه سوالونه:

۱﴾ ...... دا راو ښایست چي سند فرض دی که واجب ؟ د جواب په وخت د مسلم د روایت خیال وساتئ چي : کانو لا یسألون من الاسناد (دوی د سند په اړه نه پوښتل) د سند مطالبه زیات زیات که سي بدعت حسنه دی .

۲﴾ ......په قرآن شریف باندي د پوهېدو لپاره تاسو ته د لغت ضرورت دی آیا تاسي د لغت دیو لفظ سند تر واضح لفظ پوري رسولای سئ؟

۳﴾ ...... د قرآن شریف د اولو لسو آیتو سند پېش کړئ؟

۴﴾ ...... صرف ، نحو ، منطق ، بلاغت ، بان د کومو علومو ضرورت چي د کتاب و سنت په پوهېدلو کي سته ، د دې د قواعدو سند په طریقه د محدثینو تاسو تر واضعینو د اصولو پوري رسولای سئ .

۵﴾ ...... نن سبا د راویانو د حالاتو دار و مدار پر تقریب التهذیب ، تهذیب

التهذیب، خلاصة التهذیب، تذکرة الحفاظ، میزان الاعتدال وغیره د اسماء الرجل پر کتابو باندي دی او دا ټوله کتابونه بې سنده دي . د اتمي صدۍ سرې د اولي صدۍ سرې ته ثقه او ضعیف وایي او په مابین کي د اووه سوو کالو هیڅ سند نسته آیا د دغو کتابو څخه هم انکار کوئ .

سوال ۲ .: د امام صاحب سره کله د امام مالک صاحب او امام شافعي صاحب په یوه مسئله کي اختلاف وي نو بعضي وخت د امام شافعيؒ یا امام مالکؒ پر قول باندي فتویٰ ولي ورکوي؟

جواب : بعضي مسائل د زمانې په لحاظ بدلیږي . لکه څنګه چي ضرت عائشهؓ وایي نن چي څنګه ښځي ځان جوړ کړي مسجدو ته راځي که چیري د نبي علیه السلام په زمانه کي داسي وای نو نبي علیه السلام به ښځي مسجدو ته د راتګ څخه منعه کړي وای . (بخاري) اوس ګورئ نبي علیه السلام پخپله صراحةً ښځي و مسجد ته د راتګ څخه نه دي منع کړي خو صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین چي د نبي علیه السلام مزاج ورته معلوم دی هغو د حالات د فساد پر بناء باني منع کړې . او وجه یې دا ویلې ده چي که چیري دا حالات نبي علیه السلام لیدلي وای نو هغه هم منع کولې . دغه رنګه په بعضو مسائلو کي مشایخو اتفاق کړی دی چي که څه هم د امام صاحب صریح قول خو هغه دی چي د قرآن په تعلیم باندي تنخواه اخیستل نه دی جائز . هغه وخت اسلامي حکومت د علماؤ وضائف مقرر کول خو اوس حکومت وضائف ختم کړي دي . که چیري اوس د تنخواه د جواز فتویٰ ور نه کول سي نو دین ضائع کیږي . که چیري امام صاحب دا حالات لیدای نو هغه هم د

جواز فتوىٰ ورکوله . ځکه داسي د ضرورت په وخت کي پخپله د دوی قواعد هم جواز ښايي . نو د هغو قواعدو مخ ته په ايښولو سره د امام شافعي يا امام مالک د قول مطابق يې فتوى ورکړه . دا رقم د حالات په بدليدو سره اضطراراً وسو چي د هغه ګنجائش پخپله د امامؒ صاحب په قواعدو کي وو . دغه رقم د اختلافاتو څخه منکرين حديث قيصه جوړه کړي چي کله نبي عليه السلام په (۷) اوو لغاتو سره د قرآن د تلاوت اجازه د الله (جل شانه) څخه حاصله کړې ده نو د حضرت عثمانؓ په زمانه کي صحابه وو د قريشو د لغت ماسوا په نورو لغاتو باندي قرآن د ويلو څخه ولي منع کړې ؟ دغه رنګه چي کله نبي عليه السلام وويل چي مؤذن هغه يو مقرره کوئ چي هغه اجرت نه اخلي . خو نن سبا د غير مقلدينو په مسجدو کي هم مؤذن تنخواه اخلي . آيا چي داسي د مجبوری د حالاتو د مسائلو څخه تاسي قيصې جوړوئ نو د عمل بالحديث څخه هم انکار کوئ ؟ يا که داسي وسوسې خالص د فقهي په شان کي اچول کيږي .



د آزادی جنګ او غير مقلدين

غير مقلدينو هر ځای د نفاق او شقاق جهنم ګرم کړی وو په مساجدو کي يې جنګونه شروع کړل . انګريز حکومت چي کله وکتل چي غير مقلدين يواځي وو مسلمانان اتحاد او اتفاق ختم کوای سي او في الحال يې ختم کړی هم دی نو د دغه موقع غنيمت څخه يې فايده واخيستل او پر دهلي يې حمله وکړه . جنرل بخت خان د دهلي د علماؤ څخه د جهاد فتوىٰ

طلب کړه دا فتویٰ د جنګ آزادۍ پر صفحه ۴۰۴ څه تر ۴۰٦ پوري موجود ده .
غیر مقلدینو په دغه جنګ کي دا کردار ادا کړی چي یو طرف ته یې ځان د مسلمانانو همکار ثابت کړ او پر فتوی یې دستخط وکړ خو بل طرف ته یې د انګرېزانو ښه امداد او کومک کاوئ، پروفیسر ایوب قادري لیکلي: " هغه د فتویٰ امضاء کولو باوجود د انګرېزانو کومک او مدد کوئ او جاسوسي یې کوله د تحریک آزادي مخالفت یې کوئ هغه دغه کسان دي شیخ الکل شمس العلماء میا محمد نذیر حسین ، شمس العلماء مولوي ضیاء الدین ، مولوي سید محبوب علي جعفري ، فقي صدر الدین آزرده ، مولوي حفیظ الله خان . (جنګ آزادي ص ۴۰۹)

مولوي حسین بټالوي لیکي : " جنرل بخت خان او نورو باغي افسرانو علماء ته حکم ورکړی چي پر دغه فتویٰ خپل دستخط وکړئ وکر نه ټول به قتل سئ که چیري دوی په هغه وخت کي امضاء نه وای کړې ټول به په توره سره قتل سوي وای یا به په توپ باندي قتل کېدای . په دغه مجبوره کسانو کي یو مولوي حفیظ الله خان او مولوي نذیر حسین او د هغه زوی مولوي شریف حسین او د هغه شاګردان مولوي محمد صدیق پشاوري او مولوي عبد الله مرحوم غزنوي وو . (اشاعت السنة نمبر ۱۰ بحواله آثار رحمت ص ۲۲۴، ۲۲۵ ،، جنګ آزادي ۴۱۴، ۴۱۵)

د کمشنر اعتراف

ډبلیو جي وائر فیلډ قائمقام کمشنر دهلي لیکي : چي مولوي حسین او د هغه زوی مولوي شهاب الدین او د هغه نور کور والا د غدر په زمانه د مسز لسینس د مرګ د بچاو کېدلو ذریعه وګرځېدل . چي کله هغه

زخمي ول د هغې مدد يې وكړى، درې نيمې مياشتې يې په خپل كور كې د هغې تداوي وكړه او بالآخر د دهلي برتش كېمپ ته يې ور ورسوله . (الحيات بعد الممات ص ١٣٢) د دې په صله كې و مياصاحب ته ديارلس سوه انعام وركړل سو . (الحيات بعد الممات ص ١٢٧)



رساله الاقتصاد فى مسائل الجهاد:

مياصاحب د جهاد د فتوىٰ په مقابله كې په خپل شاگرد محمد حسين بټالوي رساله وليكله چې د هغه ټولو غير مقلدينو تائيد وكړي . په هغه كې يې د انگرېزانو په خلاف جهاد حرام وباله . د آزادۍ دپاره جنگ كونكو مجاهدينو ته يې باغيان او جهنميان وويل او د انگرېزانو سره يې د خپلې وفادارۍ په ځو واره اعلان وكړ . دا رساله د حكومت برطانيه دومره خوښه سوه چې مولانا محمد حسين صاحب ته يې انعام وركړى . مولوي مسعود عالم وي ليكي: چې پر دغه كتاب و مولانا محمد حسين بټالوي صاحب ته انعام وركړل سو ابيا ليكي چې د معتبر او ثقه راويانو بيان دى چې د دې په بدل كې سركارِ انگرېزي و ده ته ځاى او انعام وركړى . (ہندوستان میں پہلی اسلامی تحریک ص۲۹)

د ده د غدارۍ دغه نتيجه سوه چې انگرېزان كامياب سول او مسلمانان پهانسۍ سول او انگرېزانو بنديان كړل خاندانونه يې ور تباه كړل مسلمانان پر خپله نفقه حيران سول آخر و د ته مجبور سول چې جهاد پرېږدي او په مساجدو كې خپل خداى ته زارۍ وكړي . اوس غير مقلدينو دا كردار ادا كړى چې كوم حنفي علماء د قيد او بند څخه ساتل

سوي وو نو د هغو په مساجدو کي يې مذهبي جګړې پېل کړې او دغه علماء يې حکومت ته په لاس ورکړل . او ډېر کيسونه په دغه وختو کي وه حکومت ته راتلل په اکثرو کي غير مقلدين کامیابه کېدل .

د دغه مقدمات يعني حکومتي کيسونو د کاميابي په تفصيل کي مولوي ثناء الله امرتسري يو مستقل کتاب "فتوحات اهل حديث" ليکلى دى:

په دغه مقدمو کي غير مقلدين هم مينځ ته راوړل سوي دي چي په هغو کي بعضي په "فهر الارشاد ص ۲۲،۲۳" کي نوشته دي . ته به متحيّر سې چي يوې نوې فرقې ته د مقدماتو دپاره دومره خرڅ د کوم ځاى څخه ورکړل کېدى . ته پوه سه چي د مقلدينو جائيداد او احوال به ضبط کړل سو او غير مقلدينو ته به ورکړل کېدى نو ځکه د صديق حسن خان په سوانح مآثر صديقي ج ۱، ص ۴۷ باندي ليکلي دي چي و نواب صاحب ته د شمس الامراء لقب ورکولو علاوه دوپنځوس لکه ۵۲۰۰۰ جائيداد ورکړل سوى وو . او نواب صديق حسن خان صاحب ته يو لک شلورويشت زره ۲۴۰۰۰ د کال د برطانيې د حکومت له طرفه څخه ورکړل کېدې . (ترجمان وهابيه ص ۴۸)

غير مقلدينو د سرکاري سرمايې په زور په مساجدو کي فساد جوړه وئ او غريب مقلدين چي د هغوى مالي او جسماني زور د جنګ له کبله ختم سوى وو لږ څه سرمايه چي يې پاته وه هغه ګورنمنټ ځيني قبض کړه . دغه اهل حديثو به جاسوسي کوله او په مساجدو کي به يې عجيب او غريب عقائد بيانوي . آخر د اهلسنت والجماعت علماؤ د دوى په خلاف

یـوه فتوی جاری کړه د"جامع الشـواهد فی اخراج الوهابین عن المساجد" په نامه . چي پر دې باندي علماء د عرب او عجمو ۹٥ مفتیانو مهرونه وو . د دغـه فتوی څخـه غټ دلیـل دغه دی چي دغه (اهل حدیث) د انګریزانو حکـومت تـر یـو اسلامـي حکـومت غوره بالـه . (الشاعة السنة نمبر ۸ شماره نمبر ۹ ص ۲٦۲ جنګ آزادي ص ٦٦) .

دغــه رنګــه د ملکــه وکټوریـه د جوبلي پـه جشن کي چي کوم ادرس مـحـمـد حسیـن بټالوي د اهل حدیث د طرف څخه و هغې ته ور پیش کړی وو هغـه دغـه کي لیـکـلـي وو : چي دغـه مذهبي آزادي و دغه جماعت ته خاص پـه دغـه سلطنت کي حاصله ده . علی العکس و نورو ملکو ته دغه آزادي پـه دومـره مـقـدار نـه ده حاصله . له دغه خصوصیت څخه دغه یقین کېدای سي چي دغـه جمـاعـت تـه د دغــه سلطنـت د قیـام او استحکـام خوشحـالـي تـر نـورو پـه نسبت زیاته ده . او د دوی د زړو څخه د مبارکي آوازونـه پـه ډېر لوړ انداز سره پورته کیږي . (اشاعة السنة جلد ۹ شماره نمبر ۷ ص ۲۰٥ جنګ آزادي ص ٦۷)

دغـه رنـګه لارډ ډفرن وائسرائې هند چي کله سبکدوش سو نو جماعت د اهل حدیثو و هغه ته خوشامدانه ادرس ورکړی چي پر هغه باندي تر ټولو دمخـه د میا نذیر حسین امضاء وه . د هغه بعد د ابو سعید محمد حسنی، مـولـوي حـمـد الله واعـظ میـونسپـل کـمشـنـر امرتسر مولوي قطب الدین پېشـوائـې اهـل روپـړ ، مـولـوي حافظ عبد الله غازي پوري ، مولوي محمد سـعیـد بنارسي ، مولوي محمد ابراهیم آره او مولوي نظام الدین پېشوائې اهـل حدیث مدراسي د دغو امضاوې وې . میا نذیر حسین صاحب چي کله حـج تـه ولاړی نـو پـه حـرمشـریف کـي یـې وویـل چي په هندوستان کي دا

وخت انگرېزي حکومت دی. هلته هر مذهب والا په آزادی سره خپل د مذهب شعار پر ځای کولی سي .هیڅ مسلمان نه د جمعې او نه د اختر د لمانځه څخه منع کېږي . او دلته اسلامي حکومت او محکه کي موږ د کعبې د طواف او د جمعې او د جماعت څخه مجبوره یو . د دې بعد باید موږ په دغه ویلو کي معذور وګڼل سو چي انګرېزي ګورنمنټ په هندوستان کي زموږ مسلمانانو دپاره د خدای رحمت دی .
(الحیات بعد الممات ص ١٦١، ١٦٢)

حضراتو ! بالکل دغه خبره مرزا قادیاني په خپل کتاب تریاق القلوب کي لیکلې ده لیکن مرزا دا خبره په قادیان کي ولیکله او نذیر حسین صاحب په حرم شریف کي دا خبره ولیکله . اوس تاسو سوچ وکړئ چي د چا ثواب به ډېر وي . نو د دغه خبرو څخه ثابته سوه چي دغه فرقه د انګرېزانو پیدا کړل سوی جماعت دی . هیڅ اسلامي حکومت د دوی وجود نه برداشتوي . د فتوی جامع الشواهد د بې اثره ثابتولو دپاره غیر مقلدینو یو وار بیا د برطانوي کمشنر دروازه ور وټکوله او یوه صلح نامه یې مرتب کړه مګر هغه یو شرعي فتوی نه وه نو له دې وجهي د هغې فتوی څخه د خلاصېدو دپاره هغو د حکومتِ برطانیه ته درخواست ورکړ چي په سرکاري کاغذانو کي دي موږ په اهلِ حدیث یاد کړل سو . او د وهابي لفظ دي منسوخ کړل سي . د دې دپاره چي دا فتوی په یو عدالت کي پر موږ صادقه نه سي . نو دا درخواست بیا منظور کړل سو . (جنګ آزادي ص ٦٦)

په دغه دورانیه کي میا نذیر حسین د تقلید په ردیو کتاب معیار الحق

ولیکې چې د هغه اکثره مواد يې د روافضو د کتبو څخه اخيستي وو . پر
دغـه کتـاب يـې د يوه عالم که عرب وي که عجم تصديق . . . . . . کړ . چې
کلـه ارشـاد حسيـن رامپوري د دغـه کتاب استدلالي خامياني ښکاره کړې
او د نقولو خيانتونه يې ظاهر کړل نو غير مقلدينو دا خبره وکړه او د کتاب
څخه يې خپل برأت بيان کړ چې موږ د قرآن او حديث ما سوا بل يو کتاب
هـم نـه منو . خپله چې کله ميا نذير حسين حج ته ولاړى نو پر دغه کتاب
يې تـوبـه نـامـه وليـکـل . بيـا يې پـه عوامو کې د فسـاد پيدا کېدو پـه
مسـاجدو کـې د خـانـه جنګي لپاره ديوولسو سوالونو اشتهار شائع کړى
چې د هغـه پـه جـواب کـې يې د احنـافو د څو کتابو د طرفـه ادلـه کاملـه،
الـفلا ح الادلـه، اظهار الادله، عشره کامله، عشره مبشره، اشعار الاشاعره
عـلـى اشتهـار الـعشـره او انتـصـار الاسلام پـه چاپ سول بحمد الله غيـر
مـقـلـدينـو د دغـه يوه کتاب جواب هم نه سو ورکړى او بيا يو غيـر مقلد يو
څـو کـالـه بـعـد دغـه اشتهـار بيـا شـائع کړى او دا دروغ يې وويل چې يوه
حـنـفي هـم د دې جـواب نسـى ورکـولى . پـه حقيقت کې پر دغه درواغـو د
دوى بنيـاد دئ . پـه دويـم واري کـې بيا د احنافو له طرفه ۲۴ سواله پر دوى
بـانـدي وکـړل سـوه چې پـه هـغـه کې پر ۲۴ مسائلو باندي د غيـر مقلدينو د
شـرائـطـو مـوافـق د احاديثـو مـطـالبـه وکـړل سوه دغه سوالونه پـه " الفتح
الـمبيـن" (ص: ۴۳۱، ۴۳۲) کـې مـوجـود دي . ليـکـن غيـر مقلدينو تر ننه
پـوري جـواب نـه سو ورکړلى . چې کله د دغه طرفه څخه لا جوابه سول نو
۱۲۹۵هـ کـې مـولـوي مـحـمـد حسيـن بـټالوي اول وار پـه اسلام کې د شلو
رکـعتـو خـلاف فتـوى ورکـړه او د هـغـه رايسـتـه د روژې مبارکي مياشت د

ذکر او فکر پر ځای د فتنې او فساد میاشت وګرځېده .

الظفر المبین:

کله چې غیر مقلدینو وکتل چې په علمي میدان کي اوس زموږ حیثیت د نه برابر دئ . نو هغو د خیرالقرون دوخت څخه مشهوره مذاهب غلط ثابتول کوښښ وکړی او داآوازه یې خپره کړه چې فقه د حدیث خلاف ده او ګرده جماعت په فقه و حدیث کي خیانت وکړ، سره رایو ځای یې کړل خو د درواغو څخه ډک دغه لامذهبه کتاب یوه هم مولوي پر خپل نامه نه کړی چاپ . ځکه پر دغه مولویانو باندي نور هم ډېر کتابونه قرض وو ، هه ټول خیانتي موادیې بیا د یوه محی الدین په نامه چې تاجر د کتابو وو چاپ کړ . د دغه سړي خپل نوم هري چند او د پلار نوم یې دیوان چند وو . قوم یې کهتري او د علي پور ضلع ګوجرانواله اوسېدونکی وو . دا سړی د ابن سبا رقم په نامه مسلمان وو ، او د دنیا مسلمانان به یې مشرکان او کافران بلل . هغه ټولي غلطي فتواوي د الظفر المبین په نامه شائع کړې . د دوی یوه هم ملا دا جرأت نه سو کولای چې د تراویحو پر فتو چې په ۱۲۹۷ھ کي شائع سوې وه پر هغه دي تصدیق ولیکي د هغه سړي په فقه کي دومره علم وو لکه څومره علم چې سوامي دیانند په قرآن کي، یا پنډت شر دهانند چې په صحا ح سته وو کي علم لری مګر د تعجب خبره دا ده چې هغو د اهل حدیث په نامه ډېرو احادیثو څخه انکار وکړی د دې په جواب کي احنافو د نصر المجتهدین ، ظفر المقلدین ، سیف المقلدین او د فتح المبین په نامه یې کتابونه ورکړل . حضرت مولانا منصور علي خان ، الفتح المبین د علماؤ او مفتیانو ته ور پیش کړل ، د

وخت څلور سوه ۴۰۰ مفتیانو د دغه تصدیق وکړی . احناف علماؤ دواړه کتابونه الظفر المبین او د غه جواب الفتح المبین د حرمین شریفین علماؤ ته وړکړل . د حرمین شریفین علماؤ د احنافو د کتاب د "الفتح المبین" تائید او تصدیق وکړ او د الظفر المبین په هکله یې ولیکل چې د دې مصنف ، کاذب ، ضال ، مضل فسادي او شیطان دی او د تعزیر بالقتل مستحق دی .

(الفتح المبین ص ٢٦٥ تا ص ٤٦٧)

د غیر مقلدینو په خپل
مابین کې اختلاف د قبرو زیارت :

مولانا ثناء الله امرتسري د قبر زیارت کونکي باندي د خدای لعنت وایي دا ممانعت نه سي پورته کېدای . (ثنائیه ج ١/ ص ٣١٥، ٣١٦) مولانا شراف الدین صاحب فرمایي : ښځو ته د قبرو د زیارت اجازت سته . (ثنائیه ج ١ ص ٣١٦) یو مفتي لعنتي ورته وایي او بل عامل بالحدیث .

امامت :

مولانا ثناء الله وایي څوک چې نبي ؑ حاضر او ناظر وګڼي د هغه امامت نه دی صحیح . (فتاوی ثنائیه ج ١ ص ٣٦٤) مولانا ثناء الله وایي په محرم کې د خپلو کوچنیانو دپاره حلوا پخول باید بند کړل سي دا بدعت دی . (ثنائیه ج ١، ص ٣٦٧) مولانا شراف الدین وایي پر خپلو کوچنیانو باندي وسعت کول د حدیث څخه ثابت دي ددې د انکار هیڅ وجه نسته . (ثنائیه ج ١ ص ٣٦٧) . مولانا ثناء الله وایي چې بعضي صحابه د دې قائل وو چې معراج په خوب کې وسو . (ثنائیه ج ١ ص ٣٦٥) مولانا شراف الدین وایي

دا د خوب معراج بالكل غلط دى (ثنائيه ج ١ ص ٣٦٧)
مـولانـا ثـنـاء الله فـرمـايـي : كوم امام چي تعديل الاركان نه كوي په هغه پسـي لمونځ كول نه دى جائز . (فتاوى ثنائيـه ج ١ ص ٤٣٢) مولانا شراف الـدين صاحب فرمايي چي يا هيڅ كله نه دى صحيح (ثنائيه ج ١ ص ٤٣٢) مـولانـا ثـنـاء الله فـرمـايـي كوم سړى چي د سهار او ماځيګر فرض وكړل بيا هـغـه تـه د سهـار لمونځ د جماعت ميسر سي نو نه دي شامليږي . (ثنائيه ج ١ ص ٤٣٣) مـولانـا شـراف الـدين صاحب فرمايي چي د سهار او ماځيګر په لمانځه كي دي بيرته په جماعت كي شامل سي . (ثنائيه ج ١ ص ٤٣٣)
د جـمعې اول اذان بدعت او ضلالت دى سنتِ نبويﷺ نه دى . (ثنائيه ج ١ ص ٤٣٤)
اذان د خـلـفاء سنت دى دغه عمل ته ضلالت يا بدعت ويل بالكل غلو ده . پر جمهور صحابه وو حمله كول او غټ جرأت دى . (ثنائيه ج ١ /ص ٤٣٤)
مـولانـا ثـنـاء الله فـرمـايـي چـي نبيﷺ پـر جرابو مسح كولـه، سنت دى . (ثـنـائيـه ج ١ ص ٤٤١) مـولانـا شـراف الدين الهيا نذير حسين وايي چي پر جرابو مسح نه ده جائز . (ثنائيه ج ١ ص ٢٤٢، ٤٤٣)
چـي درې ميـلـه سـفـر وي بيا به قصر كوي . (ثنائيه ج ١ ص ٤٦٤) چي سـفـر لـس ميـلـه وي بيا به قصر كوي (ثنائيه ج ١ ص ٤٦٥) د محدثينو په نيـز چي دوولـس ميـلـه سـفـر وكـړي بيـا به قصر كوي (ثنائيه ص ٤٦٣) د جـمهـورو سـلـفـو او مـحـدثـينو مسلک دا دى چي اته څلوېښت ميله فاصله وي بيا به قصر كوي . (فتاوى ثنائيه ج ١ ص ٤٦٢)
بې لـمانځه كافر دى واجب القتـل دى . (ثنائيه ص ٤٦٥) نه كافر دى نه

واجب القتل دی . (ثنائیه ج ١ ص ٤٦٦) د مساجدو محرابونه جوړول د یهودو او نصاری سره مشابهت دی او بدعت دی . (اربعین محمد، محمد جوناګړهی) په مساجدو کي محرابونه جوړول جائز دی . (ثنائیه ج ١ ص ٤٧٦)

د څلورو رکعتو په مابین کي چي کومه ناسته ده په هغه کي هم درود شریف په حدیث ثابت دی . (ثنائیه ج ١ ص ٥١٦) د څلورو رکعتو په مابین کي په التحیات کښي درود ویل جائز نه دی (ثنائیه ج ١ ص ٥١٧)

د جنابت په حالت کي د قرآن تلاوت ناجائز دی (ثنائیه ج ١ ص ٥١٨) د قرآن تلاوت کولی سي (ثنائیه ج ١ ص ٥٢٣)

لغ سر لمونځ جائز دی . (ثنائیه ج ١ ص ٥٢٣) لغ سر لمانځه ته سنت ویل غلط دي بلکه خلاف سنت او بې وقوفي ده (ثنائیه ج ١ ص ٥٢٣) د تحیة المسجد بغیر په مسجد کي کښېنستل منع دي . (ثنائیه ج ١ ص ٥٢٣) تحیة المسجد مستحب ده په ممنوعه اوقاتو کي یې مه کوئ . (ثنائیه ج ١ ص ٥٢٤)

کوم مقتدي چي په رکوع کي شریک سي هغه رکعت یې نه دی شمار . (ثنائیه ج ١ ص ٥٣٢، ٥٣٣)

څوک چي په رکوع کي شریک سي هغه رکعت یې صحیح دی د احادیثو په رڼا کي اعاده نسته پر . (ستاریه ج ١)

د اخترانو د دوو خطبو په مابین کي ناسته سنت ده (ثنائیه ج ١ ص ٥٣٥) د دوو خطبو په مابین کي ناسته د سنت خلاف ده . (ثنائیه ج ١ ص ٥٣٦)

رکوع ته د تګ او د سر راپورته کېدو په وخت کي رفع الیدین کول په دې کي سخت اختلاف دی . بعضي وایي (١) دا د لمانځه رکن دی (٢)

رفع الیدین د لمانځه د واجباتو څخه دی په نه کولو سره یې لمانځه ته ضرر رسیږي یعني فاسدیږي (٣) دا سنت دی تارک یې کافر دی د خدای دښمن دی د نبي مخالف دی د امت محمدي څخه خارج او ګمراه دی (اثبات رفع یدین) (۴) دا د لمانځه زینت دی نه کونکي یې د اتابع سنت څخه محروم دی بد قسمت دی او په څلور رکعتو کي ګواکي د څلورو سوو نیکیانو څخه محروم سو (٥) که څوک په ټول عمر کي رفع الیدین نه وکړي په هغه ملامتیا بیا هم نسته (٦) دا مستحب عمل دی په ترک سره یې هیڅ نسته لکه پر اودس سربېره اودس کول (٧) د دې مستحب یا سنت ګڼلو نشاني دا ده چي دا اکثره د (اثبات رفع یدین) څخه را نقل کړل سوي وو .

کله یې وکړه او کله یې مه کوه (ثنائیه ج ١ ص ٥٨١)

نواب وحید الزمان وایي : رفع یدین سنت دی لکه چوتې په پښو کول بیا مسجد ته تلل چي سنت دي یا د چوتوسر چي لمونځ کول سنت دی چي چیري ویره وي خلک خوابدي کیږي د هغو مخ ته یې مه کوه (ملخصا تیسیر الباری ج ١ ص ١٥٦)

مني پاک دي لکه لاړي چي پاکي دي (فتاوی علمائې اهل حدیث ج ١ ص ٣٣، ٣۴)

د کافر او مشرک په پیسو مسجد جوړول ناجائز دی (فتاوی اهل حدیث ج ٢ ص ٣٧)

یادونه: نن وخت د غیر مقلدینو ټول مساجد د سعودي په پیسو جوړیږي هغه خو حنبلیان دي مقلدین دي او مقلدین خو بقول ستاسو مشرکین دي

پـر کومه ځـکه چي مسجد وي پر هغه ځای مدرسه جوړول، بنګلې بازار جوړول جائز دی . (فتاوی علمائې حديث ج ۲ ص ٦٠) .
پـر کـوم ځـای چـي شـرعـي مسـجد وي پر هغـه ځای دو کانونه یا ماسوا د سجده ګاهو بل شی جوړول ناجائز دی (فتاوی علمائې حدیث ج ۲ ص ۵۱)
د مسـجـد په ګډوو ، رسی، باټلی ، دری یا د مسجد په صفائی یا تعمیر کي عشر او زکوة خرخول صحيح نه دی، ځکه مسجد او د هغه ضروريات د زکوة په مصارفو منصوصه کي نه دي داخل (ج۲ ص ۵۴)
د مسـجد جـوړول یا ضروري سامان د زکوة په روپو جائز دی (فتاوی علمائې حدیث ج ۲ ص ۵۱، ۵۲)
یـو سـړی د ماپښین لـمـونځ نـه وکـړي دی چي مسجد تـه ورغلی د مـاځیګر لمونځ ولاړ وو . هغه ماپښین په نیت د ماځیګر په جماعت کي شامل سو د ده دغه فعل د نص صريح معارض دی نو له دې وجهي غلط او مـردود دی (فتـاوی عـلمائیٰ حدیث ج ۲، ص ۱۲۷، ۱۲۸) هغـه دي د ماپښین نیت وکړي په جماعت کي دي شامل شي او وروسته دي د ماځیګر لمونځ جلا وکړي دا صورت بهتر دی . (ج ۲ ص ۱۲۹)
د جـمـعـې په ورځ د زوال په وخت کي نفل جائز دي . (فتاوی علمائې حدیث ج ۲ ص ۱۳۳)
ناجائز دی فتاوی علمائې حدیث ج ۲ ص ۱۳۳)
د بریلوي، حنفي شاته لمونځ کول ناجائز دی (فتاوی علمائې حدیث ج ۲: ص ۲۴۰)
جـائـز دی بـلـکـه نـکـا ح وغـیـره پـه کولو کي هم حرج نسـتـه (فتاوی

علمائې حدیث ص ۲۴۳ ج ۲)
عـام غیر مقلدینٓ وایي چې فاتحه خلف الامام فرض ده محمد گوندلوي لیـکـي چې دا مسـئـلـه د فـرعي اختلافي پر بناء اجتهادي ده . نو هر سړی چې حتـی الامـکان تحقیق وکړي او دا حاصل کړي چې فاتحه فرض نه ده هـغـه کـه جهـري لمونځ وي که سري پر خپل تحقیق عمل وکړي نو د هغه لمونځ نه فاسدیږي . (خیر الکلام ص ۳۳)



د اهل حدیث د نامه حقیقت :

مـولوي حسـین بټالوي د غیر مقلدینو وکیل اعظم وو . د لفظ وهابي د منسوخي او په اهل حدیث باندي د مسمیٰ کېدلو دپاره بټالوي و انګریزانو تـه درخـواست ولیکئ چې په غه کي یې د خپل جماعت د انګریزانو سره د وفـاداریو، د خدمتـونـو تذکـره وکړه او د درخواست په آخر کي یې دا التجاء وکـړه چې د وهابي لفظ (چې دا د باغي او نمک حرامو دپاره مستعمل وو) دي منسوخ کړل سي او په اهل حدیث سره دي مسمٰی کړل سي .

د هغه درخواست مع ترجمه:

اشاعت السنة انس لاهور .

از جـانب ابو سعید محمد حسنی لاهوري، ایډیټر اشاعة السنة و وکیـل اهل حدیث هند .

بخدمت جناب سیکرټري ګورنمنټ .

پـه ګذشتـه درخـواست کـي مـا د دې خبري اظهـار کړی وو چي لفظ د وهـابي چې عـمـومـاً د بـاغـي او نـمک حـرام پـه معنی دی لهذا د دغـه لفظ

استعمال د هندوستان د مسلمانانو د پاره چي اهل حدیث مشهوره دي او دوی همېشه د سرکار نمک حلال او خیر خواه دي او دغه نمک حلالي يې په وارو وارو ثابته کړې هم ده . پر دغه بناء د دغه فرقې خلګ په خپل حق کي د دغه لفظ پر استعمال سخت اعتراض کوي او په ادب سره د ګورنمنټ څخه خواست کوي چي باید دغه وهابي لفظ په سرکاري توګه سره د دوی څخه منسوخ سي او باید په اهل حدیث سره مخاطب سي او باید ګورنمنټ دغه طرف ته توجه وکړي .

نو ځکه د غیر مقلدینو مشهور عالم مولوي عبد المجید سوهدروي لیکي چي " بټالوي د اشاعة السنة په ذریعه د اهل حدیثو ډېر خدمت وکړی . د وهابي لفظ د ده په برکت سره زموږ څخه لیري کړل سو او په اهل حدیث سره مسمیٰ سو (سیر ثنائی ص ۲۷۲)

د خدماتو په عوض کي

د اهل حدیث نوم :

کله چي مزدور د محنت او مشقت بعد د خپل مالک څخه مزدوري اخلي نو نه صرف مزدور خوشحاله وي بلکي مالک هم خوشحاله وي او د مزدوري سره سره مالک انعام هم ورکوي . علی هذا القیاس کله چي غیر مقلدینو د خپله سر پرست انګرېز اوامرو پابندي وکړه او په مسلمانانو کي يې انتشار پیدا کړی او د انګرېزانو تر توقعاتو يې زیات کار وکړ نو انګرېزانو د انعام په توګه دوی په اهل حدیث مسمیٰ کړل او کله چي يې په دغه نام مسمی کړل او سرکاري اجازت ورکړل سو او دا حکم جاري سو چي دوی دي اهل حدیث بلل کیږي نو د دې اطلاع يې تر ټولو دمخه

بتهالوي تـه ورکـړل او د دغـي خبري بشـارت يې اول ده تـه ورکـړی د دې وروستـه مـلـکـه وکټوريه د جوبلي په جشن کي دوی په خاصه توګه سره مدعو کړل او اهل حديث په دې فخر کوي نه شرم .

...... ☆ ......

د اهل حديث له طرفه وکټوريه ته مبارکي:

بـحـضـور فـيـض ګنجور کوئن وکټوريه ګريټ و قـيـصـره هند بارک الله فـی سـلـطـنتـهـا . موږ ټول د اهل حديث ممبران ، کارکنان د حضور والا پـه خـدمت عـالـي کـي د جشـن جـوبـلـي پـه مـنـاسبت مبارکباد وايو شايد پـه هـنـدوسـتـان کـي نـن ټـولـي فـرقـې خـوشـحـاله وي او د هغو تر خولې به د مبارکـي الفاظ راوزي ليکن علی الخصوص ګروه د اهل حديثو من جمل اهـل اسـلام پـه دغـه خـوشحالي کي تر نورو جماعتو په خوشحالي کي يو قـدم مـخ تـه دي . د دې وجـه دا ده چـي مـلـکـه وکټوريه چي کوم نعمتونه کړي دي په هغه کي يو تر ټولو غټ نعمت د مذهب آزادي (غير مقلديت) دی چي د دې څخه موږ ډېر خوند اخلو .

دا خـصـوصـيت نو دغـه دی چي دغـه مذهبي آزادي دغـه جماعت ته صرف پـه دغـه سـلـطنت کي حاصله د . د دغـه خصوصيت څخه دغه يقين کېدای سي چي دغـه جماعت د دغه سلطنت په قيام او استحکام ډېر خوشحاله ده او د دوی د زړو څخه د مبارکباد لفظ راوزي .



احناف فقهاء ته بنکنځل:

انجمن اهل حديث پاکستان دعوه ده چي موږ خلک د شخصي فقه څخه نجات ورکوو او خالص د خداى او د رسول و لاري ته د راتګ دعوت ورکوو . واقعي يو څو د غلطي لاري څخه را دى کول پر سمه لار سيده کول غټه نېکي ده ليکن دغه نېکي پټول خو ډېره غټه ګناه ده . دوى د حنفي فقهي کومي غلطياني را ايستلي دي په فقه حنفي کي ۱ . خنزير ۲ . شراب ۳ . مني ۴ . ويني ۵ . مردار ٦ . د حلال او حرام حيوانانو ګوبر ۷ . د حرامو حيوانانو بولي ۸ . د سپي او خنزير وغيره پسخورد ۹ . د شيدو چيښونکي کوچني بولي او ګندګي ۱۰ . په ډکه خوله قي وهل دا ټول نجاست غليظه وو، غير مقلدينو دا ټول پاک وبلل . (نزل الابرار ص ۴۵، ۵۰ / کنز الحقائق ص ١٦، ١٧ / بدور الاهله ص ١٥، ١٦)

ګواکي غير مقلدين که د خنزير په پسخورده اودس وکړي د سپي په پسخورده کالي پرېولي، په شراب، مني ويني او په بولو کي لپ پټ، پر خنزير سپاره سي او والله يحب المتطهرين ورسره وايي نو دا داعين فقه نبوي عامل دي د فقه حنفي د مخالف اجر او ثواب هم نه سو ضائع . حنفيانو خو ويل چي تاسو پر نبيؑ درواغ ويلي دي د دغه طرف ته مو داسي غلطي خبري منسوب کړي دي چي د داسي خبرو نسبت به يو سيکهـ وخپل ګرو (مشر) ته هم نه وي کړې . نو خالصه په مسلکِ اهلحديث زنده باد په دغه نعرو د دغه آواز د پټېدو کوښښ کيږي . حنفي چي کله وايي چي د ده لسو شيانو د پاکي يو يو صحيح صريح غير معارض حديث را واوروئ نو د دې په جواب کي احناف فقهاء ته ښکنځل کول شروع کړي د لمانځه پر ځاى که ګندګي وي پر ټول بدن که د حيض

وینه او بولي هم وي نو لمونځ د حدیث عینِ مطابق دی .
دغـه رنګه په فقه حنفي کې د بدن پاکي شرط وو، هغو وویل ''پس مصلی بانجاست بدن آثم ست نمازش باطل نیست'' (ص ۳۸) چې په مردار بدن باندي لمونځ کولو والا ګنهګار دی لمونځ یې باطل نه دی په فقه حنفي کې د کالو پاکوالی شرط وو ،دوی د فقـه نبوي پـه نامـه داسي ولیکل:''هر که در جامه ناپاک نماز گذارد و نمازش صحیح باشد'' (عـرف الـجادی ص ۲۲) یعني په مردارو کالو لمونځ صحیح ده . په فقه حنفي کې پر کوم ځای چې لمونځ کیږي د هغه ځای پـاکي شـرط ده . دوی د فقه اهلحدیث په نامه داسي ولیکل: ''طهارت مکان واجب ست نه شرط صحت نماز'' چې د لمـانځـه دپاره د ځای پـاکي شـرط نـه دی (بدور اهله ص: ۲۱)
پـه فـقه حنفي کې د ستر پټوالی ضروري دی مګر فقه اهلحدیث وایي: ''هر که در نماز عورتش نمایاں شد نماز صحیح باشد'' (عـرف الـجادی ص: ۲۲) چې په لمانځه کې عورت پټ نه وي لمونځ صحیح دی .
او نـواب صدیق حسن خان وایي: چې کوم خلک چې وایي چې ښځه که بې کالو او یواځې وي یا یو څو زناني سره یوځای بې کالو لمونځ وکړي یا خاونـد او ښـځـه یو ځـای لـڅ لـمونځ وکړي یا ورور او خور یا پلار او لور یوځـای لـڅ لمونځونه وکړي نو د هغو لمونځ نه صحیح کیږي موږ هیڅ کـلـه دا مسئلې نه منو . په فقه حنفي کې دا وو چې د وخت تر مخه لمونځ نه صحیح کیږي مګر فقه الحدیث وایي چې که دوی چیري فتبال کاوه نو د مـاځیـګر لـمونځ وختـي لا یـعنـي د مـاپښین د لمـانځـه سره یې وکړه (فتـاوی ثنائیه ج ۱/ ص ۶۳۱) .

د دوی په نيز مرداري صرف د ځوان سړي او ښځي بولي او ګندګي ده . يا د حيض وينه ځکه د استحاضې وينه خو د دوی په نيز بالکل پاکه او صفا ده نو له دې وجهي که چيري غير مقلد پلار او لور لڅ او پر مردار ځای لمونځ وکړي پر ټول بدن يې د حيض ويني او بولي وي نو دا لمونځ ده فقه الحديث بالکل عين مطابق دی . د دوی په نيز چي پنځه فټه د لمانځه ځای او پوره شپږ فټه بدن پر ګندګي لړلی وي بيا هم لمونځ صحيح دی مګرپر احنافو يې د درهم په مسئله کي اعتراض وکړی او د بد دیانتي له کبله يې مسئله پوره هم و نه ليکله .

په بهشتي زېور ليکلي دي چي " ديوه درهم نجاست سره لمونځ کول نه پرېولل مکره او بد دي" (ج١ص ٢) او په تعليم الاسلام کي يې ليکلي دي چي " د معاف کېدلو مطلب دا دی چي که چيري دوه نجاسته پر بدن او کلو وي اولمونځ ورسره وکړي نو لمونځ وسو مګر مکروه دی او قصداً دومره نجاست پر پاته کول جائز نه دی . (ص ٥٤) .

او په در مختار کي يې داسي ليکلي چي مکروه تحريمي هغه دی چي په دليل ظني سره ثابت وي . د دې انکار کولو والافاسق دی او د دې بغير عذر کونکی ګنهګار او د عذاب مستحق دی . (بهشتي ګوهر ص ٢)

ددې وجهي احناف همېشه پاک او په صفا طريقه سره لمونځ کوي ليکن د دغه ګندګي پسندو د احنافو دغه پاک لمونځ نه دی خوښ . دوی و احنافو ته دعوت ورکوي چي تاسو د ګندګيو سره لمونځو وکړئ که څه هم فقه حنفي تاسو ته اجازت نه ورکوي ددغه ګندګي، د ګناه اوعذاب دعوت ورکول دا يقيناً د يو ګنده روح کار دی .

ګندګي ښتل

شراب، وينـي او بـاكـي د احنـافـو پـه نيز د نجاست غليظه وو ښخه دي ليـكن د غير مقلدينو په نيز دا ټول پاک دي . اوس كه د ګندګي د خوړلو د وجهـي ښخه خولې ويني وكړې يا د سفر په دوران كي چا په ډكه خوله قې وواهـه يـا يو څوک شراب وچيښي پر خوله چي يې كوم شراب لګېدلي دي هغه زموږ په نيز ناپاک دي . د غير مقلدينو په نيز په وينو، شرابو او ډكه خوله قئ وهل پاک دی . اوس د انسان په خوله كي خو د ناړو چينه جاري وي ، اوس هغـه مسـافـر چـي د هغـه ښخـه اوبـه نه وي چي (پـه خولـه اوبه ورغـړوي) وكـړي او خـولـه صـفـا كړي هغه ناړي توكي حتىٰ چي د وينو د قـي او د شـرابـو اثـر بـالـكـل ختم سي نو اوس بـه د ده خوله صفا وي كـه نه ؟ دغـه نـاړي هـم داوبـو رقـم پـاک كـونكي دي كه نه ؟ نو د بخاري شريف په حديث كـي دي . اُم الـمؤمنين فرمايي :" چي پر كالو چي به د حيض داغ وو نـو بـه مـوږ په ناړو صفا كوی د دې حديث ښخه ثابتـه سوه چي ناړي هم صـفـا كـونكي دي . د دې مسئلې يو صورت په بهشتـي زېور كي دی چي انـجـمن اهل حديث پاكستـان په ډېره نامكمله توګه سره را نقل كړی دی " پـر لاس چـي نـجـس شی وي كه څوک هغه درې واره وڅټي نو هم پاكيږي خو دا څټل منع دي" .

اوس وګـورئ پـه بهشتـي زېـور كـي يـې ليـكلي دي چي نجاست څټل مـنـع دي تـه يـو حـديث ښـكـاره كـړه چي نجاست څټل جائز دي . موږ به د فـقـهـي دغـه مسـئـله هم ومنو او تاسو تـه به د څټلو دپاره يو پاؤ نجاست هم

در کړو تاسو د ځتېلو سره سره مسلک اهلحدیث زنده باد نعرې هم ووهئ او یو داسي حدیث پېش کړئ چي د نجاست اثر ختم سي نو هم ځای ناپاک دی او هو! صرف په ښکنځلو کار مه سمه وئ . د فقه حنفي د ګندګي څخه څومره نفرت دی فقه وایي " د داسي اوبو استعمال چي د هغه درې سره وصفه یعني خوند، رنګ او بوی بدل سوی وي هیڅ رقم نه دي جائز نه حیوانانو ته نه و خاورو وغیره ته وراچول چي ختمي ځیني جوړي سي دا ټول ناجائز دي . (بهشتي ګوهر ص ٦٥، عالمګیري ج ١ / ص ١٦٢)

کوم احناف چي داسي ګنده اوبه و حیوانانو ته ورکول او په چیښل ناجائز ګڼي و هغو ته د ګندګي د ځتېلو دعوت اهلحدیث ورکوي او د ګندګي د ځتېلو دعوت ته د قرآن او حدیث دعوت وایي .

دسپي ناړي، بولي، ګندګي او ویني د څلورو سره وو یوه یوه پیاله ستاسو په نظر .

زموږ د فقهي په نظر خنزیر نجس العین دی . له همدې وجهي د ده ښکار هم مردار دی . د سپي ښکار حلال دی (یعني چي ښکار مړ سوی وي) د دې وجهي چي سپی نجس العین نه دی . البته د سپي بولي، ګندګي، ناړي او ویني زموږ په نیز د نجاست غلیظه څخه دي لیکن د دوی د فقه الحدیث په نیز دا ټول حلال دي . (بدور الاهله ص: ١٦ / نزل الابرار ج ١/ ص ٣٠)

نو د دې وجهي پر فق حنفي باندي د اعتراض کولو د مخه ضروري وو چي تاسو یو سپی پر اوږه کښېنولی وای د هغه بولي، ناړي او ویني ستاسو پر جسم بهېدای او تاسو دا ناړې هم ورسره وهلای چي نه فقه

جعفریه منو نه فقه حنفیه، محمدیه محمدیه . ځکه چي یوه خلګو لیدلي وای چي تاسو و نبي ﷺ ته څنګه غلطي غلطي مسئلې منسوبوئ تاسو د دې صریح حدیث پېش کړئ چي د سپي ناړي، بولي او ګندګي او ویني پاکي دي . مړ به د ځلورو سره یوه یوه پیاله تاسو ته درکړو او د خپلي فقهي مسئله به غلطه ومنو .

په نفاس کي د مبتلا کېدلو له مخه د لمونځ معافي:

په حالت د حیض او نفاس کي پر ښځي لمونځ نه وي او نا روغه به لمونځ کوي تر دا حده چي په اشاره به یې لا هم کوي . د کوچني د زوکړي له کبله ښځه د ناجوړه په حکم کي وي . اوس تاسو وواياست چي دا خبره د کوم حدیث خلاف ده چي د نفاس د وینو د جاري کېدو دمخه که د ښځي حواس و عقل پر ځای وي او کوچني ته هم خطره نه وي که په اشاره لمونځ کوای سي لا هم کول یې منع او حرام دي نو به موږ د فقهي دغه مسئله غلطه تسلیم کړو . تاسو د نفاس تر مخه په کوم حدیث سره لمونځ ساقط کوئ .



د غیر مقلدینو د سنتو سره واضحه دښمني

په فقه حنفي کي په لمانځه کي ثناء، رکوع د سجدې تسبیحات، تسمیع، تحمید، درود او دعا سنت دي . د واجب په هېرېدلو سره سجده سهو لازمېږي نه د سنتو په هېرېدلو سره . امام نسائی په سنن نسائی کي یو مستقل باب لیکلی دی اقل ما تجزی به الصلوة (ج ۱ / ص ۱۹۳)

۲

انـجـمـن اهـل حـديث پاكستـان د سنتـو د خرابېدو لپاره جوړ سوی دی . زمـوږ د فـقـهـي مـطـابـق د فـرضـو په دريم او څلورم ركعت كي فاتحه ويل واجب نـه ده ځكـه چي عبـد الله بـن مسـعـودؓ حضرت عليؓ ، امام اسود او ابراهيم نخعي په دغه ركعتو كي الحمد لله نه ده ويلې . (منصف ابن ابی شيبه ج ۱ / ص ۳۷۲) او د صـحـابـه وو داسـي قول يا فعل چي په هغه كي د قيـاس احتـمـال نـه و حـكـماً مـرفـوع وي . هو په نورو احاديثو كي پر دې مـواظبـت هـم ثـابـت دی . د دې وجهي موږ فاتحه په دريم او څلورم ركعت كـي سنت بولو او د سنت مطابق لمونځ ادا كوو . ليكن انجمن اهلحديث پاكستـان خو د سنتو خرابېدو دپاره جوړ سوی دی د دې وجـهي دوی د سنت د مخالفت دعوت وركوي .



د اختر په لمانځه او قرباني كي پر احنافو الزامات :

د نبيﷺ او خـلـفـاء راشده په دور كي په هيڅ كلي كي د اختر لمونځ نه دی ثـابـت . نـو لـه همدې وجهي پر كلي والا باندي د اختر لمونځ نسته ، او پر ښـار والا بـانـدي واجـب دی . اوس د قـربـاني درې ورځي دي اولـه ورځ د طلـوع فـجـر بـعـد شـروع كيـږي نو د دې وجهي د لمر راختو بعد قرباني جـائـز ده ليـكـن پـه ښار كي خو چونكه د اختر لمونځ واجب دی او د قرباني حـكـم د لـمـانـځـه بعد دی نو چي چيري د اختر لمونځ واجب وي قرباني به هلتـه د لـمـانـځـه بـعد وي او چي چيري لمونځ واجب نه وي هلته به د لمر راختـو بـعـد جائز وي . امام ترمذي فرمايي :" د اهل علم يو جماعت پر دې

دئ چې د سهار کېدو بعد د قرباني اجازت يې ور کړی دی او دا د ابن مبارک قول هم دی . اوس موږ وايو چې دغه اهل علم هم يعني امام ترمذي او ابن المبارک د ښکنځلو لايقان دي که يوائې صاحب بهشتي زېور کم علم دی .فاسدي عقيدې



د غير مقلدينو څو فاسدي عقيدې او ګستاخيو بيان

عقيده نمبر: ﴿۱﴾

د غير مقلد مذهب دا دی چې وروستني انسانان د صحابه کرامو څخه افضل دي:

د غير مقلدينو يوه عقيده دا ده چې وروستني مسلمانان د صحابه کرامو څخه افضله کېدلای سي د صحابه وو د زمانې وروسته ډېر داسي څوک وو چې د صحابه وو څخه افضله وو ، مولانا وحيد الزمان صاحب فرمايي:

" و هذا لا يستلزم ان لا يكون في القرون اللاحقة من هو افضل من ارباب القرون السابقة . فان كثيرا من متاخرى علماء هذه الامة كانو افضل من عوام الصحابة في العلم و المعرفة و نشر السنة و هذا مما لا ينكره عاقل . (هدية المهدى ص ٩٠)

ترجمه: يعني د حضور ﷺ د دې ارشاد څخه چې فرمايي خير القرون قرني ثم الذين يلونهم الخ دا نه لازمېږي چې تر صحابه وو به افضله څوک نه وي بلکه ډېر د امت متاخرين علماء د علم او معرفت او د شريعت

پــه نشــر او اشـاعـت كـي د عـوامـو صـحابـه وو څخـه افضلـه وو او دا داسي مسلمه خبره ده چي هيچا انكار نه دى ځيني كړى .

عقيده نمبر : ﴿۲﴾

امام مهدي صاحب تر حضرت ابو بكرؓ او تر حضرت عمرؓ افضل دى .

دغير مقلدينو علماؤ يوه عقيده دا هم ده چي امام مهدي صاحب تر حضرت ابو بكر صديقؓ او تر حضرت عمر فاروقؓ بهتر دى او د دوى دليل دا دى چي وحيد الزمان فرمايي :

"والحق ان الصحابى له فضيلة الصحبة ما لا يحصل للولى و لكنه يمكن ان تكون لبعض الاولياء وجوه اخرى من الفضيلة لم تحصل للصحابى كما روى عن ابن سيرين باسناد صحيح ان امامنا المهدى يكون افضل من ابى بكر و عمر ." (هدية المهدى . ص :۹۰)

ترجمه : يعني، تحقيقي خبره دا ده چي د صحابي فضيلت په صحبت د نبي عليه السلام سره ثابت دى چي ولي لره دا فضيلت نه دى حاصل سوى او دا ممكنه ده چي بعض اولياؤ ته بيا فضيلت په نورو وجهو سره حاصل سوى دى چي هغه فضيلت بيا و صحابه وو ته نه وو حاصل سوى لكه چي ابن سيرينؒ څخه په صحيح سند روايت سوى دى چي امام مهدي صاحب تر حضرت ابو بكرؓ او تر عمرؓ افضله دى .

عقيده نمبر : ﴿۳﴾

په خطبه كي د خلفائې راشدينو نوم اخيستل بدعت دى :

د غير مقلدينو مذهب دا دى چي د جمعې په خطبه كي د خلفاء كرام نومان اخيستل بدعت دى .

نواب وحيد الزمان ليکلي دي:

(و لا يلتزمون ذكر الخلفاء ولا ذكرسلطان الوقت لكونه بدعة غير ماثورة عن النبى ﷺ و اصحابه) . (هدية المهدى . ص۱۱۰)

ترجمه: يني اهل حديث د خلفاء الراشدينو او سلطان وقت نومان په خطبه کي نه ذکر کوي . ځکه چي بدعت دى .

عقيده نمبر: ﴿۴﴾

د صحابي قول حجت نه دى:

د غير مقلدينو مذهب او عقيده دا ده چي د صحابي قول په دين او شريعت کي حجت نه دى په فتاوى نذيريه کي ليکلي دي:

(دوم آنکه اگر تسليم کرده شود که سند اين قوى صحيح است تاهم از و احتجاج صحيح نيست زيرا که قول صحابى حجت نيست)(فتاوى نذيريه ـ ص:۳۴۰)

ترجمه يعني د حضرت جابرؓ دا خبره چي (لا صلوة لمن يقرأ الخ) والا حديث ده حضرت ده حضرت جابرؓ قول دى او د صحابي قول حجت نه دى .

او په فتاوىٰ نذريه کي ليکلي دي چي د حضرت عليؓ په باره کي ارشاد سوى دى چي د جمع د لمانځه لپاره ښار شرط دى دا هيڅ کله نه سي ثابت کيدلاى ځکه چي دا د صحابي قول دى . (فتوى نذيريه ص: ۵۹۴، ج ۱)

عقيده نمبر: ﴿۵﴾

د صحابي فعل هم حجت نه دى:

غير مقلدين وايي چي د صحابي فعل هم حجت نه دى نواب صديق جسن خان په خپل کتاب کي ليکي دي: (و فعل الصحابي لا يصلح للحجة (التاج المکلل ص ۲۹۲)

عقیده نمبر: ﴿٦﴾

د صحابي رايه حجت نه دی:

د غير مقلدينو دا هم وينا ده چي د صحابهٔ كرامو رايه په دين كي حجت نه ده په عرف الجاري كتاب كي ليكلي دي (آری گرسخن اس در قبول رائے ایشان نہ روایت) یعني خبره دا ده چي د صحابي رايه نه ده قبول او روايت يې قبول دی .

عقیده نمبر: ﴿٧﴾

د صحابهٔ كرامو فهم هم حجت نه دی:

د غير مقلدينو په مذهب كي لكه چي قول او فعل او رايه د صحابي حجت نه وو همدغه رنګه د صحابهٔ كرامو فهم هم حجت نه‌ئي په فتاوی نذيريه كي ليكلي دي: (رابعاًیہ کہ ولوفرضا تو یہ عائشہ اپنے فہم سے فرماتی ہیں) يعني د حضرت عائشهؓ دا قول چي كه چيري رسول الله ﷺ په دې زمانه كي موجود وای ده به زناني د مسجد څخه منع كړي وې . دا فهم د صحابيه دی او فهم د صحابي حجت نه دی . (فتاوی نذيريه ص ٦٢٢/ ج ١)

عقیده نمبر: ﴿٨﴾

د حضرت عائشه رضی الله عنها په شان كي د فتاوی نذريه د مفتي ګستاخي:

د دې مسئلې په ضمن كي چي حضرت عائشه رضي الله عنها د ښځو په باره كي چي عائشه رضی الله عنها فرمايي چي كه په دې زمانه كي نبي عليه السلام موجود وای ده به ښځي د مسجدونو څخه بندي كړي وې د فتاوی نذريه كي مفتي وايي چي دا خبره حضرت عائشه رضی الله عنها

د خپـلـه فهـمـه كړې ده او فهـم د صـحـابـي پـه شـريعت كې حجت نه دى نو مفتي صاحب د حضرت عائشهؓ په شان كې زبردسته ګستاخي كړې ده .

(۱) حـضـرت عـائشـهؓ د پېغمبر د حكم مخالفه بللې ده او (۲) حضرت عائشهؓ د قرآن كريم د دې آيت مصداق ګڼلې ده چې الله پاک فرمايي : ﴿وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيراً﴾ د دې آيت وروستـه تـر هغه چې و ده ته هدايت ور ښكاره سي او دى ده مسلمانانو د لاري علاوه بله لار غوره كړي نو مـوږ دى حواله كړو و هغې لاري ته چې ده اختيار كړې ده او موږ به دى په جهنم كې داخل كړو او جهنم بد ځاى دى د ورتللو .)

دفتـاوى نـذيـريـه د مـفتـي ګـمـراهي تاسي ملاحظه كړئ چې ده د پردې شـاتــه څومره ګستـاخـي د عــائشـه رضى الله عنهـا پـه شـان كي كړې ده افسـوس پـر دغــه فتـوى بـانـدي د ميـا نـذيـر حسين بغيـر اختلافي نوټ دستخط موجود دى د مفتي ددغه بيهوده كلام حاصل دا دى :

(۱) چې حضرت عائشه رضي الله عنهاد نبي عليه السلام د حكم مخالف ده .

(۲) حـضـرت عـائشـه رضي الله عـنهـا په دې مـسـئـله كې د نبي عليـه السـلام د حكم مخالفه ده او د دې آيت مصداق جوړه سوه .

(۳) حـضـرت عـائشــه رضـي الله عـنهـا پـه دې مـسـئـله كي خپـل قيـاس او رايه داخله كړه .

(۴) حـضـرت عائشـه رضي الله عنها په دې مسئله كي قياس وكړ لكه چې شيطان قياس كړې وو ويل يې انا خير منه .

(۵) حضرت عـائشـه رضـي الله عـنهـا د شريعت د تبديلي جرأت كړى دى .

(نوټ) محترمو ناظرينو! داسي دا ملاحظه کړئ چي څنګه؟ آيا چي د يو چا په زړه کي يوه ذره د ايمان هم وي هغه به داسي ګستاخي د عائشه رضي الله عنها په شان کي وکړي؟!

عقيده نمبر: ﴿۹﴾

غير مقلدين د خلفاء راشدينو عمل سنت نه مني:

د ټول اهلسنت والجماعت مسلک دا دی چي د خلفاء راشدينو عمل مستقل سنت دی او د دې سنت اتباع په دې حديث چي (عليکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدين) لازم ده او امام ابن تيميه فرمايي: (فسنة الخلفاء الراشدين هی مما امر الله به و رسوله و عليه ادلة شرعية کثيرة) (فتاوی ابن تيميه ص ۱۰۸ خ ج ۴)

ليکن غير مقلدين وايي چي د خلفاء راشدينو چي کوم عمل د نبی عليه السلام د قول او عمل سره موافق وي هغه منو او چي کوم عمل ورسره موافق نه وي هغه عمل په دين کي حجت نه دی لکه چي مولانا عبد الرحمٰن مبارکپوري په (تحفة الاحوذی) کتاب کي د عليکم بسنتی) تر حديث لاندي دا خبره بيان کړې ده . (تحفة الاحوذی) وګورئ .

عقيده نمبر: ﴿۱۰﴾

غير مقلدين او حضرت عمر رض:

غير مقلدين که اکابر دي که اصاغر دي خلفاء راشدين خاص طور حضرت عمر فاروق رضی الله عنه يې په خپل کتابو کي د قلم نشانه جوړ کړی دی . او ده دوی د شخصيت د مجروح کېدلو دپاره يې ټول هغه حربې استعمال کړي دي کوم چي شيعه ګانو استعمال کړي دي او د دوارو

فـرقـو مقصد د حضرت عمرؓ ذات مطعون كول دي صرف په انداز كي فرق دى .

عقيده نمبر: ﴿۱۱﴾

حضرت عمرؓ ډيري غټي مسئلې غلطي وركولې او ده ته يې شرعي حكم نه وو ورمعلوم:

لكه چي په طريق محمدي كتاب كي مولانا جونا ګډي ليكلي دي چي (راسئ واورئ چي ډيري صفا صفا او غټي مسئلې داسي دي چي حضرت عمرؓ په هغه كي غلطي كړې ده او زموږ او ستاسو په دې خبره اتفاق دى چي حضرت عمرؓ د دغو مسئلو په دلائلو نه وو خبر . (طريق محمدي ص ۴۱)

بيا د لسو مسئلو د بې خبري د ثابتولو وروسته محمد جونا ګډي فرمايي چي داخو لس مسئلې دي ځو كه چيري تلاش پسي وسي نوري هم داسي مسئلې سته چي د هغو مسائلو دلائل د ده څخه مخفي ده .

نوټ: . الله اكبر په غير مقلدينو كي داسي دم او خم علماء سته چي د حضرت عمرؓ د شرعي مسائلو غلطي نيسي .

عقيده نمبر: ﴿۱۲﴾

خلفاء راشدينو د احكام شرعيه خلاف احكام نافذول:

غير مقلدين وايي چي خلفاء راشدينو به د خپل ذاتي مصلحت بيني دپاره د شريعت پر خلاف احكام صادرول او د خلفاء راشدينو دغه خود ساخته احكام امت په اجماعي ډول سره رد كړي دي . د جامعه سلفيه بنارس محقق رئيس احمد ندوي سلفي وايي چي موږ وينو چي خلفاء

راشدينو د خپل ذاتي مصلحت بيني دپاره د شريعت د احکامو خلاف خپل خود ساخته احکام صادر کړي چې عام امت دغه احکام رد کړي دي .
(تنوير الآفاق : ص ۱۰۷)

په دې سلسله کي نور فرمايي چي موږ داسي مثالونه پېشولای سو چي د خلفاء راشدينو دغه د شرعي خلاف عمل ټول امت غلط بللی او د شريعت په احکامو يې عمل کړی دی . (تنوير الآفاق ص ۱۰۷)

او په دې سلسله کي د ندوي سلفي دغه ارشاد هم ملاحظه کړئ چي د ی فرمايي چي د يوه څخه زيات داسي واضح مثالونه موجود دي چي حضرت عمرؓ يا بل خليفه چي د کتاب او سنت خلاف خپل اختيار کرده موقف بطور قانون جاري کړي وي او امت هغه کړي او د شريعت د حکم پيروي يې کړې ده .
(تنوير الآفاق ص ۱۰۸)

محترمو ناظرينو ! د محقق سلفي د عباراتو څخه دغه لاندي حقائق معلوميږي :

۱﴾ ...... خلفاء راشدينو به د شريعت خلاف احکام جاري کول .
۲﴾ ...... امت د خلفاء راشدينو دغه خودساخته احکام رد کړل .
۳﴾ ...... چي خلفاء راشدينو په شريعت کي د شريعت خلاف خپل موقف به يې غوره کوی .

دا هغه حقائق دي چې د جامعې سلفې بنارس د ندوې سلفي د کلام څخه ماخوذ سوي دي او س نو مسلمانانو تاسي غور او فکر وکړئ چي د دغه بيان وروسته به بيا په شريعت کي کوم مقام پاته سي او خلفاء راشدينو

تـه بيا راشد ويل به جائز وي عقلاً يا نقلاً ، او مسلمانانو ته به بيا د دوی پر سنت باندي اعتماد جائز وي، او د غير مقلدينو دغه قسم وينا به د رافضيت او شيعيت د فكر اظهار نه وي؟

تاسي غور او فكر وكړئ كه چيري دا د غير مقلدينو فكر په درجه سره معتبر وبلل سي بيا به د دغه حديث يو معنى هم باقي پاته سي چي (عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين)

عقيده نمبر: ﴿۱۳﴾

د حضرت عمرؓ او د حضرت ابن مسعودؓ د شرعي نصوصو خلاف موقف:

دغير مقلدينو علماء وايئ چي حضرت عمرؓ او حضرت عبد الله ابن مسعود به دشرعي نصوصو خلاف موقف غور كوی . مولانا رئيس احمد ندوي فرمايي چي داخبره ښكاره ده چي د دغو دوو جليل القدر صحابه وو موقف د شرعي خلاف په وجه ده صحبت لائق نه دی او دا خبره په معتبره طريقه ثابته ده چي دوی دوو د نصوصو شرعيو خلاف موقف اختيار كړی دی او دا صرف دوی دوه وو . (تنوير الآفاق ص ۸۷، ۸۸)

مسلمانانو ! لږ غور وكړئ چي دغه د غير مقلديت لاره يو شيطاني لاره ده چي صحابه حتى حضرت عمرؓ او حضرت ابن مسعودؓ په خوني ګستا خ انداز يادوي .

عقيده نمبر: ﴿۱۴﴾

د حضرت عمرؓ او عبد الله ابن مسعودؓ په دماغ كي د قرآن مفهوم نه راتلی:

دا هم د جامعه سلفيه بنارس ندوې سلفي د ګستاخي ډک بيان دی چې دَی فرمايي چې تيمم د قرآن په دوو آيتو او په پنځه سوه احاديثو ثابت دی ليکن چې کله دا آيتونه او احاديث وحضرت عمرؓ او عبد الله بن مسعودؓ ته پيش کړل سو د دوی په دماغ کي يې مفهوم نه راتلی . (تنوير الآفاق ص ۴۱۸) .

په دغه انداز وينا د هغه چا کار دی چې زړه يې د صحابه کرامو د بغض څخه ډک وي او چې د ده پر فکر او ذهن باندي شيعيت پوره قبضه کړي وي او دوی ته د حضرت عمرؓ او د حضرت عبد الله ابن مسعودؓ مقام معلوم نه وي افسوس پر غير مقلديت باندي .

عقيده نمبر: ﴿۱۵﴾

حضرت عمرؓ د قرآن حکم بدل کړی:

د جامعه سلفيه محقق په زړه کي د حضرت عمر فاروقؓ سره سخته کينه او بغض ساتي د هغه حضرت عمرؓ سره چې د ده په شان کي نبي عليه السلام فرمايي چې پر کومه لار حضرت عمرؓ تېرېږي پر هغه لار شيطانان نه ځي . او د هغه حضرت عمرؓ په شان کي چې نبي عليه السلام فرمايي چې شيطان د ده له سايې څخه تښتي . او د هغه حضرت عمرؓ په شان کي چې نبي عليه السلام فرمايي چې حق الله پاک د حضرت عمرؓ په ژبه کړی دی . او د هغه حضرت عمرؓ په شان کي چې د شلو څخه زيات آيتونه د ده د خواهش مطابق نازل سوي دي .

د جامعه سلفيه محقق او غير مقلدين د شيعه وو هم ژبان سول او پر حضرت عمرؓ باندي پروپېګنډه وکړه او وايي چې حضرت عمرؓ د الله (جل

شانه) شریعت بدلوی .

د جـامـعـې محقق څه وایي ویې وایاست (موصوف وایي چې د حضرت عـمـرؓ خـواهشـاو تـمنا هم داوه چې د قرآن د حکم مطلب په یو مجلس کي درې طـلاقـه پـه یـوه طـلاق حسـاب کـړي لیـکن د خلکو د غلطي رویې د بـنـدولـو لپـاره یـې دا مـصلحت وباله چې درې طلاقه پر یو ځای یې پر درو طلاقو حساب کړل .

(تنویر الآفاق ص ۴۹۸)

او د دې بـعـد سـلـفـي ندوي وایي:(چې دا څه وجه ده چې پر یو ځای درې طـلاقـه حضـرت عـمرؓ تعزیري طور نافذ کړي او د بعضي سیاسي مصلحت دپاره د نافذ کړي او تاسو د شریعت قانون ځیني جوړ کړی .

(تنور الآفاق ص ۴۹۹)

عقیده نمبر: ﴿۱٦﴾

حـضـرت عليؓ او صحابه کرامو به د غـصـې پـه حالت کي غلطي فتواوي ورکولې:

د حدیثو پـه کتـابو کي راغلي دي چې، حضرت عليؓ په یو وخت کي درې طـلاقـو تـه د درو طـلاقـو حکم ورکړی دی هغه وخت کي حضرت عليؓ په حـالـت کـي د غـصـې وو . سـلـفـي نـدوي وایي (ظاهره خبره ده چې دا خبره مـحـض د غـصـې پـه حـالـت کـي ده کـړې ده دغـه د غـصـې والا خبره نورو صـحـابـه وو هـم پـه فـتـوی ورکولو کي خپله کړې وه دوی به هم په یو ځای درې طلاقه پر درې طلاقه حسابول . تنویر الآفاق ص ۱۰۲)

مزید یې لیکلي دي چې:

(ظاهره خبره ده چې د غصې په حالت کې چې خبره د خولې څخه ووزي دا حجت شرعي نه دی ځکه چې دا خبره د نبي علیه السلام نه ده او د نصوصو خلاف ده . (تنویر الآفاق ص ۱۰۴)

اهل علم خلک د غور وکړي چې دغه غیر مقلد محقق د حضرت علي او د حضراتو صحابه کرامو په حق کې څنګه بیهوده بکواس کړ دی د خلفاء راشدینو او د عامو صحابه کرامو په حق کې داسې ګستاخي کول د هغه چا کار دی چې په زړه کې یې بغض ناجوړي وي .

عقیده نمبر : ﴿۱۷﴾

د غیر مقلدینو خیال دا دی چې عبد الله ابن مسعودؓ د لمانځه او د دین چیري هم خبري هېري کړي دي:

غرض دا چې د صحابه کرامو په جماعت کې چې یو امتیازي لوړ مقام لري هغه حضرت عبد الله بن مسعودؓ دی خو د غیر مقلدینو غټ محدث مولانا عبد الرحمن مبارکپوري فرمایي چې د حضرت عبد الله ابن مسعودؓ لمونځ هم نه وو زده او د لمانځه په حق کې چې کومي خبري له ده سره وې هغه یې هم ټولي هیري کړي وې همدغه وجه وه چې ده به رفع الیدین نه کاوه . مولانا عبد الرحمن صاحب د ترمذي په شرح کې چې پر عبد الله ابن مسعودؓ باندي ده خبره کړې ده د هغه خلاصه دا ده، چې دی فرمایي :

(ولو تنزلنا و سلمنا ان حديث ابن مسعود هذا صحيح او حسن فالظاهر ان ابن مسعودؓ قد نسيه كما قد نسى اموراً كثيرة (تحفة الاحوذی ج ۱/ ص ۲۲۱)

عقیده نمبر : ﴿۱۸﴾

صحابه کرامو به د نصوصو خلاف عمل کولو:

د غير مقلدينو د علماؤ دا هم مذهب دی چي صحابه کرامو به د نصوصو خلاف کار کولو او دوی په دې خبره هم پوه وو چي دا کار د کتاب او د سنت خلاف دی او حرام و گناه ده مولانا رئيس احمد ندوي فرمايي: چي (صحابهٔ کرام وايي چي درې طلاقه په يو وار چي واقع سي يو طلاق واقع کيږي مگر سره د دې چي صحابهٔ کرام درې طلاقه پر يو ځای واقع کول حرام او معصيت او خلاف نصوص يې بولي . (تنوير الآفاق ص ۵۱)

په همدغه سلسله کي دوهم وار فرمايي چي صحابهٔ کرام وايي (درې طلاقه په يو وخت کي واقع کيږي سره له دې خبري چي دا د نصوصو خلاف کار دی او س سوال دا دی چي يو کار د شريعت خلاف وي او صحابهٔ کرام يې صحيح واقع بولي آيا دا د نورو خلکو لپاره دليل شرعيي بلل کېدای سي که يا؟ (تنوير الآفاق ص ۵۴)

يعني د سلفي ندوي په نزد صحابهٔ کرامو هغه کار هم کولو چي هغه کار د نصوصو خلاف وو او حرام و معصيت هم صحابه کرامو کولو معاذ الله د صحابهٔ کرامو په حق کي د غير مقلدينو خرابه او گنده عقيده دا ده چي تاسي يې ملاحظه کړئ او سره د دې خبري چي صحابه کرام هغه څوک دي چي د دوی په حق کي الله تعالی جل جلاله فرمايي ﴿رضى الله عنهم و رضوا عنه﴾ ترجمه: الله تعالی د دوی څخه راضي دا دوی د الله تعالی څخه راضي دي . او الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ﴾ پر دې خبره دا دی قطعي نص وارد دی چي صحابهٔ کرام د فسق او د عصيان سره طبعي نفرت لري .

عقيده نمبر: ﴿۱۹﴾

صحابه كرامو به خلاف د شرع فتوى وركوله:

د غير مقلدينو دا مذهب دى چي صحابه كرامو ته دا بنه ور معلومه وه چي دا كار د شرعي خلاف دى بيا به هم فتوى وركوله لكه چي شيعه مزاجه استاذ سلفي ندوي چي په خپل كتاكي ليكي چي موږ وينو چي كڼ شمېر صحابه كرام په يو وخت كي طلاق ثلاثه واقع بولي او دا صراحة له دوى څخه نقل سوى دي چي دا كار خلاف سنت دى او حرام دى . (تنوير الآفاق ص ۱۰۵)

لكه چي شيعه ګانو د صحابه كرام په شا ن كي غير سنجيده خبري كولې اوس د غير مقلديت په نامه دغو خلكو هغه خبري د علم او تحقيق په نامه و دنيا ته پهيلاو ه وي .

عقيده نمبر: ﴿۲۰﴾

د عبد الله ابن مسعودؓ په خلاف كي د غير مقلدينو وينا :

د جامعه سلفيه محقق سلفي ندوي په خپل كتاب تنوير الآفاق كي د جليل القدر صحابي او د صحابه كرامو په مجمعه كي فقيه او عظيم المرتبت صحابي حضرت عبد الله ابن مسعودؓ په خلاف خپله د بې ادبي ژبه استعمال كړې ده چي د هغه يوه نمونه دا ده چي موږ به يې درته ذكر كړو :

سلفي ندوي وايي چي (د ابن مسعودؓ بيان د الله (ج) او رسول الله ﷺ د بيان شده اصولو خلاف دى لهذا د ابن مسعودؓ بيان د اعتبار وړ نه دى)

مزيد فرمايي چي (د عبد الله ابن مسعودؓ د شک ډک عمل قبول دى او سره د دې چي د شريعت حكم واضح دى چي په شريعت كي په يو وخت كي درې

طلاقـه پـه يـوه طـلاق حساب دي اوس نو د عبد الله ابن مسعودؓ يا د دې قـول قائل صحابه كرامو قول په كوم دليل شرعي سره د فتوى وړ دى ؟ (تنوير الآفاق ١٦٥)

عقيـده نمبر: ﴿٢١﴾

صحابه كرام به په آيت خبر هم وو بيا به يې هم د آيت خلاف كار كولو :

غيـر مـقـلـديـن سـلـفـي ندوي د صحابه كرامو په خلاف كې په گستا خ انـداز بـانـدي قـلـم چـلـولى دى چې فرمايي (ډېر صحابه و تابعين داسي وو چي د آيتو څخه خبر وو او د تلاوت سره سره به يې د مختلفو وجهو څخه د آيتو خلاف عمل كولو . (تنوير الآفاق ص ۴۷)

عقيـده نمبر: ﴿٢٢﴾

د حضرت عبد الله ابن عباسؓ په باره كې د غير مقلدينو وينا:

د حـضـرت عبـد الله ابن عـباسؓ فتوى ده جمهور اهل سنتو علماؤ موافق ده يـعـنـي پـه وخـت كـې درې طـلاقـه واقـع كـيږي نو د جامعه سلفيـه محقق فرمايي چي :

(كـه بـالـفـرض د حضرت عبد الله ابن عـباسؓ فـتـوى د دريو طلاقو په باره كـې داسـي وه چـي دا درې دي نـو موږ بيا د حديث تابعداري كوو او د ده قول نه منو . (تنور الآفاق ص ۴۴۸)

عقيـده نمبر: ﴿٢٣﴾

د حضرت عبد الله ابن عمرؓ په باره كې د غير مقلدينو دَوش :

څـوک چـي غيـر مـقـلـديـت اختيـار كړي د هغه د قلم تر څو كه به داسي گستـاخانه الفاظ او كلام را ووزي . د جامعه سلفيـه بنارس استاذ فرمايي :

(چـي حضرت عبد الله ابن عـمرؓ به ويل چي زما د پلار حضرت عـمر فاروقؓ قـول چي د نبـوي فرمان مخالف وي قابل قبول نه دی نو چي حضرت عبد الله ابن عمرؓ قول يا د بل صحابي قـول د فرمان نبوي سره مخالف وي څنګه قابل قبول ګرزي، نه سي کېدلای چي قبول دي سي .
(تنوير الآفاق ص ٣٤٦)

مـحتـرمو ناظرينو ! تاسي د غير مقلدينو په باره کي غور و کړئ آيا چي څـوک د صحابه کرامو په شان کي داعقيده لري بيا کېدلای سي چي د اهل سنت والجماعة څخه دي شمار کړل سي .

او دويـمـه خبـره دا ده چي دغه کتاب په هندوستان کي د غيـر مقلدينو د مـرکزي ادارې له طرفه څخه شائع سوی دی چي د دغي ادارې معتمد ډاکټر مـقـتـدیٰ حسـن ازهـري هم د دغه کتاب په سر کي د کتاب او د مصنف ډېر صفت کړی دی او ده ليکلي دي:

چي پـه دې کتـاب کـي چـي څـه ليـکلي دي دا د ټول غير مقلد جماعت موقف دی د صحابه وو په شان کي . (تنوير الآفاق ص ١٦)

عقيده نمبر : ﴿ ٢٤ ﴾

حکيم فيض عالم صديقي هم د صحابه کرامو په شان کي فرمايي:

د صـحـابـه کـرامـو او د آل بيت رسـول پـه بـاره کي د حکيم فيض عالم صديقي جذبات چي په لاندي ډول به يې موږ د بصيرت دپاره درته ذکر کړو:

عقيده نمبر : ﴿٢٥﴾

حضرت عليؓ د يو بې فکره شهزاده پر طريقې زندګي تېر و له :

د غـنـيـمـت څـخه ډېره غټه حصه و ده ته. په خپل کور ناست ورسېدله او

په ديني امور کي به يې کله په خپله خوښي سره حصه اخستله خو کله يې د سياست مدني يا د نورو امورو لپاره خپل دماغ نه کړی مصروف (صديقۀ کائنات ص ٧١)

عقيده نمبر: ﴿٢٦﴾

د حضرت عليؓ يو نام نهاد خلافت وو او خوساخته حکمراني يې جوړه کړې وه:

حکيم فيض عالم غير مقلد په خپل کتاب خلافت راشده کي د حضرت عليؓ په باره کي ليکلي دي چي د حضرت عليؓ خلافت او حکمراني يو خودساخته او نام نهاده خلافت وو چي د آيات او سنت سره يې هيڅ تعلق نه درلودی . (خلافت راشده ص ٥٥، ٥٦)

عقيده نمبر: ﴿٢٧﴾

سيدنا حضرت عليؓ د خلافت په ذريعه خپل شخصيت زورور جوړول غوښتل:

حکيم فيض غير مقلد فرمايي چي حضرت عليؓ دخلافت په ذريعه خپل شخصيت قوي کولو او د مسلمانانو فتوحات يې په تپه ودرول او سره د دې يې يو لک کم و بېش د توحيد فرزندان په خارو او په وينو لړلي شهيدان کړل . (خلافت راشده ٥١)

عقيده نمبر: ﴿٢٨﴾

د حضرت عليؓ خلافت يو عذاب خداوندي وو:

حکيم فيض عالم غير مقلد خپله سينه د حضرت عليؓ سره د بغض نه ډکه کړې او بغض يې دا دی تاسي يې وګورئ: (حضرت عليؓ امت نه وو

منتخب کړی بلکه خپل خودساخته خلافت یې جوړ کړی وو او د ده خلافت څلور یا پنځه کاله د امت لپاره یو عذاب خداوندي وو او د ده په دور خلافت کي د یو لک څخه زیات فرزندان توحید ختم کړل سوو او د ده شهادت د عالم اسلام لپاره یو رحمت وو . (خلافت راشده ص ۲۲۸)

عقیده نمبر: ﴿۲۹﴾

حضرات حضرت حسنؓ او حضرت حسینؓ د صحابه وو په زمره کي حسابول دا د سبائیت ترجماني وه:

حکیم فیض غیر مقلد دا هم نه سي برداشتولی چي حضرت حسنؓ او حسینؓ په جماعت د صحابه وو کي شمار سي . دی فرمایي: چي حضرت حسنؓ او حضرت حسینؓ په زمره کي د صحابه وو شمارل صریح د سبائیت ترجماني ده یا دیو ړوند تقلید خرابي ده . (سیدنا حسن بن علی ص ۲۳ از مسائل اهلحدیث جلد دوم)

او د حضرت حسنؓ د وفات په باره کي فرمایي چي د حضرت حسنؓ وفات د ډېرو جماعو له وجهي نه وسو . (العیاذ بالله، خلافت راشده ص ۲۱۵) د حضرت حسنؓ په باره کي خو تاسو د حکیم فیض صاحب ایمان افروز ارشادات ملاحظه کړل اوس نو د حضرت حسینؓ په باره کي د ده خیالات او ارشادات ملاحظه کړئ:

عقیده نمبر: ﴿۳۰﴾

د حضرت حسینؓ سفر و کوفې ته د اعلاء کلمهٔ حق دپاره نه وو بلکه صرف سفر وو:

حکیم فیض فرمایي چي حضرت حسینؓ و کوفې ته د دې دپاره نه تلی چي اعلاء کلمة الحق به وسي بلکه دده مقصد حصول د خلافت وو چي

خلافت حاصل سي . (واقعۀ کربلا ص ۷، از رسائل اهلحديث جلد دوم)

د ده په زړه کې د خلافت حصول وو د ټولو صحابۀ کرامو او تابعينو د خبرداري سره سره ده د ذوالحجې په مياشت کې مکې څخه و کوفې ته قصد وکړ . (رسائل اهلحديث جلد دوم ص ۹۸ و ۹۹)

د حضرت حسينؓ په باره کې يوه بله افتراء:

حکيم فيض غير مقلد وايي چې حضرت حسينؓ د برسام په بيمارۍ مبتلا وو او برسام هغه بيماري ده چې دا مريض به يا له دغې بيمارۍ څخه مري او يا به ځيني لېونی کيږي او که بيا هم بچاو سي بيا به يې په ژبه کې لکنت يعني بندېده وي او ذهن يې د سوچ کولو څخه محروم سي . (خلافت راشده ص ۱۳۸)

يعني حکيم صاحب و خپلو غير مقلدينو ته دا تأثر ورکول غواړي چې حضرت حسينؓ د کوفې سفر ددې دپاره وکی چې معاذ الله دی د برسام په بيمارۍ اخته وو او دماغ يې کار نه کاوه، د صحابه وو مشوره يې نه منله او د خلافت شوق يې ډېر وو مسلمانانو د خدای جل جلاله دپاره غور او فکر وکړئ چې ديو مسلمان په زړه کې چې يوه ذره محبت دخپل پېغمبر ﷺ وي هغه به داسې بې ادبي او بکواس وکړي . د الله (جل شانه) د رسول ﷺ د حضرت حسنؓ او حضرت حسينؓ سره څومره محبت وو د دې محبت اندازه د رسول الله ﷺ د دې دعا څخه معلوميږي چې نبي عليه السلام په دعا کې فرمايي (اللهم انی احبهما فاحبهما و احب من يحبهما) (ترمذي)

ترجمه: يا الله زه د دوی سره محبت لرم ته هم محبت ورسره وکړه او ته

محبت د هغه چا سره وکړه چې دوی يې محبوب جوړ کړي وي .
او دا هغه حضرت حسن رض او حضرت حسين رض دي چې د دوی په باره کې نبي عليه السلام فرمايي: (الحسن و الحسين سيدا شباب اهل الجنة) (ترمذی) . عقيده نمبر: ﴿ ۲۱ ﴾
د حضرت حذيفة رض په باره کې د حکيم فيض عالم ګنده خيال :
حضرت حذيفة رض يو جليل القدره صحابي وو، او هغه صحابي وو چې د ده سره د نبي عليه السلام هغه خبري ورسره وې چې د بل صحابي سره بيا نه و او هغه صحابي وو چې نبي عليه السلام يوه ورځ و صحابه کرامو ته وفرمايل چې (ما حدثکم حذيفة فصدقوه) يعني چې حذيفة رض څه خبري درته کوي هغه خبري رښتيا دي)
نو حکيم فيض د ده په باره کې فرمايي چې حضرت حذيفة رض د حضرت عمر فاروق رض په قتل کې شريک وو دی فرمايي چې (چې آيا د حذيفة رض د دې خبري څخه دا نه معلوميږي چې حضرت حذيفة رض وايي چې زه د دغه سازش څخه خبر وم نو چې دی خبر وو نو د يهودو او مجوسو د سازش تپوله واقعه يې ولې نه بيانوله د ده زوی محمد او د حضرت ابو بکر رض زوی محمد دواړه په مصر کې د ابن سبا خاص معتقدين وو . (شهادت ذوالنورين ص ۷۱)
عقيده نمبر: ﴿ ۲۲ ﴾
حضرت ابو ذر غفاري رض د کميونستي عقيدې والا وو:
د حضرت ابو ذر غفاري رض په صحابه کرامو کې خاص مقام درلودی د نبي عليه السلام سره يې خاص عشق او محبت درلود او د زاهدانه مزاج خاوند

وو د دنيا د محبت يې بالکل په زړه کې سوچ هم نه وو .

حکيم فيض سلفي د ده په حق کې داسې خبرې کوي چې د هيڅا قلم څخه يې صادرېدل ممکن نه دي فيض سلفي د علامه اقبال د دې شعر په مناسبت کې وايي چې:

مٹایا قیصر و کسریٰ کے استبداد کو کس نے

وہ کیا تھا زور حیدر فقر بوذر صدق سلمانی

☆ ☆ ☆

ترجمه: يعني د قيصر او کسرى طاقت چا متاو کی هغه زور د حيدر او فقر د ابو ذر وو او صدق سلماني وو .

په دې باره کې فيض سلفي فرمايي چې په دويم نمبر نوم د ابو ذرؓ دی او ابو ذر غفاريؓ هغه څوک دی چې د ابن سبا د کميونستي نظريې څخه متاثره وو او په هر مسلمان پسې يې لرګي را اخيستي وو .

(خلافت راشده ص ۱۴۲)

چې کله سرې د غير مقلديت په ناسور باندې مبتلا سي نو عجيبې عجيبې خبرې شروع کړي، عجيبه خبره خو دا ده چې غير مقلدين رفع يدين او امين بالجهر داسې نورې فروعي مسائلو باندې هر وخت بحثونه کوي خو د خپل جماعت پر ګستاخانو باندې هيڅ تنقيد او اعتراض نه کوي او د دوی ژبه او قلم ولې ورباندې ګونګی شي .

ګذارش

زما د ټولو مسلمانانو څخه دا ګذارش دی چې د غير مقلديت فتنه وپېژني او ځان ځيني وژغوري د کتاب او د سنت په نامه باندې دغه ګمراهي او ضلالت پهيلاوه وي . هر ځای پر اهل سنت والجماعت باندې

د کفر فتوی جاري کوي د مسلمانانو په صفو کي انتشار جوړوي په کورو کي د جګړې فضا جوړوي او په مسجدونو کي اختلافات را مینځ ته کوي، او د الله والا خلګو او ددین د خادمانو په حق کي بکواس کوي . نو به موږ دغه دعا کوو چي :

(ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هديتنا وهب لنا من لدنک رحمة انک انت الوهاب) و صلى الله تعالى على رسوله و صحبه اجمعين .

☆ ☆ ☆



مولوي وحيد الزمان غير مقلد ليکلي دي چي غير څخه امراد غوښتل مطلقاً جائز دي (هدية المهدي ص ۲۳) د رسول ﷺ او حضرت علي رضی الله عنه او د بل ولي په بابت کي دا خيال کول چي د دې سماعت د عام الناس د سماعت څخه اوسع دی دا شرک نه دی . (هدية المهدي ص ۲۵)

او پخپله نواب صديق حسن خان غير مقلد د دې قائل دی د غير الله څخه د خپله مدد غوښتی دی . قبله دين مددی کعبه ايمان مددی ابن قيم مدد قاضی شوکاني مددی ، (نفح الطيب ص ۴۷، ۵۷)

د دې بر خلاف مولوي ثناء الله غير مقلد دا فرمايلي دي چي د غير الله څخه امدا غوښتل شرک دی (اهل حديث کا مذهب ص ۱۷ تا ص ۲۱)

زنا کی لڑکی سے نکاح جائز ہے

مولوي نور حسن غير مقلد ليکلي دي چي د زنازاده لور سره نکاح کول جائز ده (عرف الجاوی ص ۱۱۲)

او مولوي عبد الجليل سامروي غير مقلد فرمايلي دي چ د زنازاده لور سره نكاح كول جائز نه ده ځكه په صحاح سته ددې ذكر نسته .
(العذاب المهين ص٥٢)

مال تجارت میں زکوۃ واجب نہیں

نواب صديق حسن غير مقلد ليكلي دي چي په مال تجارت كي زكوة واجب نه دى شوكاني داؤد هم ددې قائل دي ددې بر خلاف مولوي عبد الجليل سامرودي فرميالي دي چي :عام اهل حديث په نزد په مال تجارت كي زكوة واجب دى . العذاب المهين ص ۲ تا ۲۹)

چاندی سونے کی زیور میں زکوۃ واجب نہیں

نواب صديق حسن خان غير مقلد ليكلي دي چي سپينو او سرو زرو كي زكوة واجب نه دى . (بدور اهله۱۰۰)

او د غير مقلدينو دويم پيشوا مولوي وحيد الزمان غير مقلد ليكلي دي چي سپين او سرو زيورات كي زكوة واجب دى د دليل په اعتبار وجوب قوي دى دوى د حديث دعويدار دي لكن په صريح حديث عمل نه كوي . مولوي وحيد الزمان چي : غير مقلدينو پيشوا او مقتدا دى د ليكلي دي چي د رنډۍ د زنا ګټه حرام ده او د دې دعوت د خوراک لپاره ناجائز دى او ددې سره معامله كول ناجائز ده (اسر اللغة پاره نمبر ۱۰ ص ٥١) تصريح كړې ده ددې بر خلاف مولوي عبد الله پوري غير مقلد ليكلي چي رنډۍ ګټه حلاله ده (بدر الاهله ص ۱۰۲)فتوا مولوي عبد الله غازي پوري مورخه ۲۲ ربيع الاول سنه ۱۳۲۹هـ صرف توبه كافي ده سره ددې چي

په مسلم شریف کي صحيح حديث دی صاف طور رسول الله ؐ فرمايلي دي مهر البغی خبیث يعني د زانيې کټه آمدني مال حرام دی د اهل حديثو څخه پوښتنه سوې ده چي مولوي عبد الله غازي پوري په کوم حديث عمل کړی دی د حديث څخه يې ښکاره انکار کړی دی او بيا خپل ځان ته اهل حديث وايي برعکس نام ښودنکی دی .

بیماروں پر جھاڑ پھونک

مولوي وحيد الزمان غير مقلد ليکلي دي چي په قرآن او حديث بيمارانو ته دم کول جائز دی، ددې برخلاف نورو ټولو غير مقلدينو جهاړ پهونک مطلقا ناجائز او حرام ليکلی دی سره د دې چي په کوم جهاړ پهونک کې کفريه يا شرکيه منتر ويل کيږي د هغه څخه منع راغلې ده او کومي کلمې چي کفر او شرک سره اميزش نلري ددې اجازت راغلی دی دا رنګه مسلم شريف کي رسول الله ﷺ ارشاد موجود دی لا بأس بالرقی ما لم يکن فيه شرک نسته باک په دم چو چي نه وي په کي الفاظ د شرک او مسلم شريف دويم حديث دی چي د رسول الله ﷺ په حضور کي الفاظو کلمات دم پېش سو رسول الله ﷺ وفرمايل: ما رأى باسا من استطاع منکم لا ينفع . . . فلينفعه .

بل حديث په ابو داؤد کي روايت دی چي حضرت زينب زوجه عبد الله بن مسعودؓ وايي چي رسول الله ﷺ په خپله و ماته الفاظ دم وويل: اذهب الباس رب الناس وأف انت الشافی لا شفاء الا شفائک شاف لا يغادر سقما .

په بهيقي شعب الايمان کي د حضرت عليؓ څخه روايت دی چي يوه شپه نبي کريمؐ لمونځ کاوه چي سجدې ته ولاړی لاسونه ولګول لړم وخوړی

چې لمانځه څخه فارغ شو پر لړم یې لعنت ووایه مالګه او اوبه یې را وغوښتې سره ګډه یې کړل پر ځای یې کښېښوول او معذوتین پر ووایه یعني دم یې پر وکړ .

یو روایت دی عبد الله ابن مسعود فرمایي چې رسول ﷺ ارشاد فرمایي چې تاسو خلک د . . . بخښ شیانو څخه شفاء حاصله کړئ یعني لازم کړئ شهد تیار کړئ او قرآن پر ووایاست دم یې کړئ . (ابن ماجه د طرفه ډېر احادیث د دم پر جواز موجود دی مګر ډېر هغه کسان چې د حدیث سره بغض لري ستر کي پټې کړي او لیکي چې دم ناجائز او شرک دی . سره د دې چې د احادیثو څخه ثابت ده چې قرآن او حدیث په الفاظو چې کوم دم کیږي یا تعویذ لیکل کیږي دا بلا شبه جائز دی، ها کوم خلګ چ دم یا تعویذ د قرآن او حدیث بر خلاف کفریه یا شرکیه کلمات باندي دم کوي یا تعویذ لیکي دا بلا شبه ناجائز او حرام دي .

گانا بجانا شادی میں جائز ہے

مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي دي چې د طبیعت د خوشالي لپاره ګانې سروزونه بجاوول مختلف فیه دی او د اختر او شادي او پر بله خوشالي پر موقع جائز بلکه مستحب دی . (اسرار اللغة پاره ششم (۷۴) ددې بر خلاف نواب حسن خان غیر مقلد فرمایلي دي ګانې بجاوول یعني مرامیز وغیره مطلقا حرام دي علامه ابن تیمیه او ابن قیم هم مطلقا حرام لیکلي دي . (بدر الاهله ص ۵۱۳)

حدیث شریف کې صراحةً راغلي دي الغناء یورث الفاق بعثت لامحق المعازف، او دا رنګه په قرآن کې راغلي دي (و من الناس من یشتري لهو

الحديث الخ) يعني ګانې سروزونه بجاوول او ويل ظاهراً حرام دي مګر اهل حديث چي په حديثو د عمل دعويدار دي دوی ګانې سروزون بجاوول جائز نه بلکه مستحب يې بولي دا او س پر قرآن او حديث عمل دی که خواهش نفساني .

نماز جنازہ میں سورۂ فاتحہ زور سے پڑھنا

نواب صديق حسن خان غير مقلد ليکلي دي چي په لمانځه د جنازې کي الحمد لله په زوره يعني بلند اواز سره ويل ضروري ده په سوکه اواز سره ويل مستحب نه ده (بدر الاهله ص ۹۲ او مولوي وحيد الزمان غير مقلد فرمايلي دي چي د نماز جنازه صحيح قول دا دی چي په بلد اواز سره سوره فاتحه يعني الحمد لله نه ويل بلکه سوکه ويل . (هدية المهدی ص ۲۲۱)

شراب سرکہ بن جانے پر پاک نہیں ہوتی

علامه ابن تيميه چي د غير مقلدينو د ټولی ځخه وو هغه هر حال کي شراب نجس بلل يعني که چيري شراب قلب ماهيت وکړي سرکه جوړ سي هغه بيا هم ناپاک دي پاکيږي نه . (فتاوی ابن تيميه ج ۱ ص ۷٦)

د ابن قيم هم دا مذهب دی او علامه شوکاني او نواب صديق حسن خان غير مقلد شراب چي سرکه جوړ سي طاهر او پاک دي . (بدر الاهله)

کفن میں عدد مسنون کپڑوں سے زیادہ دینا درست ہے

مولوي وحيد الزمان غير مقلد فرمايلي دي چي مړي ته کفن نارينه ته تر درو زيات کپړې او زنانو ته تر پنځو زياتي کپړې مکروه دي . (هدية المهدي ص ۲۱۱)

او علامه شوکاني او نواب صدیق حسن خان غیر مقلد فرمایلي دي چي زیادت په کفن کي هیڅ تکلف نه دی بلا شک او بلا تردد جائز دی .
(روضه الندیة ص ۱۰۶)

میت اٹھانے سے وضو واجب ہے

غیر مقلدینو ویلي دي چي په جنازه اخستونکو باندي اودس واجب یعني که هر چا جنازه واخیسته اودس یې مات دی او دس به کوي او د امام بخاري په نزد د مړي په پورته کولو اودس نه ماتیږي او نه اودس واجبیږي .په بخاري شریف کي هم صحیح روایت موجود دی .

میت کونہلانے سے غسل واجب ہو جاتا ہے

غیر مقلدین شوکاني نواب صدیق خان غیر مقد مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي دي چي غسل والا چي مړي ته غسل ورکوي پر دې غسل واجب دی چي غسل به کوي . (روضة ندیة ۲۷) او صاحب نصر الباري غیر مقلد خپل کتاب نصر الباري پاره نمبر ۵ ص ۵۳ کي لیکلي دي چي غسل والا باندي غسل واجب نه دی او امام بخاري هم لیکلي دي چي غسل والا باندي غسل واجب نه دی . (اسرار الغة پاره چهارم ص ۱۴۶)

ختم تراویح میں تین مرتبہ قل ہو اللہ پڑھنا

مولوي بشیر الدین قنوجي لیکلي دي چي د تراویح د ختم په ورځ درې واره سورة اخلاص ویل بدعت دی بلکه هغه په خپل قرآن اوریدونکي د دې څخه بند کړي دي او مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي دي چي دا بالکل جائز دی بدعت نه دی معلوم نه دی چي کوم

حدیث څخه یې جواز نقل کړی دی . رسول الله ﷺ هیڅ کله په تراویح کې درې واره قل هو الله احد نه دی ویلی او په صلوة اللیل یعني د شپې په لمانځه کې یې ویلی دی د خپل طرف څخه یې دا مسئل نقل کړې ده . د حدیث دعویدار دي ددې پر جواز یې کوم حدیث پېش کړی دی .

نماز میں ستر کا چھپانا ضروری نہیں

علامه شو کاني او نواب صدیق حسن خان غیر مقلد فرمایلي دي چې په لمانځه کې ستر عورت شرط نه دي یعني د لمانځه په حالت کې چې د چا عورت ښکاره وي لمونځ صحیح دی .

او ددې بر خلاف مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي دي چې پټېدل د عورت په لمانځه کې شرط دی ددې بغیر لمونځ نه صحیح کیږي (هدیه المهدی)

ددې دواړو خیالونه به څوک مني او څوک به یې پرېږدي هر یو د اهل حدیث دعویدار دی او هر یو د دې سره سره د اجتهاد دعویدار دی د دې وجهي اختلاف پیدا سو .

فجر کے لئے دو اذان ہونی چاہیے

نواب صدیق حسن خان غیر مقلد فرمایلي دي چې اذان په وقت کې دننه دی باید په وخت کې وسي تر وخت مخکې اذان جائز نه دی حضرت بلال چې اذان د شپې کوی چې خلک د خوب را جګ سي او د تهجد کولو والا را پورته سي ددې اذان د فجر د اذان سره هیڅ نه وه . (بدر الاهله ص ۴۷)

مؤذن کو اجرت پر رکھنا جائز ہے

نـواب صـديـق حسـن خـان غيـر مقلد فرمايلي دي چې موذن لره اجرت ورکول جائز نه دی . (بدر الاهله ص ۴٦)

ددې بـر خـلاف مـولوي وحيد الزمان غير مقلد فرمايلي دي چې په اذان کې اجرت ورکولو کې هيڅ حرج نستـه . (هدية المهدى ص ۸۷)

مولوي وحيد الزمان غير مقلد ليکلي دي چې د موذن لپاره نارينتوب شرط دی زناني اذان نه سي کولای . (هدية المهدى ص ٦٢)

د دې بـر خلاف نواب صديق حسن غير مقلد فرمايلي چې د موذن لپاره نـاريـنـتـوب شـرط نـه دی بلکه ښځه او نارينه لره يو حکم دی يعني ښځې هم اذان کولای سي . (بدر الاهله ص ۴٦)

اذان دیناواجب ہے

نـواب حسـن خـان غيـر مقلد فرمايلي دي چې د پنځو لمنځو لپاره اذان کول واجب دی ددې بر خلاف مولوي وحيد الزمان غير مقلد دا ليکلي دي چې اذان کـول سـنت دی واجب نه دی او د وجوب دليلونه يې رد کړي دي . (هدية المهدى ص ۴٦)

پوری رمضان کے روزے چھوٹ گئی تو کچھ بھی لازم نہیں

کـه چيري يو سړي ټوله روزه د عذر د وجهي نه ونيسي بله روزه راسي او د قـضـاء اولـي روزې نـه راوړي مولوي وحيد الزمان غير مقلد فرمايلي دي چې بـعـد کـي د هـغـې روزې قـضا او فديه دواړه لازمي دي نواب حسن خان غير مقلد فرمايلي دي چې تاخير د وجهي څخه هيڅ شی نه لازميږي

او دا شخص شيخ فاني وو يا مريض وو چي د صحت اميد يې نه وو نه قضا واجب ده او نه كفاره واجب . (هدية المهدى ج ٦ ص ٦۴)

مولوي ازي پوري غير مقلد يه نوې مسئله نقل كړې ده چي مريض او مسافر يو دا چي د روزې طاقت نلري دوهم دا چي د روزې طاقت لري سره د مشقت اول قسم والا باندي قضا لازم ده دوهم قسم والا باندي فديه دا مصيبت د عدم تقليد د وجهي څخه دى هر شخص مجتهد مطلق دى او په خپله رايه كي مستقل دى (بدرة الاهله ص ۱۲۸، الروضة الندية ۱۵۰)

میت چھوٹا ہوا روزہ ولی کے لئے رکھا جائز ہے

حافظ ابن قيم فرمايلي دي چي كه چيري د مړي په ذمه روزې وي كه د نذر روزې وي نو ولي قضا راوړاى سي او كه فرضي روزې وي نو ولي او غيره يې قضاء نه سي راوړاى او نه جائز دي، مړى دي پخپله قضا راوړى . (الروضة ندية ص ۱۴٦، هدية المهدى ص ٦٦)

د دې بر خلاف نواب صديق حسن خان فرمايلي دي چي څر كه د نذر روزه نيولاى سي هم دا رنگه د مړي له طرفه فرضي روزه نيولاى سي . (الروضة ندية ص ۱۵۰، هدية المهدى ص ٦٦)

د نام نهاد اهل حديث دي عبادت بدنيه يو دبل په ځاى كي نسي كولاى نه روزه او نه لمونځ ځكه حديث شريف كي راځي: لا يصلى احد عن احد و لا يصوم احد عن احد الخ .

خطبہ جمعہ کے شرائط میں نہیں ہے

د غير مقلدينو مقتدا علامه شوكاني فرمايلي دي چي خطبه د جمعي د

فرائضو او ضروریاتو او شرائطو څخه نه ده د خطبې څخه بغیر د جمعې لمونځ کېدلای سي نواب صدیق حسن خان هم د ده تقلید کړی دی . ((الروضة الندية ص ۷۹)

ددې بر خلاف مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي دي چي خطبه د جمعې د لمانځه لپاره شرط ده بغیر د خطبې د جمعې لمونځ نسي کېدلای هغه خطبې د ضروري .... لوی تفصیل لیکلی دی او په دلائلو یې ثابته کړې ده . (هدية المهدى ج ۵ ص ۱۵۱)

دا خلک د حدیث د عمل دعویدار مگر وگوره حدیث پرېږدي خپل اجتهاد کوي په اقوال کي تناقض او تضاد بیاني ډېره ده .

رکوع اور سجدہ میں تسبیحات واجب نہیں

مولوي وحید الزمان غیر مقلد لیکلي چي په رکوع او سجده کي تسبیحات واجب دي . (هدية المهدى) دا قول ته یې مختار او صحیح ویلي دي او دا په اصل کي د علامه ابن تیمیه تقلید دی ددې بر خلاف نواب حسن خان غیر مقلد لیکلي دي چي په رکوع او سجده کي تسبیحات سنت دي . واجب نه دي . (بدر الاهلة ص ۵۵)

دا دواړه د غیر مقلدینو پېشوا دي عامي غیر مقلد به په کوم پېشوا پسي تقلید کوي د اختلاف په خواهشي نفساني باندي چلیږي حدیث پرېږدي عقل او قیاس چلوي او کوم خلک چي د حدیث عظمت لري چي حدیث مخي ته ورته راسي تسلیم یې په حدیث، هیڅ قیاس نه کوي غیر مقلدین چي د حدیث صحت او ضعف پخپله قبضه او قدرت کي نیولی دی چي

غواړي حديث صحيح بولي او چي غواړي ضعيف يې بولي . . . .

غسل میں بدن کاملنا واجب ہے

مولوي وحيد الزمان ليکلي دي چي په غسل کي د بدن موښل مستحب دي (هدية المهدى ص ۲۳)

او ددې بر خلاف نواب صديق حسن خان ليکلي دي چي په غسل کي د بدن موښل واجب دي . (بدر الاهله ص ۳۱) شوكاني هم ددې قائل دى . (الروضة الندية ص ۳٦)

دخول مکہ کے لئے غسل مسنون نہیں

مولوي وحيد الزمان غير مقلد ليکلي دي چي و داخليدلو د مکې ته غسل سنت دى . (هدية المهدى ص ۲٦) ددې بر خلاف نواب حسن خان فرمايلي دي چي مکې ته د داخليدو مخکي غسل مه كوئ يعني غسل منع دى بلکه دى ليکي ظلمات بعضها فوق بعض دي يعني غسل كول تاريکي پر تاريکي ده . (بدر الاهلة ص ۲۳)

مسافر کی اقتداء مقیم کے پیچھے ناجائز ہے

مولوي عبد الجليل سامرودي غير مقلد ليکلي دي چي د مسافر اقتدا په مقيم پسي جائز ده . العذاب المهين ص ۷۱) ددې بر خلاف على حسن خان غير مقلد ليکي دي چي هيڅ كله مسافر په مقيم پسي اقتداء نسي كولاى دى خالص په دوه ركعت كي شريک دى . البنيان المرصوص ص ٦۳)

مشت زنی جائز ہے

مـولـوي نـور الـحسـن خـان غيـر مقلد ليـکلي دي چي جلق لگانا يعني مشـت زنـي مـتې وهـل جائز دی (عـرف الجاوی ۲۴) او مـولـوي عبد الجليل غيـر مـقـلـد ليـکـلـي دي چي مشت زني جائز نه ده ځکه صحا ح سته کي ددې ذکر نستـه . (العذاب المهين ص ٥٢٦)

ہر رکعت میں اعوذ باللہ پڑھنا

مـولـوي حيـد الـزمـان غيـر مـقـلـد ليـکلي دي چي په لمانځه کي په هر رکت کي تر قرائت مخکي اعوذ بالله ويل کيږي . (هدية المهدي ص ۱۷۷)

ددې بـر خـلاف نـواب حسـن خـان غيـر مـقـلـد فرمايلي دي چي صرف د لـمـانځـه پـه شـروع او ابتدا کي اعوذبالله ويل سنت ده . (الروضـة النديـة ص ۱۷) د ابـن قيـم او شـوکـانـي هـم دا مسـلک دی حـديـث عـمـل کـولـو والا تـنـاقـض او تـضـا د بيـانـي هيـڅ کله نه کوي دا د دوی اختلاف د نه تقليد د وجهـي ، نتيـجـه ده ، دا لـکـه بې مهـاره اوښ بې مهاره پـه دين کي قياس ارائی کوي ، و لو کان من عند غير الله لوجدوا فيه اختلافا کثيرا)

ہر رکعت میں بسم اللہ زور سے پڑھنا

مـولـوي وحيـد الـزمـان غيـر مـقـلـد دا ليـکلي دي چي د الحمد لله څخه مخکي سو که بسم الله ويل مستحب ده (هدية المهدی ص ۱۳۷)

د دې بـر خلاف نـواب صـديـق حسـن خان غير مقلد فرمايلي دي چي پـه جهـريـه لـمـانځـه کـي بسـم الله پـه زوره ويل دا حق مذهب دی . (الروضة الندية ص ٦٧)

دا دواړه د غيـر مـقـلـديـنـو پيشـوا و مـقـتـدا دي يو څه مسـئـله وايي بل څه مسـئـله وايي ساده غير مقلدين په شک کي لوېدلي دي چي د چا خبر ومنو او د چا خبر پرېږدو . څنګه دد نوم عمل بالحديث دی .

سلام کے ذریعے نماز سے نکلنا واجب نہیں

مـولـوي وحيـد الـزمـان غيـر مـقـلـد ليـکـلي دي چي سلام د لمـانځـه د فـرائـضـو څخه دی (۲ دية المهدی ج ۳ ص ۲۱۷) دده بر خلاف نواب صديق حسـن خـان ليـکـلي دي چي په سلام سره وتل د لمانځه څخه واجب نه دی (الـروضة الـنـدية ٦١) عـلامـه شوکـاني پـه خپلـه پـه نيـل الاوطار کي نـه اختيار کړی دی او په بهيه کي په سلام سره وتل د لمانځه څخه واجب بللی دی .

مـولـوي وحيـد الـزمـان پـه نواب باندي رد کړی دی ناظرين پـه غـور سره وفرمايي څنګه دد نوم عمل بالحديث دی څنګه دا او س پـه حديث عـمـل دی کـه قيـاس او رايـه ده . شـوکـانـي پـه خپله يو کتاب کي ليـکلي دي چي په سلام سـره وتـل واجب دی او پـه بـل کـي يې ليـکـلي دي چي واجب نـه دی داخلک د خپله طرفه څه اجتهاد کوي .او حديث پرېږدي .

مروجہ میلاد جائز ہے

مـولـوي وحيـد الـزمـان غير مقلد ليکلي دي چي نن سبا مولود مروجه بـانـدي انـکـار جائز نه دی دا چي څنګه که دډلي په صورت کی کيږي جائز دی . (هدية المهدي ص ۱۱۸)

مـولـوي ثـنـاء الله غير مقلد ليکلي دي چي مولود مروجه بدعت مروجه

مولو د جوړولو والا عموماً فاسق او فاجر دی څوک . . . وهي د لمانځه پابندي نه کوي بيا په مولود کي . . . روايات ګډوډ دي حکايات بيانوي بيا وايي چي رسول ﷺ خپل مجلس ته راځي او قيام کوي او سلام وايي . بيا ولاړی سلام وايي، مولوي وحيد الزمان غير مقلد دې لره جائز او درست ويلي دي په دې انکار جائز نه دی دا خالص نفس پرست د عقل والا او عمل بالحديث والا داسي نه کوي او نه وايي .



د غير مقلدينو يو څو فاسد عقائد:

﴿۱﴾...... غير مقلدين وايي رنډۍ چي څومره روپۍ په زنا جمع کړي بيا توبه وکاږي نو دغه و دې ته او نورو مسلمانانو ته جائز دي، وګورئ ددې دپاره فتاوی مولوي عبد الله غازي پوري او عبد الله د ډهلي د غير مقلدينو امام دی .

﴿۲﴾...... غير مقلدين وايي چي د کافر ذبح روا ده او خوراک يې جائز دی وګورئ ددې دپاره (دليل الطالب ص ۴۱۳ للنواب صديق حسن خان او عرف الجاری .

﴿۳﴾...... يو مسلمان چي هر څومره ښځي په نکاح کړي حد نه باندي جاري کيږي . (ظفر اللاضی ص ۱۴۱ و ص ۱۴۲ نواب صديق حن خان و عرف الجاری ص ۱۱۵) .

﴿۴﴾...... د غير مقلدينو په نزد ټول صحرايي حيوانات يا حشرات جائز دي چي وينه پکښې نه وي که څه هم د غائط خزدکه وي .

﴿۵﴾...... د غير مقلدينو په نزد چي حيوان مردار شي ناپاک نه دی دا دی زه

خپله و دليل الطالب ته ګورم او نوشته ځني کوم دغه يې عبارت دی: تحريم بيع مستلزم نجس بودن آن نيست نه شرعاً نه عقلاً (دليل الطالب ص ۲۲۴) .

﴿٦﴾...... غير مقلدين وايي چي پس خورد ناپاکه نه ده چي د هرشي وي . (بدور الاهله ص ۱۵ و ص۱٦)

﴿٧﴾...... د غير مقلدينو پر مذهب د حيض او نفاس د وينو څخه ما سوئ نوري ټوليويني پاکي دي . (دليل الطالب ص ۲۳۰) و اين در حکم طهارت خون در غير دم حيض و نفاس است (عرف الجادی ص ۱۰ و بدور الاهله ص ۱۸)

﴿٨﴾...... د غير مقلدينو په نزد په مال د تجارت کي زکوة نشته دليل الطالب و مسک الختام شرح بلوغ المرام و شرح رساله شوکاني .

﴿٩﴾...... غير مقلدين وايي ماسوئ د شپږو شيانو څخه په نورو کي سود جائز دی . دليل الطالب و عرف الجادی البنيان المرصوص و بدور الاهله .

﴿١٠﴾...... د جنب د پاره قرآن ته لاس وروړل او پورته کول او ورقي اړول جائز دي (دليل الطالب ص ۲۵۲ و عرف الجادی البنيان المرصوص)

﴿١١﴾...... د غير مقلدينو په نزد د زرو په زېور کي زکوة نشته . (بدور الاهله ص ۱۰۱)

﴿١٢﴾...... غير مقلدين وايي شراب پاک دي . (بدور الاهله ص ۱۵ و دليل الطالب ص ۴۰۴)

﴿١٣﴾......اهل حديث وايي چي په سرو زرو او سپينو زرو کي زکوة نشته . (دليل الطالب ص ۵۷)

﴿١٤﴾...... د غير مقلدينو په نزد مني پاک دي . (بدور الاهله ص ۱۵)

﴿١٥﴾...... د غير مقلدينو په نزد د زوال مخکي د جمعې لمونځ جائز

دی . (بدور الاهله ص ۷۱)

﴿۱٦﴾..... غیر مقلدین وایي چي د جمعې د لمانځه دپاره جماعت ضروري نه دی یوازي هم د جمعې لمونځ کولی سئ .

﴿۱۷﴾..... غیر مقلدین وایي د جمعې لمونځ لکه نور لمنځونه بې خطبې یې کوئ . (بدور الاهله ص ۷۳)

﴿۱۸﴾..... غیر مقلدین وایي په دار الحرب کي د جمعې لمونځ جائز دی . (بدور الاهله ص ۷۴)

﴿۱۹﴾..... غیر مقلدین وایي چي د سجده تلاوت دپاره صفت د لمانځه شرط نه دی یعني بې اوداسه او پر لاري روان یې کولی سئ . (بدور الاهله ص ٦۸)

﴿۲۰﴾..... غیر مقلدین وایي که مقتدي په لمانځه کي په امام پسي ولاړ وو خطاء سو سجده سهوه دي وکړي .

﴿۲۱﴾..... غیر مقلدین وایي چي هلکانو او ښځو ته سره زر استعمالول جائز دي . (بدور الاهله ص ۳۴)

﴿۲۲﴾..... غیر مقلدین وایي چي کوم حیوان په کولیـ وویشتل سي او مړ سي نو دهغه حیوان خوراک جائز دی . (بدور الاهله ص ۳۳.۵)

﴿۲۳﴾..... غیر مقلدین وایي که سړی په قصد سره لمونځ قضاء کړي بیا یې راوګرځوي نو فائده نه لري همېشه ګنهګار دی . (دلیل الطالب ص ۲۵۰)

﴿۲٤﴾..... غیر مقلدین وایي د ټولو حیواناتو بولي پاکي دي . (بدور الاهله ص ۱۴، ۱۵)

﴿۲۵﴾..... غیر مقلدین د دریاب ټول حیوانات حلال بولي . (بدور الاهله ص ۳۲۳ و عرف الجادی)

﴿۲٦﴾...... غير مقلدين وايي د سرو زرو لوښي استعمالول جائز دي .
﴿۲۷﴾...... غيـر مـقـلـدين وايي كه يو سړي د يوې ښځې سره زنا وكړه او بيا د دغې ښځې لـور پيـدا سوه نو د هغې نكا ح ورته جائز ده . (عرف الجادی ص ۱۱۳)
﴿۲۸﴾...... غيـر مـقـلـدين وايي كه يو خوك پرز نا بېرېدی نو موټ وهل او يا په بله طريقه مني خارجول واجب دي . (عرف الجادي ص ۱۱۳)
﴿۲۹﴾...... غيـر مقلدين وايي چې په يوه پسه د سلو كسانو قرباني جائز ده . (بدور الاهله ص ۳۹۱)
﴿۳۰﴾...... غيـر مـقـلـديـن وايي د رسول الله ﷺ زيارت مدني ته تګ ناجائز دی . (عرف الجادی ص ۲۲۵)
﴿۳۱﴾...... غيـر مـقـلـدين وايي چې د ګدړ يا پای خانې او به پاكې دي چې رنګ يې بدل سوی نه وي . (عرف الجادي ص۹)
﴿۳۲﴾...... غيـر مـقـلـديـن وايي بې اودسه د قرآن ويل او اخيستل جائز دي د عباس رضـى الله تـعـالـى عـنـه او حـماد او ابراهيم نخعي مذهب ته اعتبار نسته هغه صرف عوامو ته دوكه وركول دي . (عرف الجادی)
﴿۳۳﴾...... غيـر مـقـلـديـن وايي كه سړی بې اوداسه لمونځ وكړي نو لمونځ يې صحيّح دی او ګنهګار دی . (بدور الاهله ص ۳۸)
﴿۳٤﴾...... غيـر مـقـلـدين وايي چې د بدن څخه څومره وينه ولاړه سي اودس يې نه ماتيږي . (دستور المتقي ص ۲۹ سامرودي)
﴿۳۵﴾...... غيـر مـقـلـدين وايي كه مسافر په مقيم پسې لمونځ كاوه نو ودي دريږي چې امام دوه ركعتـه وكړه بيا دي اقتداء پسې وكړي .

﴿۳٦﴾...... غیر مقلدین وایي سر خرېیل د خوارجو علامت دی او د سر خرېیل ناروا دي. (البیان المرصوص ص ۱٦۹)

﴿۳۷﴾...... غیر مقلدین وایي چي حفظ الله ذکر ویل بدعت دی. (البنیان المرصوص ص ۱۷۳)

﴿۳۸﴾...... غیر مقلدین وایي صحابه فاسقان وو لکه معاویه باغي. (البنیان المرصوص ص ۱۸۴)

﴿۳۹﴾...... غیر مقلدین وایي چي ښځي ته بې له پړوني یا چادره لمونځ جائز دی خواهي محارم یې ناست وي او که نه وي ناست او ښځه لخ بدن لمونځ کولی سي. (بدور الاهله ص ۳۹)

﴿٤۰﴾...... غیر مقلدین وایي چي د لمانځه دپاره د کپړو پاکوالی ضروري نه دی او په مردارو کالو کي هم لمونځ کولی سي. (دلیل الطالب ص ۲٦۴، و عرف الجادي ص ۳۲، و بدور الاهله ص ۳۹)

﴿٤۱﴾...... غیر مقلدین وایي که جامه تر بجلکو کښته وه او دس یې مات دی. (دستور المتقی ص ۲۹)

﴿٤۲﴾...... غیر مقلدین وایي که یو څوک په روژه کي قصداً خوراک وکړي نو کفاره باندي نشته. (دستور المتقی ص ۱۰۲)

﴿٤۳﴾...... غیر مقلدین وایي چي د ستر آیت خاص تر بي بي ګانو د رسول الله ﷺ پوري دی نور امت نه دي ځیني مراد یعني و نورو ښځو ته د بې پردګي کول جائز دي (سامرودي)

﴿٤٤﴾...... غیر مقلدین وایي چي د جرګي (یا ششکي) خوراک جائز دی. (بدور الاهله ص ۳۵۱)

﴿۴۵﴾...... غیر مقلدین وایي د کافرانو په شهر کي سود جائز دی. (بدور الاهله ص ۳۵۱ و بنیان المرصوص ص ۱۱۲)

﴿۴۶﴾...... غیر مقلدین وایي که د پسه د حلالو په وخت کي بسم الله و نه وایي او د خوراک په وخت کي یې ووایي نو جائز دی. (عرف الجادی ص۲۴۱)

﴿۴۷﴾...... غیر مقلدین وایي که یو سړی کافر وي او نذر یې کړی وي او بیا اسلام ته را واوړي نو نذر پوره کول واجب دي. (عرف الجادی ص ۲۵۷)

﴿۴۸﴾...... غیر مقلدین وایي چي فرضي لمانځه والا په نفلي لمانځه والا پسي اقتداء کولی سي. (عرف الجادی ص ۳۷)

﴿۴۹﴾...... غیر مقلدین وایي نابالغ هلک و بالغ ته امامت ور کولی شي. (عرف الجادی ص ۳۸)

﴿۵۰﴾...... غیر مقلدین وایي دا ختر لمونځ تنها یو سړی هم کولی شي امامت ضروري نه دی. (بدور الاهله ص ۷۸).

محترمو! په یوه کتاب کي چي په نامه د مجموع رسائل علماء هند دی ج ۳ آخري بحث کي دا عقائد وکتل نوما دا توهم وکړی چي دا به په غیر مقلدینو باندي درواغ ویل کیږي څو دلیل الطالب کتاب د صدیق حسن خان زما سره وو، نو فوراً ولاړ شوم او حوالې مي وکتلې نو کومي خبري چي په مجموعه رسائل علماء هند کي وې هغه صحیح وې او هغه نور کتابونه مي پر دې قیاس کړي چي دا هم صحیح دي او الله (جل جلاله) دي زموږ د عقائدو اصلاح وکړي.



الاجوبة عن أسئلة السلفية على كتب الحنفية

تأليف :
شيخ القرآن والحديث
مفتي عبد الرازق
كدنوي دامت فيضه الجاري

محترمو لوستونکو! دغه کتاب اجوبة عن أسئله السلفية د غير مقلدينو په مدرسو کرزولی هري مدرسې ته يې دوه يا درې واره وروړی دی ده مولوي ولی الله اخندزاده صاحب د کچلاک هغه وويل چي دا مسئلې ما و اخندزاده صاحب هيبت الله ته ور وړي هغه څه نه وويل بيا يې د مولوي عبد الحکيم مدرسې ته وروړی وی هغه هم جواب نکړی ور، بيا د مولوي عبد الحکيم په مدرسه کي د شيخانو مجلس وو هلته هم ياد وسو خو د الله څخه زه ډېر راضي يم چي زموږ دارالافتاء الشرعية نورزی چوک خروټ آباد کي ددې حل وشو چاپ په رساله کي بيا چاپ شو په فتاوی د شهيد شيخ حسن جان مدني په فتاوی کي او دا دی په دې فتاوی کي زياده هم وشو .

......☆......

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذی شرع لنا دينا قويما، و هدانا إليه صراطا مستقيماً، و جعلنا من اهله تعلما و تعليما، حمد من عمته رحمته و افضاله، و غمرته أعطيته و نواله، و أشهد أن لا اله إلا الله وحده لا شريك له، شهادة أستزيد بها وفور نعمه، و استرفد بها وفور كرمه؛ و أشهد أن محمدا عبده و رسوله، الذی جمع بمبعثه شمل الحق بعد تفرقه، و قمع برسالته حزب الباطل بعد تطوقه، صلی الله عليه و علی آله و أصحابه، و أتباعهم الذی سلكوا سنن سننه و صوابه......
و بعد ليکونکی ددې کتاب وايي چي هر کله زموږ څخه مطالبه وکړه بعضو ملکرو د جوابات د هغه سوالو چي غير مقلدينو د احناف پر کتابو او علماء کړي وو نو موږ شروع وکړه په جواباتو ددوی په توفيق د يوه الله

جل شانه و عم نواله .

متأولين ته مشركان ويل :

سـوال : پـه نـن عـصـر كـي بـعـض الناس و مـتـأولـين تـه مشـركـان وايي نو دا دوى وينا څه حكم لري؟

جـواب : كـوم خـوک چي متـأولين ته مشـركان وايي دا خبره د دوى بيرتـه پر دوى بـانـدي واپس كيږي دا بعينـه مضمو ن د حديث شريف دى او مـتـأولـين پـه خپـل تـأويـل كـي مـعـذور دي لكـه څنګه چي امام بخاريؒ د دې دپاره يو مسـتـقـل بـاب وضـع كـړى دى .هـغـه دا دى بـاب مـا جـاء فـى المتأولين (صحيح البخارى ٢/٥٦٢)

"قال المحشي قوله في المتأولين ، لا خلاف بين العلماء ان كل متأول معذور بتأويله غير ملوم فيه إذا كان تأويله ذلك سائغا في لسان العرب اوكان له وجه في العلم إلا يرى ان النبي ﷺ لم يعنف عمر بن خطاب رضى الله تعالى عنه في تلبيه بردائه على ما يجئ الآن في حديثه و عذره في ذلك" والله تعالى اعلم بالصواب۔

﴿١﴾......**پوښتنه** : په فتاوى عالمكيري كي راغلي دي :

" إذا انكر الرجل آية من القرآن او ستخر بآية من القرآن و في خزانة المفتين او عاب كفر كذا في التتارخانية إذا انكر ارجل كون المعوذتين من القرآن لا يكفر و قال بعض المتأخرين يكفر لانعقاد الاجماع بعد الصدر الاول على انهما من القرآن والصحيح الاول لان الاجماع المتأخر لا يرفع الاختلاف المتقدم "(فتاوى عالمگيري كتاب السير الباب التاسع في احكام المرتدين ، مطلب موجبات الكفر انواع ، و منها ما يتعلق بالقرآن ٢/٢٦٦)

ترجمه: چي کله سړی د قرآن د يوه آيت څخه انکار وکړي يا په يوه آيت مسخره وکي او په خزانة المفتين کي وايي يا عيب پر ولګوي کافر کيږي .

داسي په تتارخانيه کي راغلي چي کله سړی د قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دوه سورتونه د قرآنيه انکار وکړي نه کافر کيږي او ځيني وروستنو ويلي کافر کيږي، ځکه د اولي پېړۍ وروسته پر دې اتفاق راغلی چي دا دوه سورتونه د قرآن دي او صحيح اول قول دی چي نه کافر کيږي ځکه وروستني اتفاق مخکني اختلاف نه ختموي .

داسي په ظهيريه فتاوی کي راغلي، څه وجه ده چي د يوه آيته انکار کفر دی تر يوه آيت ډېر دوه سورتو انکار کفر نه دی؟

۞. الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب :

منکر د قرآن کافر دی که څه هم يو آيت وي اما منکر د معوذتين هغهته بعضي فقهاوو کافر نه دي ويلي ځکه چي د صحابه وو په قرآنيت کي د معوذتين اختلاف وو لکه حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه پخپل مصحف کي معوذتين نه وو ليکلي نو راويانو دا وهم وکړ چي حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه يې د قرآن جزء نه بولي نو بعضي فقهاوو د دې وهم په اساس احتياطاً و منکر ته د معوذتين کافر نه دي ويلي . لکه په عالمګيري کي چي وايي:

"اذا انکر الرجل کون المعوذتين من القرآن لا يکفر و قال بعض المتأخرين يکفر لانعقاد الاجماع بعد الصدر الاول على انهما من القرآن و

الصحیح الاول لان الاجماع المتاخر لا یرفع الاختلاف المتقدم۔ (عالمگیری ۲/۲۶۶ مجمع الانهر ۲/۵۰۷)

حدثنا عبد اللّٰه حدثنی أبی ثنا سفیان بن عیینة عن عبده و عاصم عن زر قال قلت لابی ان اخاك یحکمها من المصحف فلم ینکر قیل لسفیان ابن مسعود قال نعم و لسا فی مصحف ابن مسعود کان یری رسول اللّٰه ﷺ یعوذ بهما الحسن والحسین و لم یسمعه یقرؤهما فی شیئ من صلاته فظن انهما عوذتان و أمر علی ظنه و تحقق الباقون کونهما من القرآن فاعودهما ایاه۔ (مسند أحمد ج ۵ ص ۱۳۰ ، عدد ۲۱۲۲۷)۔

قال المحقق شعیب الارنوؤط اسناده صحیح علی شرط الشیخین۔ قال الإمام النوویؒ و یحتمل ما روی من اسقاط المعوذتین من مصحف ابن مسعود انه اعتقد انه لا یلزمه کتب کل القرآن و کتب ما توهما و ترکهما شهرتهما عنده و عند الناس و اللّٰه اعلم ، (شرح النووی عل صحیح مسلم باب ما یتعلق بالقراء ت ج۶ ص ۱۰۹ حدیث عدد ۸۲۴)"

﴿۲﴾...... **پوښتنه** : په فتــاوی شــامي کي راغلي:" و کذا اختاره صاحب الهدایة فی التجنیس فقال لو عرف فکتب الفاتحة بالدم علی جبهته و أنفه جاز للاستشفاء و بالبول أیضا ان علم فیه شفاء لا بأس به لکن لم ینقل و هذا لأن الحرمة ساقطة عند الاستشفاء کحل الخمر والمیتة للعطشان والجائع اهـ ، من البحر و أفاد سیدی عبد الغنی أنه لا یظهر الاختلاف فی کلامهم لاتفقهم علی الجواز للضرورة "

دابن عابدین شامي حنفي رد المحتار کتاب الطهارة مطب فی التدواي بالمحرم ج۱ ص ۱۴۷ دغه رنګه عالمګیري کتاب الکراهیة الباب الثامن

عشـر فـی التـداوي و الـمعـالـجات ج ٥ ص ٤٣٥ فتـاوی قـاضيخان كتاب الحظر و الاباحة ج ۴ ص ٣٦٥ .

تـرجـمـه: او دغـه رنـګـه خـوښـه کـړې ده صاحب هدايه په تجنيس نومي کتـاب کـي ، پـس ويلـي دي کـه د سـړي د پـوزې وينې بهېدلې نو د سورة فـاتـحـه : الحمد لله شريفه پر خپل تندي او پزه په وينه وليکل روا ده د شفا غـوښتـلـو لپـاره او پـه بـولـو سره همدغه رنګه روا ده که ده ته شفا پکښـي معـلـومـه سوه پروا نلري خو نقل کړي يې نه دي شوي ، دا جواز پـه دې وجه دی چي د شـفـا غـوښتي په وخت کي حرمت ساقط دی لکه د شرابو او مړه حيـوان حـلالتـوب د تـږي او وږي لپـاره ، د بـحـر کتـاب دا خبـره پـای تـه ورسېدلـه ، زما آقا عبد الغني دا فايده رايستلې چي د دغو مشرانو په خبرو کـي اختـلاف نـه ليـدل کيـږي ځـکـه دوی د ضـرورت په خاطر پر روا والي اتـفـاق لـري د بـلـي خـوا شيـخ عبـد العـلـي ديوبندي صاحب مفتي اعـظم د افـغـانستـا ن فـرمـايـي : بـعـض اعـمـال ستـه چي سړی په کافر کيـږي : لکه سـجـده کـول و بـت تـه پـخپـل اختيـار او د قرآن بې عزتي کول يا د حضرت رسـول الله ﷺ پـه شـان کـي بـې ادبـي کـول کتـاب ورتـه کافر ويلي دي .

بـلـوغ الـمـرام ص ١٦ دغسـي حـکـم پـه نورو کتـابو کي هم ستـه لـکـه شرح عـقـائد عقائد نسفيـه ص ٨٣ شرح فقه الاکبر د ملا علي القاري ص ٢٧٨ ، دا خـو د فـقـه پـه کتـاب الطهـارت کـي مشـهـوره ده چي د تلاوت لپـاره بې اودسه لاس قرآن تـه ور وړل ناروا دي .

❁۞. الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب :

دغه قول چي معترض په اعتراض کي را نقل کړی ضعیف دی بلکي مفتي به قول دا دی چي په هیڅ وخت د فاتحې او نورو آیتو په بولو او یا په وینه سره لیکل جواز نلري . بلکي دغه فعل کول حرام دي لکه حکیم الامت الشیخ اشرف علي التهانويؒ او نورو علماؤ چي يې د نه جواز خبره کړې ده:

قطعا وجه المناسبة بين البابين من حيث إن المذكور فى الباب الاول أحبية دوام الدين إلى الله تعالىٰ و المذكور فى الباب زيادة الايمان و نقصانه فلا شك أن يزداد الايمان بدوام العبد على أعمال الدين و ينقص بتقصيره فى الدوام سيما هذا على مذهب البخارى و جماعة من المحدثين و أما على قول من لا يقول بزيادة الإيمان و نقصانه فإنه أيضا يوجد الزيادة بالدوام و النقص بالتقصير فيه و لكنهما يرجعان إلى صفة الايمان لا إلى ذاته كما عرف فى موضعه و قول الله تعالىٰ و زدناهم عدى و يزداد الذى آمنو ايمانا و قال اليوم أكملت لكم دينم فإذا ترك شيئا من الكمال فهو ناقص و قول مجرور عطف على قوله زيادة الايمان و قوله الثانى أيضا عطف عليه والتقدير باب فى بيان زيادة الايمان و بيان نقصانه و بيان قول الله تعالىٰ و زدنا هم هدى (الكهف: ۱۳) و بيان قوله تعالى و يزداد الذين آمنو ايمانا (المدثر: ۳۱) ثم انه قال اليوم أكملت لكم دينكم (المائدة:۳) بلفظ الماضى و لم يقل و قوله اليوم أكملت لكم دينكم على أسلوب أخويه لأن الغرض منه ما هو لازمه و هو بيان النقصان والاستدلال به على أن الايمان كما تدخله الزيادة فكذلك يدخله النقصان لأن الشيئ إذا قبل

أحد الضدين لابد و أن يقبل الضد الآخر و بين ذلك بقوله فإذا ترك شيئا من الكمال فهو ناقص بخلاف ما تقدم من الايتين فإن المراد منهما إثبات الزيادة تصريحا لا استلزاما لأن الزيادة مصرحة فهيما بخلاف اللاية الثالثة فان الصريح فيها الكمال الذى يقابله النقصان و هو يفهم منه التزاما لا ريحا و لما كان الباب مترجما بزيادة الايمان و نقصانه احتج على الزيادة بصريح الآيتين و على النقصان بالآية الثالثة بطريق الاستلزام وقد ذكر الآيتين المتقدمتين فى باب

أمور الايمان عند قوله كتاب الايمان و قد قلنا أنه لو ذكر ما يتعلق بأمور الزيادة و النقصان في باب واحد إما هناك و إما ههنا كان أنسب و لكنه عقد باب أمور الإيمان هذا الباب ههنا لأجل المناسبة التي ذكرناها آنفا فالآية الأولى في سورة الكهف و الثانية في سورة المدثر و الثالثة في سورة المائدة و قد مر الكلام في الآيتين الأوليين هناك فإن قلت دلالة الآية الثانية ظاهرة على زيادة الايمان فكيف تدل الأولى و ليس فيها إلا زيادة الهدى و هي الدلالة الموصولة إلى البغية و يقال هي الدلالة مطلقا

قلت زيادة الهدى مستلزمة للإيمان او المراد من الهدى هو الايمان و قال ابن بطال هذه الآية يعني قوله تعالى : اليوم اكملت لكم دينكم (المائدة:٣) حجة في زيادة الإيمان و نقصانه لأنها نزلت يوم كملت الفرائض و السنن و استقر الدين و أراد الله عزوجل قبض نبيه فدلت هذه الآية أن كمال الدين إنما يحصل بتمام الشريعة فتصور كماله يقتضي تصور نقصانه و ليس المراد التوحيد و لوجوده قبل نزول الآية فالمراد الأعمال فمن حافظ عليها فإيمانه أكمل من إيمان من قصر قلت هذه الآية لا تدل اصلا على زيادة الدين و لا على نقصانه لأن المراد أكملت لكم شرائع دينكم و تعليل ابن بطال على ما ادعاه دليل لما قلنا و حجة عليه لأنه قال لأنها نزلت يوم كملت الفرائض و السنن و استقر الدين و لم يقل أحد إن الدين كان ناقصا إلى وقت نزول هذه الآية حتى أكمله في هذا اليوم و إنما المراد إكمال شرائع الدين في هذا اليوم لأن الشرائع نزلت شيئا فشيئا طول مدة النبوة فلما كملت الشرائع قبض الله نبيه عليه السلام و هو أيضا صرح به بقوله

و ليس المراد التوحيد لوجوده قبل نزول الآية فإن ادعى أن الأعمال من

الإيمان فليس يتصور لأنه يلزم أن يكون كمال الايمان فى هذا اليوم و قبله كان ناقصا لان الشرائع التى هى الاعمال ما كملت إلا فى هذا اليوم و قال الزمخشرى أكملت لكم دينكم(المائدة :۳) كيفيتكم أمر عدوكم و جعلت اليد العليا لكم كما تقول الملوك اليوم كمل لنا الملك و كمل لنا ما نريد إذا كفوا من ينازعهم الملك و وصلو إلى أغراضهم و مباغيهم او اكملت لكم ما تحتاجون إليه فى تكليفكم من تعليم الحلال و الحرام و التوقيف على الشرائع و قوانين القياس و أصول الاجتهاد و الاجوبة عن دلائل الخالفين كلهم مذكور فى عمدة القارى و ان شئت التفصيل فارجع إليه "، كومه فتوىٰ د كفر چي ده هغه متوجه و معتزله او خوارج ته ده هغه ترک د عمل خروج د ايمانه بولي او دا خلاف د نصوص صريحه وو ده نو ورته كفر ويل جائز دي نه محدثين كرام هغه ترک عمل كفر نه بولي و گوره :(عبد الباري تقرير البخارى لشيخ مفتى عبد الرزاق الكدنوي)

خشت اول چون نهد معمار کج

تا ثریا میرود دیوار کج

...... ☆ ......

﴿۱۷﴾...... **پوښتنه** : كتاب وايي : فلعنه ربنا اعداد رمل على من رد قول أبى حنيفة (الدر المختار ج۱ ص۶۳)

ترجمه: نو زموږ د رب لعنت دي وي د ريګو په شمېر پر هغه چا چي د ابي حنيفةؒ قول ردوي د بلي خوا په كتابو كي راځي چي د امت اختلاف رحمت دی(مقدمة رد المحتار ج ۱ ص ۱۶۹) نو كه د امت اختلاف رحمت

وي نو د هغه د لاس ته راوړلو لپاره به خامخا د امام ابي حنيفهؒ سره اختلاف کيږي له بلي خوا د امام أبو حنيفهؒ سره د خلک اختلافونه ډېر دي چي پر دوه ډوله تقسيمېږي: ۱. د نورو مذهبونو اختلافونه د فقه په کتابو کي خلافا للشافعيؒ ،خلافا لمالک بيخي ډېر ليدل کيږي ، د تبليغي جماعت بنسټ ايښودونکي شيخ زکريا صاحب فرمايي په څلور رکعته لمونځ کي له نيت تړلو څخه بيا تر سلام کرزولو تقريباً دوه سوه (۲۰۰) مسئلي د څلورو امامانو په نزد داسي مختلف فيه دي چي زما تر کمزوري نظر نه هم تېري سوي) (فضائل اعمال فضائل تبليغ شپږم فصل ص ۹۹۴ نو آيا دا د لعنت ښرا يوازي هغه خلکو ته ده چي ځان د امام صاحبؒ مذهبيان بولي، او که هر چا ته شامليږي.

۞. الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب:

ښاغلي معترض چي دلته کوم عبارت را نقل کړی دی هغه د قصيدې څخه د عبد الله ابن مبارکؒ دی ، چي په مدحه کي يې د امام اعظمؒ ويلې ده او بيا چي معترض ته کومه شبهه پيدا سوې ده د دې څخه دا معلوميږي چي معترض د کتاب بحث تر آخيره نه دی کتلی، ځکه چي د همدې کتاب په شرح رد المحتار کي يې د ده شک چي ليکلی يې دی: (دغه ښرا او لعنت به چاته متوجه وي؟ ځکه د امام أبو حنيفه قول خو د ده شاګردان هم ردوي، نور آئمه يې هم ردوي، نو ګويا دغه ښرا و يارانو او نورو امامانو ته متوجه ده .. ازاله کړې ده خو دا چي دی نه پوهيږي ، هغه د ده خپل تقصير دی تاسو وګورئ چي رد المحتار څه

وايي:

"(فلعنة ربنا أعداد رمل على من رد قول أبي حنيفة) أي على من رد ما قاله من الأحكام الشرعية محتقرا لها، فإن ذلك موجب للطرد والإبعاد، لا بمجرد الطعن في الاستدلال؛ لأن الأئمة لم تزل يرد بعضهم قول بعض "(رد المحتار ج ۱ ص ١٥٦).

ترجمه: پس لعنت د رب زموږ دي وي په اندازه د ریګونو پر هغه چا چي رد کړي قول د ابي حنیفه یعني لعنت دي پر هغه چا وي چي رد کړي هغه قو د امام صاحبؒ کوم چي ده په احکام شرعیه وو کي کړی دی، په خاطر د اهانت او سپکاوي ځکه دغه کار موجب د ترټلو او لیري کېدلو دی، نه په تنها طعن سره په استدلال کي، ځکه آئمهؒ همېشه بعضي قول د بعضو ردوي. خلاصه د خبري دا ده چي که یو ښتني مجتهد او ربښتنی علمي څېړونکی قول د امام أبو حنیفهؒ ردوي، دا سړی تر دې لعن لاندي داخل نه دی، خو که یې په خاطر د

سپکاوي او یا تعصب ردوي (لکه اوسني سلفیان او وهابیان) نو بیا هغه سړی تر دغه لعن لاندي داخل دی. او دا معلومه خبره ده چي د فقه ائمه وو تر مابین چي کوم اختلاف شته هغه تعصبي او تعسفي اختلاف نه دی بلکه اجتهادي اختلاف دی چي هغه په هیڅ صورت مذموم او بد نه دی، او د یو بل طعن لاندي نه دی. دا چي معترض د امام صاحب د شاګردانو، او یا د أهل مذهب د علماؤ اختلاف د حضرت امام صاحب سره را نقل کړي، بیا یې په خپل ګمان څو وهمي پوښتني کړي، چي مقصد یې دغه دی چي تاسو او ستاسو نورو امامانو نو ولي د امام صاحب د قول څخه

مخالفت کړی ؟ او په دې حقله کتاب دا وايي :

"الحكمة في مخالفة تلاميذته له أنه رأى صبيا يلعب في الطين فحذره من السقوط ، فاجابه بأن : احذر أنت السقوط ، فإن في سقوط العالم سقوط العالم ، فحينئذ قال لاصحابه : إن توجه لكم دليل فقوا به ، فكان كل يأخذ برواية عنه و يرجحها ، و هذا من غاية احتياطه و ورعه"(درالمختار ج ۱ ص ۷۲ .

ترجمه: حکمت په مخالفت کي د شاګردانو د امام صاحب سره دا دی چي امام صاحب يو ماشوم وليدی چي په ختو (ګل وو) کي يې سات تېره وی ، نو امام صاحب دی منع کي د لوېدلو (غوځارېدلو) څخه، نو ماشوم ورته ځواب ورکی : چي په خپل ځان د لوېدلو څخه وژغوره ځکه سقوط د عالم سقوط د عالم دی، نو په دې وخت امام صاحب و خپلو ملګرو ته وويل : که چيري ستاسو مخ ته کوم دليل راغی نو تاسو په هغه باندي قول وکي ، نو داسي سو، ه چي هر يوه د ده د شاګردانو څخه اخذ کوي په يو روايت سره د امام صاحب څخه او هغه ته يې ترجيح ورکول، او دا کار د امام صاحب د ډېر احتياط او تقوا څخه وو، او بيا وګورئ عبارت د رد المحتار چي څه يې ليکلي دي:

"قوله :فقولوا به) وكان كذلك ، فحصل المخالفة من الصاحبين في نحو ثلث المذهب ، ولكن الأكثر في الاعتماد على قول الإمام ، قوله : فكان كل يأخذ برواية

عنه) أي فليس لأحد منهم قول خارج عن أقواله ؛ ولذا قال في الولوا لجية من كتاب الجنايات قال أبو يوسف : ما قلت قولاً خالفت فيه أبا حنيفة إلا قولاً قد كان قاله . و روى عن زفر أنه قال : ما خالفت أبا حنيفة في شيئ إلا قد قاله

ثم رجع عنه. فهذا إشارة إلى أنهم ما سلكوا طريق الخلاف، بل قالوا ما قالوا عن اجتهاد و رأى اتباعاً لما قاله أستاذهم أبو حنيفة" (رد المحتار ج ۱ ص ٦٥)

ترجمه: (دا قول د ده: چي وايي تاسو په هغه سره قول وكړى) او داغسي هم وه، نو مخالفت راغى د صاحبينو څخه په اندازه كي د دريمي حصې د مذهب، خو مكر اكثر اعتماد او باور پر قول د امام صاحب دى . او دا قول د ده: نو داسي سوه چي هر يوه د دوى څخه عمل په يو روايت د امام صاحب څخه كوي يعني د ده د يوه شاګرد لپاره همداسي قول نشته چي هغه دي د امام صاحب د اقوالو څخه خارج وي، نو په دې خاطر يې په ولوالجيه كتاب الجنايات كي ويلي دي: چي امام أبو يوسف وفرمايل: ما هيڅ قول نه دى كړى چي په هغه كي مي د امام أبو حنيفة سره مخالفت كړى وي مكر كوم قول چي ده خپله كړى دى او د امام زفر څخه روايت راغلى دى: چي ده وويل: ما د امام أبو حنيفه مخالفت په هيڅ شي كي نه دى كړى مكر كوم قول چي ده كړى بيا يې وروسته د هغه څخه رجوع كړې وي نو په دې كي اشاره وي ته ده چي د ده ټولو شاګردانو د امام صاحب مسلك خلاف لاره نه ده غوره كړې، بلكه دوى په اجتهاد او فكر باندي هغه خبره كړى كوم چي د دوى استاذ كړې او يا مراد دلته اختلاف د امت څخه اختلاف د مجتهدينو په فروع كي دى نه په اصولو كي: كما فى الشامي ج ۱ ص ۵۰" (قوله: بأن الاختلاف) أي بين المجتهدين الفروع لا مطلق الاختلاف مطلب في حديث (اختلاف أمتى رحمةٌ). (قوله: من آثار الرحمة) فإن اختلاف آئمة الهدى توسعةٌ للناس كما فى أول التتارخانية و هذا يشير إلى الحديث المشهور على ألسنة الناس، هو (اختلاف أمتى رحمة) قال في

المقاصد الحسنة : رواه البيهقي بسند منقطع عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما بلفظ : قال رسول الله ﷺ (مهما أوتيتم من كتاب الله فالعمل به لا عذر لأحدٍ في تركه ، فإن لم يكن في كتاب الله فسنةٌ مني ماضيةٌ ، فإن لم تكن سنةٌ مني فماقال أصحابي ، إن أصحابي بمنزلة النجوم في السماء ، فأيما أخذتم به اهتديتم ، و اختلاف أصحابي لكم رحمةٌ) و أورده ابن الحاجب في المختصر بلفظ (اختلاف أُمّتي رحمة للناس) و قال منلا على القاري : إن السيوطي قال : أخرجه نصرُ المقدسيّ في الحجة و البيهقي في الرسالة الأشعرية بغير سند، و رواه الحليمي و القاضي حسين و امام الحرمين و غيرهم ، لعله خرج في بعض كتب الحفاظ التي لم تصل إلينا . و نقل السيوطي عن عمر بن عبد العزيز أنه كان يقون : ما سرني لو أن أصحاب محمد ﷺ لم يختلفوا ؛ لأنهم لو لم يختلفوا لم تكن رخصة، و أخرج الخطيب أن هارون الرشيد قال لمالك بن أنس : يا أبا عبد الله نكتب هذه الكتب يعني مؤلفات الإمام مالك و نفرقها في آفاق الإسلام لنحمل عليها الأمة ، قال : يا أمير المؤمنين ، إن اختلاف العلماء رحمة من رسول الله ﷺ على هذه الأمة ، كل يتبع ما صح عنده ، و كلهم على هدى ، و كل يريد الله تعالىٰ ، و تمامه في (كشف الخفاء و مزيل الإلباس) لشيخ مشايخنا الشيخ إسماعيل الجراحي و كذا في الطحطاوي)

﴿١٨﴾......**پوښتنه** : كتاب راوړي دي، حنفي ارتحل إلى مذهب الشافعي يعزز (فتاوى عالمكيريه ج٢/ص١٦٩)

او بلي خوا كتاب راوړي دي، ويستوى فيه الحنفى و الشافعى (رد المختار ج ٣ ص ٢٠٩) يعني في التعزير عن خروج المذهب .

الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب:

خلاصه: که یو سړی و بل مذهب ته واوړي د غرض دنیوي د وجهي مثلا لکه یوه ښځه شافعي مذهبه و حنفي ته ووایي چي ته شافعي مذهبه سه، نو بیا زه ستا سره نکاح کوم نو که حنفي دې مطلب لپاره شافعي مذهبه سي نو دی ګناه کار دی او تعزیر به ور کول کیږي ځکه په دې کي استخفاف د دین دی او که یو بل سړی و بل مذهب ته واوړي د غرض محمود د وجهي یعني ده ته حق معلوم شي په دلیل او اجتهاد سره نو بیا ده ته ثواب ور کول کیږي کما قال البحر اوی مصحح عالمگیری فی هامش عالمگیری ج ۲ ص ۱۶۹ یعزر أی إذا کان ارتحاله لا لغرض محمود شرعا (الشامی ۲۰۸/۳) إذا ارتحل إلی غیر مذهبه قوله (ارتحل إلی مذهب الشافعی یعزر) أی اذا کان ارتحاله لا لغرض محمود شرعا لما فی التتارخانیه حکی أي رجل من أصحاب أبی حنیفة خطب إلی رجل من أصحاب الحدیث ابنه فی عهد أبی بکر الجوزجانی فأبی إلا أن یترك مذهبه فیقرأ خلف الإمام و یرفع یدیه عند الانحطاط و نحو ذلك فأبه فزوجه فقال الشیخ بعد ما سئل عن هذه و أطرق رأسه النکاح جائز ولکن أخاف علیه أن یذهب ایمانه وقت النزع لأنه استخف بمذهبه الذی هو حق عنده و ترکه لأجل جیفة منتنة و لو أن رجلا برئ من مذهبه باجتهاد وضع له کان محمودا مأجورا أما انتقال غیره من غیر دلیل بل بما یرغب من عرض الدنیا و شهوتها فهو المذکوم الآثم المستوجب للتأدیب والتعزیر لارتکابه المنکر فی الدین و استخفافه بدینه و مذهبه اه مخلصا و فیها عن الفتاوی النسفیة الثبات علی مذهب أبی خیر و أولی قال و

هذه الكلمة أقرب إلى الألفة اه و في آخر التحرير للمحقق ابن الهمام مسألة لا يرجع فيما قلد فيه أي عمل اتفاقا و هل يقلد غيره في غيره المختار نعم للقطع بأنهم كانو يستفتون مرة واحدا و مرة غيره غير ملتزمين مفتيا واحدا فلو التزم مذهبا معينا كأبي حنفية و الشافعي فقيل يلزم و قيل لا و قيل مثلا من لم يلتزم و هو الغالب على الظن لعدم ما يوجبه شرعا اه ملخصا قال شارحه المحقق ابن امير حاج بل الدليل الشرعي اقتضى العمل بقول المجتهد ابن أمير حاج بل الدليل الشرعي اقتضى العمل بقول المجتهد و تقليده فيه فيما احتاج إليه و هو (فاسألوا أهل الذكر) (سورة النحل : ٤٣) و السؤال إنما يتحقق عند طلب حكم الحادثة المعينة فإذا ثبت عنده قول المجتهد وجب عمله به و أما التزامه فلم يثبت من السمع اعتباره ملزما إنما ذلك في النذر و لا فرق في ذلك بين أن يلتزمه بلفظه أو بقلبه على أن قول القائل مثلا قلدت فلانا فيما أفتى بتعليق التقليد و الوعد به ذكره المصنف اه مطلب العامي لا مذهب له قلت و أيضا قالوا العامي لا مذهب له مذهب مفتيه و علله في شرح التحرير بأن المذهب إنما يكون لمن له نوع نظر و استدلال و بصر بالمذهب على حسبه أو لمن قرأ كتابا في فروع ذلك المذهب و عرف فتاوى إمامه و أقواله و أما غيره ممن قال أنا حنفي أو شافعي لم يصر كذلك بمجرد القول كقوله أنا فقيه او نحوى اه و تقدم تمام ذلك في المتنمة أول هذا الشرح و إنما أطلنا في ذلك لئلا يغتر بعض الجهلة بما يقع في الكتب من إطلاق بعض العبارات الموهمة خلاف المراد فيحملهم على تنقيص الأئمة المجتهدين فإن العلماء حاشا هم الله تعالى أن يريدوا الازدراء بمذهب الشافعي او غيره بل يطلقون تلك العبارات بالمنع من الانتقال خوفا من التلاعب بمذاهب

المجتهدين نفعنا الله تعالى بهم و أماتنا على حبهم آمين يدل لذلك ما في القنية رامزالبعض كتب المذهب ليس للعامي أن يتحول من مذهب إلى فصل قبول من الشهادات قوله(قذف بالتعرض) كأن قال أنا لست بزان يعزر لأن الحد سقط للشبهة و قد ألحق الشين بالمخاطب لأن المعنى بل أنت زان فيعزر و ظاهر التقييد بالقذف أنه لو شتم بالتعريض لا يعزر (فله قيمة النقصان) أي له قدر ما نقص من قيمتها و لم يذكر أنه يحد أو لا لعلمه مما مر في بابه و تقدم قبيل باب الشهادة و أيضا في الشامي (٤٢٤/٤) قوله (و لا من انتقل من مذهب أبي حنيفة الخ) أي استخفافا لأنه لا يكون أهل للشهادة فلا يعتمد عليه منح و تقدم في باب التعزير أن من ارتحل إلى مذهب بدون حاجة شرعية يعزر فكان ذلك معصية موجبة لرد شهادته و لأنه ليس للعامي أن يتحول من مذهب إلى مذهب و يستوى فيه الحنفي و الشافعي و قيل لمن انتقل إلى مذهب الشافعي ليزوج له أخاف أن يموت مسلوب الإيمان لإهانته بالدين بجيفة قذرة قنية من كتاب الكراهية و في آخر هذا الباب من المنح و إن انتقل إليه لقلة مبالاة في الاعتقاد و الجزأة على الانتقال من مذهب إلى مذهب كما يتقول و يميل طبعه إليه لغرض يحصل له فإنه لاتقبل شهادته اهـ فعلم بمجموع ما ذكرناه أن ذلك غير خاص بانتقال الحنفي و أنه إذا لم يكن لغرض صحيح فافهم و لا تكن من المتعصبين فتحرم بركة الأئمة المجتهدين نفعنا الله تعالى بهم أجمعين في الدنيا و الآخرة آمين.

﴿۱۹﴾......**پوښتنه**: امام سرخسي وايي: په حديث كي راغلي: اصحابی كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم. (المبسوط للسرخسي كتاب ادب القاضي ج١٦ ص ٨٣، و مقدمة المحيط البرهاني ج ١ ص ٢٨)

ترجمه: زما صحابه داسي دي لكه ستوري په هر يوه پسي اقتداء وكړئ هدايت كيږئ، د احنـافـو پـه اصـول الـفـه كې په دې حديث دليـل نيسي او زياتوي: "و قد تكلموا عليه لكن لاضير، فان له طرقا كثيرة، و بمثلها يبلغ درجة الحسن "(مسلم الثبوت مع شرحه فواتح الرحموت، الاكثر على ان الاصل في الصحابة العدالة ج ۲ ص ۱۵۷)

ترجمه: خلك د دې حديث پر ضد رغبدلي، خو هيڅ پروا نسته، ځكه دا حديث ډېر سندونه لري او د داسي سندونو په وجه د حسن درجې ته رسي، بـل ځای هـمـدا كتـاب د خپـل مـخالفينو خبره نقلوي بيا رد پر كوي داسي وايي: "قائلون كون اتفاق الشيخين اجماعا قالوا: رسول الله ﷺ (اقتدوا بالذين قالوا: ان اتفاق الخلفاء الاربعة اجماع، قالوا: قال رسول الله ﷺ: عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين عضوا عليها بالنواجذ (رواه أحمد)" فمخالفة طريقتهم حرام، قلنا: هذا خطاب للمقلدين فلا يكون حجة على المجتهدين و بيان لأهلية الاتباع لا حصر الاتباع فيهم، و على هذا فالامر للاباحة او الندب، واحد هذين التأويلين ضروری، لأن المجتهدين كانوا يخالفونهم، والمقلدون كانوا قد يقلدون غيرهم، ولم ينكر عليهم أحد، لا الخلفاء انفسهم ولا غيرهم فعدم حجية قولهم كان معتقدهم، و بهذ اندفع ما قيل: ان الايجاب ينافی هذا التأويل، الخ و اما المعارضة بأصحابی كالنجوم الخ و خذوا شطر دينكم من هذه الحميراء، فتدفع بأنهما ضعيفان لا يصلحان للعمل فضلا عن معارضة الصحاح، اما الحديث الاول فلم يعرف، قال ابن حزم فی رسالته الكبرى: مكذوب موضوع باطل، و به قال أحمد والبزار، و امام الحديث الثانی فقال الذهبی: هو من الاحاديث الواهية التی لا يعرف

لها سند الخ. (مسلم الثبوت مع شرحه فواتح الرحموت مبحث الاجماع ج۱ ص ۲۳۱، ۲۳۲).

پـه لیـکـه د نبنـانـي سـوې ځـای تـرجـمـه: د دې وجهي چي مجتهدينو د خلفاء راشـدینو بغير د نورو تقليد کوی او هيڅا اعتراض نه پر کوی، نه خلفاء راشـدینو نـه بل چا، نو د خلفاء راشدينو د خبري نه حجتيت د دوی دوارو طرفو عقيده وه، هغه خبره درواغ ده چي وايي زما أصحاب لکه ستوري داسي دي پـه هـر يـوه پسي چي اقتداء وکئ هدايت کيږئ، دا خبره ددې لپاره سوې چي د شريعت دليلونه فقط څلور سي: کتاب الله و سنت رسول، اجماع، قياس، ځکه د خليفه راشد يا بل صحابي خبره که دليل سي بيا خو د شريعت دليلونه تر څلور ډيريږي، خپله امام سرخسي وايي :"القود في القسامة من امور الجاهية أول من قضى به معاوية" (المبسوط للسرخسي کتاب الديات باب القسامة ج٦ ص ۱۰۹)

ترجمه: په قسامت کي قصاص د جاهليت (تر اسلام مخکي زماني) د کارو څخه دی، اول څوک چي په دې يې فيصله وکړه معاويه دی، د حنفي اصولو کتاب وايي: "أجمع المحققون على منع العوام من تقليد الصحابة" (مسلم الثبوت مع شرحه فواتح الرحموت ج۲ ص ۴۰۷)

ترجمه: محققينو اجماع کړې ده پر دې خبره چي عوام به د اصحابو د تابعداری څخه منع کيږي، نظام الدين الشاشي حنفي وايي: "و تحقيق ذلك فيما روى عن علي بن أبي طالب أنه قال كانت الرواة على ثلاثة اقسام:

۱. مؤمن مخلص صحب رسول الله ﷺ و عرف معنى كلامه.

۲. و أعرابي جاء من قبيلة فسمع بعض ما سمع و لم يعرف حقيقة كلام رسول

الله ﷺ فرجع إلى قبيلته فروى بغير فظ رسول الله ﷺ فتغير المعنى و هو يظن أن المعنى لا يتفاوت.

۳. و منافق لم يعرف نفاقه فروى ما لم يسمع و افترى فسمع منه أناس فظنوه مؤمنا مخلصا فرووا ذلك و اشتهر بين الناس .(اصول الشاشي البحث الثاني السنة ص ۷٦)"

دا رنګه د صحابه کرامو په هکله ملا جيون حنفي وايي : "و ان كان مجهولا أي في رواية الحديث و العدالة لا في النسب بان لم يعرف إلا بحديث او حديثين كوابصة بن معبد ......"

بيا يې علي رضی الله تعالیٰ عنه ته دا خبره نسبت کړې چې هغه د معبد بن سنان په هکله ويلي : دی پر خپلو پوندو بولي کوي . (نور الانوار قسم السنة بيان احوال الراوی ص :۱۸۰)

امام طحاوي حنفي د يو رکعت وترو په هکله ويي : "قد روی عن عباس رضی الله عنهما فی فعل معاوية هذا ما يدل على انكاره إياه عليه و ذلك أن أبا غسان مالك بن يحيى الهمدانی حدثنا قال ثنا عبد الواهاب عن عطاء قال أن عمران بن حديثر عن ذهب هزيع من الليل فقام معاوية فركع ركعة واحدة فقال بن عباس من أين ترى أخذها الحمار؟" (شرح معانی الاثار للطحاوی باب الوتر ۱/ ۱۴۱)

ترجمه: معاويه ولاړ سو يو رکعت وتر يې وکړه، نو ابن عباس وويل : څه فکر کوې چې دا خره دا د کومه ځايه اخيستي دي؟

تفتازاني صاحب وايي : "ذكر بعضهم أن الصحابي اسم لمن اشتهر بطول صحبة النبي عليه الصلاة و السلام على طريق التتبع له ، والأخذ منه و بعضهم

أنه اسم لمؤمن رأى النبي عليه السلام سواء طالت صحبته أم لا إلا أن الحزم بالعدالة مختص بمن اشتهر بذلك و الباقون كسائر الناس فيهم عدول و غير عدول "التلويح على التوضيح مبحث السنة ۲/۱۰)

داورو ستی خبري د هغه تفتازاني صاحب دي چي د شرح عقائد مصنف دی دغه دواړه کتابونه يې د احنافو ملكرو د تعليمي نصاب د اصول او عقيدې په برخه کي مقرر دي.

❁. الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب:

په مسلم الثبوت کي چي يو ځای کي وايي چي دا خطاب مقلدينو ته دی يعني مقلدين دي د صحابه کرامو تقليد وکړي هغه تقليد د شيخينو يا د خلفاء راشدينو مراد دی، صراحةً په دغه دوو (۲) حديثو کي ذکر سوی هغه دوتړه حديث په سوال کي ذکر دي او بل ځای کي چي مسلم الثبوت وايي چي عوام الناس دي د صحابه کرامو تقليد نه کوي هغه مطلقاً صحابه کرام مراد دي يعني عوام الناس دي د صحابه کرامو تقليد نه کوي ځکه عوام الناس په ناسخ او منسوخ نه پوهېږي، کېدای سي عوام الناس به په منسوخ کي د صحابه کرامو تقليد وکړي، د سوال د بل جزء جواب: په يو ځای کي مسلم الثبوت وايي چي حديث د اقتديتم اهتديتم د حسن مرتبې ته رسيږي، دا خبره يې په متابعت د قول د غير کړې ده او په ځای کي چي پر حديث رد کوي هغه د ده خپل تحقيق دی، او دوهمه خبره يې صحيح ده ځکه په مرقات او نورو کتابونو کي هم دغه حديث ضعيف يا موضوعي بلل سوی دی: "قال ابن الربيع اعلم أن حديث أصحابي

كـالـنجـوم بـأيهم اقتديتم اهتديتـم أخرجه ابن مـاجـه كذا ذكره الجلال السيـوطي في تخريج أحاديث الشفاء ولم أجده في سنن ابن ماجه بعد البحث عنه و قد ذكره ابن حجر العسقلاني في تخريج أحاديث الرافعي في باب أدب القضاء و أطال الكلام عليه و ذكر أنه ضعيف واه بل ذكر عن ابن حزم أنه موضوع باطل ...... ثم قال : و تكلم على هذا الحديث ابن السبكي في شرح ابن الحاجب الأصلي في الكلام على عدالة الصحابة و لم يعزه لابن ماجه "(مرقات ١١/١٦٣)

پـه اصـول الشـاشـي کي چي علي رضی الله تعالی عنه پر بعض راويانو صحابه کرامو جر ح کړې ده يا په نور الانوار کي علي رضی الله تعالی عنه ويـوه راوي تـه د بـو لوعـلـی عـقـبيـه نسبت کړی دی يا امام طحاوي د ابن عباس رضی الله تعـالی عنه نسبت د حمار و معاويه رضی الله تعالی عنه تـه ذکـر کـړی دی دا ټول دړې واړه کارونه صحابه کرامو په خپل مينځ کي کړي دي احنـافـو داخبـري نـه دي کـړي پر موږ باندي د ټولو صحابه کرامو قدر او احترام لازمی دی .

الحكم الثاني : هل يجب البحث عن عدالة الصحابة في الشهادة و الرواية؟

استدل بعض العلماء بالاية الكريمة على أن من الصحابة من ليس بعدل ،لأن الله تعالى أطلق لقب الفاسق على (الوليد بن عقبة) فإنها نزلت فيه ، و سبب النزول لا يمكن إخراجه من اللفظ العام ، و هو صحابي بالاتفاق ، وقد أمر الله بالتثبت من خبره ، فلا بد من البحث عن عدالة الصحابة في الشهادة والرواية.

والمسألة خلافية و فيها أقوال كثيرة نذكرها بإيجاز:

الأول : أن الصحابة كلهم عدول ، ولا يبحث عن عدالتهم في رواية و لا شهادة ، و هذا رأى جمهور العلماء سلفاً و خلفاً.

الثاني : أن الصحابة كغيرهم يبحث عن العدالة فيهم في الرواية والشهادة إلا من يكون ظاهر العدالة أو مقطوعها كالشيخين (أبى بكر) و (عمر) رضى الله عنهما.

الثالث : أنهم عدول إلى زمن عثمان رضى الله تعالى عنه ، و يبحث عن عدالتهم من مقتله ، و هذا رأى طائفة من العلماء.

الرابع : أي هم عدول إلا من قاتل علياً كرم الله وجهه لفسقه بالخروج على الإمام الحق و هذا مذهب المعتزلة الترجيح : والحق ما ذهب إليه جمهور العلماء سلفاً و خلفاً من أن الصحابة كلهم عدول ، ببركة صحبة النبي ﷺ ، و مزيد ثناء الله عزوجل عليهم في كتابه العزيز كقوله سبحانه :(وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً) (البقرة : ١٤٣) أى عدولاً ، قوله سبحانه :(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ)(آل عمران:١١٠) و قوله جل ذكره :(مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ)(الفتح :٢٩) . و قوله جل و علا :(يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً وَيَنصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ)(الحشر :٨) و قوله جل و علا :(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوا عَنْهُ)(المائدة: ١١٩) إلى آخر ما هناك من الآيات الكثيرة .

و كذلك ما ثبت في السنة المطهرة من مدحهم ، والثناء عليهم ، و بيان أنهم أفضل الناس بعد رسول الله ﷺ على الإطلاق ، و نحن نذكر بعض هذه الأحاديث الشريفة التي تشير إلى فضيلتهم بإختصار.

﴿ا﴾...... قال ﷺ: (خير الناس قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم)
﴿ب﴾...... و قال ﷺ: (لا تسبوا أصحابي فوالذي نفسي بيده لو أن أحدكم انفق مثل أحد ذهبًا ما بلغ مد أحدهم ولا نصيفه) ۔
﴿ج﴾...... و قال ﷺ: (الله الله في أصحابي، لا تتخذوهم غرضا بعدي، فمن أحبهم فبحبي أحبهم، ومن أبغضهم فببغضي أبغضهم، ومن آذاهم فقد آذاني، ومن آذاني فقد آذى الله، ومن آذى الله فيوشك أن يأخذه)

فهذهي الأخبار التي وردت في الكتاب و السنة كلها متضافرة على عدالة الصحابة و أفضليتهم على سائر الناس، و ما وقع من بعضهم من مخالفات يسوغ لنا أن نحكم عليهم بالفسق، لأنهم لا يصرّون على الذنب، و إذا تاب الإنسان رجعت إليه عدالته و لا يحكم بفسقه على التأبيد، فهذا (ما عز الأسلمي) الذي ارتكب الفاحشة يقول عنه النبيﷺ بعد أن أمر برجمه (لقد تاب توبة لو قسمت بين أمة لوسعتهم).

والقولُ: بأنّ بعض الصحابة قد وقع في الذنب و المخالفة، بناء على الاعتقاد بعدم عصمتهم. لا يعني أنهم غير عدول، لن الفاسق الذي ترد شهادته و روايته هو الذي يصرّ على الذنب و المعصية، وليس في الصحابة من يصر على ذلك.

و قد عرفت ما ذكره الإمام الفخر أنها لم تنزل خاصة بسبب (الوليد بن عقبة) و إنما نزلت عامة في بيان حكم كل فاسق، و أنها نزلت في ذلك الوقت الذي حدثت فيه تكل القصة، فهي مثل التاريخ لنزول الآية، و كلام الإمام الفخر نفيس فارجع إليه. (تفسير آيات الاحكام ج ۱ ص ٥٤٢)

علامه تفتازاني چې وايي چې په صحابه کرامو کې غير عدول سته، يا

ملا جيـو ن د جهـالة فـي الـعـدالة في الصحابة خبره كړې ده، د دوی دواړو خبرې پـر دوهم او دريم مذهب بنا دي، د جمهورو يې خلاف خبره كړې ده او اختلاف في العدالة في الصحابة وجود لري، د جهالة اطلاق امام سرخسي پـر مـعـاويـه رضى الله تعالى عنه ن دی کړی بلکې د زهري د كلام نقل يې كړی دی: "لأن أمراء بـنـی أمية كـانوا يقضون بالقود في القسامة على ما روى عـن الـزهرى قال القود فی القسامة من أمور الجاهلية أول من قضى به معاوية رضى اللّه تعالى عنه ."(مبسوط السرخسي ج ٢٦ / ص ١٩٦)

﴿٢٠﴾......**پوښتنه**: پـه تـنـقـيـح الـحـامدين كې ابن عـابدين وايي چې اجماع سـوې ده پر كفر د شيعه ګانو او چې څوک چې د دوی په كفر شک لري هغه كـافر دی، كما في تنقيح الحامدية ج١ ص ١٠٥): "فلذا أجمع علماء الأعصار عـلـى إباحة قتلهم و أن من شك في كفرهم كان كفاراً فعند الإمام الأعظم و سفيان الثورى والأوزاعى أنهم إذا تابوا و رجعوا عن كفرهم إلى الإسلام نجوا مـن الـقتـل و يـرجى لهم العفو كسائر الكفار إذا تابوا و أماعند مالك والشافعى و أحـمـد بن حنبل و ليث بن سعد و سائر العلماء العظام فلا تقبل توبتهم و لا يعتبر إسلامهم و يقتلون حداً إلخ "، او دبـلـې خـوا ابن عـابدين خپله په شامي كې ويـلـي دي چې حـكـم د فـکـر پـر شـيـعـه ګانو مشكل دی ځکه چې ائمه وو اجـمـاع كړې ده په ګمراهي د دوی او په ښکنځلو و صحابه ؤ ته او په بغض د صحابه ؤسره د وی نه كافران كيږي كما في الشامي ج ٣ ص ٣٢١)

أقـول: نـعـم نـقـل فـى البـزازية عـن الـخـلاصة أن الرافضى إذا كـان يسب الشيخين و يلعنهما فهو كافر و إن كان يفضل عليا عليهما فهو مبتدع اه و هذا لا يستـلـزم عدم قبـول التـوبة على أن الحكم عليه بالكفر مشكل لما فى الاختيار

اتفق الأئمة على تضليل أهل البدع أجمع و تخطئتهم و سب أحد من الصحابة و بغضه لا يكون كفرالكن يضلل الخ ، او په بحرالرائق کې راغلي دي چې څوک د اجماع څخه انکار وکړي هغه کافر دی کما فی البحر الرائق ج ۲ ص ۱۷۹ :"وقد صرح فی القنية والفوائد الناجية بكفر من انكر فرضيتها لأنه انكر الاجماع ـ حكم صلواة على الجنازة ـ"، نو خلاصه دا ده چې پر شیعه ګانو ددغه دوو فیصلو هره یوه ومنل شي او یا شک او تردید پکښې وسي دیوې اجماع څخه انکار کیږي او د اجماع انکار کفر دی.

●. الجواب المثاب باسم ملهم الصدق والصواب:

د دغه دوارو اجماعو په مینځ کې هیڅ ټکر نشته او له اجماع چې شیعه ګان کافران دي دا هلته چې دوی اهانت د علماؤ کوي او یا نکاح د محارمو حلاله بولي او یا د شیخینو د خلافت څخه انکار کوي او یا عائشة رضی الله عنها ته فاحشه وایي او دریمه اجماع چې شیعه ګان نه دي کافران بلکې ګمراهان دي دا هلته چې دوی اهانت د علماؤ نه کوي او یا نکاح د محارمو حلاله نه بولي او یا د شیخینو د خلافت څخه انکار نه کوي او یا عائشه رضی الله عنها ته فاحشه نه وایي او معترض د تنقیح عبارت هم کم را نقل کړی دی او مخکې صفحه یې نه ده مطالعه کړې کما فی تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۲۰۴ إلى ص ۱۰۵)

"و أما الكفر فمن وجوه منها أنهم يستخفون بالدين و يستهزئون بالشرع المبين و منها أنهم يهينون العلم و العلماء مع أن العلماء ورة الأنبياء و قد قال الله تعالى :(إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ) منها أنهم يستحلون

المحرمات و يهتكون الحرمات و منها أنهم ينكرون خلافة الشيخين و يريدون أي يوقعوا في الدين الشين و منها أنهم يطولون ألسنتهم على عائشة الصديقة رضي الله تعالى عنها و يتكلمون في حقها ما لا يليق بشأنهما مع أن الله تعالى أنزل عدة آياتٍ في براء تها و نزاهتها فهم كافرون بتكذيب القرآن العظيم و سابون النبي ﷺ ضمناً بنسبتهم إلى أهل بيته هذا الامر العظيم و منها أنهم يسبون الشيخين سود الله وجوههم في الدارين.

و قال السيوطي من أئمة الشافعية من كفر الصحابة أو قال إن أبا بكر لم يكن منهم كفر و نقلوا وجهين عن تعليق القاضي الحسين فيمن سب الشيخين هل يفسق أو يكفر و الأصح عندي التكفير والعوام من المسلمين أن هذه القبائح مجتمعة في هؤلاء الضالين المضلين فمن اصف بواحدٍ من هذه الأمور فهو كافرٌ يجب قتله باتفاق الأمة و لا تقبل توبته و إسلامه في إسقاط القتل سواء تاب بعد القدرة عليه و الشهادة على قوله أو جاء تائباً من قبل نفسه لأنه حدٌ وجب و لا تسقطه التوبة كسائر الحدود و ليس سبه ﷺ كالارتداد المقبول فيه التوبة لأن الارتداد معنىً ينفرد به المرتد لا حق فيه لغيره من الآدميين فقبلت توبته و من سب النبي ﷺ تعلق به حق الآدمي و لا يسقط بالتوبة كسائر حقوق الآدميين فمن سب النبي ﷺ أو أحداً من الأنبياء لوات الله عليهم و سلامه فإنه يكفر و يجب قتله ثم إن ثبت على كفره و لم يتب و لم يسلم يقتل كفرا بلا خلاف و إن تاب و أسلم فقد اختلف فيه والمشهور من المذهب القتل حداً و قيل يقتل كفرا في الصورتين ، و أما سب الشيخين رضي الله تعالى عنهما فإنه كسب النبي ﷺ و قال الصدر الشهيد من سب الشيخين أو لعنهما يكفر و يجب قتله و لا تقبل توبته و إسلامه أي في إسقاط

القتل و قال ابن نجيم فى البحر حيث لم تقبل توبته علم أن سب الشيخين كسب النبى ﷺ فلا يفيد الإنكار مع البينة قال الصدر الشهيد من سب الشيخين أو لعنهما يكفر و يجب قتله و لا تقبل توبته و إسلامه فى إسقاط القل لأنا نجعل إنكار الردة توبةً إن كانت مقبولةً كما ل يخفى و قال فى الأشباه كل كافر تاب فتوبته مقبولة فى الدنيا و الآخرة إلا الكافر بسب نبى أو بسب الشيخين أو أحدهما أو بالسحر و لو امرأة و بالزندقة إذا أخذ قبل توبته اهـ فيجب قتل هؤلاء الأشرار الكفار تابوا أو لم يتوبو لأنهم إن تابو! و أسلما قتلوا حداً على المشهور و أجرى عليهم بعد القتل أحكام المسلمين و إن بقوا على كفرهم و عنادهم قتلوا كفراً و أجرى عليهم بعد القتل أحكام المشركين و لا يجوز تركهم عليه بإعطاء الجزية و لا بأمان مؤقت و لا بأمانٍ مؤبدٍ نص عليه قاضى خان فى فتاويه و يجوز استرقاق نسائهم لأن استرقاق المرتدة بعد ما لحقت بدار الحرب جائز و كل موضوع خرج عن ولاية الإمام الحق فهو بمزنلة دار الحرب و يجوز استرقاق ذرايهم تبعا لأمهاتهم لأن الولد يتبع الأم فى الاسترقاق و الله تعالى أعلم."

(اقول): و قد أكثر مشايخ الاسلام من علماء الدولة العثمانية لا زالت مؤيدة بالنصرة العلية فى الإفتاء فى شأن الشيعة المذكورين و قد أشبع الكلام فى ذلك كثير منهم و ألفوا فيه الرسائل و ممن أفتى بنحو ذلك فيهم المحقق المفسر أبو السعود أفندى العمادى و نقل عبارته العلامة الكواكبى الحلبى فى شرحه على منظومته الفقهية المساماة الفرائد السنية و من جملة ما نقله عن أبى السعود بعد ذكر قبائحهم على نحو ما مر فلذا أجمع علماء الأعصار على إباحة قتلهم و أن من شك فى كفرهم كان كافراً فعند الإمام الأعظم و سفيان

الثوری و الأوزاعی أنهم إذا تابوا و رجعوا عن کفرهم إلی الإسلام نجوا من القتل و یرجی لهم العفو کسائر الکفار إذا تابوا و أما عند مالك و الشافعی و أحمد بن حنبل و لیث بن سعد و سائر العلماء العظام فلا تقبل توبتهم و لا یعتبر إسلامهم و یقتلون حداً إلخ و ثمله فی الهندیة ج :ص الرافضی إذا کان یفضل علیا کرم الله تعالی وجهه عی أبی بکر رضی الله تعالی عنه لا یکون کافران إلا أنه مبتدع و المعتزلی مبتدع إلا إذا قال باستحالة الرؤیة ، فحینئذ هو کافر کذا ف یالخلاصة و لو قذف عائشة رضی الله تعالیٰ عنها بالزنا کفر بالله ، و لو قذف سائر نسوة النبی ﷺ لا یکفر و یستحق اللعنة ، و قال عمر و عثمان و علی رضی الله عنهم لم یکونوا أصحاباً لا یکفر و یستحق اللعنة کذا فی خزانة الفقه من أنکر إمامه أبی بکر الصدیق رضی الله تعالی عنه ، فهو کافرٌ.

و علی قول بعضهم هو مبتدعٌ و لیس بکافرٍ و الصحیح أنه کافر ، و کذلك من أنکر خلافة عمر رضی الله تعالی عنه فی أصح الأقوال کذا فی الظهیریة و یجب إفکارهم بإکفار عثمان و علی و طلحة و زبیر و عائشة رضی الله تعالیٰ عنهم و یجب إفکار الزیدیة کلهم فی قولهم انتظار نبی من العجم ینسخ دین نبینا و سیدنا محمد ﷺ کذا فی الوجیز للکردری و یجب إکفار الروافض فی قولهم برجعة الأموات إلی الدنیا و بتناسخ الأرواح و بانتقال روح الإله إلی الأئمة و بقولهم فی حروج إمام باطن و بتعطیلهم الأمر و النهی إلی أن یخرج الإمام الباطن و بقولهم إن جبریل علیه السلام غلط فی الوحی إلی محمد ﷺ دون علی بن أبی طالب رضی الله عنه ، و هولاء القوم خارجون عن ملة الإسلام و أحکامهم أحکام المرتدین کذا فی الظهیریة و الله تعالیٰ اعلم بالصواب.

په ايمان کي استثنا نه ده جائز:

غيـر مقلدينو هم په دغه کتاب کي يو اعتراض کړی دی چي حاصل يې دا دی چي ستاسو پـه بعـض کتـابـو کـي ليـکلي دي چي د حنفي مذهبـه نـکـا ح د شـافـعـي مـذهبـه سره نـه ده جـائز ، د دوی د دغـه مذکوره اعـتـراض جـواب دا دی چي دغـه محترمو حضراتو دغه عبارت کټ کړی دی يعني د عبـارت يـوجـزء يې را خيستـی دی او دا قـاعده ده چي عبـارت کټ شي نو محل د اعتراضاتو ګرځي او دا مبحث د استثنا دی په ايمان کي او په ايمان کي استثناء د احنافو په نزد نه ده جائز ، او د شوافع په نزد په ايمان کي جائز ده ، وګـورئ د دغـه مبـحـث دپاره عبـد البـاري عـلـی الصحيح البخاري ص ۱۸۹، او اصـلـي تـحـقـيـق چې مـا وکـتـی هـغـه دا مسـئـله رسائل ارکان نقل کـړيده او عـلـمـاء رد پر کړی دی ولي لمونځ د حنفي په شافعي پسي جائز دی او دا اهم رکن د اسلام دی نو چي لمونځ صحيح شو نو نکا ح د شافعي د حنفي مذهب والا سره جائز ده .

د" لا يقلد الاعصبي او غبي" مطلب:

او د غير مقلدينو بل اعتراض دا ی چي په رسم مفتی ص:۷۷ کي ليـکلي دي چي تـقـليـد نـه کـوي مګر عصبي او يا غبي ی کوي او د بلي خوا تاسو تـقـليد واجب بولئ نو د دوی د دغـه اعتراض جواب دا دی چي دغه خبره اول وار امـام طـحـاوي کـړې ده او دويـم وار ابـن الهـمـام کـړې ده او دوی دواړه مـجـتـهـديـن فـی الـمـذهـب دا اکثر علماء په باندي او پر مجتهد فی المذهب بـانـدي پـه ټـولو احکام فرعيه وو کي تقليد ضروري نه دی او مقلدين چي تـقـليد ضروري او واجب بولي هغه په حق د غير مجتهدين کي او وګورئ

د دې دپاره چې دوی د اجتهاد مرتبې ته رسېدلي دي (رسم المفتي ص ۷۷ و ۲۸ او مصباح ص ۲۴۲ و ۲۲۷ و ۲۱۷)

بيان دقرائت دامام تر شا

تأليف:

شيخ القرآن والحديث

مفتي عبد الرازق

كدنوي دامت فيضه الجاري

قرائت خلف الامام

بسم الله الرحمٰن الرحیم

بیان دقرائت دامام تر شا

باب وجوب القراءة للامام والماموم فی الصلوٰة کلها فی الحضر والسفر ما یجهر فیها وما یخافت .

ترجمه: پر امام او مقتدي په ټولو لمونځو کي دقرآن دقراءت دوجوب بیان سفریانه لمونځ وي که کورنی او هغه لمونځ چي په هغکي جهر کیږي او دهغه لمانځه چي سراً ویل کیږي .په بیان کي .

حدثنا موسیٰ قال، حدثنا ابو عوانة قال حدثنا عبدالملک بن عمیر عن جابر بن سمرة قال شکی اهل الکوفة سعداً الی عمر فعزله واستعمل علیهم عماراً فشکوا حتیٰ ذکر انه لا یحسن یصلی فارسل الیه فقال یا ابا اسحٰق ان هٰئولاء یزعمونک لاتحسن تصلی قال اما انا والله فانی کنت اصلی بهم صلوٰة رسول الله ﷺ ما اخرم عنها اصلی صلوٰة العشاء مارکد فی الاولین واخف فی الاخرین قال .ذلک الظن بک یا ابا اسحٰق فارسل معه رجلاً او رجالاً الی الکوفة یسال عنه اهل الکوفة ولم یدع مسجداً الاسأل عنه ویثنون علیه معروفاً حتیٰ دخل مسجد البنی عبس فقام رجل منهم یقال له اسامة بن قتادة یکنیٰ ابا سعدة فقال اما اذا نشد تنافان سعداً کان لایسیر بالسریة ولایقسم بالسوية ولا یعدل فی القضیة قال سعداً اما والله دعونّ بثلاث اللهم ان کان عبدک هذا کاذباً قام ریاءً وسمعةً فاطل عمره واطل فقره وعرضه بالفتن وکان بعداً اذا سئل یقول شیخ کبیر مفتون

اصابتنی دعوة سعد قال عبدالملک فأنا رائیته بعد سقط حاجباً علیٰ عینیه من الکبر وانه لیتعرض للجواری فی الطرق یغمز هن ۔

حدثنا یلی بن عبدالله قال حدثنا سفیان حدّثنا الزهری عن محمود بن الربیع عن عبادة بن الصاقت ان رسول الله ﷺ قال لاصلوٰة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب .

حدثنا محمد بن بشار قال حدثنا یحییٰ عن عبیدالله قال حدثنی سعید بن ابی سعید عن ابیه عن ابی هریرةؓ ان رسول الله ﷺ دخل المسجد فدخل رجل فصلی فسلم علی النبی ﷺ فرد قال ارجع فصل فانک لم تصل فارجع فصلیٰ کما صلی ثم جاء فسلم علی النبی ﷺ فقال ارجع فصل فانک لم تصل ثلاثاً وقال والذی بعثک بالحق ما احسن غیره فعلمنی فقال اذا قمت الی الصلوٰة فکبر ثم اقراء ما تیسر من القرآن ثم ارکع حتیٰ تطمئن راکعاً ثم ارفع حتیٰ تعتدل قائماً ثم اسجد حتیٰ تطمئن ساجداً ثم ارفع حتیٰ تطمئن جالساً وافعل فی صلوٰتک کلها .دحضرت جابر بن سمرة څخه روایت دی چي دکوفې خلکو وحضرت عمرؓ ته دحضرت سعد بن ابی وقاصؓ شکایت وکړی نو حضرت عمرؓ هغه معزول کړی او حضرت عمار بن یاسر یې دهغو حاکم مقرر کړی اهل کوفې والاؤ په شکایت کي دا لا وویل چي حضرت سعدؓ جماعت لا سم نه راکوي حضرت عمرؓ حضرت سعد راوغوښتی او ورته ئی وویل چي اې ابو اسحاقؓ دغه اهل کوفه داسی وایي چي ته لمونځ لاهم سم نه ورکوې .حضرت سعد وفرمایل چي په خدای قسم زه ودوی ته د رسول الله ﷺ والا لمونځ ورکوم او په دې کی می هیڅ کوتاهی نه ده

کړي .؟ (مثلاً) دماځوستن لمونځ مي داسي ورکاوي چي په اولو دوو رکعتو کي به ډېر درېدم او په آخر دوو رکعتو کي مي تخفيف کاوئ .حضرت عمرؓ وفرمايل اې ابو اسحاقه ستا په هکله غالب گمان دغه دي بيا حضرت عمرؓ دده سره يو يا يو څو خلک کوفې ته واستول چي هغه دکوفې دخلکو څخه دحضرت سعدؓ په هکله سوالونه وکي تحقيق يې وکړي هغه دکوفې په يوه يوه مسجد کي دحضرت سعد په باره کي تحقيق وکړی او دکوفې خلکو دحضرت سعد تعريفونه ورته کول .تر دې حده چي کله دبنو عبس مسجد ته ولاړه نو يو سړی چي هغه ته اسامه بن قتاده ويل کېدی او دهغه کنيت ابو سعدو ولاړ سو او وې ويل چي ته قسم راکوې او پوښتې مي نو خبره داده چي سعد دجهاد دلښکر سره نه ځي دمال په تقسيم کي برابری نه کوي او په فيصله کي انصاف نه کوي .حضرت سعد وفرمايل چي زه خو په خدای ضرور درې ښراوي کوم چي اې الله که ستا دغه بنده دروغجن وی او دریاکاری او او شهرت دپاره ولاړ سوی وی نو دده عمر ور زيات کړې او دده فقر ورطويل کړې .او دی په فتنو کي مبتلا کړه او دهغه سري څخه چي کله وروسته حال وپوښتل سو نو هغه به ويل چي زه يو ډېر عمر والا په فتنو کي مبتلا سسپين ږيری يم .پر ما باندي دسعدؓ ښراؤ اثر کړی دی دسپين ږير والي دوجهي څخه يې دواړي ورځي پر ستر کو پرتې وې او په لاره کي به په ښځو پسې ؤ .دحضرت عباده بن صامتؓ څخه روايت دی چي رسول الله وفرمايل چي څوک فاتحه نه وائي دهغه لمونځ نه دی صحيح دحضرت ابو هريره څخه روايت دی چي نبی ﷺ مسجد ته تشريف راوړی نو يو سړی مسجد ته را

داخل سو بيا هغه لمونځ وکړی بيا راغلی نبی ﷺ ته ئې سلام وکړی نبی ﷺ جواب ورکړی او ورته وې ويل چې ورسه بيرته لمونځ وکړه ددې وجهی چې ستا لمونځ نه دی صحيح نو هغه سړی ولاړی بيرته ئې بعينه هغسی لمونځ وکړی څرنګه چې مخ کی يې کړی وو .بيا راغلی نبی ﷺ ته ئې سلام وکړی بيا يې ورته وويل چې ولاړ سه بيرته خپل لمونځ وکړه ځکه چې ستا لمونځ نه دی صحيح .دا خبره درې واره پېښه سوه .نو هغه سړی وول چې قسم دی وي په هغه ذات چا ته چې په حقه نبی راستولی ئې زه تردې ښه لمونځ نه سم کولای . ته ئې وماته راوښيه .نو نبی ﷺ ورته وويل چې کله ته دلمانځه دپاره ولاړ سې نو الله اکبر ووايه بيا چې کوم ځای دقرآن څخه په آسانی سره ويلای سي او ياد دي وي دهغه قرائت کوه بيا رکوع ته ځه تر داسې چې په رکوع کې دی اطمينان سی بيا درکوع څخه سر راپورته کړه تر داسي چې سيدا ودرېږې . بيا سجدې ته ولاړ سه تر داسي چې دسجدې په حالت کي دي اطمينان وي بيا دسجدې څخه سر راپورته که تر داسی چې په ناسته کی دی اطمينان وي . بيا په خپل ټول لمانځه کي دغه ډول عمل کوه .

دترجمې مقصد:

فرمايي چی په ټولو لمونځو کي قرائت ضروري دی .دهر سړي دپاره ضروري دی په هر حال کي ضروری دی دامام دپاره هم او دمقتدی دپاره هم .هم په سری لمنځو کی او په جهری لمونځو کی هم دسفر په حالت کی هم او دحضر په حالت کی هم دلمانځه دپاره قرائت ضروی دی .ګوا کي دا ترجمة الباب يو عامه دعوه ده او دقرائت متعلق په راتلونکو بابونو کي به

ددې تفصیل راسي .
په اول نظر کی دا معلومیږي چي بخاری شریف مطلق قرائت ضروری بولی او دفاتحې او غیر فاتحې څخه په دغه ترجمه کي بحث نه کوی کوا کي زموږ موافقت کوي حالانکه هغه په دغه مسئله کي زموږ سره نه دی دی دقرائت خلف الامام قائل دی پر دا موضوع ئې یوه مستقله رساله "جزء القرائت خلف الامام" په نامه لیکلې ده او په دې کی ئې دامکان تر حده پوری طاقت صرف کړی دی . چي مذهب که دی نو دغه او ددې په خلاف یا خو ثابت نه دی یا ډیر کمزوری دی لیکن دا مسئله چي کله په بخاری شریت کي راغله نو ډیر احتیاط څخه ئې کار واخیستی امام بخاری باید دخپل مسلک مطابق ویلي وای "وجوب الفاتحه للامام والماموم الخ . ." داسی معلومیږي چي امام بخاری هم دمسئلې باریک والی محسوس کړی ؤ . چي دهٔ صفا وویل چي مو قع نه ده ددې وجهی باید دابهام څخه کار واخیستل سي . که نه دهغه په نظر دلته دوې مسئلې دي یوه دقرائت خلف الامام مسئله او دوهم درکنیت دفاتحې . داولي مسئلې په هکله خو ده وفرمایل چي "القرائت خلف الامام والماموم" مقتدی ئې دامام سره واخیستی چي قرائت دامام دپاره هم ضروري دی او دمقتدي دپاره هم ضروری دی او دا خبره دلته هم واضح نه سوه چي پر دواړو یو رقم قرائت دی فاتحه او ضم دسورت هم،یا که په دې دواړو کي یو څه فرق دی چي پر مقتدی خالی فاتحه واجب وي دسورت ضم کېدل ضروري نه وي او دویمه مسئله یعني درکنیت دفاتحې په سلسله کي هغه بالکل چپ تیر سو حالانکه چي درو ایاتو په باب کي هغه روایت هم مذکور دی چي

هغه دفاتحې درکنيت په سلسله کې په ډېر تاکيد سره پيښ کيږي او خپله امام بخاري دجزء القرائت په مسئله کې پر دغه مسئله استدلال کوي موږ پوهيږو چې امام بخاريؒ چې دلته دکوم شي پرده داری کوي په دې کې ئې په انصاف سره غور او فکر کولو دپاره ډېر څه موجود دي داصلي مسئلې دوضاحت څخه دځان خلاصولو بعد امام بخاريؒ چې په ترجمة الباب کې کمه خبره کړې ده هغه دڅو اجزاؤ څخه مرکب ده .او دهغه قدر مشترک دادی چې په هر رقم لمانځه کې په هر حال کې قرائت ضروري دی او ددې دپاره امام بخاری دليل هم مرکب پيش کړی دی په هر هر روايت کې ټول اجزاء نسته بلکه په مجموعه رواياتو کې به دعوه ثابته سي موږ به پر اصل موضوع وروسته خبره وکړو .اول دبخاري دذکر سوو رواياتو تشريح او د هغو څخه دبخاري دمقصد د ثابتولو طريقه به معلومه کړو .

داول حديث تشريح:

حضرت جابر بن ثمرهؓ چې دحضرت سعد بن ابی وقاصؓ وراره دی بيان کوي چې دکوفې بعضو خلکو تر حضرت عمرؓ پوري دحضرت سعد بن ابی وقاص شکايت وکړی او حد خو داسو چې وې ويل چې دی سم لمونځ لا هم نه سي راکولای .حضرت سعدؓ دعشره مبشره څخه دی دالله په لار دتير اندازي کولو والا اول مسلمان دی په بدراو نورو غزواتو کې شريک اوسپدلی دی .همېشه به هغه کسانو کې وُچا چې به درسول اللهﷺ حفاظت کاوه .يوار نبيﷺ ده ته "اللهم سدد فهمه واجب دعوته" دعا وکړه ددې وجهی دی مستجاب الدعوات وُ .دحضرت عمرؓ په دور کې

چي کـلـه کـوفـه پـه يـوه منصوبه سره آباد کړل سوه نو سعد بن ابی وقاصؓ ددغـه اميـر مقرر کړ سو او څو کاله پر له پسې دی هلته امير ؤ . دکوفې په آبـادی او تـرقـی کـی دده لـوی لاس دی څو مره عجبه خبره ده چي سعدؓ کوفه آبـادوي خو بيـا هـم بـعـضـي خلک متـعـدد شـکـايتونه کوي .فعزله عمر الـخ . . . کـلـه چي شـکـايتـونـه تر حضرت عمرؓ راوسدېدل نو ئې حضرت سـعـد دخپـلـی عـهـدې څـخـه مـعـزول کړی . (معلومه سوه چي که چيري دمـصلحت تقاضا وي نو دحال دتحقيق کولو يا دالزام تر ثابت کېدلو دمخه هم معزول کول ثابت دي)

حـضـرت عـمـرؓ حضرت سعد وروغوښتی او دده څخه ئې معلوم کړل چي سـتـا پـه هـکـلـه شـکـايت دی چي تاسي په ښه طريقه سره لمونځ لا نه ورکـوئ .حـضـرت سـعـدؓ چي کوم جواب ورکړی دهغه سره دامام بخاري تر جمة الباب هم متـعلق دی ددې حاصل دادی چي زه په لمانځه کی په پوره تـوګـه سـره دنبي ﷺ دطريقې پيروي کوم .هيڅ کمي نه کي کوم دمثال پـه توګه زه ورته وايم چي دماخستن لمونځ څلور رکعته دی زه دنبی ﷺ پـه رقـم پـه اولـو رکعتو کي تر ډېره درېږم او آخری دوه رکعتـه سپک يعني لـږ کـي درېږم مطلب يې دادی چي په اولو رکعتو کي دفاتحې سره سورت هـم وايـم او پـه آخری دوو رکـعـتـو کـي صـرف فـاتحه وايم نه سورت .ددې څـخـه دتـرجـمة الـبـاب يـو جزء يعني قرائت علی الامام ثابت سو پر مقتدی دقـرائـت دوجـوب يا دجواز هيڅ خبره نسته زيات زيات دا ثابت کېدای سی چي نبـي ﷺ پـه هـر رکـعـت کـي قـرائـت کاوئ او داچي بعضي جهری او بـعـض سری وو . لاکن دا چي داسی کول واجب يا سنت دی نو ددې دپاره هم

پـه يـوه روايت كـي هيڅ صراحت نستـه هو دومره ويل كېداى سي چي دنبي ﷺ دغـه عـمـل على المواظبت وو ددې وجهي ددې څخه ئې وجوب ته اشاره وسوه .

ذاک الـظـن بک:حضرت عمرؓ وفرمايل ستا په هكله زما دغه گمان وو يعنـي زه ستـا پـه باره كي مطمئن وم يو بل ځاى ئې وفرمايل چي :فان لم اعـز لـه في عجز ولا خيانة ،چي ما حضرت سعدؓ ديوه كوتاهي يا يو خيانت لـه كبلـه نـه دى مـعـزول كـړى دخپـل منځني معاملاتو خبره وسول لاكن دشكاياتو ده ازالې دپاره ده باقاعده دتحقيق ضرورت دى .

فـارسـل مـعـه الـخ . . . دتحقيق دپاره ئې كوفې ته څو خلک واستول هغو خـلـكـو دا طـريـقـه اختيـار كړل چي دكوفې ټولو مساجدو ته ورسېدل چي هلتـه دمسـلـمـانـانـو اجتـمـاع كيږي او دحضرت سعدؓ په هكله ئې دټولو شـكاياتو په باره كي معلومه كړل .چي تاسو حضرت سعدؓ څنګه موندلى دى؟هر ځاى خلكو دحضرت سعدؓ تعريف ورتـه وكړى .چي دى ډېر نېک او صالح صحابى دى .او هغه ټولي خبري چيځ كم چي په شريعت كي ښه دي هغه په ده كي موجود دي . تر دې حده چي دبنوعبس يو مسجد ته ولاړل نو يـو سـړى چي دهغه كنيت ابو سعده او نوم ئې اسامه بن قتاده وو دغـه بيـان ئې وكړى:

"امـا اذانشـد تـنـا الـخ . . . مـراد ئې دادى چي نور خلک چي ئې صفت كوي ذمه داره ئې هغه دي مگر تاسو چي اوس ماته قسم راكړى نو زه مجبوره يم چي ووايـم چـي اولـه خبـره داده چـي سـعـد دجهاد دپاره لښكر واستوى خو خپـلـه پـه جهاد كي شركت نه كوى .او دويمه خبره دا چي مال په انصاف نه

تقسيموي او دربيم دا چي فيصله په انصاف سره نه کوي يعنى هغه پرده دري اعتراضونه وکړل .اول شجاعت ورنفى کړى دوهم يې ديانت ورنفى کړى دريم يې عدل ورنفى کړى حالانکه حضرت سعد ددغه درو سره عيبو څخه پاک ؤ .دا چي کله حضرت سعدؓ واورېدل نو په خښم سو چي ده زما په هکله داسي بې بنياده خبري وکړې . په بعضو کي فغضب سعد او په بل روايت کي :اعلىٰ تشجع راغلى دى .

اما والله لادعون الخ . . .حضرت دغه کس ته دري بد دعاوي وکړې لاکن څومره دحيرت خبره ده چي په دغه حالت کي هم دى دانصاف څخه کار اخلي دغه بد دعا (ښرا)يې تر دوو خبرو معلق کړل چي پروردګاره که دغه سړى درواغ وايي او که په دغه درواغو کي يې دنيوي غرض وي نو زه ددغه درو درواغو په مقابل کي دري ښراوي کوم .دى وايي چي زه جهاد ته نه ځم زما ژوند خوښ دى نو زه دا خواست کوم چي دغه دروغ ويونکي ته اوږد ژوند ورکړه يعني ارذل العمر ته يې ورسوه .الٰهي دى وايي چي زه دمال په تقسيم کي انصاف نه کوم يعني دمال طلبګار يم خدايه که دى دروغ وايي نو ته ئې فقر ورډېر او دراز کړه .دى وايي چي زه دمسلمانانو په مابين کي انصاف نه کوم طرفدارى کوم يعني فتنې خپروم الٰهي که دى کاذب وي نو په فتنو کي ئې مبتلاکړه .دحضرت سعدؓ دعاوي قبولي سوې ددغه سړي عمر ډېر وو .فقير و وخيراتو نه يې غوښتل په فتنو کي اخته وو .عبدالملک فرمايي چي ما دغه ابو سعيد وليدى چي دطويل العمرئ له کبله يې ورځي دستر کو سره لګېدلې په لار کي ئې دښځو سره کار درلودى اول روايت ختم سو .ددې څخه صرف دا

معلومه سوه چي امام به قرائت کوي .
دمقتدي يا منفرد په دې کي هيڅ ذکر نسته خو دروايت څخه ډيري فائدې اخيستل کيدای سی .مثلاً دظالم دپاره بد دعا (ښرا) کول جائز دی داهل الله سره په زړه کي بغض ساتل دتباهي سبب جوړيږي . .

ددويم حديث تشريح:

دويم روايت دحضرت عبادةؓ بن صامتؓ دی چي دغه دفاتحې درکنيت او دقرائت خلف الامام دپاره پـه ډېر اعتماد سره دثبوت پـه توګـه پيشيږي .پـه روايت کي دی چا چي فاتحه نه وويل دهغه بالکل لمونځ نه دی صحيح مقصد دترجمې په وضاحت کی بيان سوی وو .چي دامام بخاريؒ پـه نظر کي دوې مسئلې دي .يو رکنيت دفاتحې او دويم قرائت خلف الامام ددې روايت څخه دمخه پر دغه مسئله داستدلال طريقه داده چي دلته لاصلوٰة الخ . . فرمايل سوی دی لا دنفی دجنس ده حقيقت ده نفی تقاضا کوي ددې مطلب داسو چي دسورة فاتحې بغير حقيقت دلمانځه نه سو محقق او درکنيت دغه معنیٰ ده . په دوهمه مسئله کي د استدلال طريقه داده چي پـه روايت کي.دوه ځايه عموم دی يو په لاصلوٰة کی چي نکره پـه نفی کي عموم فائده کوی ګوا کي مطلب يې داسو چي لمونځ کـه دامام او دمنفرد وي که پر کور دفاتحې بغير ئې وجود نسته اودويم عموم دلم يقرء په من کي چی که لمونځ کوونکی کـه هر يو وي که امام وي کـه مقتدی وي دفاتحې دقرائت بغير لمونځ نه کيږي .پر دويمه مسئله به خبره ددروسرو ورواياتو دتشريح بعد کيږي . خو پر اوله مسئله يعنی رکنيت دفاتحې په دې سلسله کي دلته يوه خبره کيږي چي امام

شافعیؒ درکنیت قائل دی دامام مالک یو قول هم ددې مطابق دی په بل روایت کي دفاتحې سره دضم دسورت د دواړو قائل دی امام احمد په مشهوره قول دشوافعو سره دی او دوهم قول ئې داحنافو په رقم دی .

دفاتحې درکنیت په سلسله کي دائمه ثلثلة دلیل دحضرت عبادةؓ روایت دی چي په هغه کي لاصلوٰة لمن الخ . . . فرمایل سوي وو داستدلال طریقه ذکر سول داحنافو دلیل دقرآن آیت فاقرئو ماتیسر من القرآن دی چي ددې څخه دمطلق قرائت رکنیت ثابتیږي .او د " مسئی فی الصلوٰة " صحیح روایت چی په دغه باب کي ذکر دی .چي په هغه کي " ثم اقرأ ما تیسر من القرآن "فرمایل سوي دی ددې څخه هم د مطلق قرائت درکنیت اثبات کیږي . گوا که دقرآن کریم آیت قطعی الثبوت او قطعی الدلالة دی هغه مطلق قرائت فرض گڼي او شوافع دحضرت عبادةؓ روایت "لاصلوٰة الخ . . څخه چي خبر واحد دی او ظنی الثبوت او ظنی الدلالة دی دقرآن کریم دعموم تخصیص کوی او داسی کول داحنافو دمقرر کړل سوو اصولو خلاف دی .

دبعضي حضراتو دطرفه دا هم فرمایل سوي دی چي حدیث لاصلوٰة الخ . . خبر واحد نه دی خبر مشهور دی لکه څنگه چي امام بخاري په جزء القرائت کی فرمایلي دی او دخبر مشهور څخه دکتاب الله تخصیص جائز دی لاکن علامه عینی فرمایلی دي چي دې روایت ته خبر مشهور ویل جائز نه دي .دا مسئله دتابعینو په دورکی هم اختلافی وه که چیری بالفرض دا خبر مذهور ومنل سي نو دوهمه خبره داده چي چي د کتاب الله دتخصیص دپاره دخبر مشهور محکم کېدل ضروری دی .په محتمل کار

نـه کیـږي . او دلتـه دا قـوي احتـمـال مـوجـودې چېپـه لا صلٰوة کی نفی دحقیقت پر ځای دکمال پر نفی محمول سی .

دلتـه دا خبـره یاد سـاتـل په کار ده چي دحضرت عبادهؓ په روایت کي لا صلٰوة پـر کـمـال نفی محمول کول داحنافو په نیز صرف په هغه صورت کی وي چي دټولو قرائنو څخه صرف نظر وسی او صرف ددغه الفاظو پر ظاهر انحصار وسی چي هغه دبخاری په روایت کی دي .او مراد دادی چي دفاتحې نه ویلو په صورت کي دلمانځه نفی کیږي لاکن که چیری دنورو قرینو لحاظ وسی او معنی متعین سی او دغه متعنه معنیٰ مراد سی چي دفاتحې او سورت دواړو په نه ویلو سره دلمانځه نفی کیږي نو په دغه صورت کي دلاصلٰوة څخه نفی دذات مرادیږي .

ددې احتـمـال دقـوي کېدو وجـه داده چي حضـرت ابـو هریرهؓ صحیح روایت دنفی دکمال معنیٰ یې راجح کړې ده چي په هغه کي ارشاد کول سوی دی (من صلی صلٰوة لم یقرأ فیها بام القرآن فهی خراج ثلاثا غیر تمام (مسلم جلد ۱ ص ۱٦۹) چا چي په لمانځه کي سورة فاتحه نه ویل دهغه لمونځ ناتمام او ناقص دی .

ددې وجهی احنافو په قرآن وحدیث دواړو عمل وکړی نو مطلق قرائت یې رکن او فرض او دسورة فاتحې قرائت یې واجب وګڼی نو وایې چي څوک چي مطلق قرائت نه وکړي بالکل یې لمونځ نه صحیح کیږي او که قرائت وکړی او سوره فاتحه نه ووایی نو لمونځ ئې نامکمل دی .او دواجب دپرېښودلو په بناء واجب الاعاده دی .نو ګوا کی ویل سوی او نه ویل سوی برابر سوه ددې وجهی بعضو حضراتو دې ته صرف نزاع لفظی

ويلې ده لاکن واقعه داسې نه ده حقيقت دادی چې داحنافو نظر دقيق دی او دوی تمام دلائل پر خپل خپل ځای ايږدو لو کې کامیابه دی .

د دريم حديث تشريح:

د ريـم روايت دحضـرت ابـو هريرةؓ دی چې مسئی فی الصلٰوة په نامه سـره مشهـور دی روايت دی نبی ﷺ مسـجـد تـه داخـل سـو او پـه بعضو روايـاتـو کې دي چې نبیﷺ دمسـجـد پـه کونج کې ناست وو نو يو کس چې نوم يې خلاد بن رافع انصاری وو مسجد ته راغلی دوه رکعته لمونځ يې وکړی کېدای سی چې تـحية المسجد يا نور نفل لمونځ وو غرض دا چې لمونځ سوی وو ده يواځې لمونځ کاوی نو نبیؐ ورته وکتل د(يرمقه) الفـاظ کيـدی .دلـمـانـځـه وروستـه نبیﷺ راغلی ورتـه وې ويل ارجع فـصـل الـخ . . . ستـا لـمـونـځ نـه دی صـحـيح بيرته لمونځ وکړه دلمانځه وروسته ئې بيا سلام وکړی نبیؐ بيا ورته وويل دوباره لمونځ وکړه حتیٰ درې واره داسـې قصه وسول نو هغه ورته وويل : والذی بعثک الخ . .يعنی زمـا داسـې لـمـونـځ زده دی لکه دا اوس چې ئې کوم تر دې مې نور څه نه دی زده 'ددې تـفـصـيـل څـخـه دا مـعلوميږي دغه کوتاهی داسی کوتاهي نه ول چې لمونځ دي په فاسد سي ځکه داسي ځنگه کېدای سي چې يو څوک دي بـار بـار دنبـی ﷺ ويـنـا باطل عمل کوي او نبی دي څه نه ورته وايي شايد هغه فرائض په سمه توګه ادا کول په واجباتو کې به يې کوتاهی کول (لهذا واجب الاعاده) بهر حال هغه چې ورته وويل نو نبیﷺ وفرمايل :اذا قمت الـی الصلٰوة الخ . .چې کله ته دلمانځه اراده وکړې نو تکبير ووايه ثم اقراء مـاتيسـر مـن الـقـرآن يـعنی په حديث کې هم بعينه داسې ده لکه په قرآن

کي ثم اقرأ القرآن الخ . الفاتحه نه وفرمايل سوه بلکه دمطلق قرائت حکم وسو اوس که څوک ووايي چی دماتیسر څخه مراد خاص فاتحه ده نو به دا ورته وويل سي چي دا تشريح ئې ته پخپله کوي نبي ﷺ خو ماتيسر فرمايلی دی . ددې وروسته درکوع او سجدې او دتعديل ارکان داهميت په هکله وفرمايل چي ددې دمراعت دنه کولو دوجهی څخه اعاده دربانديٍ کړل کېدل بيا دوفرمايل وافعل فی صلوٰتک کلها چي په خپل ټول لمانځه کي ددغو هداياتو پيروي کوه . دصلوٰتک څخه په ظاهره دغه لمونځ مراد دی چي دمخاطب طرف ته منسوب سوی دی . او ظاهره ده چي هغه لمونځ انفرادی وو ددې څخه معلومه سوه چي دمنفرد دپاره په لمانځه کي قرائت ضروري دی .

دامام بخاري

داستدلال خلاصه:

خلاصه داده چي دامام بخاري ترجمة الباب دلمانځه دقرائت دوجوب په هکله پر څو اجزاء مشتمل وو .او دهغو اجزاوو داثبات دپاره چي امام بخاری صاحب کم درې روايتونه پيش کړی دي په هغو کي داول تعلق صرف دامام سره دی او ددريم تعلق دمنفرد سره او دحضرت عبادة بن صامت دوهم روايت په هغه کي کواکي تعلق نه تر امام پوری سته او نه تر مقتدی پوری .ديوه صراحت نسته کي ليکن په تعبير کی ئې په ظاهره مقتدی هم داخل کي کېدای سي . ددې وجهی دامام بخاری دقرائت خلف الامام په مسئله کي ترجمة الباب پر څو اجزاوو کي تر ټولو اهم جزء

دی هغه صرف په دوهم دلیل سره ئې استدلال ممکن دی ددې وجهې ددغه روایت څخه دقراءت خلف الامام پر مسئله باندې دکړل سوی استدلال جائزه اخیستل ضروری دی چې مقتدی په دې عموم کی داخل دی که نه . لیکن ددې مسئلې دشروع کېدو دمخه دفقهاء مذاهب اربعه بیانول مناسب دی:

بیان دمذاهب اربعه :

داحنافو مذهب دی چې لمونځ که سری وی که جهری دامام شاته دمقتدی قراءت نه دی جائز .دحنابله او مالکیه وو په نیز مقتدی ته په سری لمانځه کې دفاتحې دوېلو اجازت سته لیکن واجب نه دی بلکه دمالکیه وو په کتابو کی داسې لیکلي دي چې ،فان ترک القراءة فلا شيء علیه لان الامام یحملها . یعنی په سری لمونځ کې که یې نه ووایې نو باک نسته ځکه امام دغه ذمه داري پوره کوي البته دامام احمد په نیز په جهری لمانځه کې دلیري والې دوجهې څخه که چیری مقتدی آواز نه اورېدی نو دقراءت اجازت سته دلته هم واجب نه دی ګواکه دادرې سره امامان دمقتدی په باب کې کی ئې یو اندازه اختیار کړی دی وامام شافعي ته ددې خبری نسبت کیږي چې که جهري او که سری لمونځ وي پر مقتدي قراءت واجب دی په "محتصر مزنی" او "مهذب" دوجوب خبره نقل سوې ده امام بیهقی ودغه قول ته جدید ویلي دی لیکن دامام شافعی دکتاب الام څخه ددې تائید نه کیږي . دکتاب الام دزوړ والي یا نوي والي په هکله دشوافعو دوه اقواله موجود دی .امام الحرمین دغه دامام شافعي د کتب قدیمه څخه ګڼي لیکن دغه خبره دعقل څخه لیري ده دغه کتاب

دامـام شـافـعـي دمـصـر څخه دراتک بعد دی او دمصر څخه دراتک وروسته کتـابـونـه کتـب جـدیـده دي .ددې وجهـی جلال الدین سیـوطی دغـه دکتب جدیـده وو څـخـه ګڼلی دی .په کتاب الام کی دي چي پر امام او مقتدي په هـر رکـعـت کـي فـاتـحه ویل واجب دي ددې وروسـتـه ئې فرمایلي دي: وسا ذکر الـماموم ان شاء الله تعالیٰ . چي دمقتدی حکم به وروستـه بیان سي، (کتـاب الام جلد ۱ ص ۹۳)

وروستـه ئې داختلاف عنی وعبدالله بن مسعودؓ په تفصیلي باب کي پـه کتـاب الام (جلـد ۷ ص ۱۵۳) کـي دمـقتـدي پـه هـکـلـه فرمایلي دي :کل صلـوٰۃ صـلیـت خلف الامام والامام یقرء قراءۃ لایسمع فیـهـا قرء فیـهـا .هر هغـه لمونځ چي په امام پسي وسي او امام داسی قرائت کوي چي نه اورېدل کیـږي نـو مـقـتـدی بـه پـه هغه لمانځه کي قرائت وکړي . (کتـاب الام جلد ۷ ص ۱۵۳)ددې عبـارت مـطـلـب داسـو چـي امـام پـه جهری لمانځـه کـي وي او مـقـتدی قرائت اوروي نو به مقتدی قرائت نه کوي لیـکـن دکـتـاب الام ددغه تـصـریـحـاتـو بـاوجـود دشـوافـعـو مسـلـک دادی چي هر مقتدی هم پـه ټولو رکـعـتـو کـي فـاتـحـه ویـل واجب ده .په (شرح مهذب) کي دي ان مذهبنا وجـوب قـراءۃ الـفـاتحه علی الماموم فی کل الرکعات من الـصلوٰۃ الـسریة والـجـهـریة هـذا هـو صـحیـح عندنا،بعض حضرات وایي چي دوفات څخه دوه کـالـه دمـخـه امـام شـافـعـيؒ پـه جهري لمونځو کـي دقرائت اجازه نـه ورکـوی،وروستـه یې قائل سو .که څه هم امام شافعی رایه بدلـه کړه لیکن پـه تـلامذه وو کـي یې اختلاف موجود پاته سو ممکنه ده چي پـه هغـه وخت کي دوجوب خبره محقق نه ول وروسته دي ئې تشدد اختیار کړی وي .نو

ځکه امام محمدؒ فرمائي :ما سمعنا احد من اهل الاسلام يقول :ان الامام اذا جهر بالقراءة لا تجزی صلوٰة عن خلفه اذا لم يقرء (المغنی جلد ۲ ص ۲۶۲)

موږ داهل اسلام څخه ديوه چا څخه نه دی اورېدلي چي په جهري لمونځو کي چي مقتدی قراءة نه وکي نو لمونځ ئي نه صحيح کيږي . دامام احمد دقول څخه دا خبره معلوميږي چي دده په نظر کي دامام شافعي قول دوجوب نه دی که نه امام محمد صاحبؒ دومره عامه دعوه نه کول نو ددې وجهی دا خبره قرين قياس ده چي دامام شافعي او دهغه دتلامذه وو په دور کي شايد دغه خبره محقق نه وه چي په جهري لمونځ کي دي قرائت خلف الامام واجب وګڼل سي يا مستحب .ليکن وروسته دوجوب قول ته ترجيح ورکړل سو .علامه ابن تيبمه هم دامام احمد دطرف څخه په جهری لمانځه کي دقرائت پر عدم وجوب اجماع نقل کړې ده . ذمه داری پر هغه ده الفاظ دغه دي :وذکر امام احمدؒ) علیٰ انه لاتجب القراءة علی المأموم حال الجهر . (فتاویٰ ابن تيبمه جلد ۲۳ ص۲۶۹)او بل ځای ئي دخپل ځانه پر عدم وجوب باندي ئي اجماع او دفاتحي په سلسله کي ئي پر عدم وجوب دجمهور سلفو قول ګڼلی دی .او قراءة خلف الامام ئي منکر او دقرآن وسنت خلاف ګڼلی دی . وګوریٔ فتاویٰ ابن تيبمه جلد ۲۲ ص ۳۴۲) که په انصاف سره وکتل سی نو دمذاهب اربعه خلاصه داده چي ائمه حضرات داقتداء مسئلي ته او دامامت او انفرادي لمانځه ومسئلي ته په جدا جدا نظر ګوري ګوا که دا شريعتؒ په نظر کي دوه مستقل بابونه دي چي جلا جلا قائم سوي دي ځکه دامام اعظم امام مالک او امام محمد په نيز په جهري لمانځه کي پر مقتدی قرائت نسته او په کتاب الام کي امام

شافعيؒ هم فرمايلي دي چي دمقتدى بحث زه جلا ذكر كوم په دغه سلسله كي ائمـه متبو عينو دمذهب تفصيل خو هغه ؤ چي تېر سو .ليكن دلته خو امام ترمـذى كمال كړى دى دقرائت خلف الامام په مسئله كي ئې امام مـالكؒ امـام شافعي او امام احمدؒ يوې خواته او اهل كوفه ئې بلي خواته ذكر كړى دى .ګوا كـه كثـرت سـواد ئې مـطلوب دى حالانكه ددې موقع نه وه ځكـه امام مالكؒ او امام احمد خو په جهرى لمانځه كي د ترک قرائت قائل دي او په سري لمانځه كي هم قرائت واجب نه بولي .والله اعلم .

دصحابه وو او تابعينو او اهل علم مسلک:

دا رايه خو دائمه وو مذاهب ولې ددې علاوه دصحابه وو تابعينو او نور اهل علم فقهاؤ څه مسلک وو نو دا خو ذكر سول چي امام احمد وائي چي ما يـو داهـل اسلام څخـه نـه دى ليدلى چي وايي په جهرى لمانځه كي قرائت خلف الامام دنـه كوونكي لمونځ دي نه وي صحيح او دهغه قول تفصيل دغه دى:

”قـال (احمد) هذا النبى ﷺ واصحابه والتابعو ن وهذا مالک فى اهل الـحـجاز وهـذا ثـورى فـى اهـل الـعـراق وهـذا الاوزاعـى في اهل الشام وهذا الـليث فـى اهل مصر ما قالوا الرجل صلى خلف الامام وقرء امامه ولم يقرء هو صلّته باطلة“ (المغنى جلد۲ ص۲٦۲ .)

دامام محمد دقول څخه صفا معلوميږي چي دغه قول درسول الله ﷺ دسنت دصحابه ؤ او تابعينو داقوالو او دمشهورو بلاد اسلاميه دفقهاء كرامو دمسلک مختار دتحقيق بعد فرمايلي دى بيا دصاحب مغنى موفق

الدين ابنِ قدامه شاگرد او وراره شمس الدين بن قدامه په شرح مقنع كي دبعضي صحابه او تابعينو او فقهاء اسماء ذكر كړي دي فرمايي:

"ولاتجب القرأة على الماموم هذا قول اكثر اهل العلم وممن كان لا يرىٰ القرأة خلف الامام علىٰ وابن عباسؓ وابن مسعود وابو سعيد وزيد بن ثابت وعقبة بن عامر وجابر وابن عمر وحذيفة بن اليمان وبه يقول الثورى وابن عينية واصحاب الرأى ومالك الزهرى والاسود وابراهيم وسعيد بن جبير قال ابن سيرين لا اعلم من السنة القرأة خلف الامام (شرح مقنع جلد۲ ص ۱۱)د (ممن كان لايرىٰ) الفاظ وايي چي داد واجب نه ويلو پوره فهرست نه دى بلكه دهغو څخه يو څو اهم نومونه ذكر سول . او دا لكه څنگه چي امام احمد فرمايلي ؤ چي دقرائت خلف الامام په عالم اسلام كي يو هم قائل نه دى دغه رقم دمحمد بن سيرين دالفاظو څخه واضح ده چي دقرأة خلف الامام عمل خلاف دسنت دى .

دحضرت عبادةؓ دروايت دعموم څخه استدلال:

دلوړو تصريحاتو څخه معلومه سوه چي دجمهورو صحابه او تابعينو مسلک دقرأة خلف الامام دوجوب يا استحسان نه دى او په حديث كى هم په هيڅ ځاى كي په صراحت سره نسته چي قرأة خلف الامام واجب دى البته دبعضي رواياتو داجمال او عموم څخه پر دغه مسلک باندي استدلال كيداى سى چي په دې كي تر ټولو مضبوط دليل دعباده بن صامتؓ روايت دى چي :لاصلٰوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب .دلته دوه ځايه

عـموم دى يو نكره لاندي تر نفي چي هغه هر رقم لمانځه ته ور شامليږي .
دويـمه كلمه دمن چي داهر لمونځ كوونكي باندي مشتـمل دى چي مطلب
ئې داسـى كيـږي .دا هر لـمونځ كوونكي هر رقم لمونځ دفاتحې بغير نه
صحيح كيـږي .ددليل وېونكو دعوه داده چي په دغه عموم كي مقتدى هم
داخـل دى كـه چيـرى دعـمـوم دغـه دعـوه درستـه وى نو دهغو خلكو دپاره
ددليـل ګـنـجايش ستـه او كه دغه دعوه ثابت نه وي نو خبره يې كمزورى ده
اوس موږ ته په انصاف سره ودې ته كتل دى چي ددغه روايت په عموم كي
دمقتـدي داخل والى په خبره كي څومره وزن ستـه؟

دمنصفانه جائزې ضرورت او دهغه بنيادونه:

پـه ښـه انـصـاف سـره دجـائـزې ضرورت ددې و جي محسـوس سو چي
دامـام بـخـاريؒ ذكـر سـوى دحضرتؓ عبادةؓ روايت چي :لاصلٰوة لمن لم يقرأ
بـفاتحة الكـتـاب .دقرأة خلف الامام په باره كي نص نه دى ځكه چي په دې
كـي نـه دمـقـتـدي ذكـر ستـه او نـه دخلف الامـام قيد ستـه ددې وجهى دقرأة
خلف الامـام پـر مسـئله باندي دليل نيوونكودخپلي خبري مدلل كېدو لو
دپـاره دخـارجي بـحـثـو څخه كار واخيستى چي دلته كلمه دمن عـامه ده او
دلتـه نـكـره تـحت الـنفى ده وغيره كه چيري دخلف الإمام صراحت واى نو
ددغـو شيـانـو ضـرورت به نه واى بالكل دغه رقم دغه روايت دخلف الامام
مسـئـلـې بـاندي دغير متعلق ويلو والاوو هم مضبوطه خارجي دلائل ذكر
كـړل ددې وجهـى دانـصـاف تـقـاضـا دا مـعـلـوميـږي چي دنبى ﷺ دحديث

مبارک دصحیح معنیٰ مرادولو دپاره باید څو بنیادونه قائم سی ځکه چي دصحیح موازنه کولو او صحیح فیصلي ته درسېدو دپاره آسانی پیدا سي . نو دغه لیکل سوو نقاطو ته بنیادی حیثیت حاصل دي:

۱: ددغـه روایت نورو طرق او ددغـه مطابعات، او شواهد و څخه دحدیث څه مفهوم متعین کیږي؟

۲: پـه دغـه روایت کي په صحیح سند سره د(فصاعداً) داضافي وروسته څه مطلب متعین کیږي؟

۳: ددغـه حدیث راویانو عموماً دغه روایت پر کمه معنیٰ حمل کړی دی .

۴: ددغه موضوع پـه هکله دقرآن کریم څه حکم دی؟

۵: نبی ﷺ ددغه حدیث علاوه نور څه ددغه موضوع په هکله فرمایلي دي؟

٦: دنبی ﷺ دعمل له کبله کم طرف راجح کیږي .

۷: صحابه کرامو د دغه حدیث څخه څه معلوم کړل او عمل ئې پر دې حدیث څنګه وو،

۸: پر موضوع دامامت او اقتداء دشریعت عام هدایات څه دي؟

اوس مـوږ پـه اختـصـارسـره ددغـه مـوضـوعاتو په هکله خبره شروع کوو هر عنوان دنه وخت له کبله مختصر ذکر کوو:

۱:دحضرت عباده

دروایت نور طرق:

دډې روایت پـه باره کي دا خبره ذهن نشین که چي دا دوه رقم راغلی

دی یو مختصر او یو مفصل .

دصحاح دمختصر روایت الفاظ خو ستاسی مخ ته وو . مفصل روایت په ترمذی ابو داؤد کي ذکر دی .دابو داؤد دروایت الفاظ دغه دي:

عن عبادةؓ بن صامت قال کنا خلف رسول الله ﷺ فی صلٰوة الفجر فقرأ رسول الله ﷺ فثقلت علیه القرأة فلما فرغ قال لعلکم تقرء ون خلف الامامکم قلنا نعم یا رسول الله ﷺ قال لا تفعلوا الا بفاتحة الکتاب فانه لا صلٰوة لمن یقرأ بها (ابو داؤد جلد ۱ ص ۲۲)

دسهار دلمانځه په واقعه کي دحضرت ابو هریرةؓ په روایت کي دنبی ﷺ په سوال کي دادي هل قرأ معی احدمنکم آنفاً (ترمذی ص ۷۱)

فقال رجلاً نعم . بیا په بعضي روایاتو کي منازعت په بعضو کی مخالجت ذکر دی چي ده وفرمایل چي ستا دقرأت څخه زه په خلجان کي واقع سوم یا په لمانځه کي کش مکش پیدا سو دا په دغه روایت کي ذکر سوي ځو الفاظ ولیکل سول چي دهغو تفصیل به ورسته راسي .

دشیخ الهند قول

شیخ الهند فرمایل چي دحضرت عبادةؓ دوه روایاته دي چي په هغو کي مختصر روایت صحیح دی لیکن هغه دقرأت خلف الامام په باره کي صریح نه دی او دسنن مفصل روایت په یو درجه کي صریح دی مگر صحیح نه دی او ددعوې دثبوت دپاره ددواړو خبرو جمع کیدل ضروری دی چي روایت پر خپله مدعا صریح هم وي او صحیح هم وي .

دشیخ الهند خبره ډیره جامع مختصره او ښه خبره ده .

مختصر روایت دمفصل جزء دی

دشیخ الهند قول دقرائت خلف الامام ددعوه کونکو دپاره جواب دی چې تاسو دخپلې دعوې په اثبات کی ناکام یاست .تاسوزموږ څخه صحیح روایت طلبوئ نو تاسو هم ددغه دوو صفتو والا یو روایت پیش کړئ یعنې چې دهغه صحت هم مسلم وي او په هغه کی دمقتدي دقرأت صراحت هم موجود وي او اصلی خبره داده چې که څه هم دمحدثینو په نیز دا دوه مستقل روایتونه دی لیکن دا حقیقت دی چې دا یو روایت دی ابن حجر داسې فرمایې او حضرت گنگوهیؒ هم ودې طرف ته دی یعنې دا مختصر روایت دی مستقل روایت نه دی بلکه دمفصل روایت یوه ټوټه ده چې جلا کړی ئې دی او ددې دعموم څخه دلیل کوي او اصل مضمون دا وو چې په مفصل روایت کې دا ټوټه په سابق کې دذکر سوې حکم دعلت په توګه راوړل سوی وو .

لاتفعلوا الا بام الکتاب فانه لا صلوٰة لمن لم یقرء بها .مطلب یې دادی چې دامام شاته قرأت مه کوئ او بیا هم که چیري قرأت غواړي نو داباحت مرجوحه په توګه خالی دفاتحې اجازت شته او ددې اجازت هم ددې وجهې ورکول کیږي چې ددې ډېر زیات اهمیت دی ځکه چې دامام او منفرد لمونځ خو ددې بغیر هم کیږي نه ددې تشریح مطابق دحضرت عباده دروایت مقصد دمقتدی دپاره دفاتحې دوجوب بیان نه دی بلکه مقتدی

دقرأت څخه منعه کېده دي .ليکن دمنع کېدو باوجودداباحت مرجوحه په تو که دفاتحې دقرأت اجازت ورکړل سوی دی .بيا ددې اجازت ورکړل کېدو وجه دا بيان کړل سوې ده چې دفاتحې يو جلا حيثيت دی او دغه حيثيت په ټوله قرآن کي يوازې وسورة فاتحه ته ورکړل سوې ده .چې ددغه سورت قرأت معين کړل سوی او لازم ګڼل سوی دی .او په نورو سورتو کي مصلي ته اختيار ورکړل سوی دی چې هر سورة دده خوښه وي دفاتحې سره دی وايي .پر وجوب دليل ويونکو دلا صلوٰة لمن يقرأ الخ . څخه داسې دليل وايي چې کلمه دمن عام ده چې تر دې لاندې ټول لمونځ کوونکي امام مقتدی منفرد ټول داخل دي يعني پر ټولو يې قرأت واجب دی . او دمفصل روايت څخه داسې دليل کوي چې وګورئ په روايت کي مخاطب مقتديان دي اتقرئون خلف امامکم .بيا دوی يې مخاطب کړل او دسورة فاتحې دويلو تلقين ورکوي او فرمايي:

فانه لاصلوٰة لمن يقرأ بها .ددې وجهی مقصد ثابت سو دا ددوی خوش فهمي ده که فکر کي وسي نو ددغه مفصل روايت څخه دقرأت وجوب خو در کنار دقرأت ممانعت ثابتيږي .

په مفصل روايت کي دقرائت دمنع قرائن:

اصل حقيقت داوو چی مختصر روايت دمفصل روايت آخری جزوو . په روايت باندي دښه سر خلاصولو دپاره دروايت دټولو مضامينو احاطه کول ضروري ول . په روايت کی متعدد داسی قرائني سته چي په هغه کي

مقتدی ته دقرائت په وخت کي دچپ او سېدلو تاکید سته مثلاً:
اول دا چي په تولو احادیثو کي یو داسي حدیث نسته چي نبی ﷺ دی مقتدی ته دقرائت قرآن یا دفاتحې دقرأت حکم په صراحت سره کړی وي . دحضرت عبادهؓ په روایت کي سوال او جواب هم دغه وایي چي هیڅ مقتدی ته نبی ﷺ دقرأت حکم نه دی ورکړی بلکه دمقتدیانو دغه عمل دنبی ﷺ په علم کي هم نه ؤ .بعضي مقتدیانو اتفاقاً خپله دغه عمل مختار کړی وو . چي کله منازعت پیدا سو نو ده پوښتنه وکړه چي آیا تاسو دامام شاته قرأت کوئ اتقرء ون خلف امامکم؟ دا الفاظ دفا وایي چي دامام شاته و مقتدیانو ته دقرأت کولو حق نسته او که چا دغه عمل وکړی نو نبی ﷺ په ناخوشي سره ددغه عمل څخه منعه کړې ده .
دویم دا چي دامام شاته دقرأت کولو عمل هیڅ کله دټولو مقتدیانو نسي کېدای ځکه نبی ﷺ ددې هدایت نه دی کړی او دلته معامله دعباداتو ده . چي دلته دخپلي رایي هیڅ کار نسي اخیدتل کېدلای . ځکه دعبادت اعمال دنبی ﷺ دطرفه څخه معین کیږي .ددې وجهي په روایاتو کي دسوال وجواب پر الفاظو باندي دغور فکر کولو سره دغه حقیقت صفا کیږي چي دقرأت دغه عمل دځو معدودو مقتدیانو وو دبعضي روایت الفاظ داسي دي :هل قرء معی احدکم انفا (ترمذی ابو داء ود)آیا په تاسو کي یو چا اوس زما سره قرأت وکړی دسوال څخه معلومیږي چي نبي ﷺ خبردی چي دا دټولو عمل نه سي کېدای .بلکه بعض دا عمل به کوي . احد یا منا احد" لفظ دی دا پر نکره غیر معین دلالت کوی بیا پر جواب غور وکړه .په بعضو روایاتو کي خو "قال

بعضهم نعم وقال بعضهم لا" دی لیکن په بعضو روایاتو کی خو "فقال رجل نعم یا رسول الله ﷺ" ددې روایت څخه معلومه سوه چې قرأت کولو والا یواځې یو مقتدی وو .
دریم دا چې دقرأت کوونکی مقتدي هم سر خلاص سو چې زه غلطی کوم ځان یې سم نه کښی داسی یې نه وویل چې وو ما قرأت وکړی نو دا خو څه غلط کار نه دی . بلکې فرمایي :هذاً یارسول الله ﷺیعنی یارسول الله ﷺقرأت خومي وکړی په ډېره تیزي او عجلت سره منشاء دا معلومیږي چې معذرت یې وکړی . کوا که هغه داویل غواړي ما چې په قرأت کي عجلت اختیار کړی دا مي دمنازعت څخه دځان دساتلو له کبله ددغه آیت دخلاف ورزي څخه دځان ساتلو له وجهی چې اذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتو ،که څه هم دا عذر د ورتل القرآن تر تیلاً .ته په کتلو سره صحیح نه وو لاکن چې کله نبی ﷺ پوښتنه وکړه نو ده جواب ورکړی چې تا استماع سلسله نه ده ختمه کړې .قرأت مي هم واورېدی او ژر ژر مي قرأت هم وکړی دا نو ما دخپله ځانه ښه وګڼله . ددغه قرائنو څخه معلومیږي چې دقرأت کوونکو تعداد لږ بلکه په یوه روایت کي خو صرف یو وو . او کله چې درسول الله ﷺ له طرفه پوښتنه وسوه نو دوی جواب ورکړی ددې وجهی چې زموږ په قرأت اورېدلو او دامام په قرأت ویلو کی نقصان نسی واقع . ددغه جواب څخه معلومیږي چې دوی دخپلي غلطیٔ دغهٔ توجیه کوي چې په ژر ژرو ویلو کي شاید په غلطیٔ کي تخفیف راسي بیا څه ورته وفرمایل سول انداز ته ئې ګوري آیا ده داسي ورته وفرمایل چې ښه دي وکړل . یا په روایت کي موجود دی:

لاتـفعلوا الا بفاتحة الكتاب الخ . . . مطلب د چي كله دغه خلكو دځانه یو كـار بنـه وګڼي او هغه ئي كوي نو نبي ﷺ ددوی ددغه كار څخه په یو وار دمـنـع كـېدلـو پر ځی تدریجاً منع كېدل بنه وګڼي او ورته یې وفرمایل بنه چـي داسـي ده چي تاسو هم یو څه قرأت كول غواړئ نو سوره فاتحه ورسره تـلاوت كـوئ دا خبـره دمصنف بن الجاثيب دروايت څخه صفا معلومیږي چي پـه هـغـه كـي فـرمـايـل سـوي دي : ان كـنـتم لابد فاعلين فليقرأ احدكم فـاتـحة الـكـتـاب بـنـفسـه" یعني كه چیري ډیرخواهش يې لرئ نو سورت فـاتـحـه سـوكه يا په زړه كي واياست .دلته دا خبره صفا ده چي دا حكم زما لـه طرفه نه دی بلكه تاسو شروع په كړې ده او دغه شروع هم بنا پر رغبت ده چـي بـغيـر لـه قـرأته زړه نه مني نو خير دی صرف فاتحه تلاوت كولای سئ .خـلاصـه دا چي ابتداءً دقرأت اجازت نه وو كله چي پوښتنه وسوه نو ددغـو حـضـراتـو د شـدت رغبت په وجه نبی ﷺ په ناخوښي سره داباحت مـرجـوحـه پـه تـوګـه دقرأت اجازت وركړی دمضبوطه قرائنو په بنیاد دغه اباحت مرجوحه ګڼو دوجوب هيڅ قرائن دلته نسته .

آیا دوجوب یوه قرینه ستـه؟

شوافع او اهل حدیث ویلای سي چي كه په حديث كي كه يوازي د :لا تفعلوا الا بفاتحة الكتٰب" الفاظ وای بل شی نه وای نو ستاسو د ذكر سووقرائنو پـر بنياد داباحت خبره قابل قبول كيدای سول ليكن اوس مخ ته دغه الفاظ دي :فانه لا صلٰوة لمن يقرء بها" دغه الفاظ په شانكي ذكر كرده حكم يعنی دقـرأت دفـاتـحـې داجازت ددليل په توګه وفرمایل سول او دليل راته وایي چي فـاتـحـه دمـقـتـدي دپـاره هـم ضـروري ده يـا فرض ده لاكن دحقيقت د

معلومولو دپآره دحدیث پر آخری جمله پر څو طریقو دغور کولو ضرورت دی مثلاً (الف) ددعوې او دلیل مطابقت .

موږ وایو چي هو ددې څخه دهو که کېدای سي لیکن سوال دادی چي دا دکمی دعوې دلیل دی یوه خو هغه دعوه ده چي دنبی ﷺ په کلام کي کی ئي هیڅ ذکر او نه هم قرینه سته دا خو تاسو متعین کړل چي پر مقتدی هم فاتحه فرض ده او بیا مو پر دعویٰ دلیل منطبق کړی په بې انصافی سره .

دو همه دعوه ده چي دنبی ﷺ دالفاظو څخه څه مطلب راو ایستل سو نو داخبره معقوله ده چي دنبی ﷺ دکلام څخه داباحت مرجوحه دعوه مستنبط سوه چي که ستاسو زړه بغیر له قرأت مطمئن نه وي (انکنتم لابداً الخ . . .) نو بیا صرف دفاتحې اجازت سته یا دلته لاتفعلوا الا بفاتحة الکتاب فرمایل سوی دي .دا بالکل داسي دی لکه لا تد خلوا بیوت النبی ﷺ الا ان یؤذن لکم (احزاب ۵۳) چي دپیغمبر کورته مه داخلیږئ مګر نه چي اجازت درکړي .لکه دلته چي داجازت وروسته داخلیدل لازم نه بلکه مباح دی دغه رقم دلا تفعلوا دنهی بعد دالا بفاتحة الکتاب استثناء خالی اباحت راښئي . اوس خبره داسوه چي فانه لا صلٰوة الا بها . دلیل خو دی لاکن دلیل دفاتحې دوجوب نه دی ددې وجهی چي دوجوب دعوه مخ ته نه ده سوې . مخ ته دعوه داباحت بلکه داباحت مرجوحه ده نو دا به ددې دلیل سي او ددې تفصیل دادی چي کله مقتدی دقرأت څخه منع سو ناخوښي ښکاره سوه نو وسورة فاتحې ته اباحت مرجوحه درجه ورکول دلیل ته محتاج سو . یعني چي دامام شا ته قرأت غیر ضروري دئ نو بیا دفاتحې څه خصوصیت دی چي دا دي په یوه درجه

كې مباح سى نو وفرمايل سول چې ددې يو ممتاز مقام دى چې په لمانځه كې فاتحه على السبيل التعين مطلوب دى . او دقرآن نورو سورتو دا حكم نه ى دغه مضمون دحضرت عبادةؓ په دار قطني او حاكم وغيره كې په يو مرفوع روايت كې په داسې الفاظو سره ذكر سوى دى چې :

ام القرآن عوض عن غيرها وليس غيرها منها بعوض " چې فاتحه دنورو سورتو بدل جوړيداى سي نه نور ، خلاصه دا سوه چې په فانه لا صلوٰة الخ . . كې دفاتحې امتيازي شان بيان سوى دى ددې وجهى چې مقتدى دقرأت څخه دممانعت باوجود دفاتحې په سلسله كې دوركړل سوي اباحت سبب معلوم سي او شوافعو دآخرى جملې څخه دا اخذ كړى دى چې فاتحه دمقتدي په حق كې ضروري ده حالانكه دضرورت او وجوب سره ددې هيڅ تعلق نه وو .

(ب) دلم يقرأ مصداق څوك دى؟

دوهمه خبره داده چې په حديث كې فرمايل سوي دي لمن لم يقرأ بها ددې مطلب دادى چې شريعت كم لمنځ كوونكي دفاتحې دقرأت مكلف كړى دى هغه دي قرأت نه كوي يعني بغير دفاتحې دي ټول قرآن وويل سي .نو دشريعت په نظر كي خو دده لمونځ كالعدم او واجب الاعاده دى او پاتـه سوه دا خبره چې دفاتحې دقرأت مكلف څوك جوړ سوى دى . نو دا يوه داسې خبره ده چې په دغه سلسله كې هيڅ يو كس ته دځانه ويلو حق نسته دا خبره خو دهغه چا څخه پوښتل كيږي چا چې لاصلوٰة لمن يقرأ الخ . . . فرمايلى دى لكه په ټولو اختلافى معاملاتو كې چې فان تنازعتم فى شئى فردوه الى الله ورسوله (النساء ۵۹)

نو موږ هم رجوع الی الله ورسول ﷺ ته وکړه دهغه څخه دا معلومه سوه چي مکلف امام او منفرد دی دمقتدي ددې سره تعلق نسته دمقتدي دپاره خود اذا قرء فانصتوا حکم وو او قرآن هم وايي اذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا .حضرت جابرؓ فرمايي من صلیٰ رکعة لم يقرء فيها بام القرآن فلم فيصل الا ان يكون وراء الامام هذا حديث حسن صحيح (ترمذی جلد۱ ۷۱)

الا ان يكون وراء الامام کی تصریح ده چي د فاتحې بغير لمونځ نسته مګر ددې تعلق دمقتدی علاوه دنورو لمونځ کوونکو سره دی .

(ج) دمقتدی دقاری کېدلو مطلب

دریمه خبره داده چي په حدیث کی چي کم لمن لم يقرء فرمايل سوی دی نو تاسو دا څنګه معلومه کړل چي داورېدلو او انصات دحکم په تعميل کي مقتدی قاری نه دی ظاهره ده چي تا لغوي معنیٰ مراد کړل چي قاری قرأت کوونکي ،موږ وايو چي که څه هم په امور شرعيه کی پر لغوي معنیٰ اعتماد کول صحيح نه دی مګر دنبي ﷺ په ژبه سره په شريعت کي بيان سوې معنیٰ ته اوليت حاصل دی ددې وجهي موږ دلغت پر ځای ونبی ﷺ ته رجوع وکړل .نو معلومه سوه چي دخاموشئ په حالت کي هم مقتدی قاری ګڼل سوی دی . من كان له امام فقرأة الامام له قرأة . دغه رقم دابن عمرؓ ارشاد: اذا صلیٰ احدكم خلف الامام فحسبه قرأة الامام . مقتدی دخاموشی په حالت کي هم قاری دی لکه دنکاح په وخت کی چي دباکرې سکوت دشرم او حياء له کبله اقرار دی .شيخ ابن همام فرمايي : بل يقال القرأة ثابتة من المقتدی شرعاً فان قرأة الامام قراءة له

فلو قرء كان له قرء تان فى صلوٰة واحدة وهو غير مشروع (فتح القدير جلد ۱ ص ۲۹۵)

(د) بل دا علامه كشميرى فرمايل چي فانه لا صلوٰة لمن لم يقرء بها" سره پر مقتدى دفاتحې دوجوب هيڅ تعلق نه معلوميږي يا يې وجه داده چي په زمانه ماضى كى دواجب كيدو خبر به ورته وويل سي يا دا چي اول خو واجب نه وو دخطاب په وخت كي په زمانه حال كي واجب كيږي يا دا دواړه احتمالات درست نه دي ځكه كه دغه زمانه دماضي خبر ه ده نو بيا دصحابه كرامو څخه ددغه سوال څه موقع ده چي شايد تاسو قرأة كاوئ نو صحابه به ورته فرمايلي واى چي يا رسول الله ﷺ خو تا دا ضروري ګڼلى وو .ليكن داسي نه وو .

يا به دا په زمانه حال كي ضروري ګڼل كيدل نو بيا دا خبره دعقل څخه لوړه ده چي په حال كي يعني فى الحال ضروري بلل كيږي او دناخوښئ اظهار هم په هغه وخت كي كړل كيږي او چي كله نه په ماضي كي صحيح توجيه كيږي او نه هم په حال كي نو بيا دا څنګه معلومه سول چي دفانه لا صلوٰة تعلق دمقتدي دفاتحې دوجوب سره دى . په حديث كي ددې هيڅ وجوب نسته خلک بې ځايه دلائل پر قرأت خلف الامام منطبق كوي .نو معلومه سوه چي فاتحه دخپل امتيازي شان دوجهي مباح وګڼل سوه،نه واجب .

او دنبى ﷺ الفاظ لعلكم تقرء ون خلف امامكم،دي نه لعلكم تجهرون خلف امامكم، يعني دغه دويم الفاظ نبى ﷺ نه دي ويلي .دنبي ﷺ دالفاظو څخه ناخوشي پر جهر نه دى بلكه پر نفس قرأة دى

خلاصه دا چي دحضرت عبادهؓ دروایت څخه دفاتحې وجوب په هیڅ صورت نه راوزي صرف اباحت مرجوحه اخذ کېدای سي . چي نبي ﷺ دامام شاته دقرائت کولو اجازت په ناراضګي سره ورکړي دي چي مخالفین په دغه حدیث کي نور بې ځایه تاویلات ونه کړي .

دحضرت عبادهؓ دروایت کي دفصاعداً اضافه دحضرت عبادهؓ دمفصل روایت څخه دا ثابته سوه چي دمقتدي په حق کي دفاتحې پر وجوب استدلال بې ځایه دی . اوس پر دغه روایت دیو بل طرفه غور کول ضروري دي او هغه دا چي دروایت الفاظ :لاصلٰوة الا بفاتحة الکتاب ،دی که نور هم ستة نو په مسلم ابو داؤد او ابن حبان کي دفصاعداً الفاظ هم سته ددغه اضافې بعد ظاهره ده چي دلاصلٰوة حکم خالي پر سورة فاتحه نه دی بلکه پر مجموعه دی او دصلٰوة دنفی تعلق صرف په ترک فاتحه نه دی بلکه دمجموعه یعني مطلق قرأة له کبله لمونځ دلا صلٰوة په حکم کی دی او په دغه مطلق قرأة کی دا تفصیل دی چي سورة فاتحه دتعین بعد لازمه سول او په فصاعداً یا ما تیسّر کي په غیر معین توکه دا امتیاز ورکړل سوی دی چي لمونځ کوونکی هر سورت یا دقرآن هره حصه دفاتحې سره ویلای سي .ګوا که دمطلق قرأت په تفصیل کي کمه درجه وفاتحې ته ورکړل کېده هغه درجه دسورت وختمېدلو ته به ورکړل کیږي لکه احنافو چي دواړه واجب کړي دي . داسي نه دی چي په یوه سیاق کی دي دواړه په عطف سره ذکر سي او ددواړو په درجو کي دي فرق وسي دا څنګه ممکنه ده چي لا صلٰوة دي دصورت فاتحې په حق کي درکنیت دلیل وګرځول سي .او دفصاعداً په حق کی دي درکنیت دلیل نه سي

جوړ . لکه شوافعو چې کرزولی دی او چې دروایت دا مفهوم متعین دی
چې په لمانځه کې چې فاتحه مع ختم سورة لازم سو نو ظاهره ده چې
ددغه روایت تعلق دداسې لمونځ کوونکې سره نه دی چې هغه ته دې
صرف دسورت فاتحې او هغه هم په ناخوښئ سره اجازت ورکړل سوی
وی . اوس په دیانت سره غور وکړئ چې ددغه معاني دوضاحت بعد
دروایت کم طرف متعین سو، اوآیا روایت دمقتدي سره متعلق کېدای
سي چې په دې سره دشوافعو په نیز دفاتحې اجازت دې د فصاعداً نه دی .

باب فی رفع الیدین

فی التکبیرة الاولیٰ مع الافتتاح سواه

په تکبیر اولیٰ (تحریمه) کې د لمانځه د شروع کولو بالکل سره سره د
لاس پورته کولو بیان:

حدثنا عبد الله بن مسلمة ،عن مالك ، عن ابن شهاب عن سالم بن عبد الله عن ابیه ان رسول الله ﷺ کان یرفع یدیه حذو منکبیه إذا افتتح الصلوٰة واذا کبر للرکوع وإذا رفع رأسه من الرکوع رفعهما کذٰلك أیضاً ، و قال سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد وکان لا یفعل ذلك فی السجود۔

ترجمه : د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چې نبي
علیه السلام چې به کله لمونځ شروع کوی نو تر دواړو اوږو پورې یې
خپل دواړه لاسونه پورته کول او سمع الله لمن حمده و ربنا لک الحمد به
یې وایی او په سجده کې به یې دا رقم نه کول .

دلته بیان دا دی چې په تکبیر تحریمه او رفع یدین کې به معیت وي .
د تکبیر سره به لاسونه پورته کیږي . د دې لپاره بخاري د سواء تعبیر

اختیار کړی چي دواړه عمل به برابر برابر کیږي .

کوا کي امام بخاريؒ په دې مسئله کي د شوافعو موافقت وکړی . د ده په نزد دغه راجح دی چي د تکبیر سره به رفع یدین کیږي خو د احنافو په نزد راجح دا دی چي اول لاسونه پورته سي بیا تکبیر ویل کیږي . روایات د دواړه سره ستده . په مسلم شریف کي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی :

كان رسول الله ﷺ إذا قام إلى الصلوة رفع يديه حتى تكونا بحذاء منكبيه ثم كبر .

چي اول به ده (مبارک علیه السلام) تر اوږو پوري لاسونه پورته کول، بیا به یې تکبیر وایی . د درایت تقاضا هم دغه ده .

صاحب هدایه ویلي چي لاس پورته کول د غیر الله څخه د لویی نفي کوي او تکبیر ویل الله جل شانه ته لویی ثابتوي . او نفي پر اثبات باندي د مخه ده لکه په لا اله إلا الله کي اول نفي ده بیا اثبات دی ، نو د دې وجهي رفع یدین باید پر تکبیر مقدم وي .

د حدیث تشریح:

د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چي نبي علیه السلام به کله د لمانځه افتتا ح کوله نو تر اوږو پوري به یې خپل لاسونه مبارک پورته کول، بس دغه لفظ یعني إذا افتتح الصلوة څخه د امام بخاري ترجمة الباب ثابت دی او تر دې هم واضحه خبره د څو روایاتو څخه وروسته راځي . چي هلته "رفع يديه حين يكبر" ذکر دی . بهر حال د روایت څخه معیت او مقارنت هم ثابت دی .

پـه روايـت کـي د رفـع يـديـن د درو ځـايـو ذکـر دى . د تکبير تحريمه په وخت کـي، رکـوع تـه د تـلـلـو پـه وخـت کـي او د رکـوع څخه سر راپورته کـولـو کـي . د تـکـبـير تحريمه ما سوا پر دا دوو ځايو باندې رفع يدين ثابت دى . او د صحابه وو پر دغه باندې عمل هم دى . خو امام بخاريؒ دا مسئله پـه هـغـه بـل بـاب کـي پـيـش کـړې ده . نو د دې وجهې موږ د انصاف سره دا مسئله هلته بيانوو .



حکمت رفع يدين

د تـکـبـيـر تـحـريـمـه پـه وخـت کـي د رفع يدين يو حکمت خو هغه دى کوم چې صاحب هدايه بيان کړى . د نورو علماؤ څخه زيات حکمتونه منقول دي . د امام شافعيؒ څخه ربيع د رفع يدين په شان کي پوښتنه وکړه نو ده وويـل چـي دد حـقـيـقـت دادى د خـدای د عـظـمـت اعـتـراف او د نبي عليه السـلام د سـنـت اتـبـاع ، چـا بـيـا ويـلي دي د دې حکمت دا دی چي دنيا شا ته پـرېـښـول دي او خـالـصَ د الله جـل شانه د عبادت و طرف ته د متوجه کېدلو اظهـار کـول دي . او صاحب بدائع وايي چې دد حکمت دا دى چي کڼو ته هـم د لـمـانـځـه د افـتـتـا ح علم وسي . ځکه د لمانځه د نورو انتقالاتو علم خو د لمونځ کونکي په ليدلو سره حاصليږي . او په حالتِ استواء کي چي چيـري چيـري لـمـونـځ کـونـکـو ته په کتلو سره علم نه سي کېدای هلته د رفـع يـديـن پـه ذريـعه کڼو ته د خبرېدو اهميت ورکول سو ، لکه په اخترو کې تکبير زوائد او د وتر د دعائې قنوت لپاره تکبير .

د صاحب بدائع بيان کړل سوی حکمت، د حنفيه وو د ذوق مطابق دى ،

خو پـه حديث كي پـه دوو نورو ځايو كي د رفع يدين ذكر دى، د هغه حكمت دا بيان سوى دى چي د تكبير تحريمه وروسته اوږده قيام ول اوس د لمانځه دويم ركن يعني ركوع ته ځي . ددې وجهي د لمونځ كونكي د تيار او متوجه كېدلو لپاره لاسونه پورته سول، بيا چي بيې د ركوع څخه سر راپورته كړى نو د لمانځه د دريم تر ټولو د اهم ركن تياري ده . د دې وجهي څخه بيا د طبعيت د بيداره كولو لپاره لاسونه پورته سول ، يعني په دغو اركانو كي چي په ژبي سره د كوم خالق تسبيحات وايي نو د قول سره پـه خپل عمل باندي هم د هغه ذات د عظمت اعتراف وكړه وغيره .

پـه ابتداء كي دا عمل جاري وو وروسته به هم كله كله پرېږ عمل كېدى خو د نبي عليه السلام زيات عمل څه وو او د خلفاء راشدينو او د صحابه كرامو تابعين او د اسلافو په نزد د كوم عمل كثرت دى ، دا دغه را روانه مسئله ده .

باب رفع اليدين إذا كبر و إذا ركع و إذا رفع

دتكبير تحريمه په وخت كي ركوع ته چي ځي او د ركوع څخه چي سر را پورته كوي د لاسو د پورته كولو بيان:

حدثنا محمد بن مقاتل قال: اخبرنا عبد الله بن المبارك قال: اخبرنا يونس عن الزهرى، قال اخبرنى سالم بن عبد الله عن عبد الله بن عمر قال: رأيت رسول الله ﷺ إذا قام فى الصلوة رفع يديه حتى تكونا حذو منكبيه و كان يفعل ذلك حين يكبر للركوع و يفعل ذلك إذا رفع رأسه من الركوع و

يقول سمع الله لمن حمده و لا يفعل ذلك في السجود۔

حدثنا اسحاق الواسطي ، قال : حدثنا خالد بن عبد الله عن خالد عنابي قلابه انه رأى مالك بن الحويرث إذا صلّى كبّر و رفع يديه و إذا اراد ان يركع رفع يديه و إذا رفع رأسه من الركوع رفع يديه و حدث ان رسول الله ﷺ صنع هكذا .

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رضى الله تعالىٰ عنه څخه روايت دى چي ما نبي عليه السلام وليدى چي كله به دى د لمانځه لپاره ودرېدى نو ده (مبارك) به خپل دواړه لاسونه پورته كول، تر دا اندازې چي لاسونه به يې د اوږو سره برابرېدل چي كله به ده (مبارك) د ركوع لپاره تكبير وايو نو هم به ده دغه رفع كوله او چي كله به يې د ركوع څخه سر راپورته كوى نو هم به يې دغه رقم كول . او سمع الله لمن حمده به يې وايو . او ده (مبارك) به دا عمل په سجده كي نه كوى، ابو قلابه وايي چي ده حضرت مالك رضى الله تعالىٰ عنه بن الحويرث وليدى چي كله به هغه لمونځ كوى نو الله اكبر به يې وايو او رفع يدين به يې كاوئ . او چي كله به يې ركوع ته د تللو اراده كوله نو رفع يدين به يې كاوئ او چي كله به يې د ركوع څخه سرر اپورته كوى رفع يدين به يې كوى، او ده بيان وكړى چي نبي عليه السلام هم دغه رقم وكړه .

د ترجمې مقصد:

مقصد بالكل واضح دى . چي د تكبير په انعقاد كي ركوع ته تلل او د ركوع څخه په سر راپورته كولو كي رفع يدين سنت دى . د امام بخاريؒ مسلك دغه دى . پر دغه موضوع بانـدې د (امام بخاري) يوه مستقله

رسـالـه "جزء رفـع الیـدیـن" تـصنیف کړې ده . په دې رساله کې ده د رفع یدین څخه د انکار کولو والا او یا و دې ته د بدعت ویلو والا تردید کړی دی، او ویـلـې یې دې چې رفع یدین ته بدعت ویل پر صحابه کرامو رضوان الله عـلیهـم اجـمـعیـن بـانـدې او د دوی وروستـه راتـلـو والا اسـلافـو بـانـدې د طعـن (عیـب کـولـو) بـرابر دی .او دا چې د رفع پرېښـولو والا لکه سفیان ثـوري،وکیـع او أهـل کـوفـه هـم پـر رفـع یـدین کـولـو والا بانـدې د خوابدې اظهار نه کوي وغیره .

خـو حقیـقـت دا دی چې د امام بخاريؒ رسالې هم د انصاف پر ځای باندې مـنـاظرانه رنګ اخیستـی دی . او ده د رفع یدین د پرېښـولو والا د تردید په سـلسـله کې تر حد تجاوز کړی دی . حیرت دی چې دی د رفع په ترک کې هیـڅ ګـنجـائـش نـه بـولـې . د ده دعویٰ ده د رفع ترک په حدیث سره نه دی ثابت . او سر د دې چې واقعه دا ده چې دواړه مسلکونه په حدیث سره ثابت دي او ځومره صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ، تابعین جلیل القدر امامان ، فقهاء او محدثین د رفع د پرېښـولو د ترجیح قائل دي .

د مسئلې نوعیت:

حقیـقت دا دی چې په دې مسئله کې دواړو فریقو د اعتدال د لارې څخه تـجاوز کړی دی دیو مناظرانه انداز اختیارولو په سبب دې مسئلې اهمیت اختیـار کـړی دی . بیا د دې اوس عصر حاضر د ادب و احترام څخه محروم یـو جماعت د جارحیت په سبب په هندوستان کې دې مسئلې ته ډېر زیات اهـمیـت حـاصـل سو . کـنې د مـجتـهـدینو امامانو په مابین کې خو په دې مسـئـلې کې اختلاف محض داولیٰ و غیر اولیٰ یا د افضل و مفضول ده .

کومو امامانو چي رفع یدین راجح بللی دی د هغو په نزد د رفع ترک هم جائز ده او د کومو امامانو مختاره مسلک چي د رفع ترک دی د هغو په نزد رفع یدین هم مباح دی .

د حضرت گنگوهي ؒ څخه په دې مسئلې کي پوښتنه وسوه نو ده تحریراً وویل چي "زما مسلک د ترک رفع دی لکه احنافو قدماؤ چي ویلي دي او طعن زما په نزد په یو چا باندي نه دی او دا چي مسئله مختلف فیه ده . او احادیث د دواړو خواوو موجود دي او د صحابه وو عمل هم او قوت و ضعف مختلف دي ، بالآخر دواړه معمول بها دي . (فتاوی رشیدیه ص ۲٦۴)

د حضرت گنگوهي ؒ د تحریر څخه د اکابر دیوبند ذوق معلوم سو چي دی د متقدمینو د شدت خوښولو د طبقې څخه ډېر لیري دي او د دوی څخه د اعتدال خوښولو والا طبقو د رجحاناتو حامل دی . لکه د څلورمي صدی مشهور مفسرؒ او حنفي فقیه امام ابو بکر جصاص (المتوفی ۳۷۰ ھ) په احکام القرآن کي د کتب علیکم الصیام تحت پر رؤیت هلال باندي بحث کړی دی دا اصول یې بیان کړي دي:

چي د عوامي ضرورت او فرض درجې د احکامو د ثبوت لپاره دخبر مستفیض ضرورت دی او که چیري مسئله د مسلمانانو د عام ضرورت متعلق نه وي او حکم هم د فرض په درجه کي نه وي نو هلته خبر پر مستفیض باندي انحصار نه دی په اخبار احاد سره هم دا احکام ثابت کېدای سي .

او په دا رقم مسائلو کي د فقهاؤ په مابین کي اختلاف عموماً افضل او

غير افضل وي، بيا ده د دې مثال په اختلاف د کلماتو د آذان او اقامت، رکوع ته د تللو په وخت کي رفع يدين، د اخترو د تکبيرونو وغيره کي شمارلي دي . (احکام القرآن ۱/۲۰۳)

معلومه سوه چي په شوافع فقهاؤ کي چي کومو خلکو چي پر ترک د رفع بانـدي يا په احنافو فقهاؤ کي چي کومو خلکو پر رفع يدين باندي د کراهت يو څه خبره کړې ده هغه يې بې ځايه پر تشدد باندي مبني ده او د ديوبند د اکابرو اعتدال د ذوق منافي ده .

...... ☆ ......

د مذاهبو بيان:

د تکبير تحريمه په وخت کي د رفع يدين پر ثبوت او پر عمل باندي د ټولو اتفاق دی . دغه رنګه د رکوع وروسته سجدې ته د تللو په وخت کي، او د سجدې څخه سر را پورته کولو په وخت کي پر رفع يدين باندي د امامانو او جمهورو په نزد عمل نسته .سره ددې چي د رواياتو څخه ثابت دی . البته رکوع ته د تللو په وخت کي، او د رکوع څخه د را پورته کېدلو کي د رفع يدين په مسئله کي اختلاف وسو .

امام ابو حنيفةؒ او امام مالکؒ خپل مشهور او مفتی به روايت مطابق د رفع د ترک قائل دي، د ډېرو صحابه رضوان الله عنهم اجمعين، تابعينو او فقهاؤ مسلک داغه دی . امام ترمذيؒ ويلي :

و به يقول غير واحد من أصحاب النبيﷺ والتابعين و هو قول سفيان و أهل الكوفة .

او امام شافعيؒ او امام احمدؒ د رفع يدين قائل دي او د متعددو صحابه

كرامو تابعينو او عامو محدثينو مسلک همدغه دي .

د احاديثو تشريح:

امام بخاريؒ تر باب لاندي دوه روايتونه ذكر كړي دي : اول روايت د حضرت عبد الله بن عمر رضى الله تعالىٰ عنه څخه دى ، او دويم روايت د حضرت بن الحويرث رضى الله تعالىٰ عنه څخه دى . په دې دواړو روايتو كي دا ذكر دى چي نبي عليه السلام د تكبير تحريمه په وخت كي هم رفع يدين وكړ او ركوع ته چي تلى هم، او د ركوع څخه چي يې سر راپورته كړى هم يې وكړى . د حضرت ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه په روايت كي خو رأيت ذكر دى چي ما نبي عليه السلام پر دغو ځايو باندي وليدى چي لاس يې پورته كړى . او د حضرت مالک بن الحويرث رضى الله تعالىٰ عنه په روايت كي د صنع لفظ دى چي نبي عليه السلام دا عمل وكړى . د دومره خبري څخه د چا اختلاف يا انكار نسي كېداى چي د نبي عليه السلام څخه رفع يدين ثابت دى خو د رفع يدين په ترجيح باندي د استدلال لپاره دومره خبره كافي نه ده . ځكه د ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه په روايت كي ذكر "رأيت" يا د مالک بن الحويرث رضى الله تعالىٰ عنه په روايت كي مذكور "صنع" تقاضا خو تكرار هم نه ده كه چيري ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه يو وار وليدل يا ده يو وار هم دا عمل وكړى نو رأيت يا صنع ويل صحيح دي .

كوا كي د حضرت ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه او د حضرت مالک رضى الله تعالىٰ عنه د روايتو څخه خالص دا ثابته سوه چي پر دا درو ځايو باندي رفع يدين سوى دى . خو دا خبره ددغو رواياتو څخه يو رقم نسي

ثابت کېدای چي پر دغـه فعـل بانـدي د مداومت سره عمل وسو . او دا ثابتـول هـم ممکن نه دي چي دا عمل د نبي علیه السلام آخري عمل وو . کـه چیـري د روایـاتـو څخه دا ثابتیدای چي نبي علیه السلام پر رفع یدین باندي مداومت وکړی یا دا د ده (مبارک) آخري عمل وو نو استدلال کېدای سو چي پر پښول د رفع ناجائز یا د سنت خلاف دي، یا مرجوح دي خو چي کله روایتونه ددې دواړو خبرو څخه د یوه معلومات هم نه ورکوي نو د دې څخه هغه مقصد حاصل نه سو چي د هغه لپاره امام بخاريؒ هغه دلته ذکر کړی دی .

.....

د رفع الیدین پر دوام باندي د استدلال جائزه:

دامام بخاري رضی الله تعالیٰ عنه چي کوم روایات په باب کي ذکر کړي دي د هغـو څخه خو مقصد نسي ثابت کېدای . هو ! دا ویل کېدای سي چي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت کي د ''کان یرفع'' الفاظ هم دي چي په هغه سره پر استمرار باندي استدلال کیږي نو په دې سلسله کي اوله خبره خو دا ده چي په حدیث شریف د کان یفعل څخه د استمرار ثبوت ضروري نه دی . که چیري نبي علیه السلام یو وار هم یو عمل کړی وي نو راوي د هغه څخه تعبیر په کان یفعل سره کوي، امام نوويؒ پر متعددو ځایو باندي د دې وضاحت کړی دی: لکه په باب صلوة اللیل (مسلم ۱/۲۵۴) کي د حضرت عائشه رضی الله عنها په روایت کي دا الفاظ دي: کان یصلی ثلث عشرة رکعة ، یصلی ثمان رکعات ثم یوتر ثم یصلی

ركعتين و هو جالس ۔ ''كان يصلى'' څخه د استمرار و طرف ته ذهن منتقل كيږي خو علامه نووي وايي چي ددې روايت څخه د وتر وروسته د دوو ركعتو جواز معلوميږي، ځكه نبي عليه السلام پر دې باندي مواظبت نه دی کړی ،بلكه دا فعل د ده مبارک څخه يو وار دوه واره يا څو واره ثابت دی ، ددې وروسته وايي :

و لا تغتر بقولها ''كان يصلى'' فان المختار الذى عليه الاكثرون والمحققون من الاصوليين ان لفظ كان لا يلزم منها الدوام و لا التكرار الخ ۔ (مسلم ١/٢٥٤) .

او تاسي بايد د حضرت عائشه رضى الله عنها د قول ''كان يصلى'' څخه خطاء نه سئ . د دې وجهي چي اكثر علماء او د علم اصول د تحقيق د خاوندانو مختار مسلک دا دی چي لفظ ''كان'' څخه نه دوام راځي نه تكرار . الخ

بيا هغه ليكلي دي چي دا تعبير د خپل اصل وضع په اعتبار سره د دوام و تكرار تقاضا نه كوي، بيا يې ددې زيات وضاحت په يو مثال سره کړی دی . ددې وجهي اوله خبره خو دا ده چي په ''كان يرفع'' سره پر دوام باندي استدلال نه دی ممكن ، خالص پر استمرار باندي استدلال كول كمزوري خبره ده . په دې خبره په دې ډول سره سر خلاص کړی چي د ''كان يفعل'' ترجمه دا سوه چي مبارک عليه السلام دا رقم كول، اوس دا رقم كول على الدوام وو يا په اكثريت سره وو يا كله كله وو . كان يفعل په هر صورت كي صادقيږي، خو كه چيري موږ ستاسي رعايت وكړو يا د يو خارجي دليل په سبب پر استمرار باندي دلالت تسليم هم كړو نو دويمه

خبره دا ده چي ددې څخه زيات زيات سي نو دومره ثبوت سو چي دا عمل په لس واره يا سل واره وسو خو په دومره خبره سره مقصد نه ثابتيږي .
مقصد يعني د رفع يدين ترجيح . نو دی مبارک ددې عمل پر دوام باندي نيز رفع يدين تر آخري حيات پوري برقرار ساتل، يعني د نبي عليه السلام آخري عمل کېدلو پر ثبوت باندي موقوف دی، او دا خبري ددې روايت څخه څه بلکه د يوه معتبر روايت څخه هم ثابتي نه دي .

د بيهقي اضافه:

البته کومه اضافه چي بيقهي د ابن عمر رضي الله تعالىٰ عنه په روايت کي کړې ده هغه اضافه په دې سلسله کي پېش کېدای سي چي الفاظ يې دغه دي: **فما ذالت تلك صلوته حتى لقى الله تعالى** يعني دا چي مبارک عليه السلام تر وفات پوري داغه رقم لمونځ کوی دا اضافه که څه هم په سنن بيهقي کي نسته . د بيهقي په ''خلافيات'' کي سته خو معتبرو خلکو دغه نقل کړی دی، قاضي شوکاني اول د حضرت ابن عمر رضی الله تعالىٰ عنه روايت ذکر کړی دی بيا د بيهقي دغه اضافه د استدلال په ځای کي ذکر کړی، بيا يې ابن مديني دا خبره نقل کړې:

هذا الحديث عندي حجة على الخلق ، كل من سمعه فعليه ان يعمل به لانه ليس في اسناده شيئ .

چي دا حديث زما په نزد په دې مسئله کي د ټولي نړۍ لپاره حجت دی، چي کوم څوک يې واوري پر دې باندي عمل کول لازمي دي . ځکه چي ددې په سند کي هيڅ کمي نسته .

د قاضي شوکاني د قائم سوي ترتيب څخه دا شبه کيږي چي ابن مديني

د بيهقي د اضافي هم توثيق كوي . حالانكه دا رقم نسي كېداى، ابن مديني ددې روايت په شان كي خو ډېر څه ويل كېداى سي چي په هغه كي دا اضافه نسته . ددې شيخينو هم تخريج كړى دى خو د بيهقي د اضافي په شان كي دى دا څنګه ويلاى سي چي دده په سند كي هيڅ خبره نسته . ددې اضافي په شان كي د ضعيف څه د موضوع كېدلو پوري دعوه سوې ده . ځكه دا اضافه چي د كومو رواتو په ذريعه را روانه ده په هغه كي دوه راويان يو عصمت بن محمد انصاري او دويم عبد الرحمن بن قريش باندي ډېره خبره سوې ده . د عصمة بن محمد انصاري په شان كي ابو حاتم ويلي "ليس بقوى" يحيىٰ بن معين ويلي دي چي دا كذاب دى، حديثونه وضع كوي . عقيلي ويلي دي چي دا د ثقاة د طرفه څخه باطل روايتونه نقل كوي . دار قطني ويلي چي دا متروك دى، ابن عدي ويلي چي د ده ټوله روايات غير محفوظ دي .

دغه رنګه دويم راوي عبد الرحمن بن قريش متهم بالوضع كڼل سوى دى وغيره . د غور كولو خبره ده چي كله د اضافة د رواة دا حال دى نو ابن مديني څنګه پر خلق خداوندي باندي حجت بولي . يقيني خبره ده چي د ده دا خبره د اصل روايت په شان كي ده، او ددې څخه د رفع پر ترجيح باندي استدلال تام نه دى .

په روايت كي قابل غور ځاى:

تر دې پوري چي دا خبره صفا سوه چي د حضرت ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه د روايت څخه خالص دومره خبره معلومه سوه چي د رفع يدين عمل د رسول الله ﷺ څخه ثابت دى لكه څنګه چي د نورو رواياتو څخه د

رفـع د تـرک عـمـل هم ثابت دی . او دا دارقم خبره ده د کوم شي ثخه چي د
چا انکار نه وېي البته د رفع د ترجيح لپاره چي د کوم دوام و استمرار او تر
آخر عمر پوري ددې د برقرار ساتلو د صراحت ضرورت دی هغه د يو معتبر
روايت څخه ثابت نه دی .

کـواکـي څـومـره خبره چي د معتـبر روايتـونو څخه ثابتـه ده، د هغـه څخه
خبره نـه جـوړيـږي او د خبـري جوړولو يعني د رفع يدين ترجيح د ثابتـولو
لپـاره چـي د کـومـو شيـانو ضرورت دی هغه په روايت کي موجود نه دی .
بيـا دا چي روايت کـه څه هم په مختلفو سندو سره په ټولو کتابو کي ذکر
دی او سند هم نهايتي ښه دی د سلسلة الذهب په نامه سره موسوم دی خو د
دې سره پـه روايت کـي څو د غور قابل ځايونه دي او کتلو والا حيران سي
چي کوم صورت اختيار کړي .



(۱) په رفع او وقف کي اختلاف:

تر ټولو اوله خبره خو دا ده چي د روايت په مرفوع کېدلو يا موقوف کي
اختلاف دی، سالم دا مرفوع بيانوي او نافع موقوف ورتـه وايي او د نافع د
روايـت پـه موقوف يا مرفوع کي هم اختلاف دی . امام بخاري مرفوع ته
او امام ابو داؤد موقوف کېدو ته يې ترجيح ورکوي . او په دې اختلاف کي
دوی حـضـراتـو کـه څه هم سالم ته ترجيح ورکړې ده . خو دا کليه نه ده د سالم
او نـافـع اختلاف دغه رنګه په څلورو روايتو کي دی . او په دوی کي نافع
تـه ترجيح ورکولو والا هم سته . سالم د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ
عـنـه صاحبـزاده او نافع مولیٰ چي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه

صحبت او خدمت كي زيات دخل وو . بيا دا د رفع و وقف دا اختلاف ډېر اهم نـه دى، حافظ أصيلي خو دا ليكلي دي چي د امام مالك دا روايت د اخيستلو وجه همدغه ده چي دا موقوف دى . وايي: ولم ياخذ به مالك، لأن نافعا وقفه على ابن عمر . (نيل الفرقدين ص ۴۱)

امام مالكؒ دا روايت نـه واخيستي، ځكـه نافع دا پر ابن عمر باندي موقوف كړى دى . زرقاني هم دغه ليكلي دي چي د امام مالكؒ دې روايت تـه د اختيار نه وركولو وجه په رفع او وقف كي اختلاف دى: قال الزرقاني و به يعلم تحامل الحافظ في قوله : ار للمالكية دليلا على تركه و لا متمسكا إلا قول ابن قاسم لأنه لما اختلف في رفعه و وقفه ترك مالك في المشهور القول باستحباب ذلك لأن الاصل صيانة الصلوة عن الافعال . (زرقاني ۱/۱۴۳)

زرقاني وويل، د دې بحث څخه معلومه سوه چي حافظ ابن حجرؒ وويل "چي زما د رفع يدين د ترك لپاره د مالكيه سره هيڅ دليل او بنياد د ابن قاسم د قول ما سوا نه سو پيدا، د غير ذمه واري ثبوت يې وركړى . ددې وجهي چي كله په روايت كي د رفع او وقف اختلاف ثابت سو نو امام مالكؒ د مشهور قول مطابق دا پرېښوو ى . ځكه لمونځ په (غير ثابت) افعالو سره محفوظ ساتل اصل دى .

(۲) د رفع په ځايو كي اختلاف:

د حضرت ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه په روايت كي دويم د غور قابل ځاى دا دى چي پـه دې د رفع پـه ځايـو كـي ډېر اختلاف دى . دې تـه د محدثينو پـه اصطلا ح اضطراب وايي، د حضرت ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنه څخه په دې سلسله كي شپږ رقمه روايتونه منقول دي .

۱﴾ ..... په بعضي روايتو کي خالص يو وار يعني د تکبير تحريمه په وخت کي رفع ستـه لکه مالکيه معتبر کتاب المدونة الکبرى (۱/۶۹) کي دي په دې روايت کـي رکـو ع ته د تللو په وخت کي او د رکو ع څخه سر راپورته کـولو وروسته د رفع نه کولو يعني ترک يا د رفع ذکر نستـه خو په مدونة کي يې د هغه روايت د رفع د پرېښوولو د دليـل لپاره سوى دى .

ددې سـند (ابن وهب) عن مالک بن انس ابن شهاب عن سالـم بن عبد الله عـن ابيـه الـخ مـذكـور دى . او دا چي پـه مسند حميري کي همدغـه روايت رکـو ع او د رکـو ع څـخـه د سر راپـورتـه کـولـو کي د ترک رفع اليدين د تصريح سره د ابن شهاب زهري د سند سره دا رقم دى چي : حدثنا الحميدى قال حدثنا سفيان عن عيينة قال حدثنا الزهرى قال اخبرنى سالم بن عبد الله عن ابيه قال رأيت رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلوة رفع يديه حذومنكبيه ، و إذا اراد ان يركع و بعدما يرفع رأسه من الركوع فلا يرفع و لا بين السجدتين . (مسند حميدى قلمى ص۷۶)

(دا روايت د مسـنـد حـميدي د قلمي نسخي څخه نقل سوى دى چي په دار الـعـلـوم کتـب خـان کـي مـحـفـوظ دى او د مسند حميدي پـه مطبوعـه نسـخـه کـي د کتـابـت د غـلـطي د وجهي څخه د سفيان بن عـيـينـه نوم پاته سوى دى او پـه دې کي : حدثنا الحميدى قال حدثنا الزهرى الخ دى)

پـه دې روايـت کـي پـه دواړو ځايو کي د رفع د ترک تصريح ده ، زيادت دا چي پـه مسـنـد ابـي عـوانـه کـي هم دغه روايت د سفيان بن عـيـينـه څخه په دغـه سند سره دا رقم دى: سفيان بن عينية عن الزهرى عن سالم عن ابيه قال رأيت رسـول الله ﷺ إذا افتتح الصـلـوة رفع يديه حتى يحاذى بها و قال

بعضهم حذو منکبیه و إذا اراد ان یرکع و بعدما یرفع رأسه من الرکوع لا یرفعهما ـ(مسند أبی عوانه ۹۵/۲) .

۲﴾ ...... په بعضي روایتو کي دوه ځایه، یعني تکبیر تحریمه او د رکوع څخه راپورته کېدو په وخت کي رفع ده لکه په موطا امام مالک کي چي دي او ددې په متابعت کي د متعددو خلکو روایتونه دي .

۳﴾ ......په بعضي روایتو کي ددې ځایه یعني تکبیر تحریمه، رکوع د تللو په وخت کي او د رکوع څخه د راپورته کېدو په وخت کي رفع یدین سته لکه په حدیث باب کي چي دي .

۴﴾ ...... په بعضي روایتو کي څلور ځایه یعني ددې درو ځایو ماسوا چي دالوړ ذکر سوه څلورم ځای چي د دوو رکعتو څخه راپورته کېدو په وخت کي هم رفع ذکر دی . دا روایت د بخاري شریفي پر دغه صفحه باندي دی او اما بخاريؒ پر دې باندي مستقل ترجمه باب رفع الیدین إذا قام من الرکعتین ایښی دی .

۵﴾ ...... په بعضو روایتو کي ددې لوړ مذکوره څلورو ځایو ماسوا پنځم ځای یعني سجدې ته د تللو په وخت کي هم رفع مذکور ده دا روایت د بخاري په جز رفع الیدین کي دی .

٦﴾ ...... په بعضي ځایو کي پر دې پنځو باندي انحصار نسته بلکه د هر انتقال یعني هر قیام ذ قعود او هر خفض ورفع په وخت کي د رفع یدین صراحت سته . دا روایت حافظ ابن حجر په فتح الباري کي د طحاوي مشکل الآثار په حواله سره نقل کړي دي او پر دې باندي یې د شذوذ حکم هم کړی دی خو ددې شذوذ جواب هم ورکول کېږي .

خلاصه دا چي د حضرت ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه روایت که څه هم د مسند په اعتبار سره یقیناً صحیح دی خو په دې کي د شپږ رقمه مختلف روایتو په سبب اضطراب سته . چي د هغه ختمول ممکن هم نه دی، یعني دا ممکنه نه ده چي د روایت ماسوا بقیه ټول روایات ساقط او کالعدم وبولي .نو بیا داکوم انصاف دی چي یو روایت واخلي او د نورو ټوله بقیه نظر انداز کړي نو دا هم کېدلای سي بلکه دغه واقعه ده چي د نبي علیه السلام په عمل کي تنوع وي . او حضرت ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه چي نبي علیه السلام پر څو اندازه باندي عمل کونو کي لیدلي وي هغسي یې نقل کړي دي او دغه رنګه د حضرت ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه د روایت څخه چي څه رقم د رفع یدین فعل اخیستل کېږي دغه رقم د هغه د روایت څخه د رفع یدین ترک هم اخیستل کېدای سي .

(۲) — د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په عمل کي اختلاف:

د حضرت ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه د روایت درېیم د غور و فکر ځای دا دی چي د حضرت ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه څخه په د مسله کي مختلف عمل منقول دی او پر دوو ځایو باندي د رفع عمل هم ثابت دی او د دوو زیات ځایو کي هم د رفع یدین عمل د ده مبارک څخه ثابت دی .

ابن حزم د خپل د رقم سند سره چي د هغه په شان کي دا وایي : هذا سند لامغمزة فیه . په دې سند کي هیڅ عیب نسته نقل کړي یې دي :

انه کان یرفع یدیه إذا دخل فی الصلوة وإذا رکع وإذا قال سمع الله لمن حمده وإذا سجد وبین الرکعتین . یعني ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه د تحریمه په وخت کي ، د رکوع ته د تلو په وخت کي د سمع الله لمن حمده

ويلو په وخت کي سجدې ته تللو په وخت کي او د دوو رکعتو په مابين کي به يې رفع يدين کوی . او دا چي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه د تکبير تحريمه ماسوا په ټولو ځايو باندي ترک د رفع يدين هم ثابت دی . امام طحاويؒ په شرح معانی الآثار کي په صحيح او متصل سند سره نقل کړي دي: **عن مجاهد قال صليت خلف ابن عمر فلم يكن يرفع يديه إلا فى التكبيرة الاولىٰ من الصلوة** . (طحاوی ۱۵۵/۱)

مجاهدؒ وايي چي ما د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه شا ته لمونځ وکړی نو ده د تکبير اولیٰ ماسوا پر يوه ځای باندي رفع يدين نه وکړی .

مصنف ابن شيبه کي هم **ما رأيت ابن عمر يرفع يديه إلا فى اول ما يفتتح** . (عيني ۲۷۳/۵)

امام طحاويؒ پر دې بحث کوي ليکي چي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه دا فعل د نبي عليه السلام د وفات وروسته دی . او دا ښکاره ده چي دا په داسي صورت کي کېدای سي کله چي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په علم کي د رفع يدين نسخ راغلی وي ، بيا يې دا هم ليکلي دي که څوک دا ووايي چي حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه رفع يدين کاوئ نو په جواب کي دغه ويل کيږي چي د طاؤس بيان د رفع يدين پر ترک باندي د دليل قائمېدلو څخه دمخه کېدای سي .

د طحاوي د خبري خلاصه دا ده چي ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه رفع يدين کاوئ چي کله د رفع د پرېښولو خبره محقق ثابته سوه نو ده د رفع يدين عمل پرېښووی خو زموږ په خيال کي تر دې قريب احتمال دا دی چي

حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه نه رفع يدين په مداومت سره کاوئ، نه يې رفع يدين پر پښوئ پر داوړو باندې وقتاً فوقتاً يې عمل کاوئ . کوم شاګرد چې کوم عمل ليدلی دی هغه يې نقل کړی . مجاهد هم جليل القدر ثقات تابعين کې دې د ده د پيدايش تاريخ ۲۱ هـ دی او د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه وفات په ۷۳ هجري کې سو .

ګواکې د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه وفات په وخت کې د ده عمر ۵۲ کاله وو . د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه سره د ده تعلق د خدمت وو . اکثر وخت چې به تلی دده رکاب به يې نيولی وو . د مجاهد بيان (البدائع ۲/۲۰۸) کې خو يې دا نقل کړي دي چې تر دوه کاله پوري د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه شا ته لمونځ کړی دی نو هغه تر تکبير تحريمه ماسوا يو ځای هم تکبير تحريمه نه کوی . يو قريبي شاګرد چې په وختو وختو يې خدمت کړی دی چې هغه کله دا بيان کوي چې ما د تکبير تحريمه ماسوا د ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه رفع يدين نه دی ليدلی نو دا به ويل کيږي چې د رفع يدين پر پښوول هم د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه په کثرت سره ثابت دی . ګواکې رفع يدين به يې په مياشتو کوی او د رفع يدين پر ترک باندې به يې هم په مياشتو عمل کوی . لکه د نبي عليه السلام په شان کې راځي . چې کله به يې روژه ونيول نو بيا به يې روژه وه اندازاً چې شايد په دغه مياشته کې به يې روژې نه وې . او کله به يې روژه نه وه نو دومره وخت به تېر سو چې ام المؤمنين به دا خيال سو چې شايد په دې مياشته کې دی مبارک روژه نه نيسي . نو د دې وجهې موږ د محاذ قائمول پر ځای باندې د سلامتي رويې

لاره خوښه وو چې د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه عمل به دواړه رقمه وي .

(۴) ...... د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت کې د رفع یدین د پرېښوولو اشارې:

د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت کې د غور و فکر قابل څلورم ځای دا دی چې که چیرې د پوره لمانځه تفصیلي کیفیت بیان وای او په دغه تفصیل کې یو جز د رفع یدین هم وای نو ددې نوعیت به بل وای او پوهېدنه به وای چې دا هم د ذکر قابل خبره ده .

خو په دې روایت کې دا صورت نسته ځکه چې حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه ټوله تفصیلات پرېښوول او خالص یو جز رفع یدین نقل کوي او د دواړو سجدو په مابین کې د رفع یدین نفي هم کوي او دا یو داسې جز دی چې که چیرې په عهدِ رسالت کې رکوع ته د تللو په وخت کې او د رکوع څخه د را پورته کېدو په وخت کې ددې عمل مداومت تسلیم سي نو منل کیږي به چې د ورځې په فرض اولس (۱۷) رکعتو کې ۳۴ واره دا عمل کېدای .

او که چیرې سنت او نوافل هم ور شامل سي نو د ورځې تر سل هم تعداد متجاوز کرځي . بیا چې کله دا عمل دومره په کثرت سره کېدای نو د لمانځه ټوله کیفیات صرف نظر کرځول او خالص دا جز په اهمیت سره بیانول بالکل دا رقم دی لکه څوک چې ټوله کیفیات پرېږدي دا بیان کړي چې د رسالت په زمانه کې په هر رکعت کې دوې سجدې کېدې او ښکاره چې د خاص صورت حال او د مخصوص داعیه ماسوا داسې خبره نقل کول

. پـه ذهن کي نـه راتـلو والا خبره ده . نو ددې وجهي پـه روايت کي د هر باخونده انسان لپاره اشاره واضح ده چي حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنـه د خصوصي احوالو په تقاضا کي پر دې باندې خالص زور کوی، او هغـه خصوصي احوال دا وو چي په دې زمانه کي د رفع يدين عمل بالکل گوشهٔ خمول ته تللی وو .

ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه و دې طرفته خصوصي توجهات مبذول کړي وو . ددې لپاره چي هغه شی بالکل متروک نسي چي هغه دوی سنت بولي . د دې صورت حال واضح ثبوت دا دی چي د رفع يدين د ژوندي کېدو په سلسله کي د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه د کوښښو سره د امام مالکؒ تر زمانې پوري خو په مدينه طيبه کي پر دې باندې عمل کولو والا لږ وو او ددې وجهي امام مالکؒ رفع يدين د أهل مدينه د تعامل مطابق نه کېدلو پر بنياد باندې قبول نه کړل . لکه د ابن رشد وغيره پـه حوالـه سره دا خبره تېره سوې ده خو د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنـه د دې ټولو کوښښونو اثر دا ضرور سو چي پر دې باندې عمل کولو والا څه نا څه پيدا سوه .

. . .

د صحابه رضوان الله عليهم اجمعين په زمانه کي د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د عمل يو مثال:

د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين طريقه داوه چي هغو په يوه عمل کي څه کمی محسوس کړ نو د هغه د اصلاح لپاره يې خصوصي توجه صرف کوله پـه لمنځو کي د تکبيرو د انتقال مسئله داسي

معلـو ميـږي چـي پـه هغـه كـي د حـضـرت ابو هريره رضى الله تعالىٰ عنه مـختـه مـختـه معلوميږي، علامه نووي ليكي چي د تكبيرو د انتقال په مشـروعيـت بـانـدي نـن د ټـولـو عـلماؤ اتفاق دى . او د متقدمينو د زماني څخـه دى خـو د حـضـرت ابو هريره رضى الله تعالىٰ عنه څه زمانه كي په دې مسـئـلـه كـي اختلاف وو . ځكه هغه وخت بعضي خلك د تكبير تحريمه ماسوا د يو تكبير قائل هم وو . (انتهى)

وجـه دا وه چـي دا تـكبيـرات ضـروري نـه وو او د امـام د انتقالاتو څخـه خـلـكـو تـه عـلـم كيـږي او پـه ابو داؤد كـي روايت هم ستـه . حضرت عبد الـرحمن بن ابزي د نبي عليه السلام سره لمونځ وكړ او دا عمل يې كړى : و كان لا يتم التكبير (ابو داؤد ۱/ ۱۲۱)

ابـو داؤد پر دې باندي دا ليكلي دي چي د ركوع څخه د را پورته كېدو په وخت كـي ، سجدې ته د تللو په وخت كي او د سجدې څخه د راپورته كېدو پـه وخـت كـي يې تـكبيـر نـه وايـو ګـواكـي نبي عليـه السلام د انتقـال د تـكبيـرو نـو څـخـه يې بعض تكبيرونه پرېښول . ددې وجهي څخه د ډېرو خـلـكـو پـه عمل كي آساني سوې وه . په روايتو كي حضرت عثمان غني رضـى الله تـعـالىٰ عنه ﷺ رقم خليفه راشد په عمل كي د اصورت موجود وو . پـه مـسـنـد احـمـد د حـضـرت عمران بن حصين څخه روايت دى . د ده څـخـه پوښتنه وسوه چي تر ټولو د مخه تكبيرونه چا پرېښوو ه . ده وويل :عثمان بن عفان رضى الله تعالىٰ عنه حين كبر و ضعف صوته تركه . (مسند احمد ۴/ ۴۳۲)

چي حضرت عثمان رضى الله تعالىٰ عنه چي كله سپين ږيرى سو او د

ده آواز کمزوره سو نو ده مبارک تکبيرونه پرېښوول . د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه د عمل دا توجيه هم سوې ده چي تکبير خو يې وايو خو جهر يې پرېښی وو . ددې وروسته د طبري د بيان مطابق د حضرت معاوية رضی الله تعالیٰ عنه په عمل کي دا صورت پيدا کيږي ، او امام طحاويؒ ويلي دي چي بنو اميه په يوه رکن کي چي تلی به هم تکبير يې نه وايو . خالص د را پورته کېدو په وخت کي به يې وايو .

د حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه په آخري زمانه کي خو دا صورت معلوميږي چي د انتقال د تکبيرو پرېښوول عام سوي وو . په رواياتو کي موجود دي چي حضرت عکرمه په مکه مکرمه کي د حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه شاته لمونځ وکړ حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه په لمانځه کي د انتقال تکبيرونه وويل نو عکرمه ډېر حيران سو . او ده حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ته وويل چي دا بزرگان خو کم عقل معلوميږي ، پر دې باندي حضرت ابنؓ عباس رضی الله تعالیٰ عنه تنبيه ورکړه چي د خلی بنده دا خو د نبي عليه السلام سنت دی .

د رواياتو څخه اندازا معلوميږي چي په هغه زمانه کي د انتقال تکبيرونه براې نام پاته وه . ددې وجهي حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه پر دغو باندي زور ورکړی ، شمارل وغيره يې شروع کړه . دغه رنګه د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کي د رفع يدين عمل هم براى نام پاته وو ، او بعيده نه ده چي څه خلکو دي رفع يدين بدعت بللی وي . ددې وجهي څخه ده پر دې باندي زور ورکړی ، خپله به يې په ښکاره هم کاوۍ ، په ژبه سره به يې هم وايو ، فضائل به يې هم بيانول . رکوع ته

چي بـه تلي يا د ركوع څخه چي به يې سر را پورته كوي ترک د رفع يدين والا بـه يې پـه شـكـو ويشتـولو سره هم تبينه كوي . بهر حال د رفع يدين د ختمېدو څخه وساتل .

ددې تـفـصيل څخه دا معلوم سوو چي حضرت ابن عمر رضی الله عنه د رفـع يـديـن پر پښوول د سنت خلاف نه بلل او پو هېدی به هم نه ځكه د نبي عـليـه السلام طريقه د خلفاء راشدينو عمل او د صحابه كرامو رضوان الله عـليهـم اجـمـعـيـن تـعـامـل تهوله دده مخ ته وو . او ددې وجهې ده رفع يدين پـر پښـوول هـم لـكـه د مجاهد د روايت څخه چي ثابت دي په مسند حميدي كـي او پـه مسـنـد ابـو عوانه كي خو په اصح اسانيدو سره ثابت دي خو كله چي ده دا وليـدل چي رفع يدين عمل بالكل معدوم كيږي او هغه هم د نبي عـليـه السلام څخه ثابت سوی عمل دی نو ده دا احياء سنت تر جذبې لاندي داسي وكړل . د حضرت ابن عمر رضی الله عنه ددې جذبې تحت رفع يدين تـه دعـوت وركـول يقينـاً صـحيح وو . كـه ده داسي نـه كولای نو پـه دې مسئـلـه كي بـه د ترک جهت پـاتـه وای د فعل جهت ختم كېدی، او پـه شريعت كي ترک او فعل دواړه ثابت دي . خو په وروسته زمانه كي يعني چي كـلـه دواړه جهتـونـه از روی شـرع واضـح سـول او د يو جانب د انعدام احتـمـال ختـم سـو نـو اوس بـايـد تهولـه مسـلـمانان د خپلو امامانو د مسلک مطابق عمل وكړي او په دا رقم مسائلو كي داعي جوړېدل يو د بل خلاف محاذ قائمول بايد داسي و نه كړي چي د دې څخه فتنه جوړيږي ځكه چي د نبي عـليـه السـلام څـخـه دواړي خبري ثابتي دي نو بيا نزاع څنگه؟ عوام يا عـام عـلـمـاء خو د ځان ماسوا كله كله اكابر د علماؤ هم په مسائلو كي د

افراط و تفریط جانب مائل کیږي .

. . . .

په رفع یدین کې د
شاه اسماعیل شهیدؒ نیت:

لکه څنګه چې د حضرت شاه اسماعیل شهید په شان کې راځي چې دی په یوه زمانه کې خالص دا چې پر رفع یدین باندې یې عمل کوی بلکه ددې داعي هم وو . د ده رساله ''تنویر العنین'' هم د هغې زمانې یادګار ده چې په هغه کې ده رفع یدین ته سنت غیر مؤکده ویلي دي او په سنن هدیٰ کې یې شمارلي دي او د رفع یدین په شان کې یې داویلي دي: ولا یلام تارکه وان ترکه مدة عمره . (ص:۹)

د رفع پرېښولو والا نه ملامت کیږي که څه هم دی تر مدت العمر پوري پر پرېښولو باندې عمل کوي .

په دې مسئله کې د حضرت شاه اسماعیل شهید نیت هم احیاء سنت او د الله جل شانه رضا حاصلول دي، خو وروسته حقیقت حال ښکاره سو نو په کوم ښه نیت باندې چې ده رفع یدین شروع کړي وو پر هغه ښه نیت باندې یې پرېښول هم . د رفع یدین په مسئله کې د احیاء سنت په جذبه باندې د حضرت شاه عبد القادرؒ وضاحت په زړو باندې د لیکلو لائق دی:

. . . .

ارشاد شاه عبد القادر دهلوي:

رفع یدین اختیاولو کې د حضرت شاه اسماعیل شهید سنت د احیاء سنت وو . کله چې ده ته د حضرت شاه عبد القادر له طرفه د رفع یدین د

پر ښنولو تلقین وسو چې ددې څخه د فتنې اندېښنه ده نو حضرت شاه اسماعیل صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه جواب ورکړی چې کله د عوام د فتنې خیال وسي نو ددې حدیث به څه مطلب وي

من تمسك بسنتي عند فساد امتي فله اجر مأة شهید . ځکه چې کله سنت متروکه اختیار کړل سي نو په عوام کې به فتنه پیدا سي . شاه عبد القادر صاحبؒ ته چې کله د مولانا اسماعیل شهید جواب ورسېدی نو وې ویل چې موږ خو دا فکر کوی چې اسماعیل عالم سو خو هغه تر اوسه پورې په دې نه سو پوه چې دا ثواب یا حکم خو هغه وخت دی چې کله د سنت او غیر سنت مقابل وي، یعنې چې چیرې بدعت خراب سي سنت ژوندی کیږي په دې مسئله کې خو سنت د سنت مقابل دی . ځکه رفع یدین چې څنګه سنت دی دغه رقم ارسال هم سنت دی . بیا به دلته دا حکم څنګه ثابت وي کله چې د شاه عبد القادر په وضاحت باندې شاه اسماعیل شهید خبر کړل سو نو دی چپ سو او هیڅ جواب یې ور نه کړی.(خلاصه حکایت ۷۳، ارواح ثلاثه ص ۱۱۴) کواکې حضرت شاه اسماعیت شهیدؒ د ښه فقهانه بصیرت سره دې خوا ته متوجه نه سو .

. . . .

د ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه پر روایت باندې د بحث خلاصه:

بحث دا وو چې رفع یدین ته ترجیح ورکولو والا فقهاؤ محدثین د حضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت خپل تر ټولو مضبوط مستدل کنې، امام بخاري هم د رفع یدین مدعي دی او هغو هم دغه روایت تر ټولو

دمخـه پېـش کړې دی، خـو واقـعـه دا ده چې دا روايت د اصح الاسـانيد پـه ذريعـه راغـلـې دی او سـره ددې چې رفـع يدين تـه د ترجيح ور کولو باندې استدلال په سلسله کي د مختلفو وجوهو پر بناء باندې په کار نه راځي:

۱﴾...... اولـه وجـه دا ده چـې د روايـت څـخـه خـالص دا معلومه سوه چې نبي عـلـيـه السـلام رفـع يـديـن هـم کـړې دی . دومره خبره د ټولو په نزد تسليم سـوې ده خو پـه دې سره پر ترجيح باندې استدلال هغه وخت ممکن دی چې پـه رفـع يـديـن بـانـدې د دوام و استـمـرار سره تر آخره ژونده پوري د عمل صراحت هم وي . او دا صراحت پـه يوه معتبر روايت کي هم نسته .

۲﴾...... پـه روايت کـي رقم رقم اختلافات سته په مرفوع او موقوف کېدو کـي هـم اخـتـلاف سـتـه او ددې وجهـي څخه امام مالک هم روايت معمول به جوړ نکړې .

۳﴾...... د روايت الـفـاظ مـخـتـلـف دي چې د هغه وجهي څخه د رفع يدين پـه ځايو کـي شپږ رقـمـه اختـلاف پـيـدا سو . دې ته د محدثينو په اصطلا ح اضـطـراب وايـي، او تـر دې د کـم اضـطـراب پـه صورت کي روايتونه ترک سوي دي .

۴﴾...... د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په عمل کي اختلاف دی او د راوي عمل د خپل روايت خلاف وي نو په دې سره استدلال محل نظر جوړېږي .

۵﴾...... پـه روايت کـي د لمانځه د ټولو اجزاؤ څخه صرف نظر کول او پر يوه جزء باندې زور ور کولو کي صفا اشاره ده چې په دې زمانه خير القرون کي د رفـع يـديـن پر ترک باندې عمل پـه کثرت سره وو . ددې وجوهاتو پر بناء بـانـدې دغه ويل کيږي چې کوا کي روايت د سند په اعتبار سره نهايت قوي

دی . خو پـه دې سره د رفـع یـدیـن تـرجیـح ثابتـول نهایت سخت دي . والله اعلم .

. . . .

د حضرت شیخ الهندؒ ارشاد:

د حـضـرت ابـن عـمـر رضی الله عنه په روایت کي خو رقم رقم اختلافات ستـه . خو پر دې موضوع باندي په نورو روایتو کي هم مضبوط اختلاف ستـه . د هـر انتـقـال وروستـه د رفـع یـدیـن روایـتـونـه هـم ستـه . خـو دا خـصـوصـي احـوال بـالـکـل د ابتـدائـی زمـانـي خبره معلومیږي او خالص د تـکبیـر تـحـریـمـه پـه وخـت کـي د رفـع یـدین روایتـونـه هم ستـه او داسي روایتـونـه هم سته چي په هغو کي پر بعضي ځایو باندي رفع یدین سته او پـه بـعـضـي ځـایـو بـانـدي نسـتـه، لـکـه د بـخاري شریفي روایت باب دی . حـضـرت شـیـخ الهـنـدؒ ویـلـي چـي کـه چیـري په روایتو باندي غور و فکر وسـي نـو داسـي مـعـلـومیـږي چـي پـه شـریعت کـي چـي چیري پـه بـعـضـي مسـئـلـو کـي د تـنـکـي څخه د توسع و طرف ته میلان سوی دی . دغه رنګه پـه بـعـضـي مسـائلو کي خصوصاً د لمانځه په مسائلو کي د توسع څخه د تـنـکـي و طرف ته میلان سته . اول په لمانځه کي معمولي کلام، د سلام جـواب او اشاره او څه کـارونـه مبـا ح وو، وروستـه ممنو ع وګڼل سول . دغـه رقـم اول پـه لـمـانځه کي هر ځای رفع یدین وو، وروسته په ځایو کي تـخـفیف شـروع سـو پـخپـله په روایت باب کي دا اشاره ده چي حضرت ابن عـمـر رضی الله عنه لا یفعل ذلک فی السجود وایي . ددې مطلب په ښکاره داغـه دی چـي اول پر دغه ځای باندي رفع وه او پر دې باندي څو خلکو عمل

کاوئ . ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه د هغو خلکو تردید کوی چي پر دغه ځای باندي رفع ن ه ده پاته . پخپله د ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت کي په ترمذي شریف کي کان لا یرفع بین السجدتین دی . او په نسائی شریف کي بین السجدتین ، د رفع یدین روایت موجود دی . ددغه رقم اختلافاتو څخه صفا معلومیږي چي اول د رفع یدین ځایو نه زیات وو وروسته کم سول د ځلورو امامانو تک لاره همدغه را ښیي چي دوی ټول په دغه مسئله کي د توسع څخه د تنګي و طرف ته را روان دي .

حضرت شیخ الهندؒ وایي: چي اوس دوې لاري دي : که چیري په ظاهر باندي ځې نو باید د اصحابِ ظواهر سره سي چي هغوی یو روایت هم نه دی پر ېښی ، او که چیري د حقیقت خوښي ولاري ته راځې نو باید ورته وګوري چي د تحقیق د خاوندانو څه رجحان دی؟

فقهائې کرامو او خاوندانو د تحقیق بالاتفاق د تشهد وروسته ، او بین السجدتین رفع یدین ترک کړی دی . څه نظر نور مخته کړه چي عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه او خلفائې راشدین رضوان الله علیهم او عام صحابه کرامو رضی الله عنهم د تکبیر تحریمه ماسوا هر ځای رفع یدین پر ېښی دی . او باید پر ېښی یې هم وای . چونکه رفع یدین که چیري د انتقال علامت دی هم او که د تعظیم علامت دی بیا هم ، دا خو باید یا هر ځای پاته سي یا دا علامت ختم کړل سي نو هر ځای باید پاته سي خالص تر دوو ځایو ددې د خاص کېدلو بنیاد څه دی؟

په لمانځه کي اصل خشوع ده او ددې تقاضا هم دغه ده چي د تکبیر تحریمه ماسوا په نورو ټولو ځایو کي رفع یدین پاته سي . او په هغه

روایتو باندي عمل وسي چي په هغه کي خالص د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع یدین سته . بعضي ځایونه پرېښول او پر بعضي ځایو باندي رفع یدین کول، تحکم یعني بې له دلیله پر خپلي رایي باندي اصرار کول معلومیږي . والله اعلم .

تشریح د حدیث دوم:

امام بخاريؒ د خپل مقصد ثابتولو لپاره دویم روایت د حضرت مالک بن حویرث رضی الله تعالیٰ عنه څخه ذکر کړی دی چي حضرت مالک بن حویرث رضی الله تعالیٰ عنه پر درو ځایو باندي رفع یدین وکړ او بیا یې وویل چي نبي علیه السلام هم دغه رقم کړي وو . په دې روایت کي په ظاهره څه نوې خبره نسته، د امام بخاري سره ددې عمل او تر آخره ژونده پاته کېدو هیڅ دلیل هم نسته کنې هغه ضرور ذکر کول . ددې وجهي دی ددې روایتو څخه کار باسي چي په کښي د دې کار محض ثبوت دی . خو ددې څخه مقصد ثابتېدل سخت دي . او د حضرت مالک بن حویرث رضی الله تعالیٰ عنه روایت چي یې ذکر کړی دی، دی د خپل ذوق مطابق دیو استدلال و طرف ته اشاره کوي .

حضرت مالک بن حویرث رضی الله تعالیٰ عنه هغه صحابي دی چي د خپل یو څو هم عمره رفقاء سره د نبي علیه السلام په خدمت کي ۹ یا ۲۰ ورځي مقیم سوی . چي کله رخصت سو نو ده مبارک څو ضروري هدایتونه ورته وکړه او ده ته یې د سفر اجازت ورکړی . په هغه هدایاتو کي یوه دا خبره هم وه: صلّوا کما رأیتمونی اصلی . (بخاري ۸۸/۱) لکه څنګه چي تازه ولیدم دغه رقم لمونځ کوه .

د امـام بـخـاريؒ د استـدلال مـدار دغـه خبـره مـعلوميږي چي د هغـه ده صراحت نـه وكـړ ، استـدلال دا دى چي مـالک بن حويرث رضى الله تعالىٰ عنـه د نبي عليه السلام سره د قيام په وخت كي د لمانځه چي كومه طريقه وليـدل پـه هـغـه كي رفـع يـدين هم وو . او نبي عليه السلاٰم ورته پر دغه طريقـه بـانـدي د لـمانځه كولو هدايت وكړ . نو حضرت مالک بن حويرث رضى الله تعالىٰ عنه به تـولـه ژوند د ده مطابق عمل كاوه .

دغـه رنـگـه د رفـع يـديـن دوام و استـمـرار او تـر آخره ژونده پوري يې بقا مـعـلـومـه سـوه د دا رقـم اشارو څخه امام بخاريؒ دديٍ وجهي كار باسي چي دوام و استـمـرار او تـر آخـره ژونـده پـوري دديٍ عمل د پاته والي پر صراحت بـانـدي مشتـمـل يـو روايـت دده سـره نستـه خـو سـوال دا پيدا كيـږي چي حضرت ابو قلابه رضى الله تعالىٰ عنه روايت كوي چي ده د حضرت مالک بـن حـويـرث رضـى الله تـعـالىٰ عنه رفع يدين كول وليدى . آيا ضروري ده چي ابـو قـلابـه هـر وخت د مـالک بـن حـويـرث رضـى الله تعالىٰ عنـه سره اوسيـدلـي وي، او دده دا عـمـل دوامـاً وي خـو دا هم مـمكنـه ده چي ده دا عمل كـلـه كـلـه ليـدلـي وي تـولـه احتـمـالات ستـه او كه چيرٍي يې منو هم خو د حضرت مالک رضى الله تعالىٰ عنه دا عمل دوامي وو . نو دديٍ څخه دا خبر ه د كومه ځاى ثابتـه سوه چي د نبي عليـه السلام عمل دوامي وو . دا ضرور مـعـلـومـه سـوه چي د حـضـرت مـالک رضـى الله تعالىٰ عنه ته : صلّـوا كما رأيتموني اصلي وويـل د نـورو هـدايـاتـو پـه مابين كي پـه خاصـه تـوگـه سره لـمـونـځ د جـماعت او دديٍ د متعلقاتو و طرفتـه توجه ورواړول دديٍ وجهي څخـه بـه حضرت مالک بن الحويرث رضى الله تعالىٰ عنه د سنتو آدابو هم

مراعت کوي . او که چیري ده په دوامي توګه سره رفع یدین اختیار کړی نو ده باید داسې کړي وای لکه صحابه کرامو څخه چې د خصوصي هدایت په صورت کې چې د یوه عمل مختاره کولو واقعات موجود دي . هغه د نبي علیه السلام د هدایت وروسته د خپلو مشاهداتو څخه څنګه لیري کېدای سوای؟ خو ددې څخه زیات د احتمال په درجه کي د څو ورځي د قیام کولو والا صحابي پر رفع یدین باندي دوام معلوم سو . کله چې خلفاء راشدین عبدالله بن مسعود او د څو نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل د دې په خلاف سوی دی . اوس چي موازنه وسي په انصاف سره ورته وکتل سي چې په دې دواړو ثابت سوو جهتو کي کوم جهت ته ترجیح حاصله ده . والله اعلم بالصواب .

د رفع یدین د پرېښولو بعض مستدلات:

داوو د رفع یدین په ثبوت کي د امام بخاريؒ د پېش کړل سوو دواړو روایتو باندي بحث، خو د نورو پر روایاتو باندي نقد کولو سره خو مسلک نه ثابتیږي . ددې وجهي مناسب معلومیږي چې د رفع یدین د پرېښولو څو دلائل هم پېش کړل سي . بنه خو داوه چې د رفع د پرېښولو هغه د لائل هم په دې باب کي یا په بل باب کي امام بخاريؒ خپله پېش کړي وای . لکه د ترمذي، ابو داؤد او نسائي وغیره طریقه ، چې ده . خو د امام بخاريؒ عادت دا دی چې هغه یو شی مختاره کوي نو د هغه بل شي څخه بالکل صرف نظر کوي او دبل جانب د روایاتو درک لا نه ورکوي . جزء رفع یدین او جزء قرأت خلف الامام کي د دوی داد عملطریقه بالکل ښکاره دی .او خالي د امام بخاريؒ څخه څه کیله ده نور هم بعضي محدثین

رحمهم الله داسي تېر سوي دي چي هغه د خپل مختار مسلک تائید لپاره د کمزوريانو هم تاويل او توجيه کوي. او د جانب مقابل روايات نظر انداز کوي، بلکه بعضي خو يې د معلول و ساقط الاعتبار گرزولو کوښښ کوي .

د رفع يدين په مسئله کي همدغه رقم سوي دي چي څومره اکابر محدثينو د خپل عادت مطابق رفع يدين مسلک مختار گرزولی دی او د رفع يدين روايت يې نظر اندازه کړي دي او څومره محدثينو د حديث د محدثينو د اصولو مطابق چي کله د رفع يدين روايات سنداً صحيح پيدا کړي دي نو د رفع يدين د پرېښولو روايات يې شاذ گرزولي دي (مثلا لکه په مسند حميدي کي حضرت ابن عمر رضی الله عنه د رفع يدين د پرېښولو د صراحت والا روايت د خپل سند په اعتبار سره نهايت قوي او طاقتور دی او حميدي د امام صاحب د مايه ناز استاذانو څخه دی خو د محدثينو دا ذوق نه دی دوی خو د خپل اصول مطابق فيصله کوي) کنې حقيقت دا وو چي کله د رفع يدين د پرېښولو روايات په مضبوط سند سره راروان دي او د صحابه و تابعينو غالب اکثريت عمل د روايت توثيق کوي آئمه فقهاوو دا قايل قبول نه بلکه راجح گرزولی دی نو بيا روايت د صحيح گرزولو لپاره مزيد ديو دليل څه ضرورت دی؟ بهر حال امام بخاري د خپل عادت مطابق د رفع يدين د پرېښولو روايت نظر انداز کړی خو د مسئلې په انصاف سره د جائزې اخيستلو لپاره د هغو رواياتو څخه څه نقل کول مناسبه معلوميږي .

﴿۱﴾ ...... د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه روايت :

رفـع یدیـن د پـرېښـولـو پـه مستدلات کي د حضرت عبد الله بن مسعود رضـی الله تـعـالیٰ عـنـه اصـل بـلـل سـوی دی . دغـه روایت د ارباب سنن أصحاب اسانید و جوامع په خپلو کتابو کي په مختلفو طرقو سره ذکر کړي دي . حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه وایي: ”الا أصلی بکم صلوة رسول الله ﷺ فلم یرفع یدیه إلا فی اول مرة“ ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنـه عملي تعلیم ورکولو کي وایي چي آیا زه تاسي ته د نبي علیه السلام لمونځ وکړم در ښکاره یې نه کړم، ښکاره خبره ده چي د هغو الفاظو سره چي کوم عمل پېش کیږي هغه اتفاقاً یا حیاناً کېدلو والا عمل نسي کېدلای . هغه عمل همېشه هر وخت کېدلو والا یا خو باید په کثرت سره کېدلو والا وي . نو ددې وروسته چي کوم عمل ده کړی او راښولی یې دی هغه داوو چي خالص د تکبیر تحریمه په وخت کي ده لاسونه پورته کړل، او بیا یې رفع یدین نه وکړی . ترمذي دې روایت ته حسن ویلي دي او ابن جزم صحیح کڼلی دی . په تصحیح کولو والا کي ابن قطان، دار قطني او د بعضو محدثینو نومان دي . ټولـه راویان نهایت ثقه دي . خالص پر عاصم بن کلیب باندي کوته ایښول سوې ده . خو د هغه جواب ورکول سوی دی چي عاصم د مسلم د رجال شخه دی . امام بخاري هم په کتاب اللباس کي یو ځای په تعلیق کي د ده ذکر کړی . ابن معین، ابو حاتم نسائي وغیره دا ثقه کڼلی دی . احمد بن صالح د ده په شان کي یعد من وجه الکوفیین الثقات ویلي دي، وغیره وغیره .

دا روایت د رفع یدین په سلسله کي صفا او صریح دی . د حضرت ابن

عمر رضی الله عنه د رفع یدین والا روایت رقم په دې کي د وقف او رفع اختلاف نسته، ددې په الفاظو کي اضطراب نسته، د راوي عمل د روایت خلاف نه دی .او په الفاظو کي دا نسته چي د رفع یدین خالص ثبوت وي بلکه راوي په داسي الفاظو سره خبره کوي چي په هغه سره د رفع یدین پر پرېښولو باندي اتفاقاً عمل کولو پر ځای باندي په کثرت سره پر دې باندي د عمل کولو خبره واضح ده بیا د اچي د صحابهٔ و تابعینو تعامل ددې په تائید کي دی . خو ددې ټولو حقائقو سره پر مسئله باندي په مناظرانه انداز باندي بحث کولو والا دا وکړل چي د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په روایت باندي څه معقول او د قاعدې اعتراض نه وسو نو د بحث د پوره کولو لپاره یې اعتراضونه شروع کړل د هغو اعتراضونو یې هم منصفانه جائزه اخیستل ضروري ده .

د حضرت عبد الله بن مبارک تبصره:

عبد الله بن مبارک د امام اعظم د تلامذه و څخه دی . خو د ده شمار په رفع یدین کولو والا کي دی . بیا دا چي د ده خبره امام ترمذي نقل کړې ده . د دې وجهي د ده اهمیت زیات سو، وایي: قد ثبت حدیث من یرفع و ذکر حدیث الزهری عن سالم عن ابیه، ولم یثبت حدیث ابن مسعود ان النبی ﷺ لم یرفع إلا فی اول مرة ، یعني د رفع یدین روایت ثابت دی، او ده د عن زهري عن سالم عن ابیه والا روایت ذکر کړی او د ابن مسعود دا روایت چي نبي علیه السلام د تکبیر تحریمه ماسوا یو ځای رفع یدین نه وکړی " ثابت نه دی .

د دې خبري یو جواب خو الزامي دی . چي هغه علامه تقی الدین بن

دقیق العید په خپل کتاب "الامام" کي ذکر کړي دي چي د عبد الله بن مبارک د نه ثابتولو څخه دا چیري لازمیږي چي هغه دي د بل چا څخه ثابت نه وي . کواکي هغه وایي چي د عبد الله بن مبارک خبره شهادت علی النفی د قسم څخه ده . چي د هغه مدار د منکر خپل مبلغ علم وي، او کوم خلک چي د ثبوت شهادت ورکوي، هغه د خپل علم مطابق وایي، ددې وجهي څخه دیو انسان هم دخپل علم مطابق د نفي شهادت ورکول، د ثبوت شهادت ورکولو والا په حق کي د تاوان سبب نسي جوړیدای . او تحقیقي خبره په دا سلسله کي دا ده چي د عبد الله بن مبارک په تبصره پوهیدو کي زبردسته مغالطه ده . اود معترضینو په نزد دا پوهنه ده چي ترمذي د حضرت ابن مسعود د کوم روایت تحسین چي کوي، ددې په شان کي ابن مبارک د عدم ثبوت خبره کوي، او حال دا چي دا رقم نه دی . که د ترمذي پر الفاظو فکر وسي نودا مغالطه لیري کیږي . هغه اول تعلیقاً دا وویل چي: لم یثبت حدیث ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه ان النبی ﷺ لم یرفع إلا فی اول مرة . بیا ده تر ابن مبارک پوري یې د دې سند ذکر کړی، بیا یې د حضرت عبد الله بن مسعودؓ روایت ذکر کړی د دې تحسین یې وکړی چي د هغه صفا مطلب دا سو چي په کوم روایت کي چي د رفع یدین د پرېښولو د فعل نسبت د نبي علیه السلام و طرف ته براه راست منسوب کړل سوی دی ابن مبارک ددې په شان کي لم یثبت وایي . او په کوم روایت کي چي حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه خپل عمل را ښوولی دی او د هغه ألا اصلی بکم صلوة رسول الله ﷺ سره یې د نبي علیه و طرفته نسبت کړی دی د هغه په شان کي دئ دا نه

وايي . او ددې مضبوط دليـل دا دى چې د حضـرت عبد الله بـن مسعود رضـي الله تـعـالـىٰ عنه د فعل دا روايت په نسائى شريف كي د حضرت عبد الله بـن مبارك په طريقه سره منقول دى . او ددې راوي د صحيح راوي دى . الفاظ دا دي :

قال الا اخبركم بصلوة رسول الله ﷺ قال فقال فرفع يديه اول مرة ثم لم يعد (نسائى ١٦٠/١) . بيا دا څنګه ممكنه ده چي دى ديوه راويت انكار وكړي چي هغه دى خپلـه د ثقه راويانو څخه نقل كوي . او د دې واضح علامت دا دى چي كوا د ترمذي شريف د متداول نسخې څخه دا شـى معلوميږي . خو د عبد الله بن سالم البصرى والا نسخې څخه خو دا خبره بالكل منقح سوه چي په بعضو كتب خانو كي محفوظ دى او په دې كي امام ترمذي د أهل حجاز او أهل عراق د اختلافي مسائلو په بيان كي د خپل عادت مطابق جلا جلا دوه بابونه منعقد ايښي دي . اول باب رفع يدين عند الركوع دى كوم چي د عبد الله بن مبارك پر دغه تبصره باندي ختم سو . او ددې وروسته هغه دويم مستقل باب من لا يرفع يديه إلا فى اول مرة ايښى دى او تر دې لاندي يې د حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه په روايت سره ددې تحسين كړى دى .

د دې څخه دا خبره صفا معلومه سوه چي د عبد الله بن مبارك تبصره ددې روايت په شان كي ده چي هغه امام ترمذي په اول باب كي تعليقاً ذكر كړې ده، د هغه روايت په شان كي نه ده چي هغه دى په دوهم باب كي مرفوعاً ذكر كوي . و الله اعلم .

. . .

د مباحثو خلاصه او د رفع یدین
د پر ېښولوڼ ترجیح وجوهات:

مسئله بذات خود د اهمیت حامل نه ده . د اولیٰ وغیر اولیٰ اختلاف دی . خو مناظرانه انداز یې په اهمیت کې اضافه کړې ده . د دې وجهې څخه اول د فریقینو د دلائلو جائزه واخیستل سوه بیا د مسئلې د تنقیح لپاره تاریخي شواهد پېش سول . خلاصه دا چې احادیث دواړو خواوو ته سته . امام بخاريؒ رفع یدین ته ترجیح ورکړې ده او ددې لپاره یې دوه روایتونه پېش کړل خو د هغو دوو روایتو څخه په یو رقم هم رفع یدین سنت مستمره کېدل یا آخري عمل کېدل نه ثابتیږي . د دې وجهې دا ویل کیږي چي محدثین یا د دوی د اصولو مطابق فیصله کولو والا د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت کې د سند د ظاهري قوت څخه متاثره سوی دی او د رفع یدین سرسري او سطحي فیصله وکړله او دوی پر ترجیح باندي د استدلال څخه مخکې په حقیقت او روایت کي د رقم رقم اضطراب و اختلاف و طرف ته یې توجه و نه کړله کنه د امام مالک صاحب په رقم به د ده فیصله د رفع یدین د پرېښولو وای .

دا سو د امام بخاريؒ پر مستدلاتو باندي د اخیستل سوي جائزې اختصار، تر کوم ځای پوري چي په دې سلسله کي د پېش کړل سوو د نورو حقائقو تعلق دی د هغه خلاصه دا ده چي د رفع یدین پر ېښول راجح دي چي د هغه وجوهاتي دا دي:

۱﴾...... د رفع یدین رواة، په عهدِ رسالت کي یا خو ځوانان صحابه کرام دي یا هغه خلک دي چي هغو په بارګاهِ رسالت کي څو ورځي قیام کړی دی .

دا خلک د لمانځه په شان کي د نازل سوو تدریجي احکامو عیني شاهدان نه دي، او د رفع یدین د پرېښولو راویان هغه صحابه کرام رضی الله عنهم دي چي هغوی د دې ټولو احکامو د تجربې او مشاهدې څخه تېر سوي دي . او دوی ته د اول څخه تر آخر پوري د لمانځه په شان کي د نازل سوو تدریجي احکامو پوره بصیرت سره علم دی . د دې وجهي د رفع یدین پرېښول راجح دي .

۲﴾ ...... د رفع یدین راویانو صحابه کرامو عمل همېشه د رفع یدین کولو نه دی سو . د دوی څخه د رفع یدین روایات هم په صحیح سند منقول دي . او د رفع یدین د ترک راویان صحابه کرام رضی الله عنهم خصوصاً د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه عمل همېشه د رفع یدین د پرېښولو سوی دی . د ده څخه د رفع یدین ثبوت یو ځای هم نسته . د دې وجهي څخه د رفع یدین پرېښول راجح دي .

۳﴾ ...... د رفع یدین پرېښول د لمانځه په سلسله کي د قرآن کریم اصولي هدایت د (قوموا لله قانتین) مطابق دی . او فقهاء احناف په روایات کي د اختلاف په وخت کي د قرآني هدایاتو سره زیات توافق لرلو والا صورت ته ترجیح ورکوي . دا د دوی مقرره اصول دي . او د دې متعدد مثالونه په فقه حنفي کي سته . د دې وجهي دلته هم د رفع یدین پرېښول راجح دي .

۴﴾ ...... د رفع یدین ټول روایات فعلي دي . په ټوله ذخیرهٔ احادیث کي یو روایت هم داسي نسي پېښ کېدای چي په هغه کي رکوع ته د تللو په وخت کي یا د رکوع څخه د راپورته کېدلو په وخت کي د رفع یدین امر سوی وي . او د رفع یدین د پرېښولو روایات فعلي هم دي او قولي هم . او

قولي روايات د معارضې څخه محفوظ دي لکه د حضرت جابر بن سمره د مسلم شريف په روايت: مالى اراکم رافعي ايديکم .اسکنوا في الصلوة. دا روايت د رفع يدين د پرېښولو لپاره نص صريح دی . او که چيري د فريق ثاني د خيال مطابق دا د سلام متعلق هم ومنل سي نو په اثناء صلوة کي د رفع يدين ممانعت هم د داغه روايت څخه د دلالت النص پر طريقه باندي په درجه اولیٰ ثابتيږي . د دې وجهي د رفع يدين پرېښول راجح دي

۵﴾ ...... لمونځ يو داسي عبادت دی چي په هغه کي د احکامو تغير و توسع څخه د تنګي او د حرکت څخه د سکون و طرفته سوی دی . ټول فقهائې کرام د رفع يدين په سلسله کي دغه اندازه تسليموي څکه د ظاهريه ماسوا ټول فقهاء، محدثين د څو مقاماتو رفع يدين په احاديث صحيحه کي موجودېدو باوجود پرېښي دي . ګواکي په دې سلسله کي پر يو څو ځايو باندي د رفع يدين نسخ د ټولو په نزد تسليم سوی حقيقت دی . خالص پر دوو ځايو باندي د رفع يدين او ترک رفع يدين اختلاف دی . د احتياط تقاضا دا ده چي دلته هم هغو رواياتو ته ترجيح ورکو سي چي په هغو کي د ترک خبره نقل سوې ده .

٦﴾ ...... د رفع يدين د ترک راويان زيات فقيه دي . تفقه د رواة پر بنياد باندي ترجيح ورکول د ډېرو فقهاؤ محدثينو په نزد خوښه طريقه ده . د دې وجهي د رفع يدين پرېښول راجح دي .

۷﴾ ......د رسالت په زمانه کي د رفع يدين پر پرېښولو زيات عمل وو . او د رفع يدين پر کولو باندي لږ عمل وو . لکه د حضرت وائل بن حجر پر روايت باندي، د ابراهيم نخعي د تبصرې څخه واضح دی چي په دوارو

عمل کې دیو او پنځوسو نسبت وو . ددې وجهې رفع یدین پرېښول راجح دي .

۸﴾ ......په خلافت راشده کې د رفع یدین د پرېښولو تعامل وو ددې وجهې د رفع یدین پرېښول راجح دي .

۹﴾ ......مشهوره اسلامي مرکزونه یعني په مدینه طیبه کې د امام مالک تردور پورې د رفع یدین پرېښولو تعامل وو . په مکه مکرمه کې د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالیٰ عنه د خلافت څخه مخکې د رفع یدین پر پرېښولو باندې تعامل وو . په کوفه کې د ابتداء څخه بیا تر څو صدیانو پورې د رفع یدین پر پرېښولو باندې عمل وو . نو ددې وجهې د رفع یدین پرېښول راجح دي .

۱۰﴾ ...... د استاذانو د درجې دوه لوی امامان، د رفع یدین د پرېښولو قائل دي . او د شاګردانو د درجې دوه امامان د رفع یدین قائل دي . د دې وجهې د رفع یدین پرېښول راجح دي . و الله اعلم .

...... ☆ ......

﴿۱﴾:۔حدثنا ابو بکر بن أبي شيبة و ابو کريب قالانا معاوية عن الاعمش عن المسيب بن رافع عن تميم بن طرفة عن جابر بن سمرة قال خرج علينا رسول الله ﷺ فقال: مالي اراکم رافعي ايديکم کأنها اذناب خيل شمس، اسکنوا في الصلوة ۔ (الحديث صحيح مسلم ۱/۱۸۱) (ابو داؤد ۱/۱۴۳) النسائي ۱/۱۷۶) وفي لفظ النسائي، خرج علينا رسول الله ﷺ و نحن رافعوا ايدينا في الصلوة الخ .

ترجمه: تمیم بن طرفه د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه بن سمرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کوي (چې) حضرت جابر رضی الله

تعالیٰ عنه وویل چي رسول الله ﷺ د حجرې شریفي څخه راووتی موږ ته یې تشریف راوو او موږ په لمانځه کي (رفع الیدین) لاسونه پورته کول نو هغه حضرت ﷺ وفرمایل ما ته څه وسو (یا په ما څه وسول) چي زه تاسو پورته سوي لاسونه وینم لکه هغه شریر آسونه چي، په لمانځه کي په سکون اوسي .

تشریح: ددې حدیث ظاهر دا دی چي صحابه رضی الله عنهم په مسجد نبوي کي نفل کول په دغه حالات کي هغه حضرت ﷺ له حجرې مبارکي څخه دباندي تشریف راووړ او په دغه دوران کي رفع الیدین (لاسونه پورته) نیولي ولیدل منع وفرمایله او لاسونه بار بار (وار په وار) پورته کول یې د شریر و آسونو چي لکۍ قطع (پرې وي) تشبیه ورکړه او ددغه برخلاف یې سکون قرار ویل(آرام) مطمئن اوسېدل وفرمایل "اسکنو فی الصلوة" په لمانځه کي په سکون اوسي . دغه حکم پر قرآن حکیم کي هم ورکړل سویدی . د الله تعالی(ج) فرمان دي(یا الهی فرمان) دی . "قوموا لله قانتین" د الله (ج) په حضور کي پر سکون (په سکون) ودرېږئ، کوم چي له تکبیر تحریمه څخه علاوه رفع یدین (د لاسو پورته کېدل) خلاف اولی بلل بالکل ظاهر دی .

﴿۲﴾:- حدثنا هنا د وکیع ، عن سفیان ، عن عاصم بن کلیب ، عن عبد الرحمن بن الاسود ،عن علقمة ، قال : قال عبد الله بن مسعود الا اصلی بکم صلوة رسول الله ﷺ ؟ فصلّی فلم یرفع یدیه الا فی اول مرة ، قال و فی الباب عن البراء بن عازب قال ابو عیسی : حدیث ابن مسعود ، حدیث حسن ، و یقول غیر واحد من أهل العلم من أصحاب النبیﷺ والتابعین ، و هو قول سفیان و

أهل الكوفة ـ (جامع ترمذی ۵۹/۱ و رجاله رجال مسلم۔

ترجمه: علقمة بن قيس نخعي بيان كوي چي حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالىٰ عنه وفرمايل آيا زه تاسو ته در ښكاره نكړم (در ونه ښيم) داسي لمونځ وكړم په تاسو كي په كومه طريقه (ډول) چي به رسول الله ﷺ نماز ادا كوى (لمونځ به يي كوى) (دايي وويل هغوى لمونځ وكړ نو رفع اليدين (لاس پورته كول) يو وار (تكبير تحريمه يعني تكبير شروع) څخه ماسوا يې لاس پورته نه كړل .

امام ترمذیؒ وضاحت كوي چي حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه د دغه روايت څخه علاو په پرېښودلو (ترک رفع اليدين) د لاس پورته كېدو په باره كي له حضرت براء بن عازب رضىٰ الله تعالىٰ عنه څخه هم حديث شريف روايت سوى دى .

امام ترمذيؒ دا هم صراحت كوي (ښكاره كوي يې) چي له حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه څخه را نقل سوى دغه حديث حسن وو . او ډېر د علم خاوندان صحابه رضى الله تعالىٰ عنه او تابعين (څخه) صرف د تكبير تحريمه په وخت لاس پورته كول (رفع اليدين) باندي قائل دي . او دغه خبره مشهور امام حديث و فقه سفيان ثوري او أهل د كوفي هم كوي (وايي)

﴿۲﴾:۔حدثنا عثمان بن ابي شيبة ، حدثنا وكيع ، عن سفيان ، عن عاصم ابن كليب ، عن عبد الرحمن بن الاسود ، عن علقمة قال : قال عبد الله ابن مسعود : الا اصلى بكم صلاة(صلوة) رسول الله ﷺ ؟ قال فصلى فلم يرفع يديه إلا مرة . (سنن أبى داؤد ۱۰۹/۱ و رجاله رجال الصحيحين)

ترجمه: علقمه رضی الله تعالیٰ عنه روایت کوي چي حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه وویل آیا زه در ښکاره نه کړم تاسو ته چي دغه رقم (ډول) لمونځ کوئ لکه چي څنګه رسول الله ﷺ لمونځ ادا کوی، علقمه وایي (دغه یې وویل) حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه لمونځ وکړی او یو وار (یعنی صرف د تکبیر تحریمه په وخت) یې لاس پورته کړل (رفع الیدین یې وکړ) او بس.

﴿۴﴾:۔ حدثنا الحسن بن علی، (حدثنا) معاوية و خالد بن عمرو، و ابو حذيفة قالوا: (حدثنا سفيان باسناده بهذا، قال فرفع يديه فی اول مرة، وقال بعضهم مرة واحدة۔ (سنن أبی داؤ ۱/۱۰۹).

ترجمه: معاوية بن هشام، خالد بن عمرو او حذیفه دغو درو له سفیان ثوري څخه لوړ ذکر سوی سند (یعني عاصم بن کلیب عن عبد الرحمن بن الاسود، له علقمة) څخه حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه لوړ ذکر سوی (مذکور) حدیث شریف روایت کړی دی البته د اول روایت لفظ "فلم يرفع يديه إلا مرة" پر ځای "فرفع يديه في اول مرة" او بعضو داسي "فرفع يديه مرة واحدة" ددي الفاظو بیان کړی دی ددي تولو لفظو معنی (یوه ده) یعني صرف یو وار د تکبیر تحریمه (د شروع د تکبیر) په وخت کي رفع الیدین (لاس پورته کول) وکړو.

﴿۵﴾:۔(حدثنا) اخبرنا محمود بن غيلا المروزی، حدثنا وكيع، حدثنا سفيان، عن عاصم بن كليب، عن عبد الرحمن بن الاسود عن علقمة، عن عبد الله انه قال: الا اصلي بكم صلوة رسول الله ﷺ؟ فصلى فلم يرفع يديه إلا مرة واحدة ۔ (سنن نسائی ۱/۱۶۱)

تـرجمه: لـه عـلـقـمة رضـی الله تـعـالـیٰ عـنه څخه روایت دی چي حضرت عبـدالله ابـن مسـعـود رضـی الله تعالیٰ عنه وفرمایل څنګه زه تاسو ته هغه لـمونځ کم در ښکاره کوم چي رسول الله ﷺ کاوه . هغوی لمونځ شروع کړ (ویـې کـی) نـو لاسونه یې صرف یو وار پورته کړل . (یعني د تکبیر تحریمه په وخت کي) .

﴿۶﴾:۔ اخبرنـا سـوید بـن نـصر ، حدثنا عبد الله بن المبارك ، عن سفیان عن عـاصم ابـن کلیب عن عبد الرحمن بن الاسود عن علقمة ، عن عبد الله قال: الا اخبرکم بصـلـوة رسـول الله ﷺ ، قـال : فقام فرفع یدیه اول مرة ثم لم یعد . (سنن نسائی ۱۵۸/۱) وقال الشیخ النیموی هذا اسناد صحیح .

ترجمه :عـلـقـمـه روایت کـوي چي حضرت عبد الله بن مسـعـود رضـی الله تعالیٰ عنه (روایت کوي) وفرمایل څنګه زه تاسو ته د هغه حضرت ﷺ د لـمـانځـه خبـر در نه کړم؟ علقمه بیان کوي چي (دغه تنبیهي (د اګاهۍ یا خبـرتـیـا جـمـلـه یـې وویـله) حضرت عبد الله رضی الله تعالیٰ عنه ولاړ سو اولاسـونـه ئې اول وار پـورتـه کـړل . (یـعـني د تکبیر تحریمه پـه وخت کي) وروستـه (بیا یې) ددغه (لاس پورته کېدو) اعاده یا راګرځېدل (تکرار) و نه کړ .

﴿۷﴾:۔وکیع ، حـدثـنـا سفیان ، عـن عـاصم بن کلیب ، عن عبد الرحمن بن الاسـود ، عـن عـلقمة قال : قال ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه الا اصلی لکم صلوة رسول الله ﷺ ؟ قال : فصلی فلم یرفع یدیه إلا مرة۔ (مسند امام احمد ص ۶/۲۵۱ ۔ ص ۱۱۵) وفیه فرفع یدیه فی اول مرة۔

﴿۸﴾:۔حـدثـنـا وکیع ، عن سفیان ، عن عاصم بن کلیب ، عن عبد الرحمن بن

الاسود ، عن علقمة ، عن عبد الله قال : الا اريكم صلوة(صلاة) رسول الله ﷺ ؟ فلم يرفع يديه إلا مرة ۔ (مصنف ابن أبي شيبة ۱/۲٦۷)

ترجمه :له علقمة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت شويده چې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه وفرمايل څنګه (آيا) زه تاسو ته در ښکاره نکړم د رسول الله ﷺ لمونځ (دغه يې وويل او لمونځ يې وکړ) نو صرف يو وار يې رفع اليدين (لاس پورته کېدل) وکړل .

تشريح :خاتمي مرتبت، ختم کونکی د رتبو، نبي د رحمت ﷺ په مجلس کي حاضر باش، د سفر او د کور د هغه ﷺ خاص خادم د هغه د سيرت او د سنت نمونه، او د هغه ﷺ د تعليماتو او هداياتو خزانه، فقيه د امت حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه هغه خپلو شاګردانو او حاضرينو د مجلس ته د الله (ج) د نبي عليه الصلوة و السلام د طريقې لمونځ په عملي طور تعليم (ور وښودی) ادا کړی او ور ښکاره يې کړی او په دغه لمانځه کي صرف تکبير تحريمه په وخت کي رفع اليد (لاس پورته کېدل) وکړو، له کوم څخه چي صاف طور معلوميږي چي رکوع ته تلل او له رکوع څخه راپورته کېدل د هغه حضرت ﷺ معمول د رفع اليدين (لاس پورته کېدل) نه وو . ځکه حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه چي هغه ته د رسول فدائي او فاضل ترين صحابي (چي قول و عمل باندي يې د اعتماد مهر لګولی او فرمايلي نبي ﷺ فرمايي "ما حدثكم ابن مسعود فصديقوه" (يعني عبد الله بن مسعود چي ستاسو سره کومه خبره وکړي صحيح باور پرې وکړئ) دده په باره کي فکر هم نسي کېدای چي ني کريم ﷺ و طرفته منسوب

کړي يوه خبره وکړي يا يو کار وکړي او په هغه کي د ده له طريقې مخالفت وکړي ځکه امام دار قطني په يوه موقعه باندې ليکي: وعبد الله بن مسعود اتقى لربه و اشح على دينه من ان يروى عن رسول الله ﷺ انه يقضى بقضاء و يفتى هو بخلاف هذا لا يتوهم مثله على عبد الله بن مسعود (سنن دار قطني ٤/٣٦١) .حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه ﷺ په دې باره کي د خپل پروردګار څخه ډېر زيات بېرېدونکى او خپل دين ته ترجيح ورکونکى وو او حضرت محمد ﷺ څخه يوه فيصله نقل کړي او فتوى د هغه خلاف ورکړي د حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه د شخصيت په باره کي دا وهم هم نسي کېداى .

ځکه بغير له تردد حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه څخه منقول دغه حديث فعلي ناطق دى چي عامو لمنځو کي د تکبير تحريمه څخه علاوه رفع يدين نه کول سنت دي .

﴿۸﴾:۔حدثنا ابن أبى داؤ قال حدثنا نعيم بن حماد ، قال ثنا وكيع ، عن سفيان ، عن عاصم بن كليب ، عن عبد الرحمن بن الاسود عن علقمة بن عبد الله عن النبى ﷺ انه كان يرفع يديه فى اول تكبيرة ثم لا يعود . (شرح معانى الاثار ١/١٣٢ و اسناده قوى)

ترجمه :حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي حضرت محمد ﷺ د اول تکبير (تکبير تحريمه) په وخت کي لاس پورته کاوئ او له هغه څخه وروسته يې نه پورته کوى .

﴿۹﴾:۔حدثنا محمد بن النعمان ، قال حدثنا يحيىٰ بن يحيىٰ ، قال حدثنا

وكيع ، عن سفيان فذكر مثله باسناده . (شرح معاني الآثار ۱۳۲/۱ اسناده أيضا قوی)

دد غه حديث سند سفيان ثوري څخه مخته بالكل هغه كوم چي حديث (۸) او د متن الفاظ هم هغه دي .

﴿۱۰﴾:۔ ابو حنيفه عن حماد ، عن ابراهيم ، عن الاسود ان عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه كان يرفع يديه فى اول التكبير ثم لا يعود لشيئ من ذلك و يوثر ذلك عن النبى ﷺ . (المنية ۱۰۱/۱، و مسند أبى حنيفة رجاله كلهم ثقات)

ترجمه :اسود نخعي بيان كوي چي حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه په اول تكبير كي رفع يدين كوي بيا يې د لمانځه په يوه حصه كي هم لاس نه پورته كوي او خپل دا عمل يې د الله د نبي ﷺ نقل سوى دى .

تشريح :دغه هغه حديث دئ چي امام ابو حنيفهؒ په مناظره كي امام اوزاعيؒ ته بيان كړى او دا يې ثابته كړه چي د دې حديث هر راوي فقهي دی او امام اوزاعي خاموشه او بې جوابه سو .

﴿۱۱﴾:۔اخبرنا ابو عبد الله الحافظ ، حدثنا محمد بن صالح بن هانی ، ثنا ابراهيم بن محمد بن مخلد الضرير ، ثنا اسحاق بن أبى اسرائيل ثنا محمد بن جابر عن حماد بن أبى سليمان عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه قال : صليت خلف النبى ﷺ و أبى بكر ، و عمر فلم يرفعوا ايديهم الافتتاح الصلوة .(السنن الكبرى للبيهقى ج ۲ ص ۷۹، ۸۰) و قال الحافظ ابن الماردينى اسناده جيد و رواه أيضا الدار قطنى و فيه

قال اسحاق و به ناخذ فی الصلوة کلها)

ترجمه :حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمایي چي ما د حضرت محمد ﷺ حضرت ابو بکر و عمر رضی الله عنهما پسي لمونځ کړی دی تولو یوازي د تکبیر تحریمه په وخت کي لاس پورته کړی .

تشریح :له حدیث ۸ څخه تر ۱۱ پوري په صراحت سره دا ثابته شوې چي حضرت محمد ﷺاو اکبار أصحاب کرامو لکه حضرت ابوبکر ، عمر او عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم په عامو لمونځو کي یې صرف په تکبیر تحریمه کي لاس پورته کاوئ نو لهذا د دې په افضل کېدو کي کومهٔ خبره کېدایٔ سي .

﴿۱۲﴾:۔حدثنا محمد بن الصباح البزار ، حدثنا شریك عن یزید بن بن ابی ذبا یاد عن عبد الرحمن بن أبی لیلی عن البراء عن النبی ﷺ کان إذا افتح الصلاة رفع یدیه إلی قریب من اذنیه ثم لا یعود۔ (سنن أبی داؤد ۱/۱۰۹)

ترجمه :حضرت براء رضی الله تعالیٰ عنه روایت کوي چي رسول الله ﷺ چي به لمونځ شروع کاوی نو لاسونه به یې تر غوږو پوري نزدې پورته کول بیا یې دا نه کرزول .

﴿۱۳﴾:۔حدثنا هشیم عن یزید بن أبی زیاد عن عبد الرحمن بن أبی لیلی عن البراء بن عازب قال : رأیت رسول الله ﷺ رفع یدیه حین افتح الصلاة ثم لم یر فعهما حتی انصرف۔ (جامع المسانید و السنن ۲/۵۶، و قال المحشی اخرجه الامام احمد فی مسنده ۴/۲۸۲)

ترجمه :حضرت براء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوي چي ما

رسول الله ﷺ وليدو چي د لمانځه د شروع کولو په وخت کې يې لاسونه پـورتـه کـړل بيـا يـې لـه لـمـانـځـه څـخـه تـر فارغېدو پوري لاسونه نه کړل پورته .

﴿۱۴﴾:۔حدثنا اسحاق هشيم ، عن يزيد بن أبي زياد ، عن عبد الرحمن بن أبي ليلى عن البراء قال رأيت رسول الله ﷺ حين افتتح الصلاة كبر و رفع يديه حتى كادتا تحاذيان اذنيه ثم لم يعد۔ (مسند ابو يعلى ۲۴۸/۳)

ترجمه :حضرت براء بن عازب رضى الله تعالىٰ عنه څخه روايت دى چې هغه وويل ما د الله رسول عليه الصلوة و السلام وليدى چې لمونځ يې شروع کړى تکبير يې وويلو او دواړه لاسونه يې پورته کړل تر دا ځايه چې تقريباً د غوږو سره برابر سو او بيا يې (د لاسونو د پورته کولو عمل) دوم واريې دا نه وکړى .

﴿۱۵﴾:۔حدثنا اسحاق ، حدثنا ابن ادريس قال : سمعت يزيد بن أبي زياد عن ابن أبي ليلىٰ عن البراء قال : رأيت رسول الله ﷺ رفع يديه حين استقبل الصلاة حتى رأيت ابهاميه قريبا من اذنيه ثم لم يرفعهما۔ (مسند ابو يعلى ۲۴۹/۳)

ترجمه :حضرت براء بن عازب رضى الله تعالىٰ عنه بيان کوي چې ما رسول الله ﷺ وليدى چې کوم وخت يې لمونځ شروع کړى نو لاسونه يې پورته کړل تر دا ځايه مي وليدى چې دواړه کوتي يې تر غوږو پوري نژدې سوې د هغه وروسته يې بيا لاس نه دى پورته کړى .

﴿۱۶﴾:۔ عبد الرزاق عن أبي عيينة ، عن يزيد ، عن عبد الرحمن بن أبي ليلى عن البراء بن عازب قال: كان رسول الله ﷺ إذا كبر رفع يديه حتى

ابهامه قريبا من اذنيه وزاد قال مرة واحدة ثم لم يرفعهما فى كل الصلوة۔ (مصنف عبد الرزاق ج٢ ص ٧٠، ٧١)

ترجمه: حضرت براء بن عازب رضى الله تعالىٰ عنه بيان كوي محمد ﷺ چي به كله تكبير تحريمه وكړى نو لاسونه به يې پورته كړول تر داځاى پوري چي ګوتي به يې غوږونو ته نژدې ليدل كېدې، بيا به يې په دغه لمانځه كي دوهم واري لاس نه پورته كاوۍ.

﴿١٧﴾:۔ حدثنا ابو بكرة قال حدثنا مؤمل، قال حدثنا سفيان، قال حدثنا يزيد بن أبى زياد عن أبى ليلى عن البراء بن عازب قال: كان النبى ﷺ إذا كبر لافتتاح الصلاة رفع يديه حتى يكون ابهاماه قريبا من شحمتى اذنيه ثم لا يعود۔ (شرح معاني الآثار ١/١٣٢)

ترجمه: حضرت براء بن عازب رضى الله تعالىٰ عنه څخه روايت دى. دوى وويل چي نبي كريم ﷺ به تكبير تحريمه وو ايو لاسونه به يې پورته كړل آن تر دې چي لاسونه يې د غوږو تر نرميو پوري رسېدلي بيا يې تر آخره پوري لاسونه نه كړل پورته.

﴿١٨﴾:۔ حدثنا احمد بن على بن العلاء حدثنا ابو الاشعث، حدثنا محمد بن بكر، حدثنا شعبة، عن يزيد بن أبى ذياد قال: سمعت ابن أبى ليلى يقول سمعت البراء فى هذا المجلس يحدث منهم كعب ابن عجرة قال: رأيت رسول الله ﷺ إذا كبر لافتتاح الصلاة رفع يديه حتى افتتح الصلاة يرفع فى اول تكبيرة۔ (سنن الدار قطنى ١/١١٠)

ترجمه: عبد الرحمن بن أبى ليلى وايي چي ما د حضرت براء بن عازب رضى الله تعالىٰ عنه څخه په دغه مجلس (()) كي . . حديث د بيان

کـولـو پـه وخت کي واورېدل پـه مـجلـس کي يو حضرت کعب بن عجره رضی الله تـعـالیٰ عنه هم وو . حضرت براء وايي ما نبي کريم ﷺ وليدی چي لـمـونځ به يې شروع کړی نو صرف په اول تکبير (تکبير تحريمه) کي به يې لاسونه پورته کول .

﴿۱۹﴾:۔حـدثـنا يحيیٰ بـن مـحمد بن صاعه ، حدثنا محد بن سليمان لوين ، حـدثـنـا اسـمـاعيل بن زکريا ، حدثنا يزيد بن أبی زياد ، عبد الرحمن بن أبی ليـلـی ، عـن البراء انه رأی رسول الله ﷺ حين افتح الصلاة رفع يده حتی حاذابها اذنيه ثم لم يعد إلی شيئ من ذلك حتی فرغ من صلواته۔ (سنن الدر قطنی ۱/۱۱۰)

ترجمه :حـضـرت بـراء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی چي دوی رسـول الله ﷺ ولـيـدیٰ چيَ څـه وخت نبي کريم ﷺ لمونځ شروع کـړی نـو دواړه لاسـونـه يې پـورتـه کـړل تر دې ځايه چي دواړه لاسونه يې د غـوږونـو مـخـامـخ سول بيا يې لاسونه نه دي پورته کړي تر دا وخته چي د لمانځه څخه فارغه سو .

﴿۲۰﴾:۔حـدثـنا ابو بکر الادمی احمد بن محمد بن اسماعيل حدثنا عبد الله بـن مـحـمد بن المخرمی ، حدثنا علی بن عاصم ، حدثنا محمد بن أبی ليلی عن يزيد بن أبی زياد ، عن عبد الرحمن بن أبی ليلی عن البراء بن عازب قال : رأيـت رسـول الله ﷺ حيـن قـام إلـی الصلوة فکبر و رفع يديه حتی ساوی بهما اذيه ثم لم يعد۔ (سنن الدر قطنی ۱/۱۱۰)

ترجمه :حـضـرت بـراء بن عـازب رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی چي دوی وويـل مـا رسـول الله ﷺ ولـيـدی چي کـوم وخـت نبـي کـريم ﷺ د

لمانځه دپاره ولاړ سو دواړه لاسونه يې پورته کړل تر دا ځایه چې د غوږو سره برابر سو . له دې وروسته يې بیا نه کړل پورته .

﴿۲۱﴾:۔حدثنا حسين بن عبد الرحمن ، حدثنا وكيع ، عن أبى ابى ليلى عن اخيه عيسى ، عن الحكم عن عبد الرحمن بن أبى ليلى ، عن البراء بن عازب قال : رأيت رسول الله ﷺ رفع يديه حين افتح الصلوة ثم لم يرفعهما حتى انصرف ۔ (سنن الدر قطنی ۱/۱۱۰،۱۰۹)

ترجمه :حضرت براء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوي چې ما رسول الله ﷺ ولیدی چې کوم وخت دوی لمونځ شروع کړی نو دواړه لاسونه يې پورته کړل بیا يې له لمانځه څخه تر فارغېدو پوري لاسونه نه کړل پورته .

﴿۲۲﴾:۔حدثنا ابو بكر قال : حدثنا وكيع ، عن ابن أبى ليلى ، عن الحكم و عيني ، عن عبد الرحمن بن أبى ليلى عن البراء بن عازب ان النبي ﷺ كان اذاافتح الصلاة رفع يديه ثم لم يرفعهما حتى يفرغ ۔ (مصنف ابن بی شیبه ۱/۲٦۷)

ترجمه :حضرت براء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوي چې د الله نبي حضرت محمد ﷺ به کله لمونځ شروع کړی نو لاسونه به يې پورته کړل بیا له لمانځه څخه تر فارغ کېدو پوري يې لاس نه پورته کول .

﴿۲۳﴾:۔حدثنا ابن أبى داؤد قال حدثنا عمرو بن عون ، قال انا خالد عن ابن أبى ليلى عن اخيه و عن الحكم عن ابن أبى ليلىع عن البراء بن عازب عن النبي ﷺ مثله ۔

﴿۲۴﴾:۔وحدثنا محمد بن النعمان قال حدثنا یحیی بن یحیی قال حدثنا وکیع عن ابن أبي لیلی عن البراء عن النبي ﷺ مثله۔ (شرح المعاني الآثار ۱۳۲/۱)

ددې حدیث الفاظ بعینه هغه دي لکه چي د حدیث نمبر (۱۷) کي دي یعني چي کله به نبي کریم ﷺ تکبیر تحریمه وایو نو لاسونه به یې تر دې اندازې پورته کول چي دلاسو بتې کوتې به یې د غوږو تر نرمیو پوري رسېدلې او له تکبیر تحریمه نه بعد به یې لاس نه پورته کاوه .

تشریح : له ډېرو سندو څخه روایت دا حدیث هم د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه د منقول روایت په طرز بالکل صریح دی چي نبي کریم ﷺ صرف د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع یدین کاوه نو له دې وجهي څخه د رفع یدین پرېښودل اولیٰ او افضل دي .

﴿۲۵﴾:۔حدثنا عبد الله بن ایوب المحزمی و سعدان بن نصر و شعیب بن عمرو فی آخرین قالوا حدثنا سفیان بن عیینة الزهری ، عن سالم عن ابیه قال : رأیت رسول الله ﷺ إذا افتح الصلاة رفع یدیه تی یهاذی بهما و قال بعضهم حذو منکبیه و إذا اراد ان یرکع و بعد ما یرفع رأسه من الرکوع لا یرفعهما ، و قال بعضهم لا یرفع بین السجدین والمعنی واحد۔ (صحیح ابو عوانه ۹۰/۲)

ترجمه :سالم له خپله پلار حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کوي چي دوی وفرمایل چي ما رسول الله ﷺ ولیدی چي کوم وخت حضور ﷺ لمونځ شروع کړی نو دواړه لاسونه یې تر اوږو پوري پورته کړل او رکوع ته د تللو اراده یې وکړه او له رکوع څخه یې د سر

پورته کولو وروسته هم لاسونه نه کړل پورته .

امام ابو عوانه وایي چي، عبدالله، سعدان، شعیب او نورو له دې څخه علاوه دا هم ویلي چي د دوارو سجدو په منځ کي (یعني جلسه) کي هم لاسونه نه دي پورته کړي .

﴿۲٦﴾:۔حدثنا صائغ بمکة قال: حدثنا الحمید قال: حدثنا سفیان، عن الزهری، قال اخبرنی سالم، عن ابیه قال: رأیت رسول الله ﷺ مثله (صحیح ابو عوانه ۲/۹۱)

د دې حدیث الفاظ او معنی بالکل هغه رقم دی کوم چي د حدیث نمبر (۲۵) وه .

﴿۲۷﴾:۔حدثنا الحمیدی قال حدثنا سفیان، قال حدثنا الزهری قال اخبرنی سالم بن عبد الله عن ابیه قال: رأیت رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلاة رفع یده حذو منکبیه و إذا اراد ان یرکع و بعد ما یرفع رأسه من الرکوع فلا یرفع ولا بین السجدتین۔ (مسند حمیدي ۲/۲۷۷)

ترجمه :سالم بن عبدالله له خپل پلار عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کوي چي هغوی وویل ما نبي علیه السلام ولیدی چي کله یې لمونځ شروع کړی نو لاسونه یې تر اوږو پوري پورته کړل او د رکوع اراده کولو او له رکوع څخه د سر را پورته کېدو وروسته لاسونه نه کړل پورته او نه یې د دوارو سجدو په منځ کي لاسونه پورته کړل .

تشریح :مستخرج ابو عوانه(چي کوم د محدثینو صحاح کي حساب وو)) او د امام بخاری اهم ترین استاذ امام حمیدي په مسند کي ذکر سوی، دا دري سره د حدیثو په اعتبار سره یې اعلی درجه کي صحیح دي . او دا له

علت او له شک و شبهې څخه خلاص دي . او په پرېښودو د رفع يدين کې صريح دي .
او پاته سوه دا خبره چې غير مقلدين علماء وايي چې حنفي علماؤ په دې کې لاس وهنه کړې او دا يوه داسې بې دليله دعوی ده چې د علم په دنيا کې هيڅ حيثيت نلري بلکه داخالص بهتان دی .دواړه ذکر سوي کتابونه شائع سوي دي . په هغو کې دغه حديثونه ليدل کېږي . له دې څخه ما سوا د غير مقلدينو استاد کل مولانا سيد نذير حسين محدث دوه شاګردان حافظ نذير حسين معروف به زين العابدين او محی الدين . . . په لاسو ليکل سوی مسند حميدی قلمي نسخه د دارالعلوم ديوبند په کتب خانه کې پروت دی د چا چې زړه وغواړي را دې سي و دې ګوري .

﴿۲۸﴾:۔عن عبد الله بن عون العراز : حدثنا مالك ، عن الزهری ، عن سالم ، عن ابن عمرو ان النبی ﷺ كان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة ثم لا يعود۔ (ذكر البيهقى فى الخاقيات كما فى نصب الآية ۱/ ۴۰۴)

ترجمه : د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې د الله نبي ﷺ يوازې د لمانځه په شروع (يعني تکبير تحريمه) په وخت کې رفع يدين کاوه بعد له دې دوهم واري بيا رفع يدين نه کاوه .

تشريح :دا حديث په ترک د رفع کې بالکل صريح دی چې په دې کې د هيڅ تاويل او توجيه ځای نسته .

﴿۲۹﴾:۔ابن وهب عن مالك بن انس ، عن شهاب ، عن سالم بن عبد الله عن ابيه ان رسول الله ﷺ كان يرفع يديه حذو منكبيه إذا افتتح التكبير للصلاة۔ (المدونة الكبرى ۱/ ۶۹)

ترجمه :سالم بن عبدالله له خپله پلار عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ یوازي د تکبیر تحریمه په وخت کي لاسونه تر اوږو پوري پورته کول .

تشریح :په مذهب مالکي کي لوی او معتمد ترین (ډیر اعتباري) کتاب "المدونة الکبری" کي دا حدیث یې په ترک د رفع یدین کي د دلیل په توګه راوړی دی چي د هغه راو د امام مالک مشهور شاګرد ابن وهب دی . او د امام مالک یو بل فاضل تلمیذ ابن القاسم هم د امام مالک څخه دا حدیث روایت کړی دی . په دې وجه ددې په صحیح والي کي هیڅ مشکل نسته .

البته په حدیث کي و رکوع ته د تللو په وخت کي او له رکوع څخه د ولاړي وروسته د رفع یدین د پرېښودو لفظاً ذکر نه دی سوی . لیکن په حدیث شریف کي شرط یعني إذا افتح التکبیر للصلاة هغه یې مؤخر کړی او جزا یعني "کان یرفع یدیه" یې مقدم کړی او رفع یدین یې له تکبیر تحریمه سره محدود او رااحصاره کړی . ځکه د عربو د کلام مشهوره ضابطه " التقدیم ما حقه التاخیر یفید الحصر" په دغه له تکبیر تحریمه ماسوا ترک (پرېښودل) د رفع یدین پر مالکیه او نورو باندي دا حدیث په استدلال او بې له اغبار صحیح دی . او کوم کسان چي په دې مسئله باندي بحث کوي د هغو ددې حدیث پر استدلال شک دی اعتراض یې دی او دا صرف اعتراض دی .

﴿۳۰﴾:۔حدثنا محمد بن عثمان بن أبي شيبة ، حدثنامحمد بن عمران بن أبي ليلى حدثنا أبي عن ابن أبي ليلى عن الحكم عن مقسم عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال : لا يرفع الايدى إلا في سبعة مواطن : حين يفتح الصلاة

و حین یدخل المسجد الحرام فینظر إلی البیت ، و حین یقوم علی الصفا و حین یقوم علی المروة و حین یقف مع الناس عشیة عرفه و یجمع و المقامین حین یرمی الجمرة۔ (رواه الطبرانی فی معبد کما فی نصب الرایة ۱/۳۹۰) وذکره البخاری فی جزء رفع الیدین تعلیقا ص ۲۵، و قال نواب صدیق حسن خان . . . . نزل الابرابر ص ۴۴)

ترجمه :حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د الله له نبي ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې لاس مه پورته کوئ ما سوا له اوو ځایو چې لمونځ شروع کوئ، چې مسجد حرام ته داخلیږئ، او چې پر بیت الله باندي مو نظر ولګیږي، چې کله پر صفا او مروا باندي ولاړ یاست او چې کله له خلکو سره پر عرفات باندي وقوف وکړئ او چې کله پر مزدلفه کي وقوف وکړئ . او د دواړو جمرو د رمی په وخت کي .

تشریح :په دې حدیث کي قصر حقیقي نه بلکه اضافي دی . په دې وجه چې په وترو کي، جنازه، اختر او دعا او داسي نورو ځایو باندي د رفع یدین د احدیث مخالف نه دی له دې حدیث څخه په صراحت سره معلومیږي او ثابتیږي چې په عامو لمونځو کي صرف د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع یدین کیږي .

﴿۳۱﴾:۔حدثنا احمد بن شعیب ابو عبد الرحمن نسائی ، حدثنا عمروبن یزید ابو برید والجرمی عن سعید بن جبیر ، عن ابن عباس ، ان النبی ﷺ قال : السجود علی سبعة اعضاء ، الیدین ، والقدمین ، والرکبتین ، والجبهة ، و رفع الایدی إذا رأیت البیت و علی صفاء و علی المروة و بعرفة و عند رمی الجمار و إذا اقیمت الصلاة (معجم کبیر طبرانی ج ۱۱ ص ٤٥٢) و قال

الهيثمي وفي الاسناد الاول محمد بن أبي ليلى و هو شئ الحفظ و حديثه حسن انشاء الله و في الثاني عطاء بن السائب و قد اختلط۔ (مجمع الزوائد ۲/۲۲۸) و قال العزيزي شارح الجامع الصغير : قال الشيخ : حديث صحيح (نيل الفرقدين ص:۱۳۷)

ترجمه : حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي سجده پر (۷) اوو اعضاؤ باندي کیږي، دواړه لاسونه، دواړي پښې، دواړه زنګنونه او تندي باندي، او رفع یدین پر دا موقعو باندي کیږي چي بیت الله وویني، صفا او مروه باندي پر عرفه باندي (دوقوف پر وخت باندي) د شیطانانو د ویشتلو پر وخت او چي لمونځ شروع کړي .

﴿۳۲﴾:۔حدثنا ابن داؤد، قال حدثنا نعيم قال حدثنا الفضل بن مسوى، قال حدثنا ابن أبي ليلى من نافع عن ابن عمر، وعن الحكم عن مقسم عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال : ترفع الايدى في سبع مواطن في افتتاح الصلاة، وعند البيت، وعلى الصفاء والمروة، والعرفات، وبالمزدلفة وعند الجمرتين۔ (شرح معاني الآثار ۱/۳۹۰ و سند حسن)

ترجمه :محمد بن أبي ليلى په واسطه د نافع حضرت عبد الله بن عمر څخه په واسطه الحكم عن المقسم حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهم روایت کوي چي حضرت ابن عمرو ابن عباس رضی الله عنهم له حضرت محمد ﷺ څخه وایت کوي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل اووه ځایه داسي دي چي هلته لاسونه پورته کیږي . په ابتداء د لمانځه کي (یعني تکبیر تحریمه په وخت) و بیت الله ته د کتلو په وخت کي، په

صفا مروا کې په عرفات کې (بعد زوال د وقوف پر وخت) په مزدلفه کې (د وقوف پر وخت) او د شیطانانو د ویشتلو په وخت کې .

تشریح :د حدیث ۳۰ پر طرز به ۳۱ او ۳۲ کې هم د دې خبر درس ور کړل سوی چې په عامو لمنځو کې صرف د تکبیر تحریمه په وخت کې لاسونه پورته کیږي .

﴿۳۲﴾:۔ **حدثنا مسدد ، حدثنا یحییٰ ، عن ابن أبی ذئب ، عن سعید بن سمعان ، عن أبی هریرة قال: کان رسول الله ﷺ إذا دخل فی الصلوة رفع یدیه ----(سنن أبی داؤد ۱/۱۱۰) وسکت هو المنذری وقال القاضی الشوکانی فی اسناده (نیل الاوطار ۲/۱۹۷) واخرجه الترمذی فی جامعه (۱/۵٦) و النسائی ۱/۱۴۱)**

ترجمه :حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوي چې حضرت محمد ﷺ چې کله لمانځه ته داخل سو (یعني تکبیر تحریمه یې وویل) نو لاسونه یې ښه پورته کړل .

تشریح :دغه حدیث امام ابو داود په باب ''من لم یذکر الرفع عند الرکوع'' کې ذکر کړی او له تکبیر تحریمه څخه ماسوا د رکوع او په نور وخت کې پر نه بښول د رفع یدین باندې استدلال کوي . د استدلال وجه یې دا ده چې حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه په حدیث کې د حضرت محمد ﷺ د رفع یدین او د هغه کیفیت بیان کړی او صرف یې د تکبیر تحریمه په وخت کې د لاسو د پورته کېدو ذکر کړی او که د نورو تکبیرو په وخت کې هم نبی علیه السلام لاسونه پورته کړي وای نو د هغه ذکر به یې هم کړی وای .

﴿۳۴﴾:۔عن النعيم المجمر و أبي جعفر القاري عن أبي هريرة انه كان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة و يكبر كلما خفض و رفع و يقول : انا اشبهكم صلاة برسول الله ﷺ ۔ ۔(التمهيد للحافظ ابن عبد الله ۹/۲۱۵)

ترجمه :نعيم المجمر او ابو جعفر قاری حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی چي كله لمونځ شروع سو نو رفع يدين به يې كاوه (او پاته) به د كښېنته كېدو او پورته كېدو په وخت كي صرف تكبير وايو او ويل يې چي زه په تاسو كي تر ټولو زيات د حضرت محمد ﷺ د لمانځه سره مشابهت لرم .

تشريح :له دې مرفوع روايت څخه هم دا ثابتيږي چي صر د تكبير تحريمه په وخت كي بني كريم ﷺ لاسونه پورته كول .

﴿۳۵﴾:۔عن عبد الرحيم بن سليمان ، عن أبي بكر النهشلي ، عن عاصم بن كليب ، عن ابيه عن علي عن النبي ﷺ انه كان يرفع يديه في اول الصلاة ثم لا يعود۔ (العلل الواردة في الاحاديث . . . ۴/۲۰۶) وقد انفرد برفعه عبد الرحيم سليمان و هو ثقة۔

ترجمه :د حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ په ابتداء د لمانځه كي به رفع يدين كاوه (يعني د تكبيرِ تحريمه په وخت) بيا يې دوهم واري نه كاوه .

تشريح :د دې حديث مفهوم واضح دی چي نبي كريم ﷺ صرف د تكبير په وخت كي رفع يدين كاوه .

﴿۳۶﴾:۔حدثنا ابو النصر ، حدثنا عبد الحميد بن بهرام الفرازی ، عن سهر بن حوشب ، حدثنا عبد الرحمن بن غنم ، ان ابا المالك الاشعری جمع قومه

فقال یا معشر الاشعرین اجتمعوا و اجمعوا نساء کم و ابناء کم ، اعلمکم صلاة النبی ﷺ صلی لنا بالمدینة ، فاجتمعوا و جمعوا نساء هم و ابناء هم فتوضاء و هم کیف یتوضاء فاحصی الوضوء إلی اماکنه حتی لما فاء الفی و انکسر الظل قام فاذن فصف الرجال فی ادنی الصف و صف الوالدان خلفهم و صف النساء فصف الرجال فی اولیٰ الصف و صف الولدان خلفهم و صف النساء خلف الولدان ثم اقام الصلوة فتقدم فرفع یدیه فکبر فقراء فاتحة الکتاب و سورة یسرهما ثم کبر فرکع فقال سبحان الله و بحمده ثلث مراة ثم قال سمع الله لمن حمده و استوی قائما ثم کبر و خرا ساجدا ثم کبر فرفع راسه ثم کبر فسجد ثم کبر فانهض قا ئما فکان تکبیره فی اول رکعت ست تکبیرات و کبر حین قام إلی الرکعة الثانیة فلما قضی صلاة اقبل إلی قومه بوجهه فقال احفظوا تکبیری و تعلموا رکوعی و سجودی فانهما صلاة رسول الله ﷺ التی کان یصلی لنا کذا االساعة من النهار ۔ الحدیث۔ (مسند امام احمد ۳۴۲/۵ // و جامع المسانید والسنن لابن کثیر ۵۴۴۵۳/۴)و اسناده حسن .

ترجمه :عبد الرحمن بن غنم بیان کوي چي حضرت ابو مالک اشعري رضی الله تعالیٰ عنه دخپل قوم درا تولو اراده وکه او وېې فرمایل چي اشعریانو جمع سئ او خپلي زناني او کوچنیا ن هم جمع کړئ .زه به تاسو ته د الله دسول ﷺ لمونځ در زده کړم . چي لمونځ ما ته نبي کریم ﷺ په مدینې کي رازده کی نو ټوله نارینه، زنانه او ټوله کوچنیان یې جمع سول (اول) حضرت ابو مالک رضی الله تعالیٰ عنه اودس وکړی او و دوی ته یې ور وښودل چي څنګه اوس کیږي . او اوبه یې و ټولو اعضاؤ د اوداسه ته ور ورسولې چي کله سایه وغوړېده ..... نو ولاړ سو اذان

يې وکړ نو بيا د امام سره بالکل نزدې د نارينه وو صف ودرېدى او د نارينه و شاته کوچنيان او د هغوى شا ته د زنانو صف جوړ سو . بيا اقامت وسو او حضرت ابو مالک د امام لپاره مختـه سو او لاسونـه يې پورتـه کړل د تکبير تحريمـه دپاره او بيا يې آهسته سورة فاتحه ووايه او يو سورة يې ووايـه بيـا يې تکبير ووايو او رکوع ته ولاړى درې واري يې سبحان الله و بحمده وويل بيا يې سمع الله لمن حمده وويل او سيد ه ودرېدى او بيا يې تکبير وکړى سجدې ته ولاړى بيا يې تکبير وکړى د سجدې څخه پورته سو او بيا يې تکبير ووايو سجدې ته ولاړى بيا يې تکبير وکړى او سجدې څخه ولاړ سو او سيدا ودرېدى . او په اول رکعت کي يې ټول شپږ تکبيره وو او .... وخت يې هم تکبير وکړى چي کوم وخت له اول رکعت څخه دوهم رکعت ته پورته سو او چي کوم وخت يې لمونځ پوره کړ او خپل قوم ته متوجه سو او ويې فرمايل زما تکبيرونه په ياد کړئ او زما رکوع او سجده زده کړئ څکه چي دا د نبي کريم ﷺ لمونځ دى کوم چي نبي کريم ﷺ کړى وو . کوم چي نبي کريم ﷺ د ورځي په دغه حصه کي کړى وو .

تشريح :صحابي د رسول ابو مالک اشعري رضى الله تعالىٰ عنه خپل قوم ته د سنت مطابق لمونځ ورو ښودلو څومره په اهتمام سره د سنت مطابق نارينه زناني او کوچنيان جمع کول او په عملي توگه د هغه ورښودلو غرض چي کوم لمونځ ور و ښودلى په هغه کي صرف د تکبيرِ تحريمه په وخت کي رفع يدين وکړ او د کښتـه پورته کېدو پر وخت يې صرف په تکبير اکتفاء وکړه . او بيا يې د لمانځه پوره کولو وروسته پوره په تنبيه

(زور) سره وفرمایل ما چي څه رنګه او کوم وخت تکبرونه وویل هغه په یاد کړئ او دغه رنګه زما درکوع او سجدې کولو طریقه هم په یاد کړئ ځکه چي د الله رسول ﷺ په مدینه منوره کي دغه رقم لمونځ ویلو . دا ټول تفصیلات ښیي چي په پوره لمانځه کي صرف په تکبیرِ تحریمه کي لاسونه پورته کول د رسول د خدای سنت دی او صحابه کرامو په اهتمام سره و خپلو خپلوانو او کورنۍ ته ددې سنت تعلیم ورکړ .

﴿۳۷﴾:۔اخبرنا ابو عبد الله الحافظ عن أبي العباس محمد بن یعقوب عن محمد بن اسحاق ، عن الحسن بن ربیع ، عن حفص بن غیاث عن محمد بن أبی یحییٰ عن عباد بن الزبیر ان رسول الله ﷺ کان إذا افتح الصلوة رفع یدیه فی اول الصلاة ثم لم یرفعهمافی شیئ حتی یفرغ ۔ (الخلافیات للبیهقی کما فی نصب الروایة ۱/۴۰۴) وقال المحدث الکشمیری : وهو مرسل ----- ----- الفرقدین ص ٤٢ ومرسل القرون الثلاثة مقبول عند الجمهور -----)

ترجمه :حضرت عبد الله بن الزبیر رضی الله عنهما . . . عبادرضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ چي به کله لمونځ شروع کړی نو یې ابتداء د لمانځه کي (یعني تکبیرِ تحریمه) پر وخت یې لاسونه پورته کول بیا یې د لمانځه په هیڅ یوه حصه کي لاس نه پورته کاوه تر څو چي د لمانځه څخه فارغه سو .

تشریح : لـه دې جید المرسل روایت څخه هم دا ثابتیږي چي د تابعینو په نزد حضرت محمد ﷺ دا عمل معلومه او ښکاره دی صرف یې د تکبیرِ تحریمه پر وخت لاسونه پورته کول . او د جمهورو علماؤ د مقتدمینو په

نـزد لـه دې روايت څخه استدلال صحيح دی او که چيرې مرسل تائيد له بل حديث او يا له صحابي څخه وي نو هغه وخت د مرسل ضعيف بلونکي په نـزد هـم دا قـابـل د استـدلال کيـږي . پـه تېرو ليکو کې چې په ترک د رفع کوم روايات ذکر سو هغه ټوله مؤيد دي ''کما هو ظاهر''

د صحابه کرامو رضوان الله اجمعين آثار:

﴿۱﴾ ......اثر د شيخين رضی الله عنهما:

اخبرنا ابو عبد الله الحافظ ، حدثنا محمد بن صالح بن هانی ، حدثنا ، ابراهيم بن محمد بن المخله الضرير ، حدثنا اسحاق بن أبی اسرائيل ، حدثنا محمد بن جابر ،عن حماد بن أبی سليمان ، عن ابراهيم ، عن علقمة ، عن عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه قال : صليت خلف النبی ﷺ و أبی بكر ، عمر فلم يرفعوا ايديهم إلا عند افتتاح الصلوة ـ(السنن البيهقی ج ۳ / ص ۷۹ ، ۸۰) و قال الحافظ ماردينی اسناده جيد ، و رواه أيضا (الدار قطنی و فيه قال اسحاق و به ناخذ فی الصلاة كلها)

ترجمه :حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمايي : چې ما د حضرت محمد ﷺ شا ته او د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنهما شاته لمونځ وکړی دې حضراتو هم صرف د تکبير تحريمه په وخت لاسونه پورته کړل .

﴿۲﴾ ......اثر د عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه:

حدثنا يحيیٰ بن آدم ، عن حسن بن عياش ، عن عبد المالك بن ابجر، عن الزبير ، عن عدی ، عن ابراهيم ، عن الاسود ، قال : صليت مع عمر فلم يرفع يديه فی شئ من صلاة إلا حين افتح الصلاة ، قال عبد الملك : و رأيت

الشعبي و ابـراهيم و ابـا اسحـاق لا يـرفعونـه ايديهم إلا حين يفتحون الـصلاة(مـصنف ابن أبيٰ شيبـه ج ١ / ص ٢٦٨ و شرح معاني الآثار) و قال الطحاوي هـو حديث صحيح ج ١/ ص ١٣٣ و قال الحافظ ابن حجر رجال ثقات (الدراويه ص : ٨٥)

ترجمه :مشهـوره تـابعي امام اسود بن يزيد بيان كوي چي ما خليفهٔ دوهم فـاروق اعـظـَم رضـى الله تـعـالىٰ عـنـه سـره لـمونځ وكړى، ماسوا د تكبيرِ تحريمه پـه وخت بل يې يو ځاى كي هم لاس نه كړل پورته .

د سنـد يـو راوي عبـد الـمـالک بـن الـبـجـر فرمايي چي ما امام شعبي امام ابـراهيـم نـخـعـي او ابـو اسـحـاق سبعي وليدل دې آئمه وو د حديثو صرف د تكبيرِ تحريمه پـه وخت رفيع يدين كاوه .

تشريح :مشهـورتـا بـعـي: اسـود بـن يـزيـد د حضرت عمر فاروق رضي الله تـعـالـىٰ عـنـه پـه خدمت كي دوه كاله تېر كړي وو او د حضرت عمر فاروق اعـظـم رضـى الله تـعـالـىٰ عـنـه پـه بـاره كي بيان كوي چي هغه به صرف د تكبيرِ تحريمه پـه وخت كي رفع يدين كولو .

لـه دې صـحـيـح اثـر څـخـه دا هـم مـعلـومـه سـوه چي امام الشعبي ابراهيم نـخـعـي او ابـو اسـحـاق الـسبـعـي رفـع يـدن نـه كـولـو . د درې خومشهـوره تابعين وو خاص كر امام شعبي خو داسي جليل القدر تابعي وو چي دوه يا څلور نه پلكه له پنځو سوو څخه زيات صحابه كرامو يې زيات كړى وو . او لـه دې څـخـه د عـلـم او فـضـل څه اكتساب كيږي . دغـه رنګه امام ابراهيم نـخـعـي او ابـو اسـحـاق هم له خپل علم و فـضـل او تفقه في الدين له لحاظه لوى تابعين حسابل كيږي .

﴿۳﴾ ......اثر د علي مرتضیٰ رضی الله تعالیٰ عنه:

حدثنا وکیع عن أبی بکر بن عبد الله بن قطاف، النهشلی عن عاصم بن کلیب، عن ابیه، ان علیا کان یرفع یدیه إذا افتتح الصلاة ثم لا یعود۔(مصنف ابن أبی سیبه ۱/۲٦۷) وهو اثر صحیح (نصب الرایه ۱/٤٠٦) و قال الحافظ ابن حجر رجاله ثقات (الدرایه ص :۸٦) و قال العلامة العینی صحیح علی الشرط مسلم (عمدة القاری ۵/۲۷)

ترجمه : د حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه تلمید کلیب بن شهاب روایت کوي چې حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه چې به کله لمونځ شروع کړی نو لاسونه به یې پورته کول بیا یې دوهم واري نه پورته کول.

﴿۴﴾ ......قال محمد اخبرنا ابوبکر بن عبد الله النهشلی، عن عاصم بن کلیب الجرمی، عن ابیه و کان من أصحاب علی ۔ ان علی بن أبی طالب کرم الله وجهه کان یرفع یدیه فی التکبیر الاولیٰ التی فتح بها الصلوة ثم لا یرفعهما فی شئ من الصلاة۔(موطا امام محمد ص ٩٤)

ترجمه : د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه شاګرد کلیب جرمي بیان کوي چې حضرت علي کرم الله وجهه په اول تکبیر کي چې لمونځ په شروع کېدی رفع یدین یې وکړی بیا یې د لمانځه په هیڅ حصه کي هم لاس نه دی پورته کړی.

﴿۵﴾ ......قال محمد اخبرنا محمد بن ابان بن صالح عن عاصم بن کلیب الجرمی، عن ابیه قالت: رأیت علی ابن ابی طالب رفع یدیه فی الکبیرة الاولیٰ من الصلاة المکتوبة و لم یرفعهما فیها سوی ذلك۔ (موطا امام محمد

ص ۹۲،۹۱)

ترجمه :کلیب جرمي فرمایي چي ما علي کرم الله وجهه ولیدی دوی د فرضو په اول تکبیر تحریمه کي رفع یدین وکړ بیا یې له دې نه ماسوا بل په هیڅ رکعت کي هم لاس نه دی پورته کړی .

تشریح :له مختلفو راویانو څخه دغه ډېر سندونه صحیح اثر د تکبیرِ تحریمه څخه ما سوا یې پرېښودو د رفع یدین کي صریح دي .

حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه د حضرت محمد ﷺ څخه د رفع یدین روایت کوي لیکن د نبي کریم ﷺ څخه وروسته یې ترک رفعی یدین معمول کرزولی وو . چي دا د دې خبري واضح دلیل دی چي نبي کریم ﷺ مستقله عمل په پرېښودو د رفع کي وو .

﴿٦﴾ ......اثر د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه:

حدثنا وکیع ، عن ... عن أبی معشر ، عن ابراهیم ، عن عبد الله انه کان یرفع یدیه فی اول ما یفتح ثم لا یرفعهما۔ (مصنف ابن أبی شیبة ج۱ / ص ۲٦۷) و قال الحافظ ابن التوکما فی ، و هذا سند صحیح (الجوهر الفتی مع السنن الکبری للبیهقی ج۲ ص ۷۹) و ابراهیم لم یسمع من ابن مسعود و لکن مرسله عن ابن مسعود فی حکم الموصول کما هو مقرر عند المحدثین۔

ترجمه :ابراهیم نخعی له عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کوي چي عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه د لمانځه د شروع کولو په وخت کي لاسونه پورته کول بیا یې نه پورته کولو .

﴿۷﴾ ....حدثنا ابن أبی داؤد قال حدثنا احمد بن یونس قال حدثنا ابو الاحوث عن ابراهیم قال کان عبد الله لا یرفع یدیه فی شئ من الصلاة إلا

فی الافتتاح ۔ (شرح معانی الآثار ١٣٣/١) وقال المحدث النبوی و اسناده مرسل جید (آثار السنن ص :١٠٩)

ترجمه:لـه ابراهیم نخعي څخه روایت دی چي حضرت عبد الله بن مسعود رضـی الله تـعالیٰ عنه رفع یدین نه کاوه . د لمانځه په یوه حصه کي هم، ما سوا د لمانځه په شروع کي .

تشریح :دحضـرت عبـد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په باره کي بې لـه اختـلافه دا مشهوره ده چي هغه به په عامو لمنځو کي د شروع (تکبیرِ تـحـریـمـه) په وخت کي رفع یدین کولو او ده دغه تعلیم و خپلو شاګردانو ته هم ورکاوه .

﴿٨﴾ ......اثر د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه:

اخبرنا مالك ، اخبرنی نعیم المجمر و ابو الجعفر قاری ، ان ابا هریرة کان یصلی بهم فکبر کلما خفض و رفع ، و قال القاری و کان یرفع یدیه حین یکبر و یفتح الصلاة(موطا امام محمد ص ٩٠ ، کتاب الحجة ج١ ، ص ٩٥ و سنده صحیح)۔

ترجمه :نعیم المجمر او یزید بن القعقاع ابو جعفر القاری بیان کوي چي حضرت ابـو هریره رضی الله تعالیٰ عنه موږ ته لمونځ راکاوه نو د کښته کېدو او وپـورتـه کېدو په وخت کي یې تکبیر وایو او ابو جعفر مزید دغه وضـاحت کړی چي کـلـبـه یې لـمـونـځ شـروع کړ نو د دتکبیر تحریمه پهوخت کي به یې لاسونه پورته کول .

﴿٩﴾ ......اثر د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما:

حدثنا ابو بکر بن عیاش ، عن حصین ، عن مجاهد قال : ما رأیت ابن عمر

یرفع یدیهالا فی اول یفتح (مصنف ابن أبی شیبة ۱/۲٦۸) و رجال اسناده رجال البخاری۔

ترجمه :امام مجاهد بیان کوي چي ما نه دی لیدلی حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د رفع یدین په کولو ماسوائې په شروع د لمانځه کي .

﴿۱۰﴾ ......حدثنا ابن أبی داؤد قال حدثنا احمد بن یونس قال حدثنا ابوبك بن عیاش عن حصین عن مجاهد قال : صلیت خلف ابن عمر فلم یکن یرفع یدیه إلا فی التکبیرة الاولیٰ من الصلوة۔(شرح معنی الاثار ج۱ ص ۱۲۳ ، و قال العلامة العینی اسناده صحیح ، عمدة القاری ج۵ ص ۲۷۲)

ترجمه :مشهوره تابعي امام مجاهد فرمایي چي د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما شاته ما لمونځ ویلی دوی صرف د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع یدین و کړی .

﴿۱۱﴾ ......قال محمد اخبرنا بن ابان بن صالح عن عبد العزیز بن حکیم قال رأیت ابن عمر یرفعه یدیه حذاء اذنیه فی اول تکبیرافتتاح الصلوة ولم یرفعهما فیما سوی ذلك۔(موطاء امام محمد ص ۹۳ ، ۹٤) و فیه محمد بن ابان و هو صالح للمتابعة۔

ترجمه :عبد العزیز بن حکیم مشهوره په ابن أبی حکیم بیان کوي چي ما حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ولیدی چي هغه د تکبیرِ تحریمه یعني په اول تکبیر کي لاسونه د غوږونو تر برابری پوري پورته کړل له دې ماسوا یې بیا لاسونه نه دي پورته کړي .

﴿۱۲﴾ ......حدثنا ابن فضیل ، عن عطاء عن سعید بن جبر ، عن ابن عباس قال :

لا ترفع ايدى إلا فى سبع مواطن ، إذا قام إلى الصلاة و إذا رأى البيت و على الصفا و المروة و فى عرفات و فى جمع ، و عند الجمار-(مصنف ابن أبى شيبه ج ١ ص ٢٦٨)

ترجمه :حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمايي چي اووه ځايه داسي دي چي هلته لاس پورته کيي . چي لمونځ ولاړ وي (تکبيرِ تحريمه) چي کله بيت الله ته وګوري او صفا مروا کي، عرفات باندي (د وقوف پروخت) او په مزدلفه کي او چي کله شيطانان ولي .

تشريح :دخلفائي راشدينو حضرت صديق اکبر، فاروق اعظم، علی مرتضی فقيه د امت حضرت عبد الله بن مسعود، حافظ د حديثو حضرت ابو هريره، عاشق د سنتو د نبي کريم ﷺ حضرت عبد الله بن عمر، ترجمان د قرآن حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهم اجمعين دغه آثار ستاسو په مخکي دي د حضرت محمد ﷺ له دې دنيا څخه د کوچ کېدو وروسته خلفائي راشدينو او اکابرو فقهاؤ، صحابهؤ د تکبيرِ تحريمه څخه ما سوا د رفع يدين نه کول بالکل صفا ښيي چي په عامو لمنځو کي رفع يدين نه کول د نبي کريم ﷺ اصل سنت دی . څکه د دغه جماعت په رګ او ريښه کي او د زړه په تل کي د الله د آخري رسول ﷺ محبت، عظمت او له ده سره پيوستوب دی چي هغوی د نبي کريم ﷺ پر يوه يوه ادا باندي خپل ځان په قربانولو باندي خپل سکون او راحت محسوسوي چي د رفع يدين چي کوم نه يو تکليف او وخت هم نه . . . . . . پر ښنووی . څکه حافظ ابن عبد البر په يوه مسئله باندي خبري کولې داسي ليکي:

لأنه محال ان يكون عنده في ذلك عن النبي ﷺ شيئ و يخالفه و لو كان مباحه و لا سيما ابنعم(التمهيد ۱۸۰)

ځکه دا محال دی چي په دا مسئله کي د دې اړوند د بني کريم ﷺ کوم سنت وي او دوی دي مخالفت کوي که څه هم هغه سنت د مباح په درجې کي نه وي بياخاص کر د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما (څخه دا ممکنه هم نه ده) ځکه د دې ځان قربانونکو په اړه دا تصور د رفع يدين، ځکه دغه حضرات دومره ضروري نه بولي په دې وجه سره يې دا پرېښی دی . يو داسي تصور يې چي د هغه حالات او اوقاتو بالکل منافي وي . په دې وجه چي کوم بزرګانو د دې آثار په وجوب کي دا خبره کړې غالب د خپل مسلک مختار د سختي له وجهي، أصحاب د رسول الله ﷺ خاص کر خلفائې راشدينو او فقهاؤ صحابه د سنت د نبوي ﷺ سره ډېر بې پناه تعلق او عقيده سره دغه بالکل . . . شوي په دې وجه په دې باره کي معذوري څرګنده کيږي .

بهر حال دغه آثار د مسئلې تر بحث لاندي په قول فيصل کي حيثيت لري . ځکه چي فقهاء د اصولو او علماؤ د حديثو دا متفقه ضابطه ده چي په کومه مسئله کي د نبي کريم ﷺ احاديث متعارض او مختلفه وي نو په هغه صورت کي د نبي کريم ﷺ تلاميذان د رسول الله ﷺ خاص کر فقهاء صحابه او د خلفاء راشدينو قول او عمل زموږ لپاره لاربنود دی .

ځکه امام ابو داود ليکي: إذا تنازع الخبران عن النبي ﷺ انظر إلى عمل اصحابه(سنن أبي داود ج۱ ص ۱۱۵) يعني که چيري په يوه مسئله کي د رسول الله ﷺ احاديث متعارض وي نو هغه وخت د صحابه کرامو و

عمل نه کتل کیږي، چې کوم بعد کې نه نبي ﷺ کړی وي.

اقوال د تابعین د تبع تابعین رحمهم الله

د حضرت علي او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنهما شاګردانو رفع یدین نه کوله.

(۱) ...... حدثنا وكيع وأبو أسامة عن شعبة عن أبي إسحاق قال: كان أصحاب عبد الله وأصحاب علي لا يرفعون أيديهم إلا في افتتاح الصلاة قال وكيع ثم لا يعودون. (مصنف ابن أبي شيبة ۱/۲۶۷ وسنده صحيح على شرط الشيخين)

ترجمه: مشهور محدث ابو اسحاق السبيعي بیان کوي چې حضرت عبد الله بن مسعود او حضرت علي رضي الله عنهما صحابو او شاګردانو به په ابتدا د لمانځه کې (تکبیر تحریمه) څخه علاوه بل رفع یدین نه کوه. او د ابو اسامه لفظ دی او د وکیع لفظ دی: د لمانځه د شروع کولو نه پس به یې دوهم ورې رفع یدین نه کوه.

تشریح: څرګنده وکړو: د حضرت علي او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنهما شاګرد صحاب او شاګردان په ظاهره سره صحابه او تابعین وو او د دوی تعداد به یقیناً په زرهاوو وي. چې هغه تونه د قرآن کریم ورکړل شوي عزت (او تک هم آرشون) او (والذين اتبعوهم باحسان) څخه سرفراز د اسلام بزرګ شخصیت، د قرآن، حدیث او د شرعي نصوصو عمل ته د رسولو ولا. په سنت د رسول الله ﷺ پر پرېښودو اتفاق کولای شي؟ هیڅ کله نه. نو په دې وجه دې څخه د علم د دې خبرې رهنمائي کوي چې د رفع یدین نه کول د رسول الله ﷺ دائمي سنت دی او یې شاګردان په

دې متـفـقـه عـمـل شئ چي ددې استـاد يعنـي حضـرت علي مرتضی او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما همدغه طريقه وه .

مشـهـور مـحـدث او فـقـيـه اسود بن يزيد و علقمه بن قيس رفع يدين نه کاوه .

﴿۲﴾ ...... حـدثـنـا وكيـع ، عـن شريك ، عـن جابر ، عن الاسود و علقمة انهما كانا يرفعان ايديهما إذا افتحا ثم لا يعودون۔ (مصنف ابن أبی شيبه ۱/۲٦۸)

ترجمه :جابر څخه روايت دی چي امام اسود و علقمه د تكبيرِ تحريمه پر وخت لاسونه پورته كول او د هغه بعدي نه پورته كول .

مشهور امام د حديثو عبد الرحمن بن أبی ليلی عمل:

﴿۳﴾ ...... حـدثـنـا معاوية بن هشيم ، عن سفيان بن مسلم الجهنی قال : كان ابن أبی ليلی يرفع يديه اول شئ إذا كبر۔(مصنف أبی شيبه ۱/۲٦۸)

ترجمه :سـفـيـان بن مسلم الجهنی ناقل دی چي عبد الرحمن بن أبی ليلی صرف د اول تكبير په وخت كي رفع يدين كاوه .

تابعي لوی محدث شهيد قيس بن أبی حازم عمل:

﴿۴﴾ ......حدثنا بن معبد ، عن اسماعيل قال : كان قيس يرفع يديه اول ما يدخل فی الصلاة ثم لا يرفعهما۔(مصنف بن أبی شيبه ۱/۲٦۷)

ترجمه :اسـماعيل بيان كوي چي امام قيس بن حازم چي كله و لمانځه ته داخلېدی هغه وخت يې لاسونه پورته كول بيا يې نه كولو .

جامع حديث و فقه ابراهيم نخعي و رجل صالح خيثمه بن عبد الرحمن رفع يدين نه كاوه:

﴿۵﴾ ......حـدثـنـا ابـو بـكـر عن الحجاج ، عن طلحة ، عن خشية و ابراهيم ۔ قال

کانا لا یرفعان ایدیهما إلا فی بداء الصلاة۔(مصنف ابن أبی شیبه ۱/ ۲٦٧)

ترجمه:طلحه بن مصرف مشهوره تابعي خیثمه او ابراهیم نخعي په اړه روایت کوي چي دا دواړه بزرګانو صرف په شروع کي د لمانځه رفع یدین کاوه.

امام ابراهیم نخعي خپل شاګردان له رفع یدین څخه منع کول:

٦﴾ ......حدثنا ابو بکر بن عیاش، عن حصین ومغیرة، عن ابراهیم قال لا ترفع یدیك فی شئ من الصلاة إلا فی افتتاحه الاولیٰ۔(مصنف ابن أبی شیبه ۲١٧/١)

ترجمه:له حسین او مغیره څخه روایت دی چي امام ابراهیم نخعي فرمایي چي په ابتدا د لمانځه کي (یعني د تکبیرِ تحریمه پر وخت) څخه ماسوا بل پر هیڅ وخت هم رفع یدین نه کاوه.

مشهوره امام حدیث او فقه عامر الشعبی رفع یدین نه کاوه:

٧﴾ ......حدثنا ابن مبارك، عن اشعث، عن الشعبی، انه کان یرفع یدیه فی اول التکبیر ثم لا یرفعهما۔ (مصنف ابن بی شیبه ۱/ ۲٦)

ترجمه:اشعث بیان کوی چي امام شعبي اول تکبیر (یعني تکبیرِ تحریمه) کي لاسونه پورته کول بیا یې نه پورته کول.

تشریح:اثر د عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه(۲) کي تېر سوي چي راوي د حدیث عبد المالک بن ابجر بنودلی چي امام شعبي، ابراهیم نخعي او امام ابو اسحاق ال. . ولیدل چي دا دړې سره بزرګانو صرف د تکبیرِ تحریمه پر وخت رفع یدین کاوه.

د تابعینو د اکابرینو څخه هم د دې عمل تائید سوی چي په عامو لمنځو

كي د تكبيرِ تحريمه څخه ماسوا بيا رفع يدين نه كول په خير القرون كي دارباب علم عام معمول وو .

مشهور راوي د حديثو او تبع تابعي ابو بكر ابن عياش بيان:

۴۸﴾ ......حدثني ابن أبي داؤد ، قال حدثنا احمد بن يونس قال حدثنا ابو بكر بن عياش قال : ما رأيت فقيها قط يفعله يرفع يديه في غير التكبير الاولىٰ.(شرح معاني الاثار ج ١/١٢٤)

ترجمه :احمد بن يونس څخه روايت دى چي ابو بكر بن عياش وايي ما يو فقيه هم نه دى ليدلى چي د تكبير اولى څخه ماسوا يې رفع يدين كړى وي .

تشريح :له دې جيد سند روايت څخه دا معلوميږي د اسلام په زرين عهد كي له علماء او فقهاء څخه ترک پر رفع يدين باندي عامل دى . چي د هغه تائيد له دې واقعې څخه هم تائيد كيږي . عمرو بن مرة په د كوفې په جامع مسجد كي وائل بن حجر رضى الله تعالىٰ عنه د رفع يدين والا حديث بيان كړى نو امام ابراهيم نخعي وفرمايل:

لعله لم يرى النبي ﷺ يصلي إلا ذلك اليوم فحفظ هذا منه و لم يحفظه ابن مسعود و اصحابه ما سمعته من احمد منهم انما كانو يرفعون ايديهم في بدء الصلوة حين يكبرون . (موطاء امام محمد ص :٥٤ و سنده يد)

يعني ما ته معلومه نه ده شايد حضرت وائل رضى الله تعالىٰ عنه په هغه ورځ نبي كريم ﷺ د لمونځ كولو په وخت ليدلى وي او د نبي كريم ﷺ د رفع يدين كول يې په ياد كړي وي .

حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله عنهم او نور صحابه كرام (چي هغه ته به همېشه د نبي كريم ﷺ مجلس كي حاضره وو ، په سفر او

حضـر کـي به د نبي کريم ﷺ په صحبت کي موجود وو) په دوی کي يوه هـم دا مسـئـلـه نـه د پـه يـاد کـړې ما ليدی څخه له يوه څه هم دا مسئله نه ده اورېدل دا ټـولـو حـضـراتـو صـر ف په اول کي د تکبير پر وخت لاس پـورتـه کاوه .

حـضـرت ابـو بـکـر بـن عـياش له اتباع د تابعين څخه دی او امام ابراهيم نـخـعـي تـابـعـی دی او پـه خـپـل وخت کي خاوند د فضل او کما وو دا دواړه بـزرګـانـو دغـه اطـلاع ورکـوي چـي پـه مشـهـوره زمانه کي په مشـهـودلها بالخير کي په عامه توګه فقهاؤ په ترک د رفع يدين کي وو .

د أهل کوفه پـه ترک د رفع يدين باندي اتفاق :

حافظ ابن عبد البر مالکي ليکي:

"قال ابـو عبد الله محمد بن نصر المرورزی فی کتابه فی رفع اليدين من الـکـتـاب الـکـبير : لا نـعـلـم مصرا من الامصار ينسب إلا اهله العلم قديما، ترکوا باجماعهم رفع يدين عند الخفض و الرافع فی الصلوة إلا أهل الکوفة (التعهد ٢١٣/٩ و الاستذکار ج٤ ص ٩٩:١٠٠)

ترجمه :امـام ابو عبد الله محمد بن نصر مرزوی په خپل لوی تصنيف کي پـه کـتـاب د رفـع يـدين کي ليـکي چي موږ په ښارونو کي داسي يو ښار نه پيـژنـو چـي د هـغـه بـاشـندګان (اوسېدونکي) له پخوا زماني څخه د علم و طرف تـه مـنسـوب نـه وي چـي دوی به و رکوع ته د تلو يا د رکوع څخه د پـورتـه کېدو پـه وخت کي په اجتماعي طور باندي د رفع يدين پر ښـودی وي ماسوا د أهل کـوفه وو .

تشريح :"ترکـوا بـاجـمـاعـهم" د الفاظو څخه دا ظاهر دځو ماسوا ټول أهل

کوفـه پـر رفـع يـدين بانديِ عامل وي . په دې وجه د تارکين د رفع يدينو د فرداً فرداً نوم شامليدو هيڅ ضرورت نسته .

او د أهـل علم څخه دا خبره پټه نه ده چي کوفه دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه له دور څخه د څلورمي صدی تر شروع پوري د اسـلامـي علم و ثقافت مرکز وو .دلته تقريباً (۱۵۰۰) پنځلس سوه صحابه کـرام راغـلل،آباد سول . چي په هغو کي څلرويشت بدري او درې له عشره مبشـره څـخـه وو . بيـا أهـل کـوفـه وو پـه خپل علم اکتفاء و نه کړه بلکه د مـديـنـې منورې د علمي اسفارو او د هغه ځای اکابره اصحابو څخه د علمي استـفـادې، واقـعـات، کتابونه مجلې او ترجمې وکتلې او د امام بخاريؒ تر زمـانـې پـوري دا کـوفـه د أهـل عـلـم مـرکز بر قرار وو . ځکه چي د صحيح بـخـاري ډېـر مـحـدثـيـن او راويـان لـه کـوفـې څخه وو . خپله د امام بخاريؒ بيـان دی چي زمـا د کـوفـې او بـغـداد لـه محدثينو سره دومره واري ورتګ شوی چي زه يې شمارلی نه سم .

د اسـلامـي عـلـومـو پـه دا مـرکـز کـي د رفع يدين صورتحال تاسو د امام مـحـمـد بـن نـصـر مروزي په بيان کي ويلی د چي په زرهاوو اصحابه او په لـکـهـاوو شاګردان او . . . . . په دغه ښار کي په اجتماعي توګه په ترک د رفـع يدين بانديِ عمل کوونکي وو . او دغه رقم په نورو اسلامي ښارونو کـي هـم تـارکـيـن د رفـع يـو خاص تعداد موجوده وو . بلکه د اسلام تر عهد شهـاب پـوري پـه عـامـه تـوګـه پـه تـرک د رفـع يدين رواج وو . دغـه رنګه مـديـنـه مـنـوره چي د اسـلام لـه شروع د عهد رسول ﷺ لـه وختـه بيـا د حضـرت عـلـی رضـی الله تـعـالیٰ عنه د خلافت تر ابتدا پوري د عالم اسلام

غټ مرکز وو . له دې وروسته د مدینې فقها سبعه، بیا صغار تابعین بیا تر امام مالک تر وخت پورې دا مرکز تر ډېره پورې فعاله وو . د خلفائې راشدینو ترک د رفع یدین په کثرت سره وو . ځکه تر امام مالک پورې ترک د رفع یدین ته فروغ حاصل وو . څرنګه چې مالکي مذهب مشهور محقق عالم ابن رشد په خپل ډېر مفیده او ګرانقدر کتاب تصنیف "بدایة المجتهد" کې لیکي:

ان مالکا رجع ترک الرفع لموافقة عمل به(۱/۱۹۳)

یعنې امام مالک (چې هغه خپله د رفع یدین د حدیث راوي دی) د أهل مدینه د عمل په موافقت کې پر ترک د رفع یدین کې ترجیح ورکوله .

حافظ ابن القیم په بدائع الفرائید کې لیکي:

من اصول مالک اتباع عمل أهل المدینة و ان خالفا الحدیث (۳۲/٤)۔

د امام مالک په اصولو کې وو هغه به د أهل مدینه پر عمل به یې اتباع کوله که څه هم هغه عمل به په ظاهره خلاف وو .

له دغه حوالو څخه دا خبره ښه واضحه سوه چې د امام مالک تر زمانې پورې په مدینه منوره کې ترک د رفع یدین معمول وو . او امام مالک په موطاء کې د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه د رفع یدین د حدیث د تخریج باوجود خپل د اصولو مطابق د أهل مدینه د عمل موافقت چې ترک د رفع یدین وو اختیاره کړی . او نن پر هغه باندې د مالکیه وو عمل دی .

او د اسلام دوهم علمي مرکز د مکې معظمې حال هم دا وو چې صحابه کرامو او تابعینو په وخت کې دلته په ترک د رفع یدین غلبه وه . څرنګه

چي سنن ابي داؤد مسند امام احمد د لاندي روايت څخه اندازه کېدلای سي .

”عن ميمون المكى انه رأى عبد الله بن الزبير و صلى بهم يشر بكفيه حين يقوم و حين يركع و حين يسجد و حين ينهض للقيام ، فيقوم فيشير بيده فانطلقت إلى ابن عباس فقلت انى رأيت ابن الزبير صلى صلاة لم ارا احدا يصليها فوصفت له الاشارة ، فقال انى احببت ان تنظر إلى صلاة رسول الله ﷺ فاقته بصلاة عبد الله بن الزبير . (سنن أبى داؤد ١٠٨/١٧ و سنده احمد ٢٥٥/١٠)

ميمون مکي څخه روايت دی چي دوی حضرت عبد الله بن زبير رضی الله عنهما وليدی چي خلکو ته يې لمونځ وايو چي څه وخت ولاړ سو نو په لاسونو يې اشاره وکړه (يعني رفع يدين يې وکړ) او د رکوع په وخت، د سجدې پر وخت او د دوهم رکعت ته د پورته کېدو پر خت د دواړو لاسونه په ورغوي يې اشاره وکړه (ميمون وايي داسي وليدی ما) د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په دا رکم لمونځ کېدو مي وليدی چي يو بل ما نه وه ليدلي په دا طرز د لمونځ کېدو . او ده د رفع يدين د کېدو صورت بيان نه کړی نو حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وفرمايل که ستاخوښه وي چي د نبي کريم ﷺ لمونځ وګورې نو په عبد الله بن زبير رضی الله تعالیٰ عنه پسي اقتداء وکړه .

د ميمون مکي دا جمله چي ما مخکي (انی رأيت ابن الزبير صلى صلاة لم ارا احد يصليها) دا صفا شي چي د حضرت عبد الله بن زبير رضی الله عنهما دا اول رفع يدين عمل په مکه معظمه کي بالکل د نيستي په

درجه کي وو . عبد الله بن الزبير رضی الله عنهما د يزيد د مرګ نه پس په ۶۴هجري کي خليفه سو او تر ۷۳ هجري پوري پر دا منصب باندي وو . د ده د لمونځ کولو واقعه په دغه زمانه کي وه . تر ۶۴ هـ پوري په مکه کي د رفع يدين عمل دومره کم وو چي خلګ له دغه عمل سره نابلده وو .

د آئمه مجتهدين عمل:

د خلافت راشده او هغـه مشهوره اسلامي مراکزو د عمل اثر د آئمه مجتهدينو په مسلک کي ښکاره دی . امام اعظم ابو حنيفهؒ مسلک په ترک د رفع کي دی . امام محمدؒ ليکي:

فاما رفع يدين فی الصلوة فانه يرفع يديه حذ و إلا ذنين فی ابتداء الصلاة مرة واحدة ثم لا يرفع فی شيئ من الصلوة بعد ذلك و هذا كله قول أبی حنيفة (موطا امام محمد ص : ۸۸)

پاته سو په لمانځه کي رفع يدين کول نو په شروع د لمانځه کي صرف يو واري تر غوږو پوري لاسونه پورته کول او بيا د لمانځه په يوه حصه کي هم رفع يدين نه کول دا ټول د امام ابو حنيفه قول دی .

ترک د رفـع يـدين داسلسله په کوفه کي اوسېدونکي حضرات صحابه خاص کر حضرت عبد الله بن مسعود او د هغه شاګردان او بيا خليفه راشد علی مرتضی او د هغـه د شاګردانو څخه شروع سو . که چيري دوی پر رفـع يـديـن بـانـدي کثـرت کـولای نو پـه کـوفـه کي بـه دا رواج پـاتـه کېدل ضروري وو خو ټول أهل کوفه وو په اجتماعي توګه پر ترک د رفع باندي عمل کونکي وو .

دوهم امـام حضرت امام مالکؒ دی چي هغه په مدينه منوره کي مقيم وو

مـختـه پـه وضـاحـت سـره دا خبـره وسـوه چـي د امام مالکؒ تر عـهد پوري پر تـرک د رفـع یـدیـن عمل او پـپوستوب وو . د دې پـه ظاهـره وجه دغـه ده چـي خلیفه راشد حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه پـه دوولس کلن خلافت کـي پـر تـرک د رفـع بـانـدي عـمـل وو او دغه عمل پـه ـجه سره پـه مدینه کـي پـه تـرک د رفـع کـي بـاقـي والـی پـاتـه وو . او امـام مالک پر دغـه تـعامـل بـانـدي تـرک د رفـع اختیـاره کـړی نـو دا رکـم د مـذهـب مـالـکي مشـهـوره محقق محدث او فقیـه حافظ ابن عـبد البر لیکي:

”اختلف العلماء فی رفع ایدی فی الصلاة وعند الرکوع و عند رفع رأسه من الرکوع و عـنـد السجود و رفع منه بعد اجماعهم علی جواز رفع الایدی عـنـد افتتاح الصلاة مع تکبیرة الاحرام فقال مالك ، فیما روی عنه افتتاح الصلوة مع تکبیرة الاحرام فقال مالك فیما روی عنه افتتاح الصلوة و لا یرفع فی غیرها قال : و کان مالك یرفع الیدین فی الصلاة ضعیفا و قال انه کان ففی الاحرام و هو قول الکوفیین أبی حنیفة و سفیان ثوري والحسن بن حی و سائر فقهاء الکوفة قدیما ـ و حدیثا و هو قول ابن مسعود و اصحابه والتابعین بها ـ (الاستذکار ، ج ٤ ص ۹۸، ۹۹)

د تـکبیـر تحریمه پر وخت د رفع یدین جواز د اجماع او اتفاق وروسـتـه، د رکـو ع پـر وخت، د رکو ع څخه د ولاړېدو پر وخت د سجدې پر وخت او د سجدې څخـه د پـورتـه کېـدو پر وخت د رفع یدین پـه اړه د علماؤ اختلاف دی .

د ابـن الـقـاسـم د روای مـطـابـق امـام مـالکؒ فـرمـایي چـي صرف د تکبیرِ تـحـریـمـه پر وخت رفع یدین کمیږي او د هغه ما سوا نه . او ابن قاسم داهم

روایت کوي چي امام مالک په لمانځه کي رفع یدین ضعیفه بولي، او فرمايي که رفع یدین کول وي نو صرف په ابتداء د لمانځه کي د تکبیرِ تحریمه پر وخت باندي وکړي . دغه مسلک د امام ابو حنیفهؒ، امام سفیان ثوريؒ، امام حسن بن صالح بن حي او قدیم او جید ټوله فقهاء د کوفه دي او دعبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه او د هغه د شاګردانو او متبعین دغه قول دی .

البته د امام شافعي او امام احمد مسکل د رفع یدین دی لوړ دا معلومه سوه چي د حضرتِ عبد الله بن زبیر رضی الله تعالیٰ عنه په دور خلافت کي له ٦۴ سنه تر ۷۳ سنه هجري پوري په مکه کي د رفع یدین رواج وو نو امام شافعي او د هغه تلامیذ امام احمد رحمهما الله پر دغه طریقه عمل اختیاره کړی .

دا تفصیل چي د اساتذه وو د درجې دوه غټ آئمه (امام ابو حنیفه او امام مالک) تر د رفع یدین ته ترجیح ورکوي او د تلامیذه د درجې (یعني امام شافعي چي د امام مالک شاګرد وو دی او امام احمد تلمیذ امام شافعي) د رفع یدین قائل دي نو په دې لحاظ چي وګورې نو ترک د رفع یدین ته قوت او فوقیت حاصل دی . ځکه د تلامیذه وو په مقابله کي د اساتذه وو رایه پخه او مضبوطه تسلیم کیږي .

د اختلاف نوعیت:

د تکبیرِ تحریمه څخه ما سوا و رکوع ته د تلو په وخت د پورته کېدو او نورو موقعو باندي د رفع یدین د کولو یا نه کولو اختلاف د نه صحیح، باطل یا جائز او ناجائز نه دی بلکه د اولیٰ او غیر اولیٰ د راجح او مرجوح

اختـلاف دی چې د کـومـو عـلـماء وو او فقهاوو په نزد رفع يدين اولى دى هغـه د رفع يدين نه کولو والا لمونځ بالكل صحيح او سم کنې . دغه رقم چې کوم خاوندان د علم ترک رفع يدين اولیٰ کنې هغه به له کومه نقص او کمي څخه مکمل دی . د مذهب حنبلي بې مثال معتبر عالم حافظ ابن تيمةؒ ليكي:

سـواء رفع يديه و لم يرفع يديه لا يقدح ذلك فی صلاتهم ولا يبطلها ، لا عند أبی حنيفة و لا شافعی ، و لا مالك ، و لا احمد و لو رفع امام دون المأموم ، اذا لمامـوم دون الامام لم يقدح ذلك في الصلاة واحد منهما (مجموع فتاوى شيخ الاسلام احمد بن تيمية ۲۲/۴۵۲)

او لـمونـځ كـونـکی کـه رفـع يدين وکړي او يا نه دا په لمانځه کي هيڅ خرابي نه راځي او نه باطليږي او د امام ابو حنيفةؒ امام شافعيؒ ، امام مالک او امام احمد بن حنبلؒ ديوه په نزد هم په دې کي هيڅ خرابي نسته .

او کـه چيري امام رفع يدين وکړي او مقتديانو پرېښودی او يا مقتديانو وکړی او امام نه وکړی نو په داوخت کي د يوه په لمانځه کي هيڅ نقص نه راځي .

د مذهب مالكي مشهوررہ عالم محدث حافظ ابن عبد البر په صراحت سره وايي:

"كل من رائ رفع و عمل به من العلماء لا يبطل صلاة من لم يرفع ، إلا الحميدی و بعض أصحاب داؤد ، و رواية عن الاوزاعی فلا وجه لمن جعل صلاة من لم يرفع ناقصة ، و لا لمن ابطلها مع اختلاف إلا آثار عن النبی ﷺ و اختلاف صحابه و من بعدهم و اختلاف ائمة الامصار فی ذلك والفرائض لا

تثبت إلا بما لا مانع و لا مطعن فيه ، و قول الحميدى و من تابعه شذوذ عند الجمهور و خطاء لا يلتفت أهل العلم إليه ـ (ـــ ج ٤ ص ١٠٧ ، ١٠٩)

او په علماء كي چي كوم يو هم د رفع يدين قائل وي او پر هغه باندي عمل كوي د رفع يدين نه كولو والا لمونځ ته باطل نه وايي ماسوا د امام حميدي او امام داؤد ظاهري بعضي شاګردانو يو روايت له امام اوزاعي څخه هم روايت كيږي .

د رفع يدين په باره كي د نبي كريم ﷺ په احاديثو كي اختلاف دغه رقم د صحابه وو او تابعينو اختلاف او د اسلامي ښارو د فقهاؤ اختلاف برسېره چي كوم خلک د رفع يدين نه كولو والا لمونځ باطل ګني دا بې دليله دي . ځكه د فرائضو ثبوت له داسي دليل څخه كيږي چي هغه له اعتراض زخم او طعن څخه محفوظ وي . د امام حميدي او د هغه د پيروكارو قول د جمهورو په نزد شاذ او غلط دی أهل علم حضرات داسي قابل . . . او لائق ته توجه نه وركوي . د مسلک شافعي با فيض عالم امام نووی په شرح مسلم كي ليكي:

"اجمعت الامة على استحباب رفع اليدين عنه تكبيرة الاحرام واختلفوا فيما سواها ـــ واجمعوا على امة لا يحب شيئ من الرافع ـ (١ / ١٦٨)

د امت پر دغه اجماع ده چي رفع يدين د تكبيرِ تحريمه په وخت كي كول مستحب دي او له دې څخه ماسوا په بل ځاى كي د رفع يدين په باره كي اختلاف دی او پر دغه هم اجماع او اتفاق دی چي د رفع يدين پر يو ځاى باندي هم واجب نه دی .

د احنافو د مذهب لوی فقيه او محدث ابو بكر جصاص رازي هم د

اختـلاف تـه اختـلاف مبـا ح وايـي . مـوصـوف پـه خپـل مشـهوره كتـاب احـكـام الـقرآن ج ۱ ص ۲۵۱، ۲۵۲ كي تر يو اصل لاندي دا ذكر كوي . دا پوره بحث د أهل علم دپاره لائق د مراجعت دی .

خلاصه د كلام:

پـه تيـر ذكـر سـوي احـاديـث رسـول الله ﷺ آثـار د اصحـابو او تـابعينو رضـوان الله تـعـالـی عـلـيهـم اجـمـعيـن اقـوال د آئـمـه مجتـهدينو او فقهـاؤ محدثينو څخه دا لاندي امرونه ثابت سوي دي .

۱﴾..... د تكبير تحريمه پر وخت رفع يدين كول په اتفاق سره سنت دي .

۲﴾.....رسـول د خـداى ﷺ د تـكـبيـر تـحـريـمـه پر وخت رفع يدين كولو . حـضـرت عـلـی حـضـرت عبد الله بن مسعود، حضرت ابو هريره، حضرات براء بن عازب حضرت عبد الله بن عمر حضرت عبد الله بن عباس، حضرت ابـو مالک اشعري او عباد ابن عبد الله بن الزبير رضی الله تعالی عنهم د نبي كريم ﷺ دا عمل نقل كوي .

۳﴾.....خـلـفـائـي راشـديـن ، حـضـرت ابو بكر صديق، حضرت عمر فاروق، حـضـرت عـلـی مـرتـضـی رضـی الله عـنـهـم څـخـه پـه عامـه توكـه د تكبيرِ تـحـريـمـه څخه ماسوا نور رفع يدين نه دی كړی . د حضرت عثمان رضی الله تـعـالیٰ عـنـه څخـه پـه دا مسئله كي څه نه دي ذكر سوي . البتـه قيـاس دا كيـږي چـي د خپـل مـخـتـه بـزرګـانـو مـوافق ده . په عامه توكه هم يوازي د تكبيرِ تحريمه پر وخت رفع يدين وي . (والله اعلم)

۴﴾..... صـحـابه كرام، تابعين عظام او اتباع تابعين په عامه توكه صرف د تكبيرِ تحريمه په وخت رفع يدين كولو .

د جلیـل الـقـدر تـابـعـي او مـحـدث ابـو اسـحـاق البیعي بیـا ن دی چي د حضـرت عـلـی مـرتـضـی او د حضرات عبد الله بن مسـعـود رضی الله عنهم أصـحـاب ، د دوی اتباع کونکي د تکبیرِ تحریمه څخه ما سوا بیا رفع یدین نـه کـوی . او ښـکـاره خبره ده چي د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه او دحضرت عبد الله بـن مسـعـود رضـی الله تـعالیٰ عنه أصحاب ، اصحابه ، تابعین وو .

دغـه رنـګـه افـضل تابعین قیس بن أبی حازم چي کوم د عشره مبشره د زیـارت شـرف ورتـه حـاصـل دی . امـام عـامـر الـشـعـبي چي د پنځو سو اصـحـابـو د لیـدو شـرف ورتـه حـاصل دی او دوه کاله د حضـرت عـبد الله بن عـمـر رضـی الله عـنـهـمـا په مجلس کي پاتي سوی . علقمه بن قیس چي د عـلـم او فـقـه و داسـي ځـای تـه رسېـدلـی چي خپله صحابه وو له ده څخه د مسـائـلـو پـوښتـه کـول . اسـود بـن یـزید چي هغه له حضرت عمر فاروق ، حضـرت عـلـی ، حضرت عبد الله بن مسعود او سیده عائشه صدیقه رضی الله تـعـالـی عنهم له داسي ممتاز شخصیتونو څخه زده کړه د علم او فضل کړې ، امـام ابـراهـیـم نـخـعي چي د صحابه وو په وخت کي د فقهاء یو غټ خدمت تـر سره کـولـو . دا ټوله حضراتو د تکبیرِ تحریمه څخه ماسوا بیا رفـع یـدیـن نـه کـولـو . د دوی د رفـع یدین نه کولو وجه له دې ماسوا څخه کېدله چي دوی د صحابه کرام د رفع یدین یا نه کولو لیدلی .

﴿۵﴾ ......پـه خیـر الـقـرو ن کي مشهوره اسلامي مرکزونه ، مدینه طیبه ، مکه معظمه او کوفه دا درې هغه عام ځایونه دي چي صرف یې د تکبیرِ تحریمه پـر وخـت رفـع یدین کولو او له دې څخه ماسوا د لمانځه په هیڅ حصه کي

يې هم رفع يدين نه كولو ځكه امام مالک چې په ۱۷۹ سنه هجري كې وفات سوى فرمايي " چې د تكبير تحريمه څخه ما سوا ما ته د رفع يدين هيڅ علم نسته .

٦﴾...... د خير القرون فقهاء په عامه توګه د رفع يدين نه كاوه . ځكه چې عظيم مرتبه، محدث و فقيه ابو بكر بن عياش چې ۱۹۳ سنه هـ كې بيان تېر سوى چې ما هيڅ فقيه د تكبيرِ تحريمه څخه ماسوا رفع يدين كولو نه دى ليدلى .

نو لهذا چې كوم خلک د ركوع تلو او د ركوع څخه د پورته كېدو په وخت كې رفع يدين سنت مؤكده يا واجب يا د فرضو درجه وركوي او دوى د رفع يدين نه كولو والا لمونځ خلاف د سنت يا ناقص او باطل ګڼي د دوى دا خبره په شرعي توګه د دلائلو له لحاظه نادره بلكه غلطه ده . د فقهائې اسلام او محدثينو عظامو په نزد ددوى دا قول لائق التفات هم نه دى .



قرأت خلف الامام او قرآن حكيم:

د امت مسلمه بغير د څه اختلاف پرته پر دې خبره اتفاق او اجماع ده چې د اسلامي احكامو او مسائلو سرچشمه د الله تعالى آخري كتاب "قرآن حكيم" دى چې د هغه يوه يوه جمله او يو يو حرف د الله د طرفه څخه نازل سوى دى . او كوم مقام و مرتبه رفعت و لوړوالى، اوقوت و قطعيت چې و كلام الله ته حاصل دى هغه يو مجموعي كلام او علمي كتاب ته نه دى حاصل .

د قرآن كريم د دغه عظيمو صفاتو په وجه په ديني معاملاتو او مسائلو

کي ديو مسلمان نظر تر ټولو مخکي د ده و طرفته کرزي، او په کتاب الٰهي سره ثابت شده حکم باندي چي ده ته کوم انشرا ح صدر، يقين و مضبوطي او اطمينان و سکون حاصليږي په نورو مراجعو سره د علم او يقين دا کيفيت نه پيدا کيږي .

نو ځکه په اصولي توګه باندي په زير بحث مسئله کي تر ټولو مخکي د قرآن کريم و طرفته رجوع کول په کار ده . او الله تعالى موږ د دغه مکلفه کړي هم يو . د الله تعالى فرمان دی ﴿ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ ﴾ (الآية) يا نو چي په کتاب الله کوم حکم ثابت او معلوم سي هغه بغير د قيل و قال او چو ن چرا تسليمول زموږ د بندګي او اطاعت تقاضا ده نو لهذا راسه چي کتاب الله وګورو چي په زير بحث مسئله کي د ده څه هدايات دي؟

د سورة اعراف آيت نمبر ۲۰۴ و وايه ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

ترجمه: او چي کله قرآن ويل کيږي نو و هغه ته غوږ ونيسئ او چپ و اوسئ چي بيا پر تاسو باندي رحم وسي .

د آيت پاک او د هغه د ترجمي وروسته د رسول الله ﷺ شاګردان او ائمة تفسير و حديث ته وګوره چي د نبوت د څراغ څخه منوره صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين او نورو سلف صالحينو د آيات مذکوره په تفسير او مراد و معني کي څه بيان کړي دي .

عمدة المفسرين امام ابوجعفر محمد بن جرير الطبري المتوفى ۳۱۰ هـ د دغه آيت په تفسير کي ليکلي دي ” ثم اختلف أهل التاويل فى الحال التى

أمر الله بالاستماع لقارئ القرآن إذا قرأ و الانصات له فقال بعضهم ذلك حال كون المصلي في الصلوة خلف امام يأتم به و هو يسمع قرأة الإمام عليه ان يسمع لقرائه ، و قالوا: في ذلك نزلت هذه الآية" (جامع البيان معروف به تفسير ابن جرير طبري ٦/٢١٦)

ترجمه: د علماء تفسير په دې باره كي اقوال مختلف دي چي هغه كوم حالت دى چي په هغه حالت كي د قاري و قرأت ته غوږ نيول او د چپ كېدلو حكم په دغه آيت كي كړل سوى دى . د بعض مفسرينو قول دا دى چي دا د هغه لمونځ كونكي حكم دى كوم چي د امام په اقتداء كي لمونځ ادا كوي او د امام قرأت اوري په دغه حال كي پر ده باندي انصات و استماع واجب ده . او مفسرين وايي چي خاص په دغه باره كي دغه آيت نازل سوى دى .

د دغه تفصيل وروسته امام أبو جعفر په حضراتو صحابه وو او ائمه تفسير وحديث كي د حضرت عبد الله بن مسعود، حضرت عبد الله بن عباس، حضرت أبو هريرة او ابراهم نخعي، امام زهري، عبيد بن عمير، عطابن رباح ، مجاهد سعيد بن المسيب، سعيد بن جبير ، ضحاك، قتادة، عامر شعبي، عبد الرحمن بن زيد بن اسلم رحمهم الله اثارو اقوال په سند سره نقل كړي دي چي دغه حضرات هم د مذكوره بالا تفسير قائل دي .

د دې وروسته امام أبو جعفر ليكلي:

"و قال آخرون : بل عنى بهذه الآية الامر بالانصات للامام في الخطبة إذا قرئ القرآن في الخطبة" . (٦/٢١٩)

ترجمه: او نور مفسرين وايي چي په دغه آيت د انصات چي كوم حكم دى د هغه څخه مراد دا دى چي كله په خطبه كي قرآن ويل كيږي نو چپ و

اوسئ (گويا د دغه آيت تعلق په لمانځه كي د امام د قرأت سره نه دى په خطبه كي د خطيب د قرأت سره دى)

امام ابوجعفر د دغه قول په قائلينو كي دى صرف د امام تفسير مجاهد بن جبر نوم ذكر كړى دى .

د دې وروسته امام دريم تفسير په دغو الفاظو كي ليكلى دى: و قال اٰخرون : عنى بذلك الانصات فى الصلوة و فى الخطبة . يعني د دغه آيت تعلق د لمانځه او د خطبې دواړو سره دى .

د دغه قول او تفسير تحت يې د امام مجاهد عطاء حسن بصري او سعيد بن جبير څخه منقول آثار په سند سرۀ نقل كړي دي .

د آيت مذكوره په تفسير كي ددغو درو (۳) اقوالو وروسته خپله رايه په دغو الفاظو كي ذكر كوي:

قال أبو جعفر : و اولى الاقوال فى ذلك بالصواب قول من قال امروا باستماع القرآن فى الصلوة اذا قرأ الإمام و كان من خلفه ممن يأتم به و يسمعه و فى الخطبة ، و انما قلنا ذلك اولى بالصواب لصحة الخبر عن رسول الله ﷺ انه قال :"اذا قرأ الإمام فانصتوا" ، و اجماع الجميع على من سمع خطبة الإمام ممن عليه الجمعة الاستماع و الانصات لها ، مع تتابع الاخبار بذلك عن رسول الله ﷺ انه لا وقت يجب على أحد استماع القرآن و الانصات لسماعه من قارئه إلا فى هاتين الحالتين على اختلاف فى احدهما ، و هى حالة ان يكون خلف امام مؤم به و قد صح الخبر عن رسول الله ﷺ بما ذكرنا من قوله "اذا قرء الإمام فانصتوا" فالانصات خلفه قرأته واجب على من كان به مؤتما سامعا قرأته بعموم ظاهر القرآن والخبر عن رسول الله ﷺ

. (تفسير ابن جرير طبري ج ٦، ص ۲۲۰، ۲۲۱)

ترجمه: په دغو درو اقوالو کي اقرب الصواب او ډېر صحيح قول دا دى چي د دغه آيت تعلق د لمانځه او خطبې دواړو سره ستـه . موږ په دې وجه دا قول صحيح و بالـه . ځکه چي د نبي عليه السلام دا حديث دى "اذا قرأ الأمام فانصتوا" او د ټولو علماؤ اتفاق دى چي پر کومو خلقو جمعه واجب ده، پر هغو باندي بوقت خطبه استماع او انصات لازم دى . د دغه اجماع سره سره د نبي عليه السلام ډېر احاديث په دغه باره کي هم ستـه . بس د دغو دوو (۲) حالتو څخه ماسوا د قرآن د قرأت استماع او انصات واجب نه دى . کـه څه هم خلف الأمام د مقتدي په استماع او انصات کي اختلاف دى ليکن د نبي عليه السلام په صحيح حديث سره (چي هغه لوړ ذکر سو) ثابته ده چي پر مقتدي باندي استماع او انصات واجب دى چي کله دى قرأت اوري . ځکه چي دغه د قرآن کريم او د حديث د ظاهري عموم څخه معلوميږي .

د امام ابن جرير طبري په دغه عبارت سره دا خبره په ښکاره سره مخته راغله چي پر هر سامع د قرأت باندي استماع او انصات لازم نه دى دا صرف پر هغه شخص لازمي دى چي هغه د امام په اقتداء کي لمونځ ادا کوي ځکه چي د قرآن کريم د ظاهر او د صحيح احاديثو تقاضا همدغه ده .

امام أبو بكر أحمد بن علي رازي الجصاص متوفي ۳۷۰ هـ په خپل مشهور او محققانه کتاب کي د آيت مذکوره تحت ليکي:

فقد حصل من اتفاق جميع انه قد اريد ترك القرآن خلف الإمام و الاستماع و الانصات لقرأة الإمام ، و لو لم يثبت عن السلف اتفاقهم على نزولها

في وجوب ترك القرأة خلف الإمام لكانت الآية كافية في ظهور معناها و عموم لفظها و وضوح دلالتها على وجوب الاستماع و الانصات لقرأة الإمام و ذلك لأن قوله تعالى: ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ يقتضي وجوب الاستماع و الانصات لقرأة القرآن في الصلوة و غيرها۔ فان قامت دلالة على جواز ترك الاستماع و الانصات في غير ها لم يبطل حكم دلالته في ايجابه ذلك فيها و كما دلت الآية على النهي عن القرأة خلف الإمام فيها يجهر به فهي دلالة على النهي فيما يخفى لأنه اوجب الاستماع والانصات عند القرأة و لم يشترط فيه حال الجهر من الاخفاء فاذا جهر فعلينا الاستماع والانصات و إذا اخفى فعلينا الانصات بحكم اللفظ لعلمنا به قارئ القرآن" .

د امام جصاص رازيؒ د دغه عبارت څخه دا خبره واضح سوه چي د سلف صالحين پر دې باندي اجماع و اتفاق دی چي د آيت مذکوره شان نزول تر امام تر شا د ترک قرأت حکم بيانول دي . امام رازي نور دا وايي چي که چيري د اسلافو پر دې باندي اتفاق و اجماع نه وای بيا هم دغه آيت د خپل ظاهري معنی او عموم الفاظ په اعتبار سره خپله دا خبره واضحه کوي چي د امام د قرأت په وخت کي د مقتديانو قرأت کول صحيح نه دی .بلکه دوی به په ښه غوږ نيولو سره او په خاموشي سره د امام قرأت اوري . او په يسري لمنځو کي قرأت قرآن د عظمت تقاضا دغه ده چي په دې وخت کي د يو څه ويلو پر ځای په ادب سره خاموش و دريږي .

امام حافظ أبو عمر يوسف بن عمر معروف به ابن عبد البر نمري متوفى ۴۶۲ ھ په خپل بې مثال کتاب "التمهيد" کي د قرأت خلف الأمام پر مسئلو باندي بحث کوي او ليکي:

"قال أبو عمر : فی قوله تعالی : ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ مع اجماع أهل العلم مراد الله تعالى من ذلك فی الصلوة المكتوبة ، اوضح الدلائل علی ان المأموم إذا جهر امامه فی الصلوة انه لا يقرأ معه بشئ و ان يستمع له و ينصت ، و فی ذلك دليل علی ان قول رسول الله ﷺ "لا صلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب" مخصوص فی هذا الموضوع وحده، اذا جهر امام بالقرأة لقول الله تعالى : ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ و ما عدا هذا الموضوع و حده فعلى عموم الحديث ، و تقديره " لا صلوة يعني الركعة لمن لم يقرأ فيها بفاتحة الكتاب إلا لمن صلى خلف الإمام يجهر بالقرأة فأنه يستمع و ينصت" .

حافظ عبد البر په يو بل ځای کي هم په صافو الفاظو کي ليکلي دي:

"و اجمع العلماء على ان مراد الله تعالى من قوله : ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ يعني فی الصلوة .

امام حسين بن محمود بغوي متوفی ۵۱۶ هـ د آيت مذکوره په تفسير کي د ائمه تفسير د ډېرو اقوالو د ذکر کولو وروسته خپل تحقيق په دغو الفاظو کي ذکر کوي:

والاول اولیٰ : و هو انها فی القرأة فی الصلوة لأن الاية مكية ، والجمعة وجبت بالمدينة واتفقوا على انه مأمور به بالانصات حالة ما يخطب الامام"

د امام بغوي په دغه تحقيق سره دا خبره واضحه سوه چي کومو بزرګانو دغه آيت د جمعې پر خطبې باندي حمل کړی دی ددې همدغه مطلب دی چي آيت د خپل عموم اعتبار سره خطبې ته شامل دی، کنې د آيت شان نزول خو صرف لمونځ دی .

امام موفق الدين بن عبد الله بن أحمد بن قدامه متوفى ۶۲۰ هـ د ترک القرأة خلف الأمام مسئله په باره کي دليل داسي ليکي:

"ولنا قول الله تعالى: ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ قال أحمد فالناس على ان هذا في الصلوة، وعن سعيد بن المسيب، والحسن، وابراهيم، ومحمد بن كعب والزهرى انها نزلت في شأن الصلوة، وقال زيد بن اسلم و أبو العالية كانوا يقرء ون خلف الإمام فنزلت ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ وقال أحمد في رواية أبي داؤد اجمع الناس على ان هذه الآية في الصلوة ولأنه عام فيتناول بعمومه الصلوة".

مشهوره مفسر امام أبو عبد الله محمد بن أحمد انصاري قرطبي متوفى ۶۷۱ هـ د آيت مذکوره په تفسير کي ليکي:

"قيل: ان هذا نزل في الصلوة روى هذا عن ابن مسعود، و أبي هريرة و جابر، و الزهرى، وعبد الله بن عمير، عطا بن رباح، و سعيد بن المسيب.

قيل: انها نزلت في الخطبة، قاله سعيد بن جبير ومجاهد، وعطاء، وعمرو بن دينار، وزيد بن اسلم، والقاسم بن مخيمرة، مسلم بن يسار، و شهر بن حوشب وعبد الله بن المبارك، وهذا ضعيف لأن القرآن فيها قليل و الانصات يجب في جميعها قاله ابن العربي والنقاش والاية مكية ولم يكن بمكة خطبة ولا جمعة ---

قال النقاش اجمع أهل التفسير ان هذا الاستماع في الصلوة المكتوبة و غير المكتوبة"

شيخ الاسلام حافظ أحمد ابن تيميه متوفى ۷۲۸هـ هم د ابن قدامه په رقم د امام أحمد بن حنبل دا مذکوره قول ذکر کړی دی . د جهر په حالت کي

د قرأت خلف الأمام مسئله تحت لیکي:

"فان للعلماء فیه ثلاثة اقوال: قیل : لیس له ان یقرء حال جهر الإمام إذا کان یسمع لا بالفاتحة و لا غیرها، و هذا قول الجمهور من السلف والخلف و هذا مذهب مالك و أحمد و أبي حنیفة و غیرهم واحد قولی الشافعي-

و قیل یجوز الامران ، والقرأة افضل ، و یروی هذا عن الاوزاعی ، و أهل الشام ، و لیث بن سعد و هو اختیار طائفة من أصحاب أحمد وغیرهم-

وقیل : بل القرأة واجبة و هو قول الأخر للشافعي-

و قول الجمهور هو صحیح فان سبحانه تعالی قال : ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ قال أحمد اجمع الناس علی انها نزلت في الصلوة"

د ائمه تفسیر ، اکابر محدثین او فقهائي محققین دا یو څو عبارتونه او قولونه ستا مخته دي . چي په هغو کي امام المحدثین او أحمد بن حنبل، امام قرأت و تفسیر نقاش، امام الفقهاء جصاص رازي، مرجع محققین حافظ ابن عبد البر په واضحه الفاظو کي وایي چي د علماء اسلام پر دې خبره اجماع و اتفاق دی چي د آیت مذکوره شان نزول لمونځ دی . امام موفق ابن قدامه او علامه حافظ ابن تیمیه هم ددغې اجماع قول نقل کړی دی او بیا تائیدیې هم کوي . بیا امام نقاش او امام بغوي علی الترتیب دا وضاحت کړی دی چي "الایة مکیة و لم یکن بمکة خطبة ولا جمعة"، الآیة مکیة والجمعة وجبت بالمدینة" نو اوس دغه وضاحت ذا خبره نوره واضحه کړه چي د آیت مذکوره شان نزول او موضوع خطبه نه ده ځکه چي د آیت د نزول په وخت کي د جمعې او خطبې وجود لا نه وو، ځکه چي جمعه د هجرت په اول کال واجب سوه . او آیت قبل الهجرة نازل سوی دی .

اوس نو د خطبې شاملېدل په دې حکم کي ضمناً د آیت د عموم الفاظ په اعتبار سره، نو دا یوه جلا خبره ده . د آیت د شان نزول سره د دې هیڅ تعلق نسته . ځکه چي د تحقیق په بنیاد سره دغه ثابته ده چي په لمانځه کي د قرأت خلف الأمام هیڅ ګنجائش نسته . دغه د علماء سلف و خلف تحقیق دی او پر دغه باندې د دوی عمل وو . علامه ابن تیمیه لیکي:

"لكن الذين ينهو عن القرأة مع الإمام هم جمهور السلف والخلف و معهم الكتاب و السنة الصحيحة والذين اوجبوها على المأموم فى حال الجهر هكذا فحديثهم قد ضعفه الا ئمة"

په آخر کي یوه بله حواله د محقق عالم مولانا عبد الحی فرنګي محلي متوفی ۱۲۰۴ھ ملاحظه کړه چي هغه د علم و تحقیق په ترازو کي د قول فیصل حیثیت لري:

"ان الآية المذكورة صريحة فى الامر بالاستماع عند قرأة القرآن، والخطبة و ان كان مشتملة عليها لا يطلق عليها قرأة القرآن، فحملها على سماع الخطبة يابى عنه أيضا ظاهر القرآن، فاذن ظهر حق الظهور أن ارجاع التفاسير الآية وموارد نزولها هو القول الثانى و هو انما نزلت فى القرأة خلف الامام......

وهذا القول ترجيحه بوجوه - احدها : انه لا تعارضه الآثار و الاختبار وليست فيه خدشة و مناقضة عند اولى الابصار، وثانيها: انها قول جمهور السلف و الصحابة حتى ادعى بعضهم الاجماع على ذلك كما اخرجه البيهقى عن أحمد انه قال اجمع الناس على ان هذه الآية نزلت فى الصلوة و قال ابن عبد البر فى الاستذكار هذا عند أهل العلم عند سماع القرآن فى الصلوة

لا يختلفون ان هذا الخطاب نزل فى هذا المعنى دون غيره"۔

پـه مـخـكـي صفحاتو كي دا خبره تېره سوه چي د اجماع دغه قول د امام أحـمـد بـن حـنـبـل څـخـه مـاسـوا د امـام قـرأت والتـفـسير محمد بن الحسن الـنـقـاش، امـام جصاص رازي، حافظ ابن عبد البر، وغيره او ائمه تفسير و حـديث و فـقه څخه هم منقول دی . نو څكه ددې په راجح او متعين كېدلو كي څه شبه كېدلای سي؟

اوس پـاتـه دغـه مسـئله ده چي بعضو اكابرو په نزد د استماع و انصات حكم د جهـري لـمـنـڅـو سره خاص كړی دی نو ددې بنياد دا دی چي د دغو بزرګانو خيـال دا دی چي بـغـير د جهر نه استماع بې معنی ده يعني د دغو حضراتو پـه نـزد استـمـاع هلته كېدای سي چيري چي لوړ آواز وي او اورېده كيږي، بيغر ددې نه د استماع عمل بې فائدې او فالتو وي .

نـور اكـابـر بيـا وايـي چـي د كـلام الٰهـی د عظمت او ادب و احترام تقاضا دغـه ده چي د تـلاوت پـه وخت كـي سړي بالكل غوږ نيولي وي لو بالكل چپ وي . د ابـتـداء وحـي پـه زمانه كي به چي كله جبرائيل آمين كلام الٰهي راوړی او د نبي عـلـيـه السـلام مـخـتـه بـه يې تـلاوت كوی نو نبي عليـه السـلام بـه هـم دده تـلاوت سـره آهستـه آهستـه تـلاوت كـوی، نـو حـكم خداوندي وسو:

﴿لا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ـ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ـ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾

د دې آيـت څـخـه دا خبـره واضـحـه سـوه چي رب العـزت د خپـل كلام د تـعـظيم كلام د تعليم اتباع همدغه طريقه بنو دلېده چي د تلاوت په وخت

کي سرې بـالـکـل خـامـوشي وي، برابـره خبره ده کـه د تلاوت آواز د ده و غـوږو تـه رسي او کـه نه رسي . امام شوکاني د باب ما جاء في قرأة المأموم و انصاته إذا سمع امامه" پر احاديثو باندي بحث کوي او ليکي:

"لأن قـولـه عـليـه السلام (فلا تقرؤا بشيئ من القرآن إذا جهرت) يدل على النهى عن القرأة عند مجرد وقوع الجهر من الإمام و ليس فيه و لا في غيره ما يشعر باعتبار السماع"

امـام شـوکـانـي پـه صـافـو الفاظو کي وايي چي د استـمـا ع و انصات حکم مـعـلـوم نـه دى د امـام د قرأت پـه اورېدو سره بلکـه پـه جهر بالقرأت سره دى لهـذا پـه دغـه حـالـت کـي پـر مـقـتـدي باندي استماع و انصات ضروري دى لکه د امام قرأت اوري او که يې نه اوري .

جمهور علماء وايي چي د ترک قرأت علت جهر نه بلکـه خپـله قرأة دى د آيت مذکوره اطلاق د دغـه تائيد کوي . امام أبو بکر جصاص ليکي:

"قـد بينا دلالة الآية على وجوب الانصات عند قرأة الإمام في حال الجهر و الاخـفـاء ـ و قال أهل اللغة :الانصات الامساك عن الكلام ، و السكون لاستماع الـقـرأة، و لا يـكـون الـقـارى منصتاً و لا ساكتاً بحال ، و ذلك لأن الـسـكـوت ضد الكلام"

د دغـه قـول تائيد احاديث صحيحه هم کوي دغـه احاديث مخـتـه راځي او د أهـل لغت د تصريحاتو څخه هم دا ثابتـه ده چي د استـمـا ع لپاره سماع نه ده ضروري .

بـعـضـو حضراتو د دغي مسئلي د حل کولو کوښښ داسي کړى دى چي د امـام د قـرأت پـه وخـت کـي د مـقـتـدي مـتـوجه او خاموش ولاړ وي چي پر

نص قرآني عمل وسي او د امام سره به منازعت هم نه وي، ځکه چي د منازعت ممانعت په صحيح احاديثو سره سوی دی . البته که امام د قرأت ځخه توقف او سکته وکړي نو هلته دي مقتدي قرأت وکړي چي پر لا صلاة لمن لم يقرء الخ باندي عمل هم وسي . ليکن د دغو برزګانو دا کوښښ که څه هم بظاهر د کتاب الله ﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ او سنت رسول الله ﷺ " لا صلوة لمن لم يقرء بفاتحة الكتاب" په مابين کي د تطبيق او پر دواړو باندي د عمل کولو بهترين صورت دی ليکن څه وکړل سي چي د روايت او درايت د دواړو فيصله ددې خلاف ده . ځکه چي په صحيح احاديثو سره د نبي عليه السلام کوم عمل چي منقول دی هغه صرف دوې سکتې دي يوه د تکبير تحريمه وروسته چي په دې کي به ده عليه السلام دعائی استفتا ح ويله لکه څنګه چي په صحيحين کي د حضرت أبو هريره رضی الله تعالی عنه د روايت څخه معلوميږي . او دوهمه به يې د قرأت د اختتام وروسته ډېره کوتا کوله، چي ددغي سکتې وجه امام أبو داؤد دا بيانوي:

"لئلا يتصل التكبير بالقرأة" نو ظاهره ده چي په دومره قليله وقفه کي د سورة فاتحه قرأت څنګه کېدلای سي . د دغو دوه سکتو څخه ماسو دیوې بلي سکتې د ثبوت حافظ ابن تيميه انکار کوي او وايي چي په حديث او په اقوال د جمهور سره دريمه سکته نه ده ثابته، په لمانځه کي د دوران قيام سکتې په باره کي تفصيل کوي او ليکي:

"و أيضا فللناس فی الصلوة اقوالٌ احدها : انه لا سكوت فيها كقول مالك ، و لا يستحب عنده استفتاح و لا استعاذة و لا سكوت لقرأة المأموم، والثانی :

انـه ليـس فيهـا إلا سكـوت واحـد للاستفتـاح ، كقول أبي حنيفة ، لأن هذا الـحديـث يـدل علـى هذه السكتة والثالث : ان فيها سكتتين كما في حديث السنن لكن روى فيه انه يسكت إذا فرغ من ا لقرأة و هو صحيح ، روى اذ فرغ من الفاتحة ، فقال طائفة من أصحاب الشافعي و أحمد يستحب ثلاث سكتات ، و سكتة الفاتحة جعلها أصحاب الشافعي و طائفة من اصحٰب أحمد ليقرء المـاموم الفاتحة ، والصحيح انه لا يستحب إلا سكتتان فليس في الحديث إلا ذلك واحد الروايتين غلط إلا كان ثلاثا ، و هذا هو المنصوص عن أحمد و انه لا يستحب إلا سكتتان ، و الثانية عند الفراغ من القرأة للاستراحة والفصيل بينها و بين تكبير الركوع۔

و اما السكوت عقيب الفاتحة فلا يستحب أحمد كما لا يستحب مالك ، و أبو حنيفة ، والجمهور لا يستحبون ان يسكت الإمام ليقرأ الماموم ، و ذلك ان قرأة المـاموم عندهم إذا جهر الإمام ليست بواجبة و لا مستحبة بل هي منهي عنها ۔ و هل تبطل الصلوة إذا قرأ مع الإمام ؟ فيه وجهان في مذهب أحمد ۔ فهو إذا كان يسمع قرأة الإمام فاستماعه افضل من قرأته كاستماعه لمازاد على الفاتحة ، فيحصل له مقصود القرأة ، و الاستماع بدل عن قرأته ، فجمعه بين الاستماع والقرأة جمع بين البدل والمبدل"۔

علامه ابن تيميه په يو بل ځای کي ددغي مسئلي په باره کي ليکي:

"و معلوم ان النبي ﷺ لو كان يسكت سكتة تسع لقرأة الفاتحة لكان هذا مما تتوفرا لهم والدواعي على نقله فلما لم ينقل أحد علم انه لم يكن۔

والسكتة الثانية في حديث سمرةؓ قد نفاها عمران رضي الله تعالى عنه بن حصين و ذلك انها سكتة يسيرة قد لا ينضبط مثلها و قد روى انها بعد الفاتحة و

معلوم انه لم يسكت إلا سكتتين فعلم ان احدها طويلة والاخرىٰ بكل حال لم تكن طويلة متسعة لقرأة الفاتحة۔

و ايضاً فلو كان الصحابة كلهم يقرء ون الفاتحة خلفه امام فی سكتة الاولیٰ و اما فی سكتة الثانية لكان هذا مما تتوفرا لهمم والدواعی علی نقله فكيف و لم ينقل هذا أحد من الصحابة انهم كانو فی السكتة الثانية خلفه يقرأون الفاتحة مع ان ذلك لو كان مشروعاً لكان الصحابة احق الناس بعلمه و عمله فعلم انه بدعة "

د علامه ابن تیمیه د بیان کرده تفصیلاتو حاصل دغه دی چي د نبي علیه السلام څخه دوران قیام صرف دوې سکتې ثابتي دي او دا دواړې سکتې به دومره کوتاوې چي په دغو کي د سورة فاتحه د ویلو هیڅ گنجائش نسته . او د صحابه وو څخه هم دا نه ده منقوله چي دوی به د نبي علیه السلام تر شا په سکتو کي فاتحه ویله . نو ځکه په سکتو کي د سورة فاتحة ویلو روایت صحیح نه معلومیږي .

پر دغه موقع باندي یعني ترک القرأة خلف الامام مسئله باندي موږ خاص د علامه ابن تیمیه تحقیق پېش کړ . دا ځکه چي هغو دوستانو ته هم اطمینان حاصل سي چي خپلو ځانو ته د سلفي نوم ورکولو باوجود د سلف صالحین او ائمه مجتهدین په مقابله کي علامه ابن تیمیه ته زیات اهمیت ورکوي . کنې نو پر دغه مسئله باندي د نورو اکابرو محدثینو او فقهائی مجتهدین تحقیقات پېش کېدلای سي چي د هغو و طرف ته خپله علامه تیمیهؒ اشاره کړې ده .

د دغو احبابو د نور اطمینان لپاره د دوی د خپل کور یو تحقیق پېش

کړل کیږي . علامه یمن محدث کامل محمد بن اسماعیل امیر یمانی متوفی ۱۱۸۲ھ لیکي:

"ثم اختلف القائلون بوجوب القرأة فقيل: في محل سكتات الإمام و قيل: في سكوته بعد تمام القرأة ولا دليل لهذين القولين في الحديث"

په آخر کي د علامه العلماء امام جليل فخر الدين رازی متوفی ٦۰٦ھ درج ذيل عبارت و وايه او فيصله و کړه .

"ولقائل ان يقول: سكوت الإمام ان نقول: انه من الواجبات، او ليس من الوجبات، و الاول باطل بالاجماع، والثاني يقتضي ان يجوز له ان لا يسكت. فتقدير ان لا يسكت لزم ان تحصل قرأة المأموم مع قرأة الإمام، و ذلك يفضي إلى ترك الاستماع والى ترك السكوت عند القراءة الإمام و ذلك على خلاف النص.

و أيضاً فهذا السكوت ليس له حد محدود و مقدار مخصوص، والسكتة لمأمومين مختلفة بالثقل و الخفة في بما لا يتمكن الماموم من اتمام قرأة الفاتحة في مقدار السكوت الإمام، و حينذ يلزم المحذور المذكور، و أيضا فالامام انما يبقى ساكتا ليتمكن الماموم من اتمام القراة و حينئذ ينقلب امام مأموم و الماموم امام، لان الامام في هذه السكوت يصير كالتابع للماموم و ذلك غير جائز"

د امام متبوع او مقتدی تابع کېدل ځکه ناجائز دي ځکه چي د نبي عليه السلام ارشاد دی "انما جعل الأمام ليؤتم به فاذا قرأ فانصتوا" يعني امام ځکه مقرر کړل کيږي چي د ده اقتداء او پيروي و کړل سي . لهذا چي کله امام قرأت و کړي نو تاسو چپ در پړئ . ددغه حديث څخه دوې خبري

معلوميږي . اوله دا چي مقتدي دي د امام اقتداء او اتباع وكړي، نه داسي چي امام د مقتدي پيروي وكړي .دوهمه دا چي كله امام قرأت كوي نو مقتدي دي خاموشي اختيار كړي، نو ددغه تفصيل څخه بالكل دا خبره روښانه كيږي چي كله امام د مقتدي د قرأة لپاره سكوت وكړي دا ناجائز دى . ځكه كه چيري امام د دغه سكوت مامور واى نو لازماً د دې خبري به هم مامور واى چي دى د مقتديانو اقتداء وكړي . نو بيا په دغه صورت كي امام په يوه حال كي هم امام دى او هم مقتدى . او د شخص واحد په يوه حال كي امام او مقتدي دواړه جوړيدل نه عقلاً صحيح دي او نه شرعاً .

د دغو تفصيلاتو څخه دا خبره ښه واضحه سوه چي په سكتاتو كي د قرأت قول كول د روايت و درايت په لحاظ سره قابل عمل نه دى . نو ځكه احتياط دغه دى چي د امام د قرأت په وخت كي مقتدي د حكم خداوندي :﴿وَإِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ عامل وي او بالكل خاموش وي .

...... ☆ ......

أحاديث رسول ﷺ:

﴿١﴾ ......عن أبي موسى الاشعري قال ان رسول الله ﷺ خطبنا فبتبين لنا سنتنا و علمنا صلواتنا فقال إذا صليتم فاقيموا صفوفكم ثم ليؤم احدكم ، فاذا كبر فكبروا و إذا قرأ فانصتوا واذا قال "غير المغضوب عليهم و لا الضآلين" فقولوا آمين . (رواه مسلم في صحيحه ١٧٨/١)

تشريح: د دغه صحيح حديث واضح الفاظ دي په دغه باره كي چي د امام ذمه واري قرأت ويل دي او د مقتديانو وظيفه خاموش درېدل دي . چونكه په دغه حديث كي د جهري و ستري لمانځه قيد نسته . ځكه دا حكم ټولو لمنځو ته شامل دى .

﴿٢﴾……عن خطاب بن عبد الله ان ابا موسیٰ قال خطبنا رسول الله ﷺ فعلمنا سنتنا و بیّن لنا صلوٰتنا فقال إذا كبر الإمام فكبروا و إذا قرأ فانصتوا .(صحيح أبي عوانه ٢/١٣٣)

﴿٣﴾…… عن أبي موسى اشعرى قال : قال رسول الله ﷺ إذا قرأ الإمام فانصتوا واذا قال "غير المغضوب عليهم و لا الضآلين " فقولوا آمين .

﴿٤﴾…… عن أبي موسیٰ اشعرى قال قال رسول الله ﷺ إذا قرأ الإمام فانصتوا فاذا كان عند القعدة فليكن أول ذكر احدكم التشهد .(سنن ابن ماجه:٦١)

﴿٥﴾…… عن أبي موسیٰ اشعرى قال قال رسول الله ﷺ إذا قمتم إلى الصلوة فليؤمكم احدكم و إذا قرأ الإمام فانصتوا۔ و رجال اسناده ثقات .(مسند امام احمد٤١٥٤)

﴿٦﴾…… عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ انما جعل الإمام ليؤتم به فاذا كبر فكبروا و إذا قرأ فانصتوا و إذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد .(نسائی ١/١٠٧)

﴿٧﴾……عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ انما جعل الإمام ليؤتم به فاذا كبر فكبروا و إذا قرأ فانصتوا .(نسائی ١/١٠٧)

﴿٨﴾……وعن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ انماجعل الإمام ليؤتم به فاذا كبر فكبروا و إذا قرأ فانصتواو إذا قال "غير المغضوب عليهم و لا الضآلين " فقولوا آمين .(ابن ماجه :ص: ٦١)

﴿٩﴾…… وعن أبي هريرة ان رسول الله ﷺ قال انما الإمام ليؤم به فاذا كبر فكبروا و إذا قرأ فانصتوا و اذاقال و لا الضآلين " فقولوا آمين .(مسند امام

أحمد ۲/۳۷٦) و قال المحقق أحمد شاكر اسناده صحيح مسند امام أحمد ۷/۵۲ مع تحقيق المذكور)

د حضرت أبو موسى اشعريؓ د صحيح حديث په رقم د حضرت أبو هريره رضى الله تعالى عنه څخه مروي حديث هم ناطق دی چي د جمعۍ د لمانځه په صورت کي د امام فريضه قرأت ويل دي او د مقتدي وظيفه خاموش کېدل او قرأت ته غوږ نيول دي . د أهل حديث پېشوا نواب صديق حسن خان ليکي :در حديث أبو هريرة و أبو موسى رضى الله عنهما است " و إذا قرأ فانصتوا " پس ظاہر تم انصات و استماع قرأت امام است، و انات خاص بجہر یہ نیست بلکہ شامل سریہ ہم است ـ پس واجب سکوت باشد مطلقا نزد قرأت ـ (هداية السائل : ص ۱۹۳)

﴿۱۰﴾...... عن انس ان النبي ﷺ قال : إذا قرأ الإمام فانصتوا . (كتاب القرأة للبيهقى : ص ۹۲)

دغه حديث هم د "ترک القرأة خلف الأمام" مسئله په باره کي بالکل واضح دی .

﴿۱۱﴾...... عن عمران بن حصين ان رسول الله ﷺ صلى الظهر فجعل رجل يقرأ خلفه "سبح اسم ربك الاعلى" فلما انصرف قال ايكم قرأ او ايكم القارى؟ قال رجل انا! فقال قد ظننت ان بعضكم خالجنيها" .

(صحيح مسلم ۱/۱۷۲)

﴿۱۲﴾...... عن عمران بن حصين ان رسول الله ﷺ صلى الظهر فقرأ رجل خلفه "سبح اسم ربك الاعلى" قال رجل انا ، قال قد علمت ان بعضكم قد خالجنيها .

(سنن نسائى ۱/۱۰٦)

﴿١٣﴾ ...... عن عمران بن حصين ان النبي ﷺ صلى الظهر او العصر و رجل يقرأ خلفه فما انصرف قال ايكم يقرأ "بسبح اسم ربك الاعلى" قال رجل من القوم انا ، ولم ارد بها إلا الخير فقال النبي ﷺ قد عرفت ان بعضكم قد خالجنيها . (سنن نسائی ١٠٦/١)

د حضرت عمران بن حصين رضی الله تعالی عنه څخه مروي دا درې سره احاديث صحيحه په دې باره کي ظاهر دي چي د لمانځه په حالت کي د مقتدي پر قرأت کولو باندي نبي عليه السلام اظهار د ناګواري فرمايلې ده او په پوره جماعت کي يې ديوه سړي قرأت هم نه دی برداشت کړی بلکه دغه د قرأت عمل يې خلل انداز وګرزوی او هغه هم په سري لمانځه کي .

نو دا دې خبري واضح دليل دی چي په جهري لمنځو کي بدرجه اولیٰ د قرأت خلف الامام ګنجائش نسته .

﴿١٤﴾ ...... عن عبد الله بن مسعود قال كانوا يقرؤن خلف النبي ﷺ فقال خلطتم عَلَيَّ القرآن .

(معاني الآثار ١٠٦/١)

امام أبو بكر جصاصؒ ليکي: چي په دغه حديث شريف کي لفظ د "يقرؤن" مطلق ذکر دی ، د سورة فاتحه يا د قرآن د يو بل آيت يا سورت قيد نسته . نو ځکه دا لفظ سورة فاتحه او دقرآن ټولو سورتو ته شامل دی . نو معلومه دا سوه چي د هيڅ قسم قرأت خلف الامام ګنجائش نسته .بلکه ټوله باعث خلجان دي .

﴿١٥﴾ ...... عن عبد الله بن شداد عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من كان له امام فقرأة الإمام له قرأة . (مسند أحمد بن منيع بحواله فتح القدير

(٢٩٥/١)

پـه دغـه حـديث كـي هـم د سـري و جهـري لمانځه قيد نسته او بل د دغه حديث لفظ "مَن" اسم موصول راغلى دى چي دى خپله پر خپله عمومي معنى باندي نص دى چي د دې څخه دا معلوميږي چي چا د امام اقتدا وكړه نو بغير د څه تخصيص خلف الامام د جلا قرأت كولو ضرورت نسته ځكه د امام قرأت شرعاً د مقتدي قرأت تسليم كړل سو .

﴿١٦﴾ ...... عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من كان له امام فقرأة الإمام له قرأة . (موطا محمد ص ٩٤)

﴿١٧﴾ ...... عن جابر بن عبد الله ان رجلاً صلى خلف النبي ﷺ في الظهر او العصر يعني قرأ فاومىٰ إليه رجل فنهاه فابى فلما انصرف قال اتنهانى ان اقرأ خلف النبي ﷺ فتذاكرا حتى سمع النبي ﷺ فقال رسول الله ﷺ من صلى خلف امام فان قرأة الإمام له قرأة . (كتاب القرأة للبيهقي ص ١٠٢)

پـه دغـه حـديث كـي د ظهـر يـا عـصـر لمانځه ذكر سوى دى چي دا سري لمـنـځـونـه دي او دده مبارك عليـه السلام شاته صرف يوه صَحابي قرأت كـوي مـكـر د شـخـص واحـد قرأت يې هم خوښ نه وباله او هغه يې خبردار كړى چي خلف الامام قرأت كـول نه دي پكار . ځكه چي د امام قرأت د ده لپاره كافي دى . بـل كـه چيـري د اقتداء پـه حالت كي قرأت كول حضراتو صحابه وو كي متعارف واى نو د لمانځه پـه مابين كي به صحابي د قرأت څخـه د منـع اشـاره نـه كـولاى او بـل كـه چيري بحالت اقتداء قرأت كول صحيح واى بالخصوص پـه سـري لمنځو كي نو منع كولو والا به نبي عـليـه السلام خامخا تنبيـه كـوى چي تا ديو صحيح او جائز كار لپاره د

لمانځه خشـوع و خضوع صرف نظر وکرزوله او توجه دي بلې خواته کړه . الغرض که چيري د انصاف په نظر سره وکتل سي نو بغير ديو خارجي قرينې خپله دا حديث وايي چي خلف الامام د قرأت گنجائش نسته .

﴿١٨﴾...... عن جابر ان رجل قرأ خلف رسول الله ﷺ فی الظهر اوالعصر فاؤما إليه رجل فنهاه فلما انصرف قال أتنهاني ان اقرأ خلف النبی ﷺ فتذاكرا ذلك حتى سمع النبی ﷺ فقال رسول الله ﷺ من صلى خلف الامام فان قرأته له قرأة . (روح المعانی ١٣٤/٩)

﴿١٩﴾...... عن أبی الزبير عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من كال له امام فقرأة الإمام له قرأة . (مسند أحمد ٢٣٩/٣)

﴿٢٠﴾...... عن أبی الزبير عن جابر عن النبی ﷺ قال كل من كان له امام فقرأته له قرأة . (مصنف ابن أبی شيبه ٣٧٧/١)

﴿٢١﴾...... عن أبی الزبير عن جابر عن عبد الله قال قال رسول الله ﷺ من كان له امام فقرأة الإمام له قرأة . (اتحاف الخيرة المهره٣٤٢/٢ بروايت مسند عبد بن حميد و قال الامام البوصيری والآلوسی صحيح علی شرط مسلم)

﴿٢٢﴾......عن عبد الله بن شداد بن الهاد قال أمَّ رسول الله ﷺ فی العصر قال فقرأ رجل خلفه فغمزه الذی يليه فلما ان صلى قال لِمَ غمزتنی قال كان رسول الله ﷺ قد امك فكرهت ان تقرأ خلفه فسمعه النبی ﷺ فقال من كان له امام فان قرأته له قرأة . (موطا محمد: ص ٩٨)

تنبيه: د محدثينو په اصطلاح کي د سند په تعداد سره حديث متعدد شمارل کيږي نو ددغه اصول تحت د ١٤ څخه تر ٢٢ پوري حديثونه جلا جلا شمارل سوي دي .

﴿٢٣﴾ عن مالك بن شهاب عن ابن ركيمة الليثي عن أبي هريرة ان رسول الله ﷺ انصرف من صلوة جهر فيها بالقرأة فقال هل قرأ معي منكم أحد آنفا فقال رجل نعم انا يا رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ اقول مالي انازع القرآن فانتهى الناس عن القرأة مع رسول الله ﷺ فيما جهر فيه رسول الله ﷺ بالقرأة حين سمعوا ذلك من رسول الله ﷺ . (موطأ امام مالک: ٢٩)
و رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن ، و قال الحافظ المغلطائي قال الترمذي هذا حديث حسن في اكثر النسخ وفي بعضها صحيح ، قال الحافظ أبو علي طوسي في كتاب الاحكام من تأليفه هذا حديث حسن ، و صححه أبو بكر الخطيب في كتابه المدرج .

﴿٢٤﴾ ...... عن عبد الله بن بحينة ان رسول الله ﷺ قال هل قرأ احدمنكم آنفا ، قالوا نعم ، قال اني اقول مالي انازع القرآن ، فانتهى الناس عن القرأة معه حين قال ذلك . (مسند أحمد ٥/٣٤٥)

په دغه حديث کي هم د جهري لمانځه قيد نسته لهذا دغه حديث جهري و سري دواړو لمنځو ته شامل دى . د دې حديث څخه دا معلوميږي چي د نبي عليه السلام د تنبيه وروسته تولو صحابه کرامو قرأت خلف النبي ﷺ ترک کړى .

او که چيري په دغه حديث کي د جهر قيد هم وي لکه څنګه چي په مجمع الزواد ج ٢ ص ١١٠ کي يو روايت داسي دى " صلى صلوة يجهر فيها" نو بې له څه شک په جهري لمنځو کي په ترک قرأة خلف امام باندي حديث واضح دليل دى .

﴿٢٥﴾ ...... عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ ما كان من صلوة يجهر

فیها الإمام بالقرأة فلیس لاحد ان یقرأ معه . (کتاب القرأة للبیهقي : ص ٩٩)

﴿٢٦﴾ ...... **عن أبی هریرة قال قال رسول اللّه ﷺ من لا یقرء فیها بأم الکتاب فهي خداج إلا صلوة ، خلف الامام .** (کتاب القرأة للبیهقي : ص ١٧١)

په دغه حدیث کې د ''ام الکتاب'' او ''خلف الامام'' قید بطور خاص ملحوظ دی چې نبي علیه السلام په ټولو لمنځو کې د سورة فاتحة قرأت ضروری کړی، مګر د مقتدیانو لپاره د سورة فاتحة د قرأت هیڅ ګنجائش نه پرېښودی او بل امام بیهقي وغیره چې چیري قرأت څخه ''ما زاد علی الفاتحة'' مراد اخیستی دی او د مقتدیانو لپاره د سورة فاتحه د قرأت لاره پیدا کوي نو دغه روایت د دغه رقم تاویل دروازه هم بنده کړه .

﴿٢٧﴾ ...... **عن الحسن عن أبی بکرة انه انتهی الی النبی ﷺ و هو راکع فرکع قبل ان یَصِلَ إلی الصف فقال زادك اللّه حرصا و لا تعد .** (بخاري ١/٩٠)

ظاهره ده چې صحابي رسول ﷺ ابوبکرة رضی الله تعالی عنه بغیر د سورة فاتحة د قرأت رکوع ته تللی وو بیا هم د ده رکعت او لمونځ نبي علیه السلام صحیح وګرزوی د لمانځه د اعادې حکم یې نه ورته وکړی . نو معلومه سوه چې پر مقتدي باندي د سورة فاتحة قرأت نه فرض دی نه واجب، کنې نو لمونځ یې څنګه صحیح کېدلی .

نیز نبي علیه السلام د ابوبکرة رضی الله تعالی عنه و رکوع ته تلل د کراهت په نظر سره نه دي کتلي، لکه څنګه چې بعضو جوړه کړې، بلکه و صف ته د رسېدو څخه مخکې لمونځ شروع کول او بیا بحالت صلوة صف ته ځان رسول یې ښه نه وباله .

''لا تعد'' بعضي محدثین یې ''لا تعدو'' وایي یعني لمانځه ته مه

راځـغلئ بلکه په اطمینان و وقار سره راځئ، او بعضي يې "لا تعُد" وايي يعني دوهم واره يوازي د صف تر شا لمونځ مه شروع کوئ . عامو علماؤ دغه راجح کړی دی . او بعضي يې "لاتُعِد" وايي يعني ستا لمونځ بالکل صحيح دی اعاده يې مه کوه . (حاشيه مشکوة : ۹۹۱)

تنبيه : . جمهور فقهاء اسلام او ائمه اربعه د دغه حديث څخه استدلال کوي چې مدرک يعني رکوع نيولو والا شرعاً مکمل رکعت ونيوی، نو ځکه د بعضو غير مقلدينو داويل چې صرف درکوع نيولو په صورت کي رکعت نه دی نيول سوی ځکه چې د سورة فاتحة قرأت پر ېښود ی

﴿۲۸﴾ ...... عن أبی صالح السمان عن أبی هريرة ان رسول الله ﷺ قال إذا قال الإمام "//// - فانه مَن وافق قوله قول الملائك غفر له ما تقدم من ذنبه . (موطا امام مالک: ص۳۰) والحديث اخرجه البخاری عن عبد الله بن مسلمة عن مالک .

﴿۲۹﴾ ...... عن أبی هريرة ان النبی ﷺ قال : إذا قام الإمام //// ، فان الملائكة تقول آمين ، و ان الإمام يقول آمين ، فمن وافق تأمينه تأمين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه . (رواه أحمد ۲۳۲/۲ ، والنسائی ۱۰۷/۱، والدارمی ۲۲۸/۱، و ذكره الأمام البغوی فی شرح السنة و قال هذا حديث صحيح ۶۰/۳)

دغه حديث هم دغه وايي چې خلف الامام دي مقتدي قرأت نه کوي . ځکه که چيري د امام په اقتداء کي هم د مقتدي ذمه داري قرأت وای نو به نبي عليه السلام داسي نه ويلای چي کله امام "غير المغضوب عليهم ولا الضالين" ووايي نو تاسي آمين وواياست، بلکه دغسي به يې ويلي

وای چې تاسې سورة فاتحه وواياست نو بيا په آخر کې آمين وواياست چنانچه امام حافظ أبو عمر بن عبد البر ليکي:

”و في هذا الحديث دلالة على ان الماموم لا يقرأ خلف الإمام إذا جهر بأم القرآن و لا بغيرها ، لان القرأة بها لو كان عليهم لأمرهم إذا فرغوا من فاتحة الكتاب أن يومن كل واحد منهم بعد فراغه من قرأته : لأن السنة فيمن قرأ بأم القرآن ان يؤمن من عند فراغه ، و معلوم ان المأمومين إذا اشتغلوا بالقرأة خلف الإمام لم يكادوا يسمعون فراغه من قرأة ما تحت الكتاب ،فكيف يؤمرون بالتامين عند قول الإمام ”ولا الضالين و يؤمرون بالاشتغال عن استماع ذالك ، هذا ما لا يصح “ (التمهيد ج ۲۲ ، ص ۱۷)

﴿۳۰﴾......عن ابن عباس قال لما مرض رسول الله ﷺ مرضه الذى مات فيه كان في بيت عائشة رضى الله عنها فقال ادعوا لى علياً ، قالت عائشة ندعوا لك ابابكر ، قال ادعوه قالت حفصة ندعوا لك عمر ، قال ادعوه ، قالت ام الفضل يا رسول الله ندعوا لك العباس ، قال نعم ، فلما اجتمعوا رفع رأسه فنظر فسكت ، فقال عمر قوموا عن رسول الله ﷺ ثم جاء بلال يؤذنه بالصلوة ،فقال مروا ابابكر فليصل بالناس ، فقالت عائشة يا رسول الله ان ابابكر رجل رقيق حصر و متى لا يراك يبكى و الناس يبكون ، فلو امرت عمر يصل بالناس ، فخرج أبو بكر فصلى بالناس فوجد رسول الله ﷺ من نفسه خفةً، فخرج يهادى رجلين و رجلاه تخطان فى الارض ، فلما رأه الناس فسبحوا بابى بكر ، فذهب ليتأخر فاومىٰ إليه النبى ﷺ أى مكانك ، فجاء رسول الله ﷺ فجلس عن يمينه و قام أبو بكر : و كان أبو بكر يأتم بالنبى ﷺ والناس يأتمون بابى بكر ، قال ابن عباس و أخذ رسول الله ﷺ من

القرأة من حيث كان بلغ أبو بكر . (ابـن ماجة ص :۸۸ و مسند أحمد ج۱ ص ۲۳۲ ، و طحاوی ج ۱، ص ۲۷٦) و قـال الحـافـظ ابـن حـجر اسناد أحمد و ابن مـاجة قـوی فتـح البـاری ج ٥ ص ٦۲۹، و قـال فی موضـع آخر و اسناده حسن فتـح البـاری ج ۲ ص ۱۳۸ ؛ وقـال الحـافظ ابن عـ.ـد البر فهذا حديث صحيح عن ابن عباس التمهيد ج ۲۲ ،ص ۲۳۲۲)

حضـرت عبـد الله بن عباس رضـى الله عنهما فرمايلي : ''فأخذ رسول الله من القـرأة من حيث كان بلغ ابوبكر'' يعني چيري چي حضرت أبو بكر صديق رضى الله تعالى عنه رسېدلى وو ،او ديوه روايت الفاظ دغه دي:

فاستفتح رسول الله ﷺ من حيث انتهى أبو بكر من القرأة .

د حديث مـذكـوره څخـه دا خبره ظـاهره سوه چي د نبي كريم ﷺ تر تشـريف راوړلـو مخكي د حضرت أبو بكر صديق رضى الله تعالى عنه په امـامت كـي لمونځ شروع سوى وو . چونكه نبي عليه السلام مريض وو او د سخت تـكـليف پـه وجه بـانـدي نبـي عـليـه السـلام د دوو (۲) خلقو په كومك سره په داسي حال كي راغلى چي پښې مبار كي يې پر مځكه باندي بـانـدي څـكېـدلې، نو ځكه ظاهره دغه ده چي د نبي عليـه السـلام د تشريف آوري څـخـه مـخـكـي حضرت أبو بكر صديق رضى الله تعالى عنـه د سورة فـاتـحې د قـرأت څـخـه فـارغـه سوى وو ، پـه دې خبره كي خو قطعاً د شبه گنجائش نسته كه يې چيري سورة فاتحه مكمله نه ، اكثره خو ويل سوې وه، او نبـي عـليـه السلام قرأت د هغه ځاى څخه شروع كړى تر كومه ځايه چي حضـرت أبـو بـكـر صـديق رضى الله تعالى عنه رسېدلى وو، نو ځكه نبي عليه السـلام مكمله سورة فاتحه يا اكثره نه وويله .

حضرت امام شافعيؒ او شیخ الاسلام حافظ ابن حجر تصریح کړې ده چې د مرض وفات په حالت کې نبي علیه السلام صرف دغه یو لمونځ په جماعت ادا کړی نو په دغه لحاظ سره د نبي علیه السلام د دغه آخري عمل څخه هم دا ظاهرېږي چې پر مقتدي باندي سورة فاتحه نه ده لازمي .

امام بخاريؒ هم صراحت کړی دی چې دغه لمونځ د ظهر لمونځ وو چې ددې څخه دا معلومه سوه چې ترک القرأة خلف الامام نه صرف سنت رسول ﷺ بلکه دا د نبي علیه السلام آخري عمل وو .

الغرض: د حضرت أبو موسی اشعري، حضرت أبو هریره، حضرت انس بن مالک، حضرت عمران بن حصین، حضرت عبد الله بن مسعود، حضرت جابر بن عبد الله، حضرت عبد الله بن بحینت، حضرت ابوبکره او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهم اجمعین څخه منقول دغه دېرش احادیث چې هغه د محدثینو د اصول په اعتبار سره صحیح او جید الاسناد دي . او په دغو کي اکثرو ائمه حدیثو تصحیح و تحسین کړی دی، صفا وایي چې قرأت الفاتحة خلف الامام ضروري نه دی، بلکه نه ویل اولیٰ و احوط دي .

اوس نو یو منصف مزاج بنه اندازه لګولای سي چې خلف الامام تارکین قرأة بې دلیله نه دي لکه څنګه چې د غیر مقلدینو دا زعم دی .



آثار صحابه رضی الله تعالی عنهم اجمعین:

الله تعالی چې کوم دین پر نبي علیه الصلوة و السلام باندي مکمل کړی دی د هغه دی تاریخ د أصحاب رسول ﷺ څخه شروع کیږي . د نبي علیه السلام دغه خواص د کاروان اسلام امامان دي، دا هغه قدسي

صفاتـه جماعت دی چي دوی الله تعالى پـه اخلاق فاضله سره ممتازه کړي وو . چي د دوی د کـفـر و گـنـاه او حـکـم عـدولي و نافرماني څخه نفرت از حکم شـريـعـت نـه بـلـکـه از راه طبعيت وو د دربار نبوت سره وابسته دغه معـزز‌ه او منتخبه شخصيتونه د وحی الٰهی ارلين مخاطبين او او د نبي عليه السلام څخه براه راست تربيت يافتـه وو . نو ځکه په ديني احکامو و مسـائـلـو کـي د کتـاب الله او سـنـت رسـول ﷺ وروسـتـه چي د کوم ځا وطرفته نظر اوړي نو هغه دغه صحابه کرام کېدلای سي .

بيـا پـر دريـم نـمبر د تابعين جماعت دی چي دوی د خير و اصلا ح څخه ډک جماعت وو ځکه چي دوی هغه مبارک خلګ دي چي د خير القرو ن په صـاف و شـفـاف او ايـمـانـداره فـضـاؤ کي يې وَخت تېر کړی دی او د دوی پر علم و عرفان سره دنيا ته علم و إيمان تازګي حاصله سوې ده .

صـحابه کرام د شرف صحبت نبوي ﷺ په درجه باندي تر ټولو عادلا ن ، ثـقـه ، خدا پرست او په سيرت و کردار کي د اعلی مقام خاوندان او د رشد و هـدايـت د آسمان ستوري وو . بيا هم په تدبر قرآن او فهم حديث کي ټوله بـرابـر نـه وو ، پـه دغــه لـحـاظ سره د دوی درجې او مرتبې متفاوت وې . چـنـانـچـه د تـابـعـي کبيـر امام مسروق بيا ن دی " ما د صحابه کرامو څخه فـيـض حاصل کړی نو ما وليدل چي د ټولو علم شپږو بزرګانو ته را ګرزي ، حضرت عمر فاروق ، حضرت علي مرتضی ، حضرت عبد الله بن مسعود ، حضرت معاذ بن جبل ، حضرت أبو درداء ، حضرت زيد بن ثابت رضی الله عـنـهـم اجـمـعـين . بيا چي کله ما د دغو بزرګانو څخه علم حاصل کړی نو راتـه مـعـلـومـه سوه چي ددغو ټولو علم پر حضرت علي ، حضرت عبد الله

بن مسعود رضي الله عنهما باندي ختميږي .

او يو بل مشهوره تابعي امام شعبي فرمايي : چي په حضرات صحابه وو كي په ديني احكامو و مسائلو كي فيصله كونكي شپږ حضرات وو . دري په مدينه منوره كي ، حضرت أبى بن كعب ، حضرت عمر ، حضرت زيد بن ثابت او دري په كوفه كي حضرت علي ، حضرت عبد الله بن مسعود ، حضرت أبو موسى اشعري رضي الله تعالى عنهم .

مولانا عبد الرحمن مباركپوري هم په تحفة الاحوذ كي صحابه د ترويج علم و فقه په اعتبار سره په درو (۳) طبقاتو كي تقسيم كړى دى . په دغو طبقو كي هغه دريمه طبقه چي د هغي څخه د احكام شريعت اشاعت په كثرت سره سوى دى . په دغه دريمه طبقه چي د هغي څخه د احكام شريعت اشاعت په كثرت سره سوى دى . په دغه دريمه طبقه كي حضرت عمر ، حضرت علي ، حضرت عبد الله بن مسعود ، حضرت عائشه صديقه ، زيد بن ثابت ، حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهم اجمعين بطور خاص قابل ذكر دي .

ددغه مختصره او ضروري تمهيده وروسته د قرأت خلف الامام مسئله په باره كي د صحابه ، تابعين او تبع تابعينو يو څه آثار و اقوال پېش كړل كيږي .

آثار د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه:

﴿۱﴾......عن يسير بن جابر قال صلى ابن مسعود فسمع ناساً يقرأون مع الإمام فلما انصرف قال اما أن لكم أن تفهموا اما أن لكم ان تعقلوا ، و إذا قرء القرآن

فاستمعوا له و انصتوا کما امرکم الله . (جامع البیان لابن جریر طبری ۲۱٦/٦)

﴿۲﴾ ...... عن أبی وائل ان رجلا سأل ابن مسعود عن القرأة خلف الإمام فقال انصت للقرآن فان فی الصلوة شغلا و سیکفیك الامام . (مصنف عبد الرزاق ۱۳۸/۲، و مصنف ابن أبی شیبه ۳۷٦/۱)

﴿۳﴾ ...... عن علقمة بن قیس ان عبد الله بن مسعود کان لا یقرء خلف الإمام فیما یجهر فیه و فیما یخافت فیه فی الاولین و لا فی الاخرین . (موطأ امام محمد / ص ۹٦)

﴿۴﴾ ......عن علقمة عن عبدالله بن مسعود قال لان اعض علی جمر الغضا احب إلیّ من ان اقرأ خلف الإمام . (کتاب القرأة للبیهقی ص ۱۴۵)

﴿۵﴾ ...... عن علقمة عن ابن مسعود قال : لیت الذی یقرأ خلف الإمام ملئ فوه ترابا . (رواه طحاوی ۱۵۰/۱، و مصنف عبد الرزاق ۱۳۸/۲، و آثار السنن ص ۸۹ و اسناده حسن)

آثار د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما:

﴿٦﴾ ...... مالك عن نافع ان عبد الله بن عمر کان إذا سئل هل یقرء أحد خلف الإمام قال إذا صلی احدکم خلف الإمام فحسبه قرأة الإمام و إذا صلی وحده فلیقرء . قال وکان عبد الله بن عمر لا یقرء خلف الامام . (موطأ امام مالک ،ص:٦٨، و اسناده من اصح الاسانید عند البخاری)

﴿۷﴾ ...... اخبرنا عبید الله بن عمر بن حفص عن نافع عن ابن عمر قال من صلی خلف اماما کفته قرأته . (موطا امام محمد ۹۸، و اسناده جید)

﴿۸﴾ عن انس بن سیرین قال سألت ابن عمر اقرأ مع امام؟ فقال انك

الضخم البطن ، تکفیك قراءة الامام . (مصنف عبد الرزاق ۱۴۰/۲، و کتاب القرأة للبیهقی ۱۵۷)

﴿۹﴾......عن زین بن اسلم عن ابن عمر کان ینهی عن القرأة خلف الإمام . (مصنف عبد الرزاق ۱۴۰/۲ ، و سنده صحیح)

﴿۱۰﴾......عن القاسم بن محمد قال کان ابن عمر لا یقرء خلف امام جهرا و لم یجهر . (کتاب القرأة للبیهقی ص:۱۸۴، وقال اخرجه سفیان الثوری فی جامعه و رجاله رجال الجماعة)

﴿۱۱﴾...... عن ابن ذکوان عن زین بن ثابت و ابن عمر کانا لا یقرأن خلف الامام . (مصنف عبد الرزاق ۱۴۰/۲، و اسناده صحیح)

﴿۱۲﴾......وعبید الله بن مقسم انه سأل عبد الله بن عمر ، و زید بن ثابت و جابر بن عبد الله فقالوا لا یقرأ خلف الإمام فی شئ من الصلوة . (معانی الآثار للطحاوی ۱۵۰/۱، وقال النیموی اسناده صحیح).

. . .

آثار د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه:

﴿۱۳﴾......عن عطاء بن یسار انه اخبره انه سئل زید بن ثابت عن القرأة مع الإمام فقال لا قراءة مع الإمام فی شئ . (صحیح مسلم ۲۱۵/۱، و سنن نسائی ص:۱۱۱، و طحاوی ۱۲۴/۱)

نواب صدیق حسن خانؒ لیکي :”وزید بن ثابت رضی الله تعالیٰ عنه گفته : لا قراءة مع الامام، رواه مسلم و عن جابر بمعناه و هو قول علی و ابن مسعود و کثیر من الصحابة“ (هدایة السائل ص: ۱۹۳)

﴿۱۴﴾...... عن موسی عن زید بن سعید بن ثابت قال من قراء مع الإمام فلا

صلوة له . (مصنف عبد الرزاق ۲/ ۱۳۷، موطا محمد ص:۱۰۲) معنی قوله "فلا صلوة له" أی "لا صلوة له کاملة"

﴿۱۵﴾...... عن عطاء بن یسار عن زید بن ثابت قال لا قرأة خلف الإمام . (مصنف ابن أبی شیبة ۱/ ۳۷۶)

آثار د حضرت جابر عبد الله رضی الله عنه:

﴿۱۶﴾......عن أبی نعیم وهب بن کیسان انه سمع جابر بن عبد الله یقول : من صلی رکعة لم یقرأ فیها بأم القرآن فلم یصل إلا وراء الامام . (موطا امام مالک ص:۲۸ ، و اسناده صحیح ، و اخرجه الترمذی ۱/ ۷۱) و قال هذا حدیث حسن صحیح ، و اخرجه ابن أبی شیبة ۱/ ۳۷۶)

﴿۱۷﴾...... عن عبید الله بن مقسم عن جابر قال لا یقرء خلف الامام . (مصنف ابن أبی شیبة ۱/ ۳۷۶)

﴿۱۸﴾...... عن عبید الله بن مقسم قال سألت جابر بن عبد الله اتقرأ خلف الإمام فی الظهر والعصر شیئاً ؟ فقال لا . (مصنف عبد الرزاق ۳/ ۱۴۱)

عبید الله بن مقسم د سري لمنځو په باره کي پوښتنه وکړه ددې څخه دا معلومیږي چي د جهري لمونځو حکم یعني ترک القرأة خلف الأمام ده ته هم معلوم وو .

آثار د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنه:

﴿۱۱﴾...... عن أبی جمرة قال : قلت لابن عباس اقرأ و الإمام بین یدی؟ قال لا . (طحاوی ۱/ ۱۲۹ والجوهر النقی علی سنن اکبری للبیقهي ۲/ ۱۷۰ ، و ذکره العلامة النیموی وقال اسناده حسن آثار السنن ۱/ ۸۹)

﴿۲۰﴾......عن کثیر بن مرة عن أبی الدرداء قال قام فقال : یا رسول الله

أفـی کـل صـلـوة قـرآن؟ قـال نعم، فقال رجل من القوم وجب هذا، فقال أبو الـدرداء یا کثیر و انـا إلی جنبیه لا اری الإمام إذا امّ إلا قد کفاهم . (رواه دار قـطـنـی ۱/۲۳۲، و قـال ورواه زید بـن الـحـبـاب عن معـاویة بن صـالـح بهذا لاسـنـاد و قـال فـیـه فـقـال رسـول الله ﷺ ما رای الأمام إلا وقد کفاهم و وهم فیه والصواب انه من قول أبی الدرداء کما قال ابن وهب)

اثر د حضرت سعد بن وقاص
رضی الله تعالی عنه:

﴿۲۱﴾...... عـن أبـی نجاد عن سعد قال : وردت ان الذی یقرء خلف الإمام فی فیه جمرة . (مصنف ابن أبی شیبة ۱/۲۷٦)

اثر خلفائي راشدين
رضی الله عنهم اجمعین:

﴿۲۲﴾......قال عبد الرزاق و اخبرنـی موسی بن عقبة ، ان رسول الله ﷺ و أبـو بکر ، و عمر ، و عثمان کانوا ینهون عن القرأة خلف الامام . (مصنف عبد الـرزاق ۲/۱۳۹، و هـذا مـرسـل صـحـیـح و موسی بن عـقـبـة امام فی المغازی ثـقة ثبت کثـیـر الحدیث، و سمـا ع عبد الرزاق عنه ممکن ، فـان موسی قد توفـی سنة احدی و اربعین و مأة، و عـبد الرزاق مولده سنة ست و عشرین و مأة کما فی التهذیب)

آثار د حضرت عمر بن خطاب
رضی الله تعالی عنه:

﴿۲۳﴾......عـن نـافـع و انـس بن سیرین قالا : قال عمر بن الخطاب تکفیك قرأة الإمام . (مـصـنـف ابن أبی شیبة ۱/۳۷٦، و سنده منقطع و لا یضر عـنـدنـا إذا

کان راوی ثقة)

﴿۲۴﴾ ...... عن محمد بن عجلان ان عمر بن خطاب قال: لیت فی فم الذی یقرء خلف الإمام حجرا. (موطا امام محمد ص:۱۰۲، وسنده صحیح)

﴿۲۵﴾ ...... عن قاسم بن محمد قال قال عمر بن الخطاب لا یقرء خلف الإمام جهرا و لم یجهر. (کتاب القرأة للبیهقی ص:۱۷۴)

اثر د حضرت علی و عمر و عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم

﴿۲۶﴾ ...... عن محمد بن عجلان قال قال علی: من قرأ مع الإمام فلیس علی الفطرة، قال، قال: ابن مسعود: ملی فوه ترابا، قال قال: عمر بن الخطاب وددت ان الذی یقرأ خلف الإمام فی فیه حجر. (مصنف عبد الرزاق ج ۲، ص، وسنده صحیح و مرسل)

اثر د حضرت علي رضی الله تعالی عنه:

﴿۲۷﴾ ...... عن أبی لیلی علی قال: من قرأ خلف الإمام فقد اخطأ الفطرة. (مصنف ابن أبی شیبة ۱/۳۷۶)

ثر د حضرت أبی بن کعب رضی الله تعالی عنه:

﴿۲۸﴾ ...... عن عبد اللّه بن أبی الهزیل ان أبی بن کعب کان یقرأ خلف الإمام فی الظهر والعصر. (مصنف عبد الرزاق ۲/۱۳۰)

امام ابن عبد البر لیکي چي "و تخصیصه الظهر و العصر دلیل علی انه کان لا یقرء فیما جهر فیه من الصلوٰت".

اثر د حضرت عائشه و حضرت
أبو هريره رضى الله عنهما

﴿۲۹﴾ ......عن أبى صالح عن أبى هريرة و عائشة انهما كانا يأمران بالقرأة وراء الإمام إذا لم يجهر . (السنن الكبرى ۲/۱۷۱)

بغرض اختصار پر دغو آثار باندي دغه باب ختم كړل كيږي ، كنې په دغه سلسله كي نور ډېر آثار هم سته ، فاروق اعظم ، عثمان غنى ، علي مرتضى ، عبد الله بن مسعود ، زيد بن ثابت ، عبد الله بن عمر ، عبد الله بن عباس ، سعد بن وقاص ، أبى بن كعب ، عائشه صديقه ، أبو هريره ، أبو درداء رضى الله عنهم اجمعين . دا ټوله حضرات (باستثناء حضرت عائشه صديقه ، حضرت أبو هريره ، حضرت أبى بن كعب) مطلقاً د قرأت خلف الأمام قائله نه دي . امام شعبي خو وايي ما اويا (۷۰) بدري صحابه و ليدل چي دوى قرأت خلف الامام منع كوي . (روح المعانى ۲/۱۳۵)

او حافظ بدر الدين عيني او علامه علي قاري صراحت كړى دى چي د اتيا (۸۰) صحابه وو څخه د قرأت خلف الامام د ممانعت ثبوت سته . (عمدة القارى شرح البخارى ۳/۶۷ ، و شرح نقاية ۱/۸۳) و كفى بهم قدوةً .

وروسته په دغه سلسه كي ديو څو تابعينو او تبع تابعينو اقوال و آثار ملاحظه كړه چي د دغو بزركانو نقطه نظر هم په زير بحث مسئله كي معلوم سي .

(اللهم صلى على محمد ن النبى الامى و على اله وسلم تسليما كثيرا كثيرا)



آثار د تابعينو رحمهم الله تعالىٰ:

اثر د حضرت علقمه بن قيس متوفى ٦٨ هـ .

﴿۱﴾...... عن ابراهيم ما قرأ علقمة بن قيس قط فيما يجهر فيه ولا فيما لا يجهر فيه ، و لا في الركعتين الاخريين ام القرآن و لا غيرها خلف الإمام . (كتاب الآثار لامام محمد مع تعليق الاستاذ الشيخ أبو الوفاء الافغاني ۱/ ۱۲۳)

﴿۲﴾...... عن اسحاق ان علقمة بن قيس قال : وددت ان الذى يقرء خلف الإمام ملئ فوه ، قال احسبه قال : ترابا او رضفا . (مصنف عبد الرزاق ۲/ ۱۳۹ و اسناده صحيح)

﴿۳﴾...... عن ابراهيم النخعي عن علقمة بن قيس قال : لان اعض على جمرة احب إلي من ان اقرأ خلف الامام . (موطا امام محمد و اسناده صحيح)

اثـر د حضرت عمروبن ميمون متوفى ۷۴هـ و ديګر تلامذه عبد الله بن مسعود رضى الله تعالى عنه:

﴿٤﴾...... عن مالك بن عمارة قال سألت لا ادرى كم رجل من أصحاب عبد الله كلهم يقولون لا يقرء خلف امام منهم عمروبن ميمون . (مصنف ابن أبى شيبه ۱/ ۲۷۷)

﴿٥﴾...... عن أبى اسحاق قال : كان أصحاب عبد الله بن مسعود لا يقرؤون خلف الامام . (مصنف عبد الرزاق ۲/ ۱۴۰ و اسناده صحيح)

أصحاب عبد الله بن مسعود رضى الله تعالى عنه په علمي دنيا كي د خپلو علوم و معارفو او سيرت و كردار پـه اعتبار خپل يو خاص نوم درلودى . چنانچه امير المؤمنين حضرت علي رضى الله تعالى عنه رنګه

صحابي رسول چي کله کوفې ته تشریف راوړی او د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه د شاګردانو علمي و عملي سرګرمیاني یې ولیدې نو یې وفرمایل "اصحاب عبد الله سراج هذه القریة" (طبقات ابن سعید ج ٦ ص ۴) تاسو ولیدل چي دغه څراغان تولہ د قرأت خلف الامام قائلین نه دي .

﴿٦﴾......عن ابراهیم قال : قال الاسود : لان اعض علی جمرة احب اِلَیَّ ان اقراء خلف الإمام ، اَعْلَمُ انه لا یقرء . (مصنف ابن أبی شیبه ۱/۳۷٦، و اسناده صحیح)

دغه شپږم نمبر اثر ، اثر د حضرت اسود بن یزید متوفی ۷۵ هـ عنوان لري .

﴿۷﴾......عن دبرة عن الاسود بن یزید انه قال : وردت ان الذی یقرء خلف الإمام ملئ فوه ترابا، و عن الاعمش عن ابراهیم عن الاسود مثله . (مصنف عبدالرزاق ۲/۱۲۸، مصنف ابن أبی شیبه ۱/۳۷۷ ورواته ثقات)

اثر د حضرت سوید بن غفلة متوفی ۸۱هـ .

﴿۸﴾......عن الولید بن قیس قال : سألت سوید بن غفلة اقراء خلف الإمام فی الظهر والعصر؟ فقال : لا . (ابن أبی شیبه ۱/۳۷۷)

ولید بن قیس ته د جهري لمنځو حکم معلوم وو ، چي په دغو لمنځو کي قرأت خلف الامام صحیح نه دی البته ده ته د سري لمنځو په باره کي تردد وو چي ددغو لمنځو څه حکم دی ؟ نو ځکه یې د حضرت سوید څخه پوښتنه وکړه نو حضرت سویدؒ مسئله واضحه کړه چي په سري لمنځو کي هم قرأت خلف الامام نسته .

اثر د حضرت أبو وائل شقيق بن سلمه متوفى ۸۲ هـ:

﴿۹﴾...... عن عمروبن مر عن أبي وائل قال : تكفيك قرأة الامام . (مصنف ابن أبى شيبة ۱/۲۷۷ و رجاله اسناده رجال الجماعة)

اثر د حضرت سعيد بن جبير متوفي ۹۴هـ:

﴿۱۰﴾...... عن أبى بشر عن سعيد بن جبير قال : سألته عن القرأة خلف الامام قال ليس خلف الإمام قرأة . (مصنف ابن أبى شيبة ۱/۲۷۷) و قال المحدث النيموى رواته كلهم ثقات آثار السنن ۱/ص۹۰)

اثر د حضرت سعيد بن المسيبؒ متوفى ۹۴ هـ:

﴿۱۱﴾......عن قتادة عن سعيد بن المسيب قال : انصت للام . (مصنف ابن أبى شيبة ۱/۲۷۷،و قال المحدث النيموى اسناده صحيح)

اثر د حضرت عروة بن زبير متوفى ۹۴هـ:

﴿۱۲﴾......عن هشام بن عروة عن ابيه انه كان يقرأ خلف الإمام فيما لا يجهر فيه إلا بأم القرآن . (موطا امام مالک ص:۲۹ صحيح على شرط الشيخين)

دغـه اثـر د جهـري لـمـنـځو په باره کي بالکل واضح دی چي په دغو کي قرأت خلف الامام نسته .

اثر د حضرت ابراهيم نخعي متوفى ۹۶هـ:

﴿۱۳﴾...... عن مغيرة عن ابراهيم انه كان يكره القرأة خلف الإمام و كان يقول تكفيك قرأة الامام . (مصنف ابن أبى شيبه ۱/۲۷۷) و رجاله ثقات .

﴿۱٤﴾...... عن اكيل عن ابراهيم قال : الذى يقرء خلف الإمام شاق . مصنف ابن أبى شيبه ص: ۲۷۷، و اسناده صحيح)

اثر د حضرت سالم بن عبد الله بن عمربن الخطاب رضى الله تعالى عنه

متوفی ۱۰٦هـ:

﴿۱۵﴾...... عن الزهری عن سالم بن عبد الله قال: يكفيك قرأة الإمام فيما يجهر فی الصلوة. (مصنف عبد الرزاق ۲/۱۳۹)

اثر د حضرت قاسم بن محمد بن أبو بکر صديقؒ متوفی ۱۰۷هـ:

﴿۱٦﴾...... عن ربيعة بن أبي عبد الرحمن ان القاسم بن محمد كان يقرء خلف الإمام فيما لا يجهر فيه الإمام بالقرأة. (موطا امام مالک ص:۲۹)

اثر د حضرت محمد بن سيرينؒ متوفی ۱۱۰هـ:

﴿۱۷﴾...... الثقفی عن ايوب عن محمد قال: لا اعلم القرأة خلف الإمام من السنة. (التعليق الحسن علی آثار السنن ۱/۹۰)

اثر د حضرت امام زهري متوفی ۱۲۴هـ:

﴿۱۸﴾...... عن معمر عن الزهری قال: إذا جهر الإمام فلا تقرأ شيئاً.

د دغو ائمـه حديث و فقـه باقيات صالحات او د قرآن و حديث څخه ماخوذه تحقيقات و علوم ستاسو مخته دي چي دغه علوم و دغو اکابرو ته د حضرات صحابه رضوان الله عنهم اجمعين د بابرکت محبت څخه حاصل سوي دي. د دغو تحقيقاتو څخه دا معلوميږي چي د اکثره بزرگانو په نزد په يوه لمانځه کي هم او د بعضو په نزد په جهري لمونځو کي قرأت خلف الامام نسته. چنانچه سيد المحدثين امام أهل سنت أحمد بن حنبل فرمايي:

"ما سمعنا أحد من أهل الاسلام يقول ان الإمام إذا جهر بالقرأة لا تجزی صلوة من خلفه إذا لم يقرأ، و قال هذا النبی ﷺ و اصحابه والتابعون، و هذا مالك فی أهل الحجاز، و هذا الثوری فی أهل العراق، و هذا الاوزاعی فی

أهل الشام ، و هذا الليث في أهل مصر ، ما قالوا: الرجل صلى و قرأ أمامه و لم يقرء هو صلوته باطلة" (المغنى لموفق الدين ابن قدامه ۱/ ۳۳۰ ، الدار الفكر ۱٤٠٥)

د امام المحدثين سيدنا أحمد بن حنبل دغه عبارت و واياست او فيصله وكړئ چي نن سبا چي خلک دا وايي چي د خلف الامام قرأت نه كولو والا لمونځ نه دى صحيح . په دنيا كي د دوى د دلائلو او براهينو څه حيثيت دى . د امام أحمدؒ د دغه تحقيق په اعتبار سره داسي خبره نه كوي ؟ چي هغه خبره د رسول خدا ﷺ ، صحابه ، حضرات تابعين او د عالم اسلام د ائمه مجتهدين په مقابله كي ده ، او هغه خبره د دريمي صدى هجري تر وسط پوري بقول امام احمدؒ نه ده اوريدل سوي .

د قرآن حكيم ، احاديث رسول ، آثار صحابه و تابعين وروسته د فقهائى مجتهدين و اكابر محدثين مذاهب ملاحظه كړه . چي دغه مذاهب په حقيقت كي د قرآن و حديث او اقوال صحابه څخه ماخوذ شرعي احكام دي . دغو بزرگانو چي د نصوص څخه د اصول و ضوابطو په رهنمائى كوم څه فهم وليدى هغه يې په خپلو الفاظو كي د امت لپاره بيان كړى دى چي د امت لپاره پر شريعت باندي په عمل كولو كي آساني وي .

ځكه براه راست د نصوصو څخه احكام و مسائل فهمول د هر سړي د وس خبره نه ده . نو ځكه بې له څه شكه دغه حضرات د امت خيرخواهان دي .فجزاهم الله خير الجزاء آمين .

...... ☆ ......

امام اعظم نعمان بن ثابت
رحمه الله تعالى متوفى ۱۵۰ هـ مذهب

امـام أبـو حنيفه رحمة الله عليه مطقاً د قرأت خلف الامام قائله نه دی . د امـام صـاحب نامداره شاګرد امام محمد بن حسن شيباني متوفی ۱۸۹هـ په خپل مشهور کتاب موطا امام محمد کي ليکي:

"قال محـمـد: لا قرأة خلف الإمام فيما يجهر فيه و لا فيما لم يجهر، بذلك جاء ت عامة الآثار و هو قول أبي حنيفة"(ص: ۹٦، ۹۷)

دغـه رنګـه پـه خپل دوهم مشهور کتاب "کتاب الآثار" کي د امام أبو حنيـفة په سند سره حديث رسول " من صلى خلف امام فان قرأة الإمام له قرأة" د نقلولو وروسته ليکي: "قال محـمـد: و به نأخذ، و هو قول أبي حنيفة رضى الله عنه" (کتاب الآثار مع تعليق الشيخ أبو الوفاء الافغانى ص ۱۸۵)

امام طحاوي أحمد بن محمد بن سلامةؒ متوفی ۳۲۱ هـ د "باب فی القرأة خلف الامام" تحت ليکي:

"قال اصحابنا، و ابن ليلى، و الثورى، والحسن بن حى لا يقرأ فيما جَهَرَ و لا فيما اسرّ" (مختصر اختلاف العلماء ۱/ ص ۲۰٤، ۲۰۵)

د امـام طـحـاوي د دغـه عبارت څخـه نـوره دا خبره معلوميږي چي په زير بـحث مسئله کي مشهوره امام حديث و مجتهد سفيان ثوري متوفی ۱٦۱ هـ او نامداره فقيه و قاضي محمد بن عبد الرحمن ابن أبی ليلى متوفی ۱۴۸هـ او محدث و مجتهد حسن بن صالح بن حى متوفی ۱٦۸هـ هم د احنافو سره دي . دغه رقم د امام حديث سفيان بن عيينه هم دغه مذهب دی .

د امام دار الجهرت مالک بن انسؒ متوفی ۱۷۰ هـ مذهب:

د امام مـالکؒ پـه نزد هم په جهري لمنځو کي قرأت خلف الامام صحيح

نه دی . مګر په سري لمنځو کي قرأت خلف الامام د ده په نزد افضل دی، واجب او ضروري نه دی . لهذا که مقتدي په سري لمنځو کي قرأت نه وکړي نو د ده په نزد لمونځ يې صحيح دی . ليکن دا قرأت ترک کول ناخوښه بولي .

په موطا کي د امام مالکؒ يو شاګرد يحيی د امام مالکؒ مذهب نقلوي:
"قال يحيیٰ سمعت مالکاً يقول : الامر عندنا ان يقرء الرجل وراء الإمام فيما لا يجهر فيه بالقرأة ويترك القرأة فيما يجهر الإمام بالقرأة"(ص:۲۹)

مشهوره مالکي امام حافظ عبد البر ليکي:
"و لا تجوز القرأة عن أصحاب مالك خلف الإمام إذا جهر بالقرأة ، و سواء سمع المأموم قرأته ام لم يسمع ، لانها صلوة جهر فيها الإمام بالقرأة فلا يجوز فيها لمن خلفه القرأة......"

بيا مخته ليکي:
"و سواء عندهم ام القرآن وغيرها ، و لا يجوز لاحد ان يتشاغل عن الاستماع لقرأة امامه و الانصات لا بأم القرآن و لا بغيرها ، و لو جاز للمأموم ان يقرء مع الإمام إذا جهر لم يكن لجهر الإمام بالقرأة معنى ، لانه جهر ليستمع له و ينصت، و ام القرآن و غيرها في ذلك سواء ، والله اعلم۔" (التمهيد ۱/ ص ۳۸،۳۷)

بيا وروسته ليکي:
"ثم اختلف هؤلاء في وجوب القرأة ههنا إذا اسرّ الإمام فذهب اكثر أصحاب مالك إلى ان القرأة عندهم خلف الإمام فيما اسرّ به الإمام سنة ، و لا شيئ على من تركها إلا انه اساء و كذلك قال جعفر الطبرى قال القرأة فيما اسرّ

فيه الإمام سنة مؤكدة ولا تفسد صلوة من تركها و قد اساء و ذكر خواز منداد ان القرأ عند أصحاب مالك خلف الإمام فيما اسرّ فيه بالقرأة مستحبة غير واجبة ـ و كذلك قال الابهرى ، و إليه اشار اسماعيل بن اسحاق"(التمهيد ج ١١ ص ٥٣ـ٥٤)

د حضرت امام شافعيؒ متوفى ۲۰۴هـ مذهب:

د امام شافعيؒ مذهب چي هغه د شوافعو په معتبر او معتمدو كتابو كي منقول دى ، دا دى چي په سرّي و جهري لمنځو كي قرأت الفاتحه خلف الامام واجب دى . په شرح مهذب كي دا تصريح موجوده ده :"ان مذهبنا وجوب قرأة الفاتحة على المأموم فى كل الركعات من الصلوة السرية والجهرية هذا هو الصحيح عندنا"

د شوافعو عام معمول دغه دى او نور علماء هم د شوافعو دغه مذهب نقلوي . د امام شافعي ديوې واسطې شاگرد امام طحاوي په اختلاف العلماء كي ليكي:

"و قال الشافعى : يقرء فيماجهر و فيما اسرّ فى رواية المزنى ، و فى البويطى انه يقرء فيما اسرّ بأم القرآن و سورة فى اولين ، و ام القرآن فى الاخرين ، و ما جهر فيه الإمام لا يقرء من خلفه إلا بأم القرآن"(ج١ ، ص ٢٠٥)

د امام طحاوي د دغه عبارت څخه دا نه معلوميږي چي پر مقتدي باندي قرأت واجب دى كه غير واجب .

د امام شافعي د مذهب په باره كي د علماء شوافع او د نورو علماؤ د تصريحاتو څخه په چپه خپله د امام شافعي د خپل عبارت څخه دا

معلوميږي چې د ده په نزد پر امام او منفرد باندي په هر رکعت کي سورة فاتحه ويل واجب او ضروري ده .ددې څخه بغير لمونځ نه صحيح کيږي . او سورة فاتحه سره يو بل سورة ويل مستحب دی . او د مقتدي حکم د دې څخه ماسوا دی . امام شافعي پخپل گرانقدر تصنيف کتاب الام کي ليکي:

"فواجب على من صلى منفردا او اماما ان يقرء بأم القرآن فى كل ركعة لا يجزئيه غيرها ، وا ان يقرء معها شيئا آية او اكثر و سأذكر المأموم ان شاء الله تعالى"(۱/۹۳)

امام شافعيؒ بالکل په واضح الفاظو کي دا بيانوي چې په هر رکعت کي سورة فاتحه ويل د امام و منفرد دواړو فريضه ده . او بيا په صافو الفاظو کي ليکي چې د مقتدي حکم به بيا وروسته ليکم . نو ددې څخه دا معلوميږي چې د ده په نزد د مقتدي حکم د امام و منفرد څخه علاوه دی .

چنانچه د وعدې مطابق مخته ليکي:

"ونحن نقول: كل صلوة صُلِّيتْ خلف الإمام و الإمام يقرء قرأة لا يسمع فيها قرأ فيها" (۱/۱٦٦)

د امام شافعيؒ د غه عبارت دا وايي چې مقتدي دي قرأت په هغو لمنځو کي کوي په کومو لمنځو کي د امام شافعيؒ د دغه تصريح څخه داسي معلوميږي چې په حضراتو شوافعو کي تشدد د زير بحث مسئله په باره کي د امام موصوف وروسته راغلی دی . و الله اعلم بالصواب .

د حضرت امام أحمد بن حنبلؒ مذهب:

د مسکل حنبلي مشهوره محقق و محدث موفق الدين ابن قدامه په

زيـر بـحـث مسـئـلـه كـي د امـام أحـمد بن حنبلؒ د مذهب تفصيل بيانوي او ليكي:

"و جملة ذلك ان المأموم إذا كان يسمع قرأة الإمام لم تجب عليه القرأة و لا تستحب عند امامنا "(المغنى ١/ ٤٢٩)

او امـام تيـميـه خـو ليـكـي چي امـام أحـمدؒ په جهري لمنځو كي قرأت خلاف اجماع او شاذ بولي . چنانچه په تنوع العبادات كي امام موصوف ليكي:

. "بخلاف وجوبها فى حال الجهر فانه شاذ حتى نقل أحمد الاجماع على خلافه"(ص:٨٧)

پر ترک القرأة خلف الأمام باندي په جهري لمنځو كي امام ابن قدامه هم اجماع نقل كړي ده . (المغنى ١/ ٣٣٠)

د ائـمـه مـذاهـب اربعه په دغو تصريحاتو سره دا خبره روښانه سوه، چي پـه جهـري لـمـنـځـو كي قرأت خلف الامام خلاف اولىٰ او صحيح نه دى . د كتـاب الله ، سنت رسول ، حضرات صحابه ، و تابعين و ائمه متبوعين او د اكابرو محدثينو دغه تصريحات ستاسو مختـه دي:

﴿۱﴾...... د احكم الحاكمين وجوبي حكم دى چي كله قرآن ويل كيږي نو هغه ته غوږ ونيسي او خاموش سي .

﴿۲﴾......رسول الله ﷺ قـرأت خلف الامام ته منازعت ويلي دي . او فرمايلي يې دي چي كله امام قرأت كوي نو تاسي خاموش سئ .

﴿۳﴾......رسول الله ﷺ چي امت ته آخري لمونځ وركړى په دې كي يې سورة فاتحه نه ده ويلې (تفصيل تېر سو) د ده عليـه السلام دغه آخري عمل د دې

دليل دى چي بغير د قرأت د فاتحې لمونځ صحيح دى .
﴿٤﴾..... خلفائى راشدين د قرأت خلف الامام څخه ممانعت كوي .
﴿٥﴾..... په فقهائى صحابه كي د اكثرو حضراتو څخه ثابته ده چي دوى قرأت خلف الامام نه خوښوي او خلک يې منع كول .
﴿٦﴾..... حضرات تابعين هم قرأت خلف الامام نه خوښوي .
﴿٧﴾..... ائمه متبوعين په جهري لمنځو كي قرأت خلف الامام نه خوښوي .
لنډه يې دا چې د امت سواد اعظم د اسلام عهد آغاز څخه تر اوسه پوري په دغه باندې عمل كوي .
تفصيلات خو ذكر سو ، ليكن بيا هم څه خلک وايي چي (۱) بغير د سورة فاتحې نه د منفرد و مقتدي لمونځ نه صحيح كيږي (۲) كوم شخص چي خلف الامام په هر ركعت كي سورة فاتحه نه ووايي د هغه لمونځ ناقص كالعدم دى او په خپل دغه خلاف اجماع او شاذ عمل كي چې ددې عمل تبليغ او ترويج وسي دومره كوشا دى كويا د دوى په نزد ددين تر ټولو غټ خدمت په اوس وخت كي دغه دى او په خپل دغه عمل سره په مسلمانانو كي انتشار او اختلاف پيدا كوي . فالى الله المشتكى .

باب جهر الامام بالتامين

وقال عطاء : آمين دعاء امّن ابن الزبير و من وراءَ ه حتى أنّ للمسجد للجّة ، وكان أبو هريره ينادى الإمام : لا تفتني بآمين و قال نافع : كان ابن عمر لا يدعه و يحضُّهُمْ و سمعتُ منه في ذلك خيراً .

حدثنا عبد اللّه بن يوسف قال : اخبرنا مالك ، عن ابن شهاب عن سعيد بن المسيب و أبى سلمة بن عبد الرحمن انهما اخبراه عن أبى هريرة ان

رسول الله ﷺ قال : إذا أمَّن الإمام فامنوا فانه من وافق تامنه تامين الملائكة غفرله ما تقدم من ذنبه ، قال ابن شهاب : وكان رسول الله ﷺ يقول آمين۔

ترجمه: عطاء ويلي دي چي آمين دعا ده، زبير آمين ووايي او د ده د شا خلكو آمين ووايو چي په مسجد كي اذانكه پيدا سوه او أبو هريرهؓ امام ته آواز وركړ چي خيال دا كوه چي زما آمين پاته نسي نافع ويلي دي چي ابن عمر رضى الله تعالى عنه آمين نه پرېښوى او خلكو ته يې هم داسي ويل چي آمين واياست او ما د دوى څخه په دې باره كي يو روايت هم اورېدلى دى . د حضرت أبو هريرهؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي هر كله امام آمين ووايي نو تاسي هم آمين واياست ولي چي د چا آمين د فرشتو د آمين سره موافق سي دده د ټولو تېرو ګناهو مغفرت كيږي بن شهاب ويلي دي چي رسول الله ﷺ آمين ووايو .

مقصد ترجمه: اوس د قرأت د ترجمې انداز تاسي ګورئ چي امام بخاريؒ اول په ترجمه كي د مسئلې ثبوت پېشوي بيا په بله ترجمه كي اوصاف ذكر كوي لكه څنګه چي اوله ترجمه باب القرأة فى المغرب ، بيا دوهمه ترجمه باب الجهر بقرأة المغرب د دغه لپاره امام بخاري ته د خپل عادت مطابق اوله ترجمه د امام لپاره د آمين عمل د ثابت كولو متعلق منعقد كول وو بيا په دهمه ترجمه كي د امام لپاره وصف جهر ثابت كول وو خو ددې موضوع څخه متعلق هغو په اوله ترجمه كي دواړي خبري ذكر كړې او خپله فيصله يې خلاصه بيان كړه چي امام به آمين بالجهر وايي ددې څخه اندازه كيږي چي د دې دا مسئله څونه خوښه ده امام بخاريؒ خپل

مسلک ته پر مدلله طریقه باندي د نوعیت او په دا سلسله کي د ائمه مذاهب معلوم کړو .

د مسئلې نوعیت او بیان مذاهب:

د سورة فاتحه بعد آمین ویل د ټولو فقهاوو په نزد سنت دی او په سنت کېدو کي هیڅ اختلا ف نسته البته په دې سلسله کي مشهوره اختلاف د جهر او سِر دی او هغه اختلاف هم خالي اولیٰ و غیر اولیٰ دی .آمین بالسر هم ثابت دی . او پر دغه باندي د ډېرو امتو تعامل او توارث دی او د آمین بالجهر ثبوت څخه هم انکار نه کیږي که څه هم پر دا باندي مداومت ثابت کول ممکن نه دي .

مذاهب په دا سلسله کي د دي چي حنفیه او مالکیه ته نژدې آمین بالسر دی او حنابله او شوافع ته نژدې بالجهر دی خو دا د امام شافعي قول قدیم دی په قول جدید کي امام شافعي د مقتدي لپاره پر آمین بالسر قائل دی د امام شافعي د قول جدید مطابق د مقتدي په حق کي پر آمین بالسر باندي درې امامه متفق سول او د امام په حق کي پر آمین بالسر باندي دوه غټ امامان متفق دي او دا د مالکیه مشهور مسلک مطابق دي کنې امام مالکؒ د ابن القاسم د روایت مطابق په دې قائل دی چي د آمین عمل یواځي د مقتدي متعلق دی د امام دا وظیفه نه ده د امام اعظمؒ څخه هم یو روایت داسي دی او امام بخاريؒ هم د امام او مقتدي دواړو لپاره پر آمین بالجهر قائل دی هغه په دغه مسئله کي د حنابله سره دی او په دا سلسله کي چي هغو کوم دلائل پېش کړي دي په هغو کي یو څه آثار او یو روایت دی:

د عطاء اثر:

اول اثر د حضرت عطاء بن رباح دی چي په تابعينو کي دی فرمايي چي آمين دعا ده موږ ويلای سو چي ددې اثر څخه خو د جهر ماسوا څه ثابت سو چي په دعا کي اصل اخفاء ده په قرآن کريم کي د دعا په باره کي ادع ربکم تضرعاً و خفية فرمايلي دي . امام رازي په تفسير کبير کي ليکي : انها تدل على انه تعالى أمر بالدعاء مقرونا بالاخفاء و ظاهر الامر الوجوب فان لم يحصل الوجوب فلا اقل من کونه ندبا، آيت دلالت کوي چي الله تعالى دعا د اخفاء سره امر کړې ده او د امر ظاهر وجوب دی بيا که چيري وجوب پيدا نسي نو ندب خو ضرور ثابتيږي خو دا خبره زموږ په موافقت کي ولاړه ، امام بخاريؒ خو ترجمه په جهري کي ايږدي ظاهره ده چي ددې مقصد دا نه دی . مشهوره چي امام شافعيؒ، د امام أبو حنيفةؒ مزار ته ولاړ نو ده ته نږدې په يو مسئله کي د امام صاحب پر مذهب عمل وکی او ويې فرمايل چي دا د صاحب قبر احترام دی نو دغه رقم موږ هم د صاحب کتاب احترام کوو او دا وايو چي د امام بخاريؒ منشاء دا ده چي آمين دعا ده امام داعي دی چي هغه اهدنا الصراط (الاية) وايي نو په دعا کي امام او مقتدي دواړه شريکېدل ضروري دي او ددې وجه دا ده چي د امام مالک څخه په دې باره کي دوه روايته دي په يوه روايت کي آمين يواځي د مقتدي حق دی د امام سره ددې هيڅ تعلق نسته او دوهم روايت دا دی چي امام او مقتدي دي دواړه سراآمين ووايي .

نو د امام بخاريؒ و آمين ته دعا ويل د مالکيه د روايت خلاف امام ته د شريک دعا ثابت کولو لپاره دی ددې اول اثر څخه امام بخاريؒ د امام او مقتدي دواړو په آمين ويلو کي د شريکېدلو ويلي دي د جهر او سر په

مسـئـلـه کې د ده تـعـلـق نستـه بيا يې د جهر ثابتولو لپاره دوهم اثر ثابت کړی دی .

دابن زبیرؓ اثر:

پـه دې آيت کـې دا ذکـر دي چـې حـضـرت ابـن زبيرؓ پـه مسجد کې آمين وو ايـو او د ده شـا تـه چـې مـقـتـديـا ن وو هغو هم آمين وو ايو تر دا حده پورې چې پـه مسـجد کې هم ازانګه سوه دا اثر په مصنف عبد الرزاق او په مسند امام شـافـعـيؒ کې مفصلاً مذکوره دی او د امام بخاريؒ په پېش سوو دليلو کـې يـوازې پـه دغـه اثـر کـې د جهـر صـراحـت دی . د دې اثـر څخـه د آمين بـالـجهـر ثبـوت خـو پيدا سـو خـو د ثبـوت هـيـڅ منکر هم نستـه بحث خو اولـويـت او استـحباب دی او اولـويت ددې اثـر څـخه هم نه ثابتيږي او ددې وجوه يو څو قسمه دي:

۱﴾......اوله خبره خو دا ده چې په اثر کې د ذکر سوي آمين د سورة فاتحه بعده آمـيـن راتـلـل ضـروري نـه دي حـضـرت عـلامـه کشميري قدس سره فرمايي چې دا د دې زمـانـې خبـره هـم کېداى سـي چـې حضرت عبد الله بن زبيرؓ په مـکـه مـکـره کـې محصور وو او د عبد الملک بن مروان فوجونه زياتېدل او دواړو خـوا وو تـه قـنـوت ويـل کېدى عبد الـمـلـک هـم قنوت ورتـه وايو او حـضـرت ابـن زبيـر رضى الله تعالى عنه هم قنوت وايو او پر هغه يې آمين وايـو د فـوجيـانـو مقابله ده او په دې کې د جوش کيفيت پيدا کيږي او د دې وجهې څخه په اواز کې جهر پيدا کېدل فطري خبره ده .

۲﴾...... دوهـمـه خبره دا ده چې که دی ته د ولاالضالين بعده آمين ومنې لکه څنګه چې په مصنف عبد الرزاق او نورو کې دي نو ددې څخه يواځې داخو

ثـابت سـو چـي حـضـرتؒ ابن زبير رضـى الله تعالى عنه داغسي وكړل گويا جهـر ويـل مـعـلـوم سـو. خوډ د بـخـاري مقصد يواځي جهر نه بلكي د جهر د اولويت ثبوت پېشول دي او هغه د يو څو خبرو په وجه محل نظر دى:

(الف) يـوه خبره خو دا ده چي د حضرت ابن زبيرؓ عمل احياناً معلوميږي . د بـخـاريؒ په ذكر سوي اثر كي يوازي اَ مَنَ دى د كوم څخه چي تكرار هم نه ثـابتـيـږي خـو كـه د دوهـم طـريـقـې پر بنياد باندي چي په هغه كي كان ابن الـزبـيـر يؤمن راغلي دي دا هم تسليم كړ چي هغوى پـه‌واري واري دا عمل وكـړ نـو ظـاهـره ده چي ددې څـخـه دوام و استـمـرار خو نـه ثابتـيـږي . ددې وجهـي څـخـه دا ويل كيږي چي هغو د تعليم په مصلحت سره څو واره دغه رقم كول ښكاره كړل ددې لپاره چي دا سنت مرجوحه هم ژوندى پاته سي . يو مخ ختم نسي لكه څنگه چي د رفع يدين په باره كي د حضرت ابن عمر رضى الله تعالى عنه په طرز عمل كي دا خبره تېره سوې ده .

(ب) دوهمه خبره دا ده چي حضرت ابن زبيرؓ په صغار صحابه وو كي دى د هـجرت بعده اول مولود فى المدينه ورته ويل كيږي د حضرت محمد ﷺ د وفـات وروستـه د ده عـمـر لـس يا يـولس كاله وو هغوى د آمين بالجهر عـمـل وكـى ، اوس ددې سـره دا فكر كول په كار دي چي‌په عـهد رسالت كي په خلافت راشده كي او د كبار صحابه په رقم حضرت عبد الله بن مسعودؓ د حضـرت عـلـي رضى الله تعالى عنه سره داسي آمين ثبوت نه ملاويږي نو ددې صـاف مـطـلـب دا دى چي ددې ټـولـو حضـراتـو پـه خـلاف عـمل په اختيـارولـو كـي مـصـلـحت دى او هغه تعليم كېداى سي . مثلاً د حضرت عبد الله بن زبيرؓ څخه د بسم الله الرحمن الرحيم په جهرًا ويلو اثر منقول دى

حافظ زیلعي ددې مصلحت دا ښودلی دی : قال ابن الهادی اسناده صحیح لکنه یحمل علی الاعلام بان قراء تها سنة فان الخلفاء الراشدین کانوا یُسرون بها فظن کثیر من الناس ان قراء تها بدعة .

ابن الهادي ویلي دي چې د حضرت زبیرؓ د جهر بسم الله ویلو اثر صحیح دی خو دا خلکو ته ددې شي ښخه په خبرېدلو محمول دی چې د بسم الله ویل هم سنت دی ولې چې خلفاء الراشدینو دا سراً وایي نو ځونه حضراتو ددې ویل ورته بدعت معلومېدی نو بالکل دا خبره د آمین بالجهر هم ده . چې ددې رواج هم نه وو نو عبد الله بن زبیرؓ جهراً وویل او خلک یې خبر کړل چې داسي کول هم جائز دي د تعلیم لپاره د بعضي شیانو جهراً ویل د صحابه کرامو ښخه ثابت دي لکه ځنګه چې په مخکني باب کي د حضرت عمرؓ د ثناء ذکر راغلی دی .

(ج) او دریمه قابل فکر خبره دا ده چې د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه د کوم اثر ښخه چې امام بخاريؒ اولویت ثابت کول غواړي دا اثر د امام شافعي په مسند کي موجود دی او د ده د مذهب وضاحت دا دی چې د امام شافعي رضی الله تعالی عنه په قول کي د آمین بالجهر قائل هم دی لیکن ددې اثر ښخه ماسوا هغو په قول جدید کي د مقتدي په حق کي د آمین بالجهر ښخه رجوع کړې، رجوع کول رانښیي چې امام شافعي رضی الله تعالی عنه ته نژدې هم ددې اولیت ثابت نه دی خلاصه دا سوه چې د امام بخاري په پېش سوو دلایلو کي یوازي د ابن زبیرؓ د اثر ښخه جهر ثابتیږي خو اولاً خو د دې ولا الضالین بعده آمین متعلق کېدل ضروري نه دي خو که ددې متعلق ومنل سي بایهم ددې ښخه محض جهري ثبوت

پیدا کیږي د اولویت ثبوت نه پیدا کیږي چي د امام بخاريؒ مقصد وو .

د حضرت أبو هريرة اثر :

دې بعده د حضرت أبو هريره اثر دی ددې اثر څخه هم د جهر او سر هیڅ تعلق نه معلومیږي . ددې څخه یوازي د آمین فضیلت را ووځي د امام بخاريؒ په پېش کړو الفاظو کي خو یوازي دونه راځي چي حضرت أبو هريره رضی الله تعالی عنه و امام ته اواز ورکاوی چي ګوره ددې خیال کوه چي زما آمین پاته نه سي د نورو روایاتو څخه معلومیږي چي د دې وخت خبره ده چي مروان حضرت أبو هريرةؓ مؤذن جوړ کئ مروان په لمانځه کولو کي عجلت کاوه نو حضرت أبو هريره رضی الله تعالی عنه دا شرط کښېښوی چي ګوره داسي نه وي چي زه اذان وکړم بیا را کښېنم هم نه سم او ته لمونځ شروع کړې او زما آمین پاته سي .

دغه رنګه شرط حضرت أبو هريرةؓ په بحرین کي د اذان قبلولو په وخت کي ایښی وو په بحرین کي حضرت علاء بن الحضرمي امام وو د قرأت خلف الامام قائلین حضرت أبو هريرةؓ په خپل صف کي راوړلو مطلب بیانوي ولي چي حضرت أبو هريره رضی الله تعالی عنه د امام شا ته قرأت کاوئ په دا وجه هغه پر امام دا شرط ایښوئ چي ګوره ته د سورت فاتحې د قرأت څخه که زما دمخه فارغ سوې تا آمین ووایو نو زه اوس په فاتحه کي مشغوله کېږم او په آمین کي به زما موافقت فوت سي په دې وجه زما شرط دا دئ چي ته به زما انتظار کوې . که دي دا سوچ سو چي أبو هريرةؓ فارغ سو نو بیا آمین ووایه خو د دا رقم خبرو څخه څه کیږي؟ سوال دا دی چي که أبو هريرةؓ ته د فاتحې ویلو فکر دئ نو ده ته دا شرط لګول په کار

و و لا تـفتـنـی بـأم الـکتـاب روایت خـو دا وایـي چي حضرت أبو هریرهؓ ته د سورة فاتحه فکر نه د آمین فکر وو .

بهر حال د أبو هریرهؓ د شرط څخه دا خبره معلومه سوه چي هغه د مقتدي کېدلو په حالت د آمیـن اهتـمـام کاوی خو چي سرا يې کاوئ که يې جهراً کـاوئ پـه روایـاتـو کـي پـه دې بـاره کي هيڅ صراحت نستـه . کېدلای سي چـي د امـام و لاالـضـالیـن ته د رسېدلو ته د آمین دوخت تعین وي او په دغه وخت کـي دي امـام هـم سراً آمیـن ووایي او مقتدي دي هم سراً آمین ووایي او دا هـم احتـمـال دی چـي امـام هـم جهـراً آمیـن ووايي مقتدي دي هم جهراً ووایـي او شـایـد د دغـه احتمال پر بنیاد باندي امام بخاريؒ دغه اثر ذکر کړی دی .

د حضرت نافع اثر:

حـضـرت نـافـعؒ فـرمایي چي حضرت ابن عمرؓ د آمین ډېر اهتمام کاوه نه يـي خپـله پرېښوی او نه يې و نورو ته د پرېښولو موقعه ورکوله او د هغه څخه په دې باره کي يو حدیث اورېدلی دی . ظاهره ده چي په دې اثر کي هم نـه د جهـر صـراحت ستـه نـه د سِر ، بـلـکي په دې اثر کي خو دا صراحت هم نستـه چـي د ده تـعلق د لمانځه والا آمین سره دی که د لمانځه څخه د وتلي دعاوو کي ویلو والا آمین سره دی .

حـافـظ ابـن حـجـر هـم ددې څـخـه د جهـر یـاسِر متـعلق نـه وکی او دا يې وفـرمایل چي ددې اثر مناسبت دا دی چي ابن عـمر د فاتحې پر اختتام آمین وایـو او دا خبـره د امـام و مـقـتـدي دواړو لپـاره عـامه ده ګویا هغوی د دا اثر څـخـه د امام مالکؒ او د امام اعظمؒ ددې روایت په خلاف استدلال وکئ د کوم

څخه چي دآمين تعلق يوازي د مقتدي سره ښوول سوى دى . د امام سره نه
ډېر ډېر د امام بخاريؒ دعوې پر جهر استدلال دا رقم کېداى سي چي د آمين
په باره کي د حضرت ابن عمر اهتمام به نافع ته د جهر په وجه معلوم
سوى وي . که هغه جهر نه کولای نو نافع ته به څنګه معلومه سوې واى
خو دا خبره يوازي د احتمال په درجه کي ده . . په دې وجه د دې څخه
استدلال کول کمزورې خبره ده .

تشريح حديث:

د امام بخاري په پېش کرده آثار کي د حضرت ابن زبير رضى الله تعالى
عنه د اثر علاوه په يوه کي د جهر تصريح نسته بالکل دغه حال د امام
بخاريؒ د پېش سوو روايتو دى چي په دې کي د جهر يا سر هيڅ صراحت
نسته صرف دا فرمايل سوي دي چي کله امام آمين ووايي نو تاسي هم
آمين ووايياست . په دې وجه چي د چا آمين د فرشتو د آمين سره موافقت
وکړي نو د هغه تېري سوي ټولي ګناهونه معافيږي . د روايت اصل
مقصد خو د آمين ويلو د فضيلت بيان دى او مقتدي ته د آمين ترغيب
ورکول کيږي او د جهر او سر مسئله نه صراحتًا مذکوره ده نه اصالةً
مقصود ده .

ددې روايت څخه د آمين بالجهر استدلال دا رقم کېداى سي چي :"اذا امن
الامام فامنوا" کي د " اَمَنَ إذا قال الامام آمين ده او ددې ترجمي مطابق د
مقتدي و آمين ته د امام پر آمين محول کړل سوى دى ددې لپاره به د امام
آمين بالجهر وي په دې وجه چي مقتديانو ته د امام د آمين علم و سي چي
جهر نه وي نو مقتدي ته به د امام د آمين ويلو وخت څنګه معلوم سي؟

د امام بخاري د استدلال جائزه:

دا استـدلال پـه يـو درجـه كـي مـعـقـول وو او هـغـه بـه قـابل قبول كېدى بشـرطيـكـه د امـام د آمين په علم باندي بله يوه ذريعه نه وه او د امام د آمين ويلو د وخت د تعيين لپاره يو بله طريقه نه ښوول كېده خو موږ وينو چي په بل روايت كي ددې طريقه په صراحت سره ښودل سوې ده .

د بـخـاريؒ په روايت كي دي چي: إذا قال الامام غير المغضوب عليهم و لا الضـالـيـن فـقـولـوا آمـيـن ، چي كـلـه امـام غـيـر المغضوب عليهم و لا الضـالـين ووايي نو تاسي آمين ووايئ ددې روايت څخه بشرط انصاف دا معلوميږي چي امام به د آمين جهر نه كوي . ولي چي په حواله كي دا نه ويـل كيـږي چي كله امام آمين ووايي نو تاسي آمين ووايئ بلكه داسي ويـل كيـږي چي كـلـه امـام ولا الـضـالـيـن ووايـي نو تاسي آمين ووايئ معلومه سوه چي امام ته د آمين جهر نه دى په كار كنې حواله د امام د آمين وركـول كېده . په نسائي او نورو كي په صحيح سند سره د أبو هريرهؓ څخه روايت دى : إذا قـال الامام غير المغضوب عليهم ولاالضالين فقولو آمين قـال الـملائكة تقول آمين و ان الامام يقول آمين ، كه د امام آمين ويل جهراً واى نـو د امـام عـمـل د ظاهرولو لپاره ان الامام يقول آمين د ويلو ضرورت نه وو .

☆......په روايت باندي د فكر
كولو يوه بله طريقه:

پـه دې مـضـمـون بـانـدي د پوهېدلو لپاره يوه بله طريقه سته چي پر دې موضـوع بـانـدي د حـضـرت أبـو هريرهؓ دوه روايتونه دي يو روايت باب إذا

امّن الامـام الـخ او دوهـم روايت إذا قـال الامـام غيـر المغضوب عليهم ولا الضالين الخ چي په بخاري كي راځي . كتـل دا دي چي په دې رواياتو كي د مقصـود بـالـذات په طريقه كوم مضمون بيان كړى دى او پر ثانوي درجه باندي ددې څخه څه شى زده كيږي .

اول روايت يـو مستـقـل روايت دى او په دې كي چي كومه خبره مقصود بـالـذات ده هغـه دآميـن د دې فـضيـلـت بيان دى چي د چا آمين د فرشتو د آميـن سره موافق سي د هغه د گناهوه مغفرت كيږي . په دويمه درجه كي مـقتـديانـو ته دآمين د اهتمام تاكيد دى چي په صيغهٔ امر هغه ته مخاطب كړى دى .د امـام آميـن پـه هيـڅ درجـه كي مقصود نه دى . د دې ذكر خو مـحض د تـمهيد پر طريقه باندي راغلى دى چي مقتديانو لره په دې عـمل كـي د امـام مـوافـقـت كـول پـكار دي . دغه وجه ده چي دا روايت ددې فقهاؤ مستدل دى چي دا وايي چي آمين يوازي د مقتدي وظيفه ده د امام نه ده .

او هغه د "اذا امّن الامام" ترجمه داسي كوي چي امام كله د آمين ځاى ته ورسيږي يـعـنـي ولا الضالين ووايي نو مقتديانو لره آمين ويل پـه كار دي او دوهـم روايت يـو مـسـتـقـل روايت نه دى بلكي د حديث اهتمام جز دى په كـوم كـي چـي مـقـتـدي تـه د امـام د متـابـعـت تفصيلات وربنودل مقصود بـالـذات دي .او پـه دې كي يو جز دا دى چي كله امام ولا الضالين ووايي نو تـاسـي آميـن ووايـاست . په دې وجه د مسئله آمين په باره كي د اول روايت پـر ځـاى دغـه دوهـم روايت اصـل دى او په دې روايت كي د امام د آميـن ويلو ذكـر هـم نستـه، په دې كي يوازي دا ويـل سوي دي چي كله امام ولا الضالين ووايـي نـو مقتدي دي آميـن ووايي د ابن القاسم د روايت مطابق د امام لپاره

آميـن نستــه هـغــه وايـي چي پــه دا روايت كي د امـام او مقتدي د وظيفي تـقـسيـم سـوى دى چي امـام دا عـمـل وكي او مقتدي دا عمل وكي پـه مؤطا امـام مـالك كـي دا دواړه روايتونه موجود دي او پر دې باندي عنوان وركول سـوى دى ''التـاميـن خلف الامام'' پـه دې عنوان كي نه د امام ذكر ستـه نه د جهـر، د دې طـريـقـي څـخـه پـر روايت باندي فكر كولو بعد دا واضح كيږي چي امـام بخاريؒ چي د كوم روايت څخه د امام لپاره پر آمين بالجهر باندي استـدلال كـوي پــه دې روايت كـي د امـام لپـاره جهراً آمين ويل نو څـه شي ثـابتيـدل د امـام لپـاره د آميـن ثبـوت مـحـل نـظـر دى خـو خبـره دلتــه نــه ختميږي .

د امـام بـخـاريؒ پـر مـوقف بـانـدي د دغـه روايت څـخـه پر يوه بله طريقه باندي استـدلال كړل سوى دى د دې ذكر كول هم مناسب دي .

☆......د امام بخاريؒ پر موقف

باندي دوهم استدلال:

د استـدلال دوهـمـه طـريـقـه دا ده چي پـه روايت كي إذا امّن الامام فامّنوا فـرمـايـل سـوي دي چي پر حقيقت باندي محمول دي او ددې ترجمه إذا قال الامـام آمين فقولوآمين دى، او د مقتدي لپاره قولو آمين د بخاريؒ پـه دوهم روايت كي موجود دى او ضابطه دا ده چي كله يو مخاطب څخه مطلق قول طلـب كـوي نـو هـغـه پر جهر باندي محموله كيږي جهر مراد نه وي بلكي قول تـه سر يا پر حديث نفس باندي محمولوي نو قول مطلق نه ايږدي بلكي داسـي قيـد ايږدي د كـوم څـخـه چي جهر شبه نه وي او سِر يا د حديث نفس معنا راجح سي .

او دلتـه ځـکـه مـقـتـدي پـه ''قولوا'' ويلو سره مخاطب كيږي ددې لپاره مـطلب دا كيږي چي مقتدي آمين بالجهر ووايي او چي كله د مقتدي آمين بـالـجهـر وي نـو د امـام بـه آمين هم بالجهر وي خو حقيقت دا دي چي كومه ضـابـطه كړل سوې ده چي دخطاب پر موقع باندي د مطلق قول معنا د جهر وي دا بـراى گـفتـن مـعلوميږي پر دې خو نه امام بخاري عمل پيروى كړې او نـه شـوافـع وكـوره پـه روايت كي راځي: ''اذا قال الإمام سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد''(مشكوة ص:۸۲) .

چي كـلـه امـام سـمع الله لمن حمده ووايي نو تاسي اللهم ربنا لک الحمد ووايـاسـت دلتـه پـه ''قـولـوا'' ويلو سره خطاب كړل سوى دى مطلق قول دى مـوقـع د خـطـاب ده او داخـفـاء لپـاره هـيـڅ قـيد نسـتـه د ضـابطې مطابق د مـقـتـدي لپـاره الـلهـم ربـنا الخ جهراً ويل په كار دي . حالانكه جهر د هيچا مسـلک نـه دى دغـه رنګه د تشهد بعد د درود شريف پـه سلسله كي روايات راځـي صـحـابه رضى الله تعالى عنه پوښته وكړه كيف نصلى عليک مور درود شـريف څـنـګـه ووايـو نـو رسـول الله ﷺ وفـرمايل: قولوا اللهم صل عـلـى مـحـمـد الـخ دلتـه هـم مطلق قول دى موقع د خطاب ده د دې ضابطې مـطـابـق الـلـهـم صـلـى على محمد الخ جهراً ويل پكار دي خو ددې قائل نه امام بخاري دي نه شوافع .

☆ ...... **د استدلال نوره تنقيح:**

د باب پـه تـحـت كي وركړل سوي روايت څخه پر آمين بالجهر استدلال سـخـت مـعـلـوميږي د امام بخاري د ذوق مطابق د استدلال چي كومي دوې طـريـقـې كېداى سـي هـغـه بيـان كړل سوي دي . تاسي وكتل چي پـه دې

دواړو طریقو کې د امّن ترجمه پر حقیقت باندې محموله کول" قال آمین" کړل سوې ده خو په حقیقت کې محموله کول د متعدده وجوهو څخه محل نظر دی:

(الف) د امن دا ترجمه د جهر او سِر پر دواړو صورتو باندې یکسآن طریقه باندې منطبق ده ددې لپاره هر یوه د ترجیح لپاره استدلال کول تحکم دی .

(ب) بل دا چې دغه موضوع دوهم روایت: إذا قال الأمام غیر المغضوب علیهم الخ څخه د امّن معنا د حقیقي مراد اخیستلو تائید نه کیږي ولې چې په دوهم روایت کې د امام د آمین ویلو ذکر هم نسته او د دغه لپاره مالکیه د آمین عمل د امام په متعلق کېدل نه دي تسلیم کړي خو که د نورو روایاتو پر بنا باندې دغه د امام څخه متعلق و منل سي نو دغو نه خبره خو بالکل واضح ده چې د امام دغه عمل جهراً کولو ثبوت بهر حال په روایت کې نسته .

(ج) چې إذا امّن الامام فامنوا پر حقیقت باندې د محمول کولو په صورت کې د روایت پر مقصد اصلي باندې د روایت دلالت کمزوره کیږي اصل مقصود دا دی چې د ملائکه وو د آمین سره توافق مطلوب دی او ددې لپاره دا هدایت کیږي چې د امام او مقتدي په آمین کې هم په وخت کې توافق کېدل په کار دي او د دغه لپاره دا ښوول سوي دي چې د امام د آمین وخت د ولاالضالین بعد دی په دغه وخت کې د مقتدیانو لپاره د آمین اهتمام کول په کار دي او إذا امّن الامام فامّنوا پر حقیقت محمول کړې نو مفهوم دا کیږي چې اول دې امام آمین ووایي او د "فاء" په تعقیب د مع الوصل په تقاضا کې دي دستي مقتدي آمین ووایي .

ظـاهـره ده چـي پـه دې صـورت كـي د امـام او مـقـتـدي تـوافق نور نه پاته كيـږي او اصـل مـقصـود يعني د امام او مقتدي تامين د ملائكه وو څخه پر موافقت باندي د روايت دلالت كمزوره كيـږي .

دغـه خبـره عـلامه سيوطيؒ په تنور الحوالک كي ليكلي ده: "اوّلو قوله "اذا امّن" عـلـى انّ الـمـراد إذا أراد التـامين ليقع تامين الإمام والماموم معاً فانه يستحب فيه المقارنة"

يـعـنـي د رسـول الله ﷺ ارشـاد د "اذا امّن" تاويل إذا أراد التـامين دى . ددې لپـاره چـي د امـام او مـقـتـدي آميـن يـو رقم وي . په دې وجه چـي په دې عـمـل كـي مـقـارنـت مستـحـب دى او ددې لپـاره شـارحين حديث پر عـامـه طـريـقـه بـانـدي و "اذا امـن" تـه پر معنا حقيقي باندي حمل نه وكړ . امام نووي شافعيؒ ليكي :

"و امـا رواية إذا امّن فـامّـنـوا فمعناها إذا أراد التامين" نووى ١٧٦/١)
قسـطلا نى هم د امن مطلب "اذا أراد التـامين" ليكلى دى . د امام بخاريؒ د استـدلال تـنـقيح دا سوه چي كه امن پر حقيقت باندي مبني سي نو تاسي وكتـل چـي استـدلال متـعـدده د وجـوهو پر بنياد باندي محل نظر او ناقابل قبـولـه پـاتيـږي او كـه يـې پـر مـجـازي معنا باندي محمـوله كړې نو بيا خو استدلال نور هم ډېر كمزوره كيږي، ولي چي په دې صورت كي په روايت د امـام د آميـن ويلو مضمو ن باقي نه پاته كيـږي . يوازي د امام د آمين اراده كـولـو ذكـر پـاته كيـږي پاته سو دا چي هغه د ارادې كولو بعد به آمين جهراً وايـي كـه سـراً ؟ روايـت د دې څـخـه بـالـكل سـاكـت دى، د دې خبرو حاصـل دا راووتـى چي إذا امّن پر حقيقت محمول كړې يا پر مجاز باندي د دې څخه د

امام لپاره پر آمین بالجهر باندي استدلال نا تمام دی البته پر حقیقت باندي محمول له کول د امام بخاريؒ د استدلال لپاره بهتر دی .

☆...... **د ابن شهاب زهريؒ قول:**

د روایت بعد امام بخاريؒ د ابن شهاب زهريؒ څخه نقل کړی دی : و کان رسول الله ﷺ یقول آمین ، ددې قول نقل کولو سره امام بخاريؒ دا ثابته کړې ده چې امّن پر حقیقي معنا باندي محمول ده چې رسول الله ﷺ وایي او د دې څخه پر جهر باندي استدلال طریقه هغه ده چې تېره سوه چې رسول الله ﷺ جهر نه کاوی نو ، نورو ته دا علم څنګه کېدی ؟ خو دا خبره بیان کړل سوې ده چې دا استدلال دا وخت ناقابل قبول کېدای سي چې کله د علم هیڅ ذریعه نه وي دوهم دا چې دا رقم تعبیر په نماز کي ویلو والا د مختلفه تسبیحات په باره کي په صحیح روایت کي موجود دي او ددې څخه د جهر مراد نه دی اخیستل سوی مثلاً : کان یقول فی رکوعه سبحان ربی العظیم و فی سجوده سبحان ربی الاعلی ، او په دې تسبیحات کي جهر د یو چا مسلک نه دی کښې دلته هم کان یقول فرمایل سوي دي . په دې وجه د امام زهريؒ د قول څخه هم د امام بخاريؒ پر موقف د استدلال لپاره هیڅ مضبوطه قرینه لاس ته نه راغله دلته دا خبره هم قابل ذکر ده چې قرأت د خلف الامام په بحث کي د حضرت أبو هریرهؓ په روایت کي فانتهی الناس عن القرأة مع رسول الله ﷺ ، راغلی وو نو هلته دا بحث شروع سوی وو چې دا جمله د امام زهريؒ ده په دې وجه د دې څه اهمیت دی؟ او دلته د امام زهريؒ د خبري څخه تقویت ملاویږي نو ددې څخه استدلال کیږي موږ د امام زهريؒ د خبري څخه استدلال وکړو نو ګنهکاره وایاست

او تـاسي دده د خبري څخه استدلال وکړئ نو د سنت علم بردار جوړ سئ دا د کوم ځای انصاف دی؟

☆...... **د آمين په باره کي نور روايات:**

د امـام بـخـاريؒ په ذکر سوو آثار او رواياتو باندي خبره تمامه سوه او داوا ضـحـه سـوه چي د امـام بـخـاريؒ سره د امام په حق کي د آمـين بالجهر ثابتـه کـولـو لپـاره هيـڅ صـريـح روايـت نسـتـه . که د دوی سره يو روايت وای نو ددې مسـئـلـې د دې د بـې پـنـاه په زړه پوري تقاضا وه نو هغه دا ضرور ذکر کـول . ددې پـه دلائـل کي يوازي د عبد الله بن زبير رضی الله تعالی عنه په اثـر کـي د جهـر تـذکيـره ده خـو دا بيان کړل سوی دی چي د دې څخه ډېر ډېر جواز ثابتـه کېدای سي اولېيت نه .

د دې بـغيـر د ذکـر سـوو آثارو روايانو څخه په يوه کي هم د جهر صراحت نستـه او د کـومـو اشاراتو څخه چي د دوی پر موقف باندي استدلال کيدای سي د دې څخه مقصد برآري سخت دی .

پـه ذخيـره احـاديـث کـي پـر دا مـوضـوع بـاندي نظر اچولو څخـه صفـا مـعـلـوميږي چي د رسول الله ﷺ معمول د آمين بالجهر نه وو که چيري د ده مـعـمول د آمين بالجهر وای نو هره ورځ به په جهري لمنځو کي کېدلو والا د دې وجـودي عـمـل د نـقـل کولو والا به ډېر وای او په دې باره کي به د صحابه کرامو په مينځ کي هيڅ اختلاف نه وای .

د خـلـفـائـي راشـدينو او کبار صحابهؓ عمل به هم آمين بالجهر وای کنې صورت حال دا دی چي په خلفاء راشدين کي حضرت عمرؓ او حضرت عليؓ او پـه کـبـار صـحـابه رضی الله تعالی عنه کي د حضرت عبد الله بن مسعود

رضی الله تعالی عنه څخه د اخفاء عمل په صراحت سره منقول دی او د کومو کبار صحابهؓ څخه په دې باره کې یو عمل منقول نه دی نو د دې وجه په ظاهره دا ده چې اخفاء یو غیر وجودي عمل دی د کوم چې نقل کول غیر ضروري دي او صحابه کرام رضی الله تعالی عنه د اکثریت پر اخفاء آمین باندې د عمل پیرا کېدلو خبره محض د عوىٰ نه ده بلکې د دې حقیقت د فریق ثاني اکابر علماء ته‌هم اعتراف دی په الجواهر النقی کې د ابن جریر طبري قول نقل کړل سوی دی په کوم کې چې د خفض صوت په باره کې په ښکاره لفظو کې دا فرمایل سوي دي : إذا کان اکثر الصحابه والتابعین علی ذلک (سنن البیهقي ۲/۸۵)

زیات صحابه و تابعین پر اخفاء آمین باندې عمل پیرا دي په دې وجه که د یوه روایت څخه د رسول الله ﷺ آمین په جهراً ویلو سره یوه اشاره یا ثبوت ښکاره سي نو د دې مطلب دا کیږي یا خو هغه د صحابه کرامو په عامه طریقه باندې په علم کې نه راغله یا هغوی دا عمل د اتفاق، یا د تعلیم په رقم پر مصلحت باندې محمول کړی . او هغه یې خپل عام معمول نه دیٰ جوړ کړی دا موضوع نور هم په رڼا کې د راوستولو لپاره د نورو روایاتو ذکر کول ضروري وو خو د ډېر تطویل په وجه یوازې د دوو روایاتو ذکر کول مناسب دي په کوم کې چې یو روایت د حضرت سمرة رضی الله تعالی عنه بن جنب دی او بل د حضرت وائل بن حجرؓ دی .

د حضرت سمره رضی الله تعالی عنه ابن جندب روایت:

په أبو داود او د حدیث په نورو کتابو کې د حضرت سمرهؓ بن جندب

روايت موجود دى د محدثينو د اصول مطابق روايت صحيح كنل سوى دى . د دې روايت حاصل دا دى چې د سمرهؓ بن جندب او د عمران بن حصين په منځ كې مذاكره وسوه حضرت سمرهؓ بيان وكړ چې زما د رسول الله ﷺ څخه دوې سكتې په ياد دي يوه سكته د تكبير تحريمه بعد وه او دوهمه سكته إذا فرغ من قرأة غير المغضوب عليهم و لا الضالين .يعني چې كله د غير المغضوب عليهم و لا الضالين ويلو څخه فارغه كېدى نو سكته به يې ويله .

حضرت عمران بن حصين رضى الله تعالى عنه د ده څخه اختلاف وكړ او د دوهمې سكتې انكار يې وكړ نو دوى حضراتو په دې مسئله كې د حضرت ابي بن كعبؓ و طرفته پر تحريري طريقه باندې رجوع وكړه نو حضرت ابي رضى الله تعالى عنه په جواب كې وليكل ان حفظ سمره چې د حضرت سمرهؓ نبه په ياد دي دوې سكتې وې اوله سكته خو بظاهر د سكتې ... ده وه او پر دې دواړو اتفاق وو دوهمه سكته دومره لطيفه وه چې حضرت عمران بن حصين رضى الله تعالى عنه د دې و طرفته متوجه نه وو ، د دې سكتې مختصره كېدل ور ښيي چې دا د مختصر ... ساره وه او ظاهره ده چې دغه وخت د آمين دى چې د آمين وقت سكته ده نو دا هم ښكاره ده چې د آمين عمل جهراً نه وو سراً وو . د دې سكتې د اختصار او لطافت څخه دا هم معلومه سوه چې دا دو نه نه ده په كوم كې چې د شوافعو د خيال مطابق مقتدي د فاتحې قرأت وكړ دلته دا خبره هم د ملحوظه وساته چې دا سكته د هيچا په نيز واجبه نه ده او د شوافعو په نيز پر مقتدي د فاتحې قرأت واجب دى . ددې وجهي پر دغه

مسـلک ډېـر حیـرت کیـږي چـي د فـاتحې قرأت واجب دی . ددې وجهي پر دغـه مسلک ډېر حیرت کیږي چي د فاتحې قرأت خو دي واجب وي او د دې دلپاره دي سکتـه نه وي واجب .

او بل دا چي که مقتدي پر دغه سکتـه د فاتحې قـرأت کوی نو د مقتدي د امـام سـره پـه آمیـن کـي د مـوافـقـت بـه څه طریقه وي؟ امام خو به د سورت فاتحې وروستـه دستـي آمین ووایي ، او مقتدي اوس د فاتحې پـه ویلو کي مـصروف دی ظـاهـره ده چـي موافقت فوتیږي .او که چیري مقتدي د امام سـره آمین وایي بیا د فاتحې قرأت کوي نو ده مقتدي آمین تر فـاتحې مقدم سو حالانکه پـه روایت کي دي چي آمین طابع یعني مهر دی دا خو ظاهره ده چي دا د درخواست د تمامیت وروستـه وي . او که چیري امام د مقتدیانو پـه انـتـظـار کـي پـه آمیـن کـي تـاخیـر کـوي نو یوه خبره خو به داسي وي چي د فـاتـحې او آمیـن پـه مـابیـن کـي به ډېر فصل راسي او پـه روایاتو کي د ولا الـضـالیـن فـوراً بـعد دآمین حکم راغلی دی او بله خبره دا ده چي امام تـه بـه ددې خبـري یـقیـن څـنـګـه کیـږي چـي مـقـتدیان فارغـه سول . دلتـه خو دا صـورت مـمکن دی چي اول مقتدي امین ووایي بایي امام ووایي . بنکاره خبـره ده چي دا صورت هم ممنوع دی ځکه چي مقتدي ته د امام تر مختګ صراحتـاً منـع دی او فـرمایل سوي دي چي و لا تبادو الامام . معلومه سوه چـي که پـه هغـه سکتـه کي مقتدي که د فاتحې قرأت وکړی نو د امام سره د آمین پـه ویلو کي هیڅ موافقت نسي کولای .

د دې وجهـي د انصاف خبره دا ده چي پر مقتدي فاتحه نستـه او دا سکتـه دآمیـن دپـاره ده . عـلامــه طیبـي هـم داسي ویلي دي : والاظهر ان السـکتـة

الاولى للثناء و الثانية للتامين .
دغه رنګه د دغې سکتې په هکله داسي ويل هم غلط دي چي دا سکته ليتـراذ إليـه نفسـه چي دا د ساه د قائموالي او صحيح کېدلو دپاره ده . ځکه چي پـه دا صـورت کـي دا شـکـال ستـه چي و مقتدي ته خو د و لا الضالين وروستـه على الفـور د آميـن حـکم دی او امام اوس په دغه سکته کي د ساه سمېـدو نـکـي دی او دويـمه خبره دا ده چي د حضرت سمره رضى الله تعالى عـنه او حضرت عمران رضى الله تعالى عنه اختلاف ښکاره دی چي د دغه سـکتو په باره کي سوی دی چي په هغه کي يو دعا يا يو عمل مشروع دی د ساه د سمېدو دپاره سـکتې خو به په طويل قرأت کي څو ځايه راسي په دې کي د اختلاف هيڅ معنى نسته .
پـه هـر صـورت د حضرت سمره بن جندبؓ د روايت او د حضرت ابن أبى بـن کـعبـه د تـصديق څخه دا ثابته سوه چي د و لا الضالين وروستـه سـکته کېدل او د سـکتـې پـه هـکـلـه دا خبره حتـمي ده چي دا د آميـن دپـاره وه نو معلومه سوه چي د آمين عمل جهراً نه وو بلکي سراً وو .

د حضرت وائلؓ بن حجر روايت :

علامه عيني ليکلي دي چي دغه روايت په مسند أحمد، مسند ابي داؤد طيالسي مسند أبو يعلىٰ، معجم طبراني، سنن دار قطني او په مستدرک حاکم کي دی . شعبه عن سلمه بن کهيل عن حجر بن العنيس عن علقمة بن وائـل عـن ابيـه انه صلى مع النبيؐ فلما بلغ غير المغضوب عليهم و لا الضالين قال آميـن و اخفـى بهـا صـوته، يعني نبيؐ غيرِ المغضوب و لا الضالين وو ايو نو آمين يې سوکه وو ايو او په دغه ځای کي يې آواز سوکه

کړی . حاکم دغه روايت په کتاب القرأت کي "وخفض بها صوته" را نقل کړی دی او فـرمـايلي يې دي " حديث صحيح الاسناد و لم يخرجاه" د دغه حديث سند صحيح دی ليکن امام بخاري او امام مسلم نه دی را نقل کړی

☆...... **د امام ترمذي اعتراضات:**

امـام تـرمـذي د آميـن پـر اخفا درې اعتراضه د امام بخاري حواله په سنن تـرمـذي کـي او يـو اعتـراض يې په خپـل بل کتاب العلل الکبير کي د امام بـخـاري په حواله کړي دي . چې د علقمه بن وائل د خپـل پلار څخه سماع نـه ده ثـابـت . ځـکـه هـغـه د خپـل پلار د وفات څخه شپږ مياشتي وروسته پيـدا سـو . او امـام تـرمـذي بيـرتـه خپلـه دغـه غلط کړي دي او پـه ترمذي کي يې بيرته ترديد کړی دی .

"وعـلـقـمـه بن وائل سمع من ابيه و هو اکبر من عبد الجبار بن وائل و عبد الجبار بن وائل لم يسمع من ابيه"(ترمذي ۱/۱۷۵)

پـه مسـلـم او نسـائـی او د امـام بـخـار پـه "جزء رفع اليدين" کي داسي سـنـدونـه دي چې پـه هـغـه کـي د عـلـقـمـه د خپـل پلار حضرت وائل څخه د سمـاع صيـغـې استعمال سويدي لکه په مسلم کي (۱/۶۱) کي خير هغه اعتراضات دا دي:

﴿۱﴾...... اوله غلطي دا ده چې شعبه حجر أبو العنيس فرمايلي دیٰ او د هغه اصل سم نوم حجر بن العينس دی چې کنيه يې أبو السکن دی .

﴿۲﴾...... دويـمـه غـلـطـي دا ده چې هـغـو پـه روايـت کي د علقمه بن وائل نوم اضـافـه کړی دی . حال دا دی چې حجر بن العنبس دحضرت وائل څخه بلا واسطه رويا کړی دی .

۳؛ او دریمه غلطي په متن کي ده . هغه دا چي شعبه خفض بها صوته نقل کړیدي او اصل مذبهاً صوته دی .

اول اعتراض جواب :

په ظاهره خبره ډېره مهمه معلومیږي چي یو غټ امام د بل غټ امام څخه په ډېر اعتماد سره غلطیانې را نقل کوي لیکن د تحقیق کولو وروسته داحقیقت معلومیږي چي ټولي خبري بې وزنه دي .

علامه عیني او نورو محدثینو یې ډېر ښه جوابونه کړیدي چي په هغه سره د ټولو غلطیانو ازاله کیږي . د اول اعتراض غلطي دا رقم واضح ده چي د حجر بن العنیس کنیت او العنیس دی علامه عیني فرمایي چي ابن حبان د جزم په صیغې سره فرمایلي دي "كنية كاسم ابيه" ابن حبان په کتاب الثقات کي داسي فرمایلي دي: حجر بن العنبس أبو السكن الكوفي و هو الذى يقال له أبو العنيس . دا شبه کیږي چي شاید ابن حبان د شعبه په اعتماد باندي‌داسي فرمایلي وي لیکن داسي نه ده . ځکه چي د احادیثو په څو کتابو کي داسي متعدد سندونه موجود دي چي په هغو کي سفیان ثوري هم و حجر ته أبو العنبس ویلي وو . لکه د أبو داؤد د باب التامین په اول روایت کي دغه رقم په دارقطني کي .

او دا خبره حیرانونکې نه ده چي دوه کنیت دي دیو چا وي یعني د ده دوه کنیته وو . أبو السكن او أبو العنيس ، لکه ابن حجر چي په تخلیص الجیر کي ویلي دي لا مانع ان يكون له كنيتان .

د دویم اعتراض جواب :

دویم اعتراض دا دی چي شعبه په سند کي د علقمه اضافه کړې ده او حال

دا چي حجر بلا واسطه د حضرت وائل څخه روايت كوي دا تر اول اعتراض هم كمزوره اعتراض دى اوپر لاعلمي مبني دئ . ځكه د حديثو په اصولو كي دا خبره منل سوې ده چي د ثقه زيادت قبول دى او تر شعبه زيات ثقه څوك دى؟ او كومه خبره چي سلمه بن كهيل كوي چي: "عن حجر أبي العنبس قال سمعت علقمة بن وائل يحدث عن وائل او سمعه حجر عن وائل "(مسند أحمد ٣١٦/٤)

نو ګواكي په كوم روايت كي د علقمه اضافه ده هغه محدثينو په اصطلا ح د المزيد في متصل الاسانيد د قبيل څخه دى او دا څه قابل اعتراض خبره نه ده .

د دريم اعتراض جواب:

دريم اعتراض د شعبه او سفيان د الفاظو پر اختلاف دى چي شعبه د مدّبها صوته پر ځاى اخفىٰ بها صوته نقل كړي دي او سفيان د څو وجود پر بنا افضل دى لكه شعبه خپله اعتراف كوي سفيان احفظ مني .

دغه رنګه يحيى بن سعيد فرمايي : "ليس أحد احب إلي من شعبه و إذا خالفه سفيان اخذت بقول سفيان" يو څوك و ماته تر شعبه زيات نه دى محبوب ليكن كه چيري هغه د سفيان د قول مخالفت وكړي نو زه د سفيان قول ته ترجيح وركوم .

حافظ أبو زرعه هم د سفيان وحديث ته په دې الفاظو ترجيح وركړې ده:"حديث سفيان في هذا اصح "د سفيان په افضليت كي د محدثينو ډېري رايې ستـه ترمذي په كاتب العلل كي را نقل كړيدي چي خپله سفيان و شعبه ه امير المؤمنين في الحديث وايي .

دغـه رنـګـه یـحیـیٰ بن سعید څخه دغه هم را نقل سویدي چي پوښتنه ځیني وسوه چي : "ایهما کان احفظ للحدیث الطوال سفیان او شعبة" یحیی بن سعید جواب ورکړی چي "کان شعبة امرّ فیها" دایی هم لیکلي دي چي :" شعبة اعلم بالرجال وکان صاحب الابواب"

پـه تهـذیب التـهذیب کي د شعبه پر ترجیح ډېر اقوال د ائمه و موجود دي پـه هـغو کي بعض . کان شعبة اثبت منه هم ستـه . لیس فی الدنیا احسن حدیثـا من شعبة و مالک علی قلته هم ستـه او په هغو کي د امام دار قطني دا فیـصلـه ده کـا ن شـعبة یـخـطی فـی اسماء الرجال کثیراً الشـاغله بحفظ المتـو ن . او پـه دغـه بـحـث کـي چـي و شـعبـه ته د کومو غلطیانو نسبت سـوی دی د هـغـه غلط کېدل خو واضح سو . اوس مسئله د متن ده نو د دار قـطني د فیـصلې مطابق باید د شعبه روایت مرجح سي، ځکه دی د متونو په حفظ کي ډېر افضل وو . او بل د یحییٰ بن سعید د اخذت بقول سفیـا ن د روایـة هم ترک جهر ته ترجیح ورکړل سي ځکه که څه هم سفیـان ثـوري پـه روایت کـي مدّ بهـا صـوتـه راوړي لیـکـن د هغه عمل د ترکِ جهر دی او دا مسـئـلـه د فـقهـي د اُبـو اُبـو ده چي په هغو کي د یحییٰ بن سعید د فیصلې مطابق هغه ته ترجیح حاصله ده .

د ترجیح بحث د اصولو خلاف دی:

د دوا ړو ائـمـه وو پـه مـابـیـن کي د ترجیح خبره دا مام ترمذي د تبصرې د وجهـي مینځ تـه راغله . حقیقت دا دی چي د حدیثو په اصول کي د ترجیح عـمـل هـغـه وخت مختاره کیږي چي د تطبیق هیڅ صورت نه وي . دلتـه صـورت حـال دا دی چي د ترجیح دَر مخه تطبیق او د جمع بین الروایتین د

عـمـل د مـختـار كـولـو خـصـوصـي دواعي هم دي مثلا علامـه عيني دوې خبري كړي دي:

يـوه دا تـخـطيتـه مثـل شـعبة خطـأ و كيف و هـو اميـر المؤمنين فـى الـحـديث . دئ امير المؤمنين فى الحديث دى نو دا بيا څنګه كېداسي چي دئ په يو مختصر روايت كي غلطي وكړي .

دويـمـه خبره يې دا فرمايلې ده چي لا يضر اختلاف شعبة و سفيان لان مـلا منهما امام عظيم فى هذا الشان فلا تسقط رواية احدهما برواية الآخر . ددې وجهي بايد د حديث د اصولو رعايت سوى واى . د دوى د جلالت قدر تـقـاضـا داوه چي د ترجيح پر ځاى بـايد تطبيق سوى واى او دتطبيق څو ممكن صورته هم سته .

د جمع بين الروايات صورتونه:

مثلاً دغـه روايتـونـه پـر تـعـدد د واقـعـې حـمل كېداى سو . اول دا چي حضـرت وائـل د نبيﷺ پـه باركاه كي په وارو وارو حاضر سوى وواو دآمين عـمـل خـو پـه هـر لـمـانـځه كي وي په دې كي هيڅ بُعد نسته چي حضرت وائـل دي دواړي خبري بيان كړي وي نو يوه خبره د سفيان ثوري په روايت كـي راغـلـه او بله د حضرت شعبه په روايت كي . ابن جرير طبري دغه دوه جلا جلا روايتونه تسليم كوي او فرمايي:

”والـصـواب ان الخبرين بالجهر والمخافة صحيحان و عمل بكل فى فعليه جماعة من العلماء و أنا كنت مختاراً خفض الصوت بها إذا كان اكثر الصحابة والتابعين على ذلك“ (الجوهر النقى على البيهقى ۲/۸۵)

د تطبيق دويم صورت دا دی چې د حضرت شعبة په روايت کې چې خفا، ده هغه دي معمول على العام سي چې د جمهور صحابه وو او تابعينو پر تعامل او توارث ددې تائيد کيږي او د حضرت سفيان د روايت څخه چې د مدّ صوت يا جهر اندازه چې کيږي هغه دي پر اتفاق حمل سي چې په دې کې تعليم ورکول وو چې په دې سره دي د جهر جواز ثابت سي .

او حافظ أبو البشر دولبی هم فرمائي " فقال آمين يمدّ بها صوته ما اراه إلا ليعلمنا" نو معلوميږي چې هلته به دغه د تعليم دپاره وو . او دا هم د توجه خبره ده چې دغه دواړه يو روايت دی او په أخفیٰ صوته او مد بها صوته کې په دغه مضمون کې څه تضاد نسته . چې نسائی کې د عبد الجبار بن وائل د مرسل روايت څخه دغه ښه معلوميږي چې حضرت وائل رضی الله تعالی عنه فرمايي چې:

قال آمين فسمعته و انا خلفه . د حضرت أبو هريرةؓ د نسائی او مسند حميدي د روايت څخه د دې مضمون تائيد کيږي، چې فرمايلي يې دي:

قال آمين يسمع من يليه في الصف الاول . نو معلومه سوه چې دلته آمين جهراً متعارف کېدل نه دي بلکې نبيؐ ساه واخيستله او آمين يې ادا کړی په دويم صف کې يميناً او شمالاً خلکو هم دا آمين نه واورېدی . او په دغه روايت کې اخفیٰ بها صوته يا خفض بها صوته راغلي دي مطلب دا سو چې په ټيټ آواز يې آمين ووايه په جهري لمانځه کې دغه آمين تر قرأت او تکبيرات سوکه وو، آواز ټيټ وو .

د خفض او اخفا چې څومره تعبيرات دي حاصل يې دا دی چې نه دومره سوکه وي چې خپله يې لا نه واوري او نه دومره تېز وي چې لېري خلک دې

واوري نو د حضرت وائل رضی الله تعالی عنه مطلب دا دی چي آواز دومره تېز هم نه وو د نبي ؐ چي تمام د مسجد نبوي خلک دې واوري او نه هم دومره سو که چي خپله يې هم نه واوري .

...... ☆ ......

باب فصل التامين

د آمين د فضيلت بيان:

"حدثنا يوسف بن عبد الله قال اخبرنا مالك عن أبي الزنار عن الاعرج عن أبي هريرةؓ ان رسولؐ قال إذا قال احدکم آمين و قالت الملائكة في السماء آمين فوافقت احداهما الاخریٰ غفرله ماتقدم من ذنبه"

په روايت کي د احدکم لفظ راغلی دی دا مطلق دی که امام که مقتدي او که د لمانځه څخه خارج وي نو ددې وجهي مطلب يې دا سو چي د سورت فاتحې وروسته آمين ويونکی که هر څوک وي که د فرشتو د آمين سره يې موافقت راغلی نو تېر ټول ګناهونه يې معافيږي .

قالت الملائكة الخ د ظاهر الفاظو تقاضا دا ده چي ټولي فرشتې آمين ووايي مګر بعضي وايي چي دې څخه د حفاظت فرشتې مراد دي څوک وايي چي په شپه

او ورځ کي راتلونکي فرشتې مراد دي څوک وايي چي په لمانځه کي شرکت کونکي فرشتې مراد دي . په مسند عبد الرزاق کي د حضرت عکرمه څخه را نقل سوي دي چي په آسمانو کي صفونه سميږي هغه مراد دي .

فوافقت احداهما الخ بعضي وايي چي د فرشتو سره د اخلاص موافقت

مراد دی لیکن دامحال دی څکه فرشتې د اخلاص پر اعلی درجه دي او د ګناهونو څخه محفوظ دي .

☆

باب جهر المأموم بالتأمين

د مقتدي د آمین په جهر سره

"حدثنا عبد الله بن مسلمة ، عن مالك عن سُمَي مولىٰ أبی بكر عن أبی الصالح السلمان عن أبی هريرة رضی الله تعالی عنه انّ رسول الله ﷺ قال إذا قال الإمام غير المغضوب عليهم و لا الضالين فقولوا آمين فانه من وافق قوله ، قول الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه تابعه محمد بن عمرو ، عن أبی سلمة ، عن أبی هريرة رضی الله تعالی عنه

عن النبی ﷺ و نعيم المجمر عن أبی هريرة رضی الله تعالی عنه عن النبی ﷺ"

د ترجمې مقصد دا دی چې د مقتدي دپاره هم په آمین کې جهر مستحب دئ . دلیل دا دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې امام غیر المغضوب علیهم و لا الضالین ووایي نو تاسو آمین ووایاست او دلته د آمین په جهر سره د ویلو صراحت نسته . ددې وجهې د امام بخاري پر موقف چې کوم استدلال سوی دی هلته به د اشاراتو څخه کار اخلو .

شارحینو مختلفې طریقې اختیار کړي دي چې په هغه کې د ابن حجر خوښه طریقه خو په باب جهر الامام کي بیان سو . چې مقام د خطاب د قول مطلق څخه جهر مرادیږي خو دا هم بیان سو چې دا ضابطه صحیح نه ده . په امثالو سره واضح سوه چې په متعدد احادیثو کې د خطاب پر ځای

قول مطلق استعمال سوی دی او هلته جهر نه سو مراد .
علامه عيني وايي چي قول مطلق پر جهر او اخفا پر
دواړو صورتو په برابري استعماليږي نو ددې وجهي د جهر تخصيص تحکم يعني زور دی . بل دليل دا دی چي امام ته چي د کوم قول نسبت سوی دی تر غير المغضوب عليهم لا الضالين پوري جهر کول نو مقتدي ته چي د کوم قول نسبت سوی دی يعني مقتدي ته چي د کوم آمين حکم ورکړل سوی دی په هغه کي هم بايد جهر معتبر سي ځکه چي د امام او مقتدي تقابل توافق وسي . نو بايد وويل سي چي دغه دليل بالکل ديوې لطيفې (پسخن) رقم دی .

☆......پر موضوع اجمالي نظر او فيصله:

د آمين پر موضوع د امام بخاري پر دلائلو خبره ختمه سوه او ددغه ځخه دا معلومه سوه چي د امام بخاري سره د امام يا مقتدي آمين په جهر سره د ويلو دپاره صريح روايت نسته (يعني د اولويت) او داسي نه ده چي امام بخاري د خپل شرائطو مطابق صحيح احاديث بلکي حد دا دی چي ضعيف روايتونه هم سته بيا يې هم د حضرت وائل د روايت بغير بل دليل نه کړی
پيش . او په دغه مجبوري کي ده د اشاراتو ځخه کار واخيستی .

د حديث په نورو کُتبو کي هم د جهر اولويت د ثابتولو دپاره هيڅ صحيح و صريح روايت نسته . بلکي پر روايانو چي نظر وسي دا معلوميږي چي د نبي ؑ معمول جهر نه وو نو له دې وجهي صحابه او تابعينو هم جهر نه وکړی .

اصل خو دا وو چي باید په دې مسئله کي اختلاف سوی لا نه وی خو لیکن د اختلاف بنیاد دا وو چي که څه هم د ده عمل آمین بالسر وو لیکن اتفاقاً دا کلمه داسي هم په ژبه سره ادا سوې ده چي هغه نژدې خلکو ولورېدی نو دې ته آمین بالجهر ویل صحیح نه دي خو بعضي حضراتو د جهر وګڼی او اختلاف پیدا سو بیا نو محدثینو او فقهاؤ د خپل ذوق مطابق مذهب اختیار کړی په داسي ځایو کي که د سلفو متابعت وسي نو فیصلې ته رسېدل آسانه سي او د اصولو مطابق داسي ویل کېدای سي چي

۱ . د خلفاء راشدینو، جمهور صحابه او د تابعینو عمل آمین بالسر وو نو نتیجه ظاهره ده چي سرا او اخفاء افضل سو .

۲ . لو که چیري په یو روایت کي پر جهر قرینه پیدا سي نو هغه پر تعلیم حمل کیږي چي نبي ؑ دا تعلیم ورکاوی چي آمین داسي ادا کیږي او په دغه ځای کي ادا کیږي . لو دغه الفاظ دي چي دغه لفظ مثلاً مشدد او مقصور نه دی اول الف ممدوده دی بیا میم غیر مشدد دی بیا یا او په آخر کي نون دی وغیره .

۳ . لوبل په هیڅ روایت کي د آمین بالجهر د اولیت اثبات ممکن نه دی لیکن ددغه موقف د ثابتولو دپاره که چیري د ضعیف روایاتو څخه کار واخیستل سي نو دا هم پر تعلیم یا د جواز پر بیان پر دغه حمل کېدای سي .



